د افغانستان اسلامي جمهوريت
د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا لوی رياست

# تفسير

## اووم ټولگی

## (د ديني مدارسو لپاره)



د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

تفسير
اووم ټولگی
(د ديني مدارسو لپاره)



درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پېرودل او پلورل يې منع دي.

curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# تفسیر

## اووم ټولګی

### (د دیني مدارسو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

**مؤلفان:**

- دکتور فضل الهادي وزين
- محمد عارف عطايي
- عبدالحق عتيد
- فضل الله نيازی

**علمي ایډیټ**

دکتور عنایت الله خلیل هدف

**د ژبې ایډیټ**

محمد قاسم هیله من

**دیني، سیاسي او فرهنګي کمېټه**

- دکتور عبدالصبور فخري
- ګل آغا شایق

**إشراف**

- دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.

بسم الله الرحمن الرحیم



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

## بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی نبیه و رسوله محمد و علی آله و اصحابه اجمعین اما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هیواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تیریدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې، چې د بیاکتلو لپاره ورته ډېره اړتیا موجوده ده، یو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی؛ ځکه په اسلامي زده کړو کې عقاید او د اسلام د سپېڅلي دین احکام او لارښوونې شاملې دي، چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پیغام په توګه به د قیامت تر ورځې پورې د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارف، د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینه او همدارنګه په ځانګړې توګه د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او موسساتو د تعلیمي نصاب په تدریجي انکشاف کې خپله دنده سرته رسولې ده.

په اسلامي معارف او اسلامي علوموکې دقیقه مطالعه دا څرګندوي چې زموږ د مدرسو تعلیمي او مرکزونو نصاب د ټولنې د اړتیاوو او د اسلام د دین له ثوابتو او طبیعت سره سم د ټولو انسانانو لپاره هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هیواد افغانستان د علمي ځلند تاریخ په درلودلو سره یو وخت د علم او زده کړې یو لوی مرکز و چې د اسلامي لوی تمدن په جوړښت کې یې ستر رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ساحو او په ځانګړې توګه په شرعي علومو، لکه عقاید، تفسیر، حدیث، فقه او د فقهي اصولو کې د سلګونو پوهانو او عالمانو شتون زموږ د دې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي څېړو له ډېرېدو او لوړېدو سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي تعلیماتو د ځومره والي او ځرنګوالي له مخې زیات بدلون موندلی او د هېواد کوچنیانو او ځوانانو په ډېره مینه او لیوالتیا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کړې ده.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغې کې د اسلامي زده کړو د نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

دې وزارت د هیواد د ډاډ وړ عالمانو، استاذانو او نامتو ماهرینو ته بلنه ورکړې چې د تعلیمي نصاب لا ښه کولو ته متې ونغاړي او د ښې او زیاتې ګټې اخیستنې په موخه په اسلامي زده کړو کې د تعلیمي نصاب د موجودو مضمونونو او کتابونه له کمولو او زیاتولو پرته موجود کتابونه په درسي چوکاټ کې واچوي، متنونه یې لا واضح او څرګند کړي او د فعالیتونو، ارزونو او مناسبو تمرینونو په زیاتولو یې نور هم پسې بډای کړي.

هیله لرم چې د پوهنې وزارت دا کوچنی خدمت او د هیواد د عالمانو، پوهانو او ماهرانو د ستاینی وړ زیار الله تعالی ته د منلو وړ او زموږ په ګران هېواد کې د اسلامي تعلیماتو په ودې او پراختیا کې ګټور پای ته ورسیږي.

وبالله التوفیق

دکتور محمد میرویس بلخي

د پوهنې وزیر

## مقدمه

### درنو استاذانو او ګرانو زده کوونکو!

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست اوسنۍ وضعې او علمي اړتیاوو ته په پام دا وپتیله چې د تفسیر شریف د مضمون په تالیف او تدریس کې لاندې ټکي په پام کې ونیسي:

- زده کوونکي باید له اووم ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې په بشپړ قرآن مجید مرور ولري او پر لنډ تفسیر يې ځانونه پوه کړي.
- د تفسیر په کتابونو کې د موضوعګانو شومره والی باید د هر ټولګي له درسي ساعتونو سره سمون ولري.
- د زده کوونکو د سویې کچه دې په پام کې ونیول شي، چې د هر ټولګي درسي کتاب د زده کوونکو د درک وړ وي او لازمه پوهه ترې ترلاسه کړای شي.

د پورته ټکو او د تصویب شويو مفرداتو په رڼا کې لازمه وګڼل شوه په اووم ټولګي کې د قرآن مجید وروستۍ سپاره په ملـــي ژبو زده کوونکو ته تدریس شي، ترڅو په لومړي ګام کې د قرآن مجید د کوچنیو سورتونو لنډه ژباړه او تفسیر یاد کړي او د قرآن شریف د تفسیر کولو له لارو چارو سره اشنايي پیدا کړي.

وروسته، په اتم ټولګي کې د سپیڅلي قرآن لومړی او دویمه سپاره ترجمه او تفسیر شي. دا کتاب هم لکه د اووم ټولګي د تفسیر په څیر په ملي ژبو لیکل شوی، خو شرحه او تفصیل يې لږ څه زیات دی.

له نهم ټولګي څخه وروسته تر دولسم ټولګي پورې د تألیف ژبه عربي ده. د جلالین شریف د تفسیر متن د اساسي کتاب په توګه غوره شوی. سربیره پردې د هر لوست آیتونه په لنډه توګه تفسیر او تحلیل شوي، چې زده کوونکو ته روښانه پیغام رسوي. د جلالین شریف پر ستونزمنو او ګرانو برخو رڼا اچول شوې او د لوستونو، پوښتنو، کورنۍ دندې په ورزیاتولو سره د تفسیر د کتابونو بڼې او جوړښت، د اوسنیو درسي کتابونو بڼه غوره کړې ده.

د دې کار لامل دا و چې د تفسیر کتاب د درسي نصاب په چوکاټ کې ځای کړل شي، ترڅو استاذان او زده کوونکی خپل ورځني مسؤولیتونه وپېژنی او د نظارت او څارنې غړي د تعلیمي کال د اونیو په پام کې نیولو سره، په پلان کې د شامل کتاب له پرمختګ څخه ډاډ ترلاسه کړي، چې په دې ډول د پخواني او نوي میتود تر منځ د وصل کړۍ ټینګه شوې ده.

دا چې پر ټول قرآن مجید مرور لازم ګڼل شوی، له دې امله په دې کتابونو کې زیات تفصیل او اوږدوالي ته اړتیا ونه لیدل شوه. ښاغلو مولفینو زیار ایستلی، ترڅو له لنډیز څخه کار واخلي؛ د بېلابېلو ویناوو او تفسیرونو له یادولو څخه ډډه وکړي او په فقهي احکامو کې يې یوازې د حنفي مذهب په یادولو بسنه کړې ده.

د لوی خدای جل جلاله په مرسته به ددې نوې لارې په غوره کولو سره زده کوونکي هم د قرآن له نحوي، بلاغي او لغوي مسایلو څخه هغومره معلومات تر لاسه کوي، چې جلالین شریف راوړي او هم به په ښه ډول د دې سپېڅلي آسماني کتاب د بلنې پیغامونه، فقهي احکام او برخلیک جوړوونکي لارښوونې زده کړي.

هیله لرو چې دا کتاب به نه یوازې په دیني مدرسو کې د تدریس یوه غوره بېلګه وي، بلکې د یو بشپړ او معتبر تفسیر په توګه به په هر کور، هره ټولنه او هر فرهنګي مرکز کې د هرچا د ګټې او استفادې وړ وي.

وبالله التوفیق

# د موضوعاتو فهرست


| د لوست شمیر | عنوانونه | مخ |
|---|---|---|
| ١ | د تفسیر علم | ١ |
| ٢ | د تفسیر ډولونه | ٣ |
| ٣ | د النبأ سورت (لومړۍ برخه) | ٥ |
| ٤ | د النبأ سورت (دویمه برخه) | ٩ |
| ٥ | د النبأ سورت (دریمه برخه) | ١٣ |
| ٦ | د النازعات سورت (لومړۍ برخه) | ١٥ |
| ٧ | د النازعات سورت (دویمه برخه) | ١٩ |
| ٨ | د النازعات سورت (دریمه برخه) | ٢١ |
| ٩ | د النازعات سورت (څلورمه برخه) | ٢٣ |
| ١٠ | د عبس سورت (لومړۍ برخه) | ٢٧ |
| ١١ | د عبس سورت (دویمه برخه) | ٣١ |
| ١٢ | د عبس سورت (دریمه برخه) | ٣٣ |
| ١٣ | د التکویر سورت (لومړۍ برخه) | ٣٥ |
| ١٤ | د التکویر سورت (دویمه برخه) | ٣٩ |
| ١٥ | د الانفطار سورت (لومړۍ برخه) | ٤٣ |
| ١٦ | د الانفطار سورت (دویمه برخه) | ٤٧ |
| ١٧ | د المطففین سورت (لومړۍ برخه) | ٤٩ |
| ١٨ | د المطففین سورت (دویمه برخه) | ٥١ |
| ١٩ | د المطففین سورت (دریمه برخه) | ٥٥ |
| ٢٠ | د المطففین سورت (څلورمه برخه) | ٥٧ |
| ٢١ | د الانشقاق سورت (لومړۍ برخه) | ٥٩ |
| ٢٢ | د الانشقاق سورت (دویمه برخه) | ٦٣ |
| ٢٣ | د البروج سورت (لومړۍ برخه) | ٦٥ |
| ٢٤ | د البروج سورت (دویمه برخه) | ٦٩ |
| ٢٥ | د الطارق سورت (لومړۍ برخه) | ٧١ |
| ٢٦ | د الطارق سورت (دویمه برخه) | ٧٣ |
| ٢٧ | د الأعلی سورت (لومړۍ برخه) | ٧٥ |
| ٢٨ | د الأعلی سورت (دویمه برخه) | ٧٩ |
| ٢٩ | د الغاشیة سورت (لومړۍ برخه) | ٨٣ |
| ٣٠ | د الغاشیة سورت (دویمه برخه) | ٨٥ |
| ٣١ | د الغاشیة سورت (دریمه برخه) | ٨٧ |
| ٣٢ | د الفجر سورت (لومړۍ برخه) | ٩١ |
| ٣٣ | د الفجر سورت (دویمه برخه) | ٩٥ |
| ٣٤ | دالفجر سورت (دریمه برخه) | ٩٩ |
| ٣٥ | د البلد سورت (لومړۍ برخه) | ١٠٣ |
| ٣٦ | د البلد سورت (دویمه برخه) | ١٠٧ |
| ٣٧ | د الشمس سورت (لومړۍ برخه) | ١١١ |
| ٣٨ | د الشمس سورت (دویمه برخه) | ١١٥ |
| ٣٩ | د اللیل سورت (لومړۍ برخه) | ١١٧ |
| ٤٠ | د اللیل سورت (دویمه برخه) | ١٢١ |
| ٤١ | د الضحی سورت | ١٢٣ |
| ٤٢ | د الانشراح سورت | ١٢٧ |
| ٤٣ | د التین سورت | ١٣١ |
| ٤٤ | د العلق سورت (لومړۍ برخه) | ١٣٥ |
| ٤٥ | د العلق سورت (دویمه برخه) | ١٣٩ |
| ٤٦ | د القدر سورت | ١٤٣ |
| ٤٧ | د البینة سورت (لومړۍ برخه) | ١٤٧ |
| ٤٨ | د البینة سورت (دویمه برخه) | ١٥١ |
| ٤٩ | د الزلزال سورت | ١٥٣ |
| ٥٠ | د العادیات سورت | ١٥٧ |
| ٥١ | د القارعة سورت | ١٦١ |
| ٥٢ | د التکاثر سورت | ١٦٥ |
| ٥٣ | د العصر سورت | ١٦٩ |
| ٥٤ | د الهمزة سورت | ١٧٣ |
| ٥٥ | د الفیل سورت | ١٧٧ |
| ٥٦ | د قریش سورت | ١٨١ |
| ٥٧ | د الماعون سورت | ١٨٥ |
| ٥٨ | د الکوثر سورت | ١٨٩ |
| ٥٩ | د الکافرون سورت | ١٩٣ |
| ٦٠ | د النصر سورت | ١٩٧ |
| ٦١ | د المسد سورت | ٢٠١ |
| ٦٢ | د الإخلاص سورت | ٢٠٥ |
| ٦٣ | د الفلق سورت | ٢٠٩ |
| ٦٤ | د الناس سورت | ٢١٣ |

# د تفسير علم

تفسير په لغت کې بيانولو، ښکاره کولو او ظاهرولو ته وايي.
د مفسرينو په اصطلاح کې: تفسير هغه علم دی چې د هغه په واسطه د قرآن کريم د آيتونو معناوې، حکمونه او حکمتونه پېژندل کېږي.
مفسر هغه چا ته ويل کيږي چې قرآن کريم شرحه کوي او د تفسير د علم د ځانګړو اصولو او قواعدو پر بنسټ د قرآن کريم احکام او حکمتونه بيانوي .

## د تفسير د علم پيل

د قرآن کريم د تفسيرعلم يو له ارزښتناکو او عزتمنو شرعي علومو څخه دی، چې دنده يې په قرآن عظيم الشان، د قرآن عظيم الشان په معنا ، د هغه په احکامو پوهېدل او د انساني توان او پوهې په اندازه په قرآن عظيم الشان کې د نغښتو حکمتونو څرګندول او بيانول دي.
د تفسير علم د اسلام له لومړي پړاو نه پيل شوی او رسول اکرم (صلى الله عليه وسلم) د قرآن کريم لومړنی مفسر ګڼل کيږي چې د اړتياوو پرمبنا يې د قرآن عظيم الشان ډېر زيات آيتونه، صحابه وو کرامو (رضي الله عنهم) ته تفسيرکړي دي.

## د صحابه وو او تابعينو نامتو مفسرين

د تفسيرعلم د اصحابو کرامو په عصرکې ډېره پراختيا موندله او په صحابه وو کرامو کې ډېر ستر مفسرين لکه خلفای راشدين، عبد الله بن عباس، عبد الله بن مسعود، أبی بن کعب (رضي الله تعالى عنهم) او داسې نور مفسرين څرګند شول.
د تابعينو په عصر کې د تفسيرعلم ډېر زيات پرمختګ وکړ او د سترو علماوو، لکه: حسن بصري، قتادة بن دعامه،عکرمه، مجاهد بن جبر او سعيد بن جبير (رحمهم الله) له خوا د اسلامي نړۍ په ډېرو سيمو کې د شاګردانو د تربيې او روزنې له لارې د دې مبارك علم د ودې لپاره ستر خدمتونه تر سره شول.

## د تفسير د علم بهير

د تابعينو له عصر نه وروسته تر دې مهاله د تفسير او د قرآن د علومو زرګونه کتابونه په عربي او نورو ژبو کې تأليف شوي دي او دا د الله د آخرني کتاب لپاره د مسلمانانو مخلصانه او ښکاره خدمتونه دي چې تر سره کړي يې دي. په

ټولیزه توګه د نړۍ پوهان پر دې متفق دي چې په ټوله نړۍ کې د قرآن عظیم الشان په څېر بل کوم کتاب د بشریت پام ځان ته نه دی اړولای او نه یې په اړه په دې کچه تالیفات، تحقیقات او علمي څېړنې ترسره شوې دي.

د تفسیر د مهمو کتابونو له جملې څخه کولای شو د امام طبري تفسیر، د شاه پوراسفراییني تفسیر، دکشف الاسرار میبدي تفسیر، د زمخشري تفسیر کشاف، د امام فخرالدین رازي تفسیرکبیر، د بیضاوي تفسیر، د نسفي تفسیر، د ابن کثیرتفسیر او نورو یادونه وکړو.

### د تفسیر د علم ارزښت

د تفسیر د علم ارزښت او اهمیت په دې کې دی چې دا علم له موږ سره د قرآن کریم په سمې پوهېدنې او د الله تعالی د اوامرو او نواهیو په پېژندلو او درک کولو کې مرسته کوي، ترڅو د قرآني تعلیماتو په پوهېدو او د هغه د احکامو په عملي کولو سره وکولای شو د الله تعالی رضا او د دنیا او آخرت نېکمرغي ترلاسه کړو.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د تفسیر له ښوونکي سره یو ځای د مدرسې کتابتون ته لاړ شي او د تفسیر د ځینو کتابونو په لیدو سره دې ښوونکی زده کوونکو ته د دغو کتابونو په اړه معلومات ورکړي، هغوی دې دغه معلومات راجمع او په اړه دې یې له یو بل سره مباحثه وکړي.

**پوښتنې**

۱. د تفسیر لغوي معنا څرګنده کړئ.
۲. د تفسیر د علم اصطلاحي تعریف بیان کړئ.
۳. د تفسیر د ځینو مهمو کتابونو نومونه واخلئ.
٤. د تفسیر د علم ګټه څرګنده کړئ.

# د تفسير ډولونه

د تفسير د علم پراختيا ته په کتلو سره او د قرآن کريم په معناوو او حقايقو کې د علمي او څېړنيزو ګڼو لارو شتون او د مفسرينو بېلا بېلو کړنلارو ته په پام اړولو سره، د تفسير علم په ګڼو ډولونو ويشل کيږي، چې ځينې يې داسې شرح کوو:

**۱- تفسير د محتوی او مضمون له پلوه**

د تفسير علم د محتوی او مضمون پر بنسټ په دوه ډوله دی: نقلي يا تفسير بالمأثور او تفسير بالرأی يا د اجتهاد پر بنسټ ولاړ تفسير.

په بالمأثور يا نقلي تفسير کې په صحيح روايت او نقل اعتماد کيږي، چې لاندې ډولونه لري:

- د قرآن تفسير په قرآن سره.
- د قرآن تفسير په سنت سره، ځکه سنت د کتاب بيانوونکی دی.
- د قرآن تفسير د صحابه کرامو په روايتونو سره؛ ځکه چې صحابه (رضوان الله عليهم اجمعين) د الله په کتاب تر ټولو ښه پوهيدل
- د قرآن کريم تفسير د لويو تابعينو په ويناوو سره، ځکه دوی خپله زياتره پوهه له صحابه وو څخه اخيستله .

هغه تفسير چې د نقل پر بنسټ ولاړ وي، په حقيقت کې د الله تعالی د کتاب د تفسير تر ټولو ښه او غوره طريقه ګڼل کيږي. ځکه د قرآن کريم، سنتو او د صحابه وو او تابعينو له ويناوو څخه ګټه اخيستل د قرآن کريم د نصوصو په پوهه کې مرسته کوي او د قرآن کريم د معناوو په پوهيدنه کې خلک له غلطی او ښويېدنې څخه ژغوري .

د رأيې پر اساس بنا شوی تفسير هغه تفسير دی چې مفسر د معنا د بيانولو په هکله د تفسير اصولو او د عربي ژبې او نورو شرعي علومو د قواعدو په رڼا کې پر خپلې ځانګړې پوهې اعتماد او باور کوي او د خپلې پوهې او نظر پر اساس د قرآن کريم احکام او حکمتونه راباسي .

هغه تفسير چې يوازې (محض) پر رأيه بنا شوی وي او پر کوم اصل ولاړ نه وي، په تفسير بالرأی المذموم يعني (ناوړه عقلي تفسير) سره يادېږي. دا ډول تفسير حرام دی او د قرآن کريم دا ډول تفسير روا نه دی، خو که څوک د عربي ژبې د اصولو، د تفسير د اصولو او د شريعت د لارښوونو په دايره کې په دې طريقې سره قرآن کريم تفسير کړي، نو باک نه لري او دې ته تفسير بالرأی المحمود (په ښې او غورې رأيې سره تفسير) ويل کيږي.

**۲- تفسير د اسلوب او تګلارو له پلوه**

تفسير د اسلوب او تګلارو له پلوه په څلورو ډولونو ويشل شوی دی: تحليلي تفسير، موضوعي تفسير، اجمالي تفسير او مقايسوي تفسير.

په تحليلي تفسير کې مفسر د قرآني نص هر اړخيز تحليل کوي او د آيت ټول اړخونه تر څېړنې لاندې نيسي.

په موضوعي تفسير کې مفسر د يوې ټاکلې موضوع په اړه قرآني آيتونه راټولوي او په يوې ځانګړې طريقې سره يې شرح او تفسيرکوي. په اجمالي تفسير کې قرآني آيتونه په لنډه، اسانه، عام فهمه او ساده ژبه داسې تفسير کيږي چې ټول خلک ورڅخه ګټه اخيستلای شي. خو په مقايسوي تفسير کې د ټاکلو قرآني آيتونو په اړه د مفسرينو د ويناوو

پلټنه، څېړنه او پرتله ترسره کېږي .

### د قرآن کریم د نازلیدو څرنګوالی

د قرآن کریم نازلیدنه په دوو طریقو سره شوې ده، چې په لنډه توګه یې شرح کوو:

• قرآن کریم د لومړي ځل لپاره په مجموعي توګه یو ځلې د قدر په شپه بیت العزت ته، چې د دنیا په آسمان کې موقعیت لري، نازل شوی دی، لکه څرنګه چې قرآن کریم هم ورته د قدر په سورت کې اشاره کړې ده، الله تعالی فرمايي:﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾ ژباړه: بېشکه موږ هغه (قرآن) د قدر په شپه کې نازل کړی دی.

• په تدریجي توګه د زماني او پېښو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د قرآن کریم نازلیدل، چې د العلق سورت لومړني آیتونه د حراء په غار کې په پیغمبرﷺ باندې نازل شول او بیا قرآن کریم په درویشتو کلونو کې د پیغمبرﷺ تر وفاته پورې بشپړ شو.

### د افغانستان علماء او د تفسیر علم

زموږ ګران هېواد افغانستان د خپلې ځلاندې لرغونې زماني او د تاریخي او پرمختللو ویاړنو سره سره، د یو زیات شمېر سترو قرآن پېژندونکو او د قرآن کریم د نومیالیو مفسرینو او علماوو د روزنې زانګو ده، چې د هغو له ډلې څخه د بېلګې په توګه شیخ الاسلام خواجه عبدالله انصاري هروي د (٤٨١) هـ کـا ل متوفی، ابوبکر عتیق سور آبادي هروي د (٤٩٤ هـ) کال متوفی، امام فخر الدین رازي د (٦٠٦) هـ کال متوفی، مولانا حسین واعظ کاشفي د (٩١١) هـ کال متوفی، مولانا مراد علي کاموي د (١٢٩٤) هـ کـا ل متوفی او معاصر عالم مولانا سلطان عزیز عزیز او داسې نور یادولای شو.

### فعالیت

ښاغلي ښوونکی دې د تفسیر ډولونه شرح او د مثال په وړاندې کولو سره دې د هر ډول تفسیر ارزښت زده کوونکو ته څرګند کړي.

### پوښتنې؟

١- تفسیر په څو ډوله دی؟

٢- د تفسیر بالرأی حکم څرګند کړئ.

٣- د تفسیر له لویو علماوو څخه د ځینو مفسرینو نومونه واخلئ.

٤- د قرآن کریم نازلېدل څرنګه و؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کتابتون کې د تفسیر له کتابونو څخه په ګټې اخیستنې سره د تفاسیرو او د هغو د مؤلفینو لست برابر کړي.

## د النبأ سورت

(لومړی برخه)

بسم الله الرحمن الر حيم

﴿عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ ﴿١﴾ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ ﴿٢﴾ الَّذِي هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ﴿٣﴾ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ ثُمَّ
كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٥﴾ أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا ﴿٦﴾ وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴿٧﴾ وَخَلَقْنَاكُمْ أَزْوَاجًا ﴿٨﴾
وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴿٩﴾ وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾ وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾ وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ
سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ﴿١٣﴾ وَأَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾ لِنُخْرِجَ
بِهِ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَجَنَّاتٍ أَلْفَافًا ﴿١٦﴾﴾

### د کلمو معنا

{النبأ} لوی خبر.

{مِهَادًا} فرش، زانگو، د اوسيدو ورړ.

{أَوْتَادًا} ميخونه.

{أَزْوَاجًا} جوړه.

{سُبَاتًا} آرام.

{مَعَاشًا} د ژوند او کار وخت.

{شِدَادًا} کلک.

{وَهَّاجًا} ځليدونکی.

{الْمُعْصِرَاتِ} درني وريځي.

{ثَجَّاجًا} توييدونکي اوبه.

{أَلْفَافًا} گڼ، په يو بل کې تاو راتاو شوي.

## ژباړه

کافران د څه په هکله له یو بل څخه پوښتنې کوي؟ د لوی خبر په هکله؛ هغه خبر چې دوی پرې په خپلو منځونو کې سره اختلاف کوي. نه ! هیڅکله نه؛ ډېر ژر به پوه شي. بیا هیڅکله نه، ډېر ژر به پوه شي. آیا نه ده ګرځولې موږ ځمکه فرش (د اوسېدو وړ) ؟ او غرونه میخونه؟ او تاسې مو جوړه جوړه پیدا کړي یاست. اوخوب مو درته آرام ګرځولای دی . شپه مو د هرڅه لپاره پوښ او پرده ګرځولې ده او ورځ مو ستاسې د ژوند (کار)وخت ګرځولای دی . ستاسې له پاسه مو اووه کلک اسمانونه جوړ کړي دي، خورا روښانه څراغ مو هم پیداکړی دی او له درنو وریځو څخه مو پرله پسې اوبه راښکته کړي دي، تر څو په همدې اوبو سره غلې دانې، واښه او ګڼ باغونه رازرغون کړو.

## د سورت لنډه پېژندنه

د النبأ سورت د قرآن کریم د مکي سورتونو له جملې څخه دی چې شمېره یې د عثماني مصحف د ترتیب له مخې (۷۸) ده. د قرآن عظیم الشان آخري سپاره په همدې سورت پیل شوې ده، د قیامت د ورځې اثبات او هغه څه چې په دې ورځ کې پېښېږي د دې سورت د بحث اصلي موضوع ده.

## اجمالي تفسیر

د قریشوکافران د څه شي په هکله له یوبل څخه پوښتنې کوي؟ دوی په ډېر شک او تردید سره له یو بل نه د یو ډېر مهم خبر په اړه پوښتنې کوي، چې هغه له هغه څه څخه عبارت دي چې په پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) باندې نازل شوي دي او په هغه کې د قیامت د ورځې، وروسته له مرګ څخه د بیا راژوندي کېدلو او د آخرت د ورځې د حالاتو په هکله خبر ورکړل شوی دی.

الله تعالی دغه د بعث او قیامت له ورځې منکرخلک له خپل دردوونکي عذاب څخه وېروي او هغوی ته داسې فرمایي: هغوی به ډېر ژر د خپل تردید او انکار پایلې وګوري، له حق څخه د انکار له امله به د دوزخ په اور کې وسوزي او د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) د دعوت په رښتینولۍ او حقانیت به وپوهېږي او حقیقت به ورته څرګند شي.

په وروستيو آيتونوکې الله تعالی د تذکير، پند او خبرتيا لپاره د خپلو ځينو نعمتونو او د قدرت د دلايلو او نښانو يادونه کوې او انسانان دې ته رابولي، ترڅو د الله تعالی په مخلوقاتو او کايناتوکې غور او فکر وکړي او د حقايقو په پوهېدلو سره د پېغمبر او قيامت د ورځې له انکار او دروغ گڼلو څخه لاس واخلي.

الله تعالی فرمايي :آيا موږځمکه ستاسې د اوسېدو لپاره هواره نه ده گرځولې؟ او په ځمکه کې مو غرونه د ميخونو په څېر ونه گرځول، تر څو له خوځښت او اضطراب نه استقرار پيدا کړي؟ او موږ انسانان د نر او ښځې په بڼه جوړه جوړه پيدا کړي دي. خوب مو ستاسې د استراحت، ستړيا لرې کېدلو او آرام لپاره پيدا کړی دی . شپه مو د لباس په څېرد هرڅه لپاره پوښ او پرده گرځولې ده . ورځ مو ستاسې د ژوند، کار او معيشت وخت گرځولای دی . ستاسې له پاسه مو آسمان د کلک چت په څېر جوړ کړ. په هغه کې مو لمرد خورا روښانه څراغ په بڼه پيدا کړ، ترڅو ټول ځايونه روښانه کړي او له گڼو او راغونډو شويو وريځو څخه مو د باران اوبه راښکته کړې، تر څو په همدې اوبو سره د انسانانو او څارويو لپاره غلې دانې، واښه او گڼ باغونه رازرغون کړو.

**فعاليت**

زده کوونکي دې په څو پنځه کسيزو ورو ډلو وويشل شي او په ځمکه کې دې د الله تعالی د قدرتونو د نښانو دليدلو په اړه له يو بل سره مباحثه او خبرې وکړي.

## د لوست گټې

د دې لوست مبارک آيتونه يو شمېر گټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

١- د قيامت د ورځې او وروسته له مرگ څخه د بيا راژوندي کېدلو اثبات او دا چې مرگ د هرڅه لپاره د پای ټکی نه دی.

٢- په کايناتوکې د الله تعالی د قدرت نښې د ا لله تعالی په توحيد او د پېغمبر(صلی الله عليه وسلم) د نبوت د اثبات لپاره څرگند او روښانه دلايل دي.

٣- کافران به ډېر ژر د خپل ترديد او انکار پايلې د مرگ پر مهال او وروسته له مرگ څخه وگوري.

٤- هوښيار، عاقل او نصيحت منونکی انسان، په ځمکه او آسمان کې د الله تعالی د قدرت د نښانو او دلايلو

په ليدلو سره د الله تعالی په يو والي ايمان راوړي او د هغه پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) رښتيني ګڼي.

## پوښتنې

١- د النبأ مبارک سورت په کوم ځای کې نازل شوی دی؟

٢- د قريشو کفارو د څه په اړه شک درلود او له هغه نه يې انکار کاوه؟

٣- الله جل جلاله په پورتنيو آيتونوکې ولې د خپل قدرت د ځينو نښانو او دلايلو يادونه کوي؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست مبارک آيتونه وژباړي او د دغو آيتونو مطلب دې د يوې مقالې په ترڅ کې وليکي چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# د النبأ سورت

(دويمه برخه)

﴿إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ
فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴿١٩﴾ وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾
لِلطَّاغِينَ مَآبًا ﴿٢٢﴾ لَابِثِينَ فِيهَا أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا
وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَاءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾
وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا ﴿٢٩﴾ فَذُوقُوا فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا﴿٣٠﴾

## د کلمو معنا

{يَوْمَ الْفَصْلِ} د پريکړې ورځ، د قيامت ورځ.

{مِيقَاتًا} ټاکلی وخت.

{يُنْفَخُ} پوکی وشي.

{الصُّورِ} شپېلۍ.

{أَفْوَاجًا} د (فوج) جمع ، ډلې ډلې.

{أَبْوَابًا} د (باب) جمع ، دروازې.

{ سَرَابًا } سراب (شګوګل).

{مِرْصَادًا} څارنځای.

{ لِلطَّاغِينَ} د سرغړوونکو لپاره.

{مَآبًا } د ورتګ ځای.

{أَحْقَابًا} اوږده زمانه، تل ترتله چې هيڅ پای نه لري.

{حَمِيمًا} گرمې او ایشیدلې اوبه.

{غَسَّاقًا} زوې، د تپ مرداري اوبه.

{أَحْصَيْنَاه} موږ هغه شمېرلي دي، په لیکلوسره مو خوندي ساتلي دي.

## ژباړه

بېشکه د پرېکړې ورځ ټاکلې شوې ده. دا هغه ورځ ده چې په شپېلۍ کې به پوکی وشي او تاسې ټول به ډلې، ډلې راځئ. او پرانستل به شي آسمان نو شي به دروازې،دروازې. او روان به کړای شي غرونه له خپل ځای څخه، نو وي به د ځلیدونکي سراب ( شګو ګل په څېر). دا کره خبره ده چې جهنم څارنځای دی. د سرغړوونکو د ورتګ ځای. تل ترتله به پکې پاتې وي. نه پکې د یخ څیز خوند څکلی شې او نه تنده ماتوونکې اوبه. یوازې ګرمې خوټېدونکې اوبه او زوې. همدا د دوی د کړنو سره برابره سزا ده. ځکه چې دوی په حساب باور نه درلود. او زموږ آیتونه یې دروغ ګڼلي وو. موږ هرڅه په لیکلو سره خوندي کړي دي. ای کافرانو ! زموږ عذاب وڅکئ، اوس به تاسې ته پرته له عذاب څخه بل څه نه ډېروو .

## اجمالي تفسیر

وروسته له دې چې الله تعالی په مخکنیو آیتونوکې د خپل قدرت نښې بیان کړې او د قیامت د ورځې پر راتګ یې تاکید وکړ، په دې آیتونوکې د قیامت د ورځې د ځینو حالاتو او له قیامت نه د منکرو کفارو د جزا په اړه داسې فرمایي: د قیامت ورځ د بندګانو ترمنځ د فېصلې او پرېکړې ورځ ده، هرچا ته د هغه دعمل مطابق جزا ورکول کیږي دا ورځ په خپل ټاکلي وخت رارسیږي او له خپل ټاکلي وخت څخه نه وړاندې کیږي او نه هم وروسته کیدای شي. په دې ورځ به اسرافیل (علیه السلام) په شپېلۍ کې پوکی وکړي او خلک به ډلې، ډلې د حشر مېدان ته د حساب کتاب لپاره د الله تعالی حضور ته راغونډ شي، په دې ورځ به آسمان د ملایکو د راکوزیدلو لپاره پرانستل شي او ډېرې دروازې به ولري،غرونه به واړه

او ذري، ذرې شي او د لرې نه به د سراب په څېرځليدونکي ښکاري.دوزخ له مخکې نه تيار شوی دی او د کفارو په انتظار دی، ترڅو د تل لپاره د هغوی کوربه شي او هغوی د خپل اور په لمبو کې وسوزوي او د ابد لپاره ورته ځای ورکړي. هغوی ته به په جهنم کې يخې اوبه او نور ساړه مشروبات نه پيدا کيږي، ترڅو خپله تنده او د اور د ګرمۍ تاو پرې کم کړي. يوازې ګرمې اېشېدلې اوبه او زوې به د دوی خښاک وي. پرته له شکه همدا د دغو کافرانو د کړنو لپاره مناسبه او برابره سزا ده.

**فعاليت**

زده کوونکي دې په پورتنيو آيتونو کې وروسته له غور او سوچ نه هغه کارونه له ځان سره په کتابچو کې يادښت کړي چې دوزخ ته د انسان د ورتګ لامل ګرځي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آيتونه يو شمېر ګټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

- د بدوکړنو، طغيان او سرغړونو د بدو پايلو بيانول.
- د قيامت د ورځې او له مرګ وروسته د بيا راژوندي کېدلو(بعث) د منکرينو د دردناک برخليک بيانول.
- د الله تعالی په امر د ملايکو له لوري د ټولو بندګانو د کړنو ليکل او ثبتول او دا چې هيڅوک نشي کولای له خپلو هغو کړنو څخه چې ترسره کړي يې دي، انکار وکړي.
- د بعث او قيامت اثبات او پر هغود باور او ايمان لرلو ضرورت او ټينګار.
- د کافرانو لپاره په اخرت کې د ابدي او تل پاتې عذاب ثبوت.

## پوښتنې

۱- د ځینو هغو پېښو یادونه وکړئ چې د قیامت په ورځ واقع کیږي.

۲- د ﴿إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا﴾ جمله وژباړئ او په خپل ساده تعبیر یې شرحه کړئ.

۳- لاندې کلمې معنا کړئ:

{فَتَأْتُونَ - سُيِّرَتِ - لَابِثِينَ - جَزَاءً - وَكَذَّبُوا - فَذُوقُوا}.

## کورنۍ دنده

د قیامت پر ورځ د ایمان لرلو اهمیت او پر ژوند باندې د هغه د اثر په هکله یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# د النبأ سورت

(دریمه برخه)

﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا﴿٣١﴾ حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَّا
يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّابًا ﴿٣٥﴾ جَزَاء مِّن رَّبِّكَ عَطَاء حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ
وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمَنِ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ
أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذَلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ فَمَن شَاء اتَّخَذَ إِلَى رَبِّهِ مَآبًا ﴿٣٩﴾ إِنَّا أَنذَرْنَاكُمْ
عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا ﴿٤٠﴾.

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {مَفَازًا} | خلاصون، بریالیتوب. |
| {حَدَائِقَ} | باغونه. |
| {أَتْرَابًا} | همځولي، هم عمره. |
| {كَأْسًا} | پيالي، جامونه. |
| {لَغْوًا} | بابېزه، بې فايدې. |
| {كِذَّابًا} | دروغ. |
| {جَزَاء} | بدله. |
| {مَآبًا} | ځای د رجوع او راګرځېدنې. |
| {تُرَابًا} | خاوره. |

## ژباړه

بېشکه د پرهيزګارانو لپاره کاميابي ده، باغونه او انګور، او نوي پيغلې همځولې نجونې او ډک جامونه. هلته هغوی هيڅ بابېزه او دروغ خبره نه اوري، دا بدله د هغوی د کړنو په رڼاکې ستاد رب له لوري لورينه ده. د هغه زيات مهربان الله له لوري ځخه چې د آسمانونو، ځمکې او د دوی دواړو په منځ کې د هر شي څښتن دی، د هغه په مخکې دوی د خبرو کولو وس نه لري. په هغه ورځ چې روح(جبرائيل) او پرښتې کتار صفونه ودرېږي، هيڅوک خبرې نه کوي پرته له هغه چا چې رحمن(مهربان ذات) ورته اجازه ورکړي او حقې خبرې يې کړې وي. هغه ورځ حقه ده، نو اوس چې د چا زړه غواړي د خپل رب لوري ته د ورګرځېدلو لار دې ونيسي، موږ تاسې له هغه عذابه ويرولي يئ، چې نژدې راتلونکی دی. په هغه ورځ به بني آدم ټول هر څه ويني چې وړاندې کړي دواړو لاسونو د هغه او وايي به کافر (په افسوس سره) ای کاشکې زه خاورې وای.

## اجمالي تفسير

د مبارک سورت په دې برخه کې الله جَلَّجَلَالُهُ د مؤمنو او له الله نه ويرېدونکو بندګانو بيان کوي او ځينې نعمتونه يادوي چې د دوی لپاره يې په جنت کې تيار کړي دي، هغه کسان چې په دنيا کې پرهيزګار دي او ښايسته کارونه کوي، جنت ته

په تللو سره خلاصون مومي او بريالي کيږي، الله تعالی د دوی لپاره باغونه، انګور، سپيځلې همځولې ښځې(حورې) او له پاکو شرابو څخه ډک جامونه تيار کړي دي او دوی به په جنت کې باطلې، بې ګټې او دروغ خبرې نه اوري.

دا ټول نعمتونه پوره بدله او احسان دی له الله تعالی څخه د ويريدونکو او نېکو خلکو لپاره، چې د ښايسته کړو وړو په بدل کې د مهربان الله له لوري دوی ته ورکول کيږي، هغه الله چې د اسمانونو او ځمکې پيدا کوونکی او د دنيا او آخرت رحمان ذات دی، داسې د عظمت او هيبت څښتن دی چې هيڅوک د قيامت په ورځ د ده له اجازې پرته د خبرو کولو او شفاعت وس نه لري مګر دا چې د ده تعالی په اجازه حقه او نېکه خبره وکړي؛ يقينا هغه ورځ راتلونکې ده او بايد خلک د ښو کارونو په ترسره کولو د هغې لپاره تياری او چمتووالی ولري .

د سورت په پای کې الله تعالی يوځل بيا د قيامت له عذابه چې نژدې دی، يادونه کوي او د کافرانو دريځ څرګندوي چې د قيامت د ويرې او هيبت له ليدلو به داسې هيله کوي چې کاشکې خاورې وای، تر څو له دې لوی عذابه ژغورل شوي وای.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آيتونه يو شمېر ګټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

- د قيامت په ورځ د پرهيزګارانو د لوړې درجې او د هغوی د نجات بيان.
- دجنت د ځينو صفتونو او نعمتونو بيان چې الله جلاله د پرهيزګارانو لپاره د ښايسته او نېکو عملونو په بدل کې چمتو کړي دي.
- د دروغو او بابيزه باطلو خبرو ناوړتيا.
- د قيامت او حشر د ورځې د سختيو او ستونزو بيان .
- له مرګ وروسته د بيا راژوندې کيدو د عقيدې په حقانيت او په جزا او سزا ټينګار.
- نېکو کړو وړو ته ترغيب او له ګناهونو او ناوړو کارونو څخه ځان ژغورنه.

### پوښتنې

١- لاندې کلمې معنا کړئ:
{لِلْمُتَّقِينَ - أَعْنَابًا - دِهَاقًا - لَا يَسْمَعُونَ - عَطَاءً - أَذِنَ - أَنْذَرْنَاكُمْ - الْمَرْءُ}.

٢- د جنت د ځينو نعمتونو نومونه واخلئ.

٣- ولې د قيامت په ورځ کافران دا هيله کوي، چې کاشکې خاورې شوي وای؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د نيکو عملونو د بدلې او ثواب په باره کې يوه مقاله وليکي چې له يوې صفحې څخه کمه نه وي.

# د النازعات سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الر حیم

﴿وَالنَّازِعَاتِ غَرْقًا ﴿١﴾ وَالنَّاشِطَاتِ نَشْطًا ﴿٢﴾ وَالسَّابِحَاتِ سَبْحًا ﴿٣﴾ فَالسَّابِقَاتِ سَبْقًا﴿٤﴾
فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا ﴿٥﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ﴿٧﴾ قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾
أَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ﴿٩﴾ يَقُولُونَ أَئِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي الْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾ أَئِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُوا
تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا هُم بِالسَّاهِرَةِ﴿١٤﴾.

**د کلمو معنا**

{النَّازِعَاتِ} په سختۍ ويستونکي.

{النَّاشِطَاتِ} په آسانۍ ويستونکي.

{السَّابِحَاتِ} غوټې وهونکي.

{السَّابِقَاتِ} وړاندې کېدونکي.

{الْمُدَبِّرَاتِ} تدبير او تنظيموونکي.

{الرَّاجِفَةُ} د شپېلۍ لړزوونکی پوکی.

{الرَّادِفَةُ} وروسته راتلونکي.

{وَاجِفَةٌ} ډار شوي، پريشانه.

{خَاشِعَةٌ} له ويرې ښکته، ذليله.

{الْحَافِرَةِ} لومړنی حال.

{نَّخِرَةً} وراسته.

{كَرَّةٌ} ګرځېدل، ستنېدل.

**ژباړه**

قسم په هغو سخت راښکونکو(پرښتو چې په سختۍ سره سا باسي) او په هغو پرښتو چې په آسانۍ سره يې باسي.او (په هغو پرښتو چې په کايناتو کې) په چټکۍ سره لامبو وهي.بيا(د حکم په ځای کولو کې) چالاکه وړاندې ځي.بيا(د الهي حکمونو سره سم) د چارو تنظيم کوي.هغه ورځ چې وخوځوي د زلزلې ټکان او له

هغه وروسته بل ټکان راشي.ځینې زړونه به په دغې ورځ له ویرې لړزیږي.د هغوی سترګې به له ویرې ښکته وي.دا خلک به وايي آیا په رښتیا موږ بیا بیرته لومړني حالت ته ورګرځول کیږو؟ آیا چې کله موږ وراسته هډوکي شو؟ وبه وايي: دا (ستنېدل) خو بیا غټ تاوان کوي. په داسې حال کې چې دا یوازې یو پوکی (آواز) دی، نو ټول به ناڅاپه په دې پراخ میدان کې ولاړ وي.

## د سورت پیژندنه

د النازعات سورت مکي دی، (٤٦) آیتونه لري، د سورت نوم له لومړني آیت څخه اخیستل شوی دی، بنسټیزې موضوعګانې یې قیامت، له فرعون سره د موسی (علیه السلام) کیسه، د الهي قدرت ځینې آثار، پر انسانانو باندې د هغه تعالی نعمتونه، دنیوي بې ارزښته ژوند او د هغه ژر تېریدل دي.

## اجمالي تفسیر

د النازعات سورت په قسم سره پیل کیږي، الله تعالی د پرښتو په ګڼو ډلو قسم یادوي. هغه پرښتې چې د کافرانو ساګانې په سختۍ سره راکاږي، هغه پرښتې چې د مؤمنانو ساګانې په آرامۍ او خوښۍ سره راباسي، هغه پرښتې چې له آسمانه په راکوزیدو او جګیدو کې غوټې وهونکې او د لامبو وهونکو په څیر حرکت کوي او الله د امر په ترسره کولو کې له چټکۍ څخه کار اخلي او هغه پرښتې چې د کایناتو او موجوداتو چارې د الله په امر په ښه شان سرته رسوي.

باید وپوهیږو چې قسم په عربي ژبه کې د تاکید او ټینګار له طریقو څخه یوه طریقه ده او الله تعالی چې څه غوښتي وي، په هغه سره قسم یادوي، خو بنده ته روا نه ده، چې له الله نه پرته په بل شي قسم یاد کړي ځکه له الله نه پرته په بل شي قسم یادول شرک دی.

د قسم ځواب دلته مقدر دی، چې د آیتونو له سیاق څخه څرګندیږي، یعني: قسم په هغو پرښتو چې هغه (النازعات، الناشطات، السابحات، السابقات و المدبرات) دي چې یقیناً تاسې به دویم ځل راژوندي کیږئ او د اعمالو د حساب ورکولو لپاره به تاسو د حشر میدان ته راکښل کیږئ.

دلته د قسم اسلوب د دې لپاره کارول شوی دی چې کافرانو له قیامت او بیا راژوندي کیدو څخه په ډېر کلکه انکار کاوه، نو ځکه الله تعالی په ډېره څرګنده او شدیده طریقه، یعني په قسم سره د کافرانو باطل ګومان رد

کړ او د قیامت د ورځې او بعث په ثبوت یې پیل وکړ.

بیا الله تعالی کافرانو ته فرمایي چې د قیامت او بیا ژوندي کیدو حقیقت به هغه مهال تاسې ته څرګند شي چې لومړۍ شپېلۍ وپوکل شي او قیامت به رامنځ ته شي چې لدې څخه په (راجفة) سره تعبیر شوی دی.

په لومړۍ شپیلۍ پسې دویمه شپیلۍ پوکول کیږي چې له هغې څخه په«رَّادِفَةُ» تعبیر شوی دی او په دې سره مړي له قبرونو څخه راوځي، په یوه صحیح حدیث کې راغلي دي چې دلومړنۍ او دویمې شپیلۍ ترمنځ به څلوېښت کاله فاصله وي، زړونه به د هغې ورځې له ویرې او هیبت څخه سخت په وېره او پریشانۍ کې وي، د دې ویریدونکو زړونو د څښتنانو سترګې به د ویرې او ډار له سختۍ څخه عاجزې او ذلیلې وي او د ویرې او بیوزلۍ نښې نښانې به پکې له ورایه ښکاري.

الله تعالی له قیامت څخه د منکروکافرانو کیسه داسې بیانوي چې دوی وایي: آیا موږ وروسته له مرګه او کله چې وراسته هډوکي شو دویم ځل راژوندي کیږو؟

همدارنګه دوی وایي که داسې وي او موږ دویم ځلې ژوندي شو، نو دا به ډېره تاواني راستنیدنه وي! ځکه دوی به خپل ټول شیان له لاسه ورکړي او د خپلو ناوړو او بې بنسټه عقایدو او عملونو بدله به ووینې.

الله تعالی فرمایي: د بیا راژوندي کیدلو پیښه به یوازې په یوې ویریدونکې چیغې سره رامنځ ته شي چې د اسرافیل (علیه السلام) د دویمې شپیلۍ پوکول دي، کافران د قیامت منکران او ټول مخلوقات به پرته له ځنډه خپل ځانونه د ځمکې پر مخ ژوندي مومي چې په مبارک آیت کې له هغه څخه په«السَّاهِرَةِ» یعنې هغه ځای چې په هغه کې به څوک ویده کیدای نشي، تعبیر شوی دی.

الله ﷻ په نوموړو آیتونو کې په ښایسته اسلوب او بیان سره د کافرانو او د قیامت د منکرانو باطل او بابیزه ګومانونه رد کړي دي او د قیامت او بیا راژوندي کیدو ورځ یې ثابته کړې ده.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د تفسیر د استاذ په مرسته د قیامت په حالاتو پورې اړوند آیتونه راغونډ او د هغو د معنا په هکله دې تدبر او تفکر وکړي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کېږي:

- الله ﷻ چې غوښتي وي په هر موجود قسم یادولای شي، خو انسان ته روا نده چې پرته له الله ﷻ نه په بل شي قسم یاد کړي.
- پرښتې د مؤمنانو ساګانې د مرګ پر مهال په ډېرې آسانۍ سره او د کافرانو په ډېرې سختۍ سره راباسي.
- د قسم په غوره او بلیغ اسلوب سره د قیامت او بیا را ژوندي کېدو د عقیدې ثبوت.
- د قیامت او پس له مرګه بیا را ژوندي کېدو د کیفیت بیان.
- هوښیار انسان هغه دی چې په قرآن کریم کې د ښه تدبر او سوچ په پایله کې غوره او نېک کړه وړه ترسره کوي، له بدیو او ګناهونو څخه ځان وژغوري او د مرګ، قیامت او بعث لپاره چمتووالی ونیسي.

### پوښتنې

١- لاندې کلمې معنا کړئ:

{غَرْقًا - نَشْطًا - تَرْجُفُ - يَوْمَئِذٍ - عِظَامًا - زَجْرَةٌ}.

٢- الله ﷻ ولې پر ملایکو قسم یاد کړی دی؟

٣- د قسم د اسلوب ګټه څه ده او قسم څه وخت کارول کېږي؟

٤- له الله ﷻ نه پرته په بل شي د قسم یادولو حکم څه دی؟

٥- د لومړۍ او دویمې شپېلۍ ترمنځ توپیر څه دی او د هغې پرښتې نوم څه دی چې د شپېلۍ په پوکولو مکلفه ده؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست د آیتونو لنډ تفسیر، په خپلې طریقې سره ولیکي.

# د النازعات سورت

(دويمه برخه)

﴿هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسَى ﴿١٥﴾ إِذْ نَادَاهُ رَبُّهُ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾ اذْهَبْ إِلَى فِرْعَوْنَ
إِنَّهُ طَغَى ﴿١٧﴾ فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَى أَن تَزَكَّى ﴿١٨﴾ وَأَهْدِيَكَ إِلَى رَبِّكَ فَتَخْشَى ﴿١٩﴾ فَأَرَاهُ الْآيَةَ
الْكُبْرَى﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ وَعَصَى ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَى ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ فَنَادَى ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ
الْأَعْلَى﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ اللَّهُ نَكَالَ الْآخِرَةِ وَالْأُولَى ﴿٢٥﴾ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَى﴿٢٦﴾﴾

## د کلمو معنا

| | | | |
|---|---|---|---|
| {حَدِيثُ} | خبر، کيسه. | {عَصَى} | سرغړونه يې وکړه. |
| {طُوًى} | د وادی (غونډۍ)نوم دی. | {أَدْبَرَ} | شايې واړوله. |
| {طَغَى} | سرغړونه يې وکړه، له حده تېر شو. | {حَشَرَ} | راټول يې کړل. |
| {تَزَكَّى} | پاك شې. | {نَكَالَ} | عذاب. |
| {الْآيَةَ} | نښه، معجزه. | {يَخْشَى} | ويريږي. |

## ژباړه

آيا تا ته د موسی ﷺ د کيسې خبر رسيدلی دی؟ کله چې د هغه رب د طوی په سپېڅلې غونډۍ کې هغه ته غږ وکړ چې فرعون ته لاړ شه هغه سرکشي کړېده.او هغه ته ووايه: آيا ته دې ته چمتو يې چې سپېڅلتيا غوره کړې.او زه ستا د رب په لوري تا ته لارښوونه وکړم چې(له هغه څخه) په تا کې ويره پيداشي. بياموسی(فرعون ته ورغی) هغه ته يې ستره نښه (معجزه) وښودله، خو هغه دروغجن وګڼله او ويې نه مانه.بيا د چلونو جوړولو لپاره په شا وګرځيد.او خلك يې راټول کړل، نو ده ناري کړې ويې ويل: زه ستاسې تر ټولو لوی رب يم.په پای کې الله هغه د آخرت او دنيا په عذاب اخته کړ.په حقيقت کې په دې کې لوی عبرت دی د هر هغه چا لپاره چې ويريږي.

## اجمالي تفسير

په دې ټولګه آيتونو کې الله ﷻ د موسی (عليه السلام) کيسه ياده کړې ده؛ څکه هغه مکلف شوی، ترڅو د وخت ظالم پاچا فرعون ته چې د خدايی دعوه يې کړې وه، لاړ شي او هغه د حق دين لوري ته راوبلي. دلته د موسی (عليه السلام) د کيسې د راوړلو موخه محمد ﷺ ته تسلي او ډاډ ورکول او د مشرکانو د سرغړونو او دروغو په وړاندې د ده د روحيې پياوړتيا ده. يعني کوم تکبر او دروغ چې دې مشرکانو د حقې بلنې او د اسلام د دين په وړاندې غوره کړی دی، دا څه نوی شی نه دی او د حق او باطل د جګړو په تاريخ کې اوړدې ريښې لري چې د فرعون سرغړونه او فساد د هغه بېلګه

ده، نو مایوسي او ناهیلیتوب په کار نه دی، باید د حق او توحید د لارې بلونکي ثابت قدمه واوسي او استقامت ولري.
الله جل جلاله خپل پیغمبر حضرت موسی علیه السلام ته امر کوي چې فرعون ته لاړ شه او ورته ووایه: آیا ته خوښوې چې تا ته ستا د پالونکي الله په لور لارښوونه وکړم، ترڅو ته له کفر، گناه او ناوړه کارونو څخه پاک شې؟
موسی (علیه السلام) فرعون ته د قناعت ورکولو او د خپلې پیغمبرۍ د ثابتولو لپاره څه معجزې، لکه: امسا، سپین لاس (ځلیدونکی لاس) وروښودل، خو فرعون د حق دین د منلو او په موسی (علیه السلام) باندې د ایمان د راوړلو پر ځای جنگ او مقابلې ته ملا وتړله، خپل ټبر او کوډگر یې راټول کړل، تر څو له ده څخه ملاتړ وکړي، د فرعون سرغړونو پر دې ځای بسنه ونکړه، بلکې دې یاغي او سرکښ طاغوت د خدایي دعوه وکړه او داسې اعلان یې وکړ: زه ستاسو تر ټولو لوی خدای یم. هماغه وه چې الله تعالی هغه د دنیا او آخرت په دردناک عذاب اخته کړ، ترڅو د ټولو سرغړوونکو او ظالمانو لپاره پند او عبرت واوسي.

## د لوست گټې

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر گټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- د فرعون د ظلم او سرغړونو بیان چې په کفر او گناه کې له ټولو ټېر شوی و.
- پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د حقې لارې بلونکو ته ډاډ او روحي پیاوړتیا، ترڅو د دعوت د لارې د ستونزو په وړاندې ټینگ عزم او ثبات له لاسه ورنکړي.
- د دې خبرې بیان چې د نفس سپېڅلتیا یوازې د سمې عقیدې او د الهي دین پر احکامو د عمل کولو له لارې شونې ده.
- د زړه عاجزي او له الله نه ویره، د الله د معرفت او پېژندنې له لارې شونې ده.
- داعي او بلونکی باید په ډېرې غورې تگلارې سره خلک د حق دین لور ته راوبلي او ترڅنگ یې ښه او نرم الفاظ وکاروي.

## پوښتنې

١- لاندې کلمې معنا کړئ:
{الْمُقَدَّس- كَذَّبَ- عِبْرَة}.
٢- الله جل جلاله ولې موسی (علیه السلام) فرعون ته ولیږه؟
٣- د حضرت موسی (علیه السلام) معجزه څه وه؟
٤- مسلمان بلونکی د نیکۍ او ښیگڼې لوري ته د خلکو د بللو لپاره، باید کومه طریقه غوره کړي؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له لوست او نورو قرآني آیتونو څخه په گټې اخیستلو سره، د موسی علیه السلام د کیسې، د توحید د عقیدې د خورولو او هغې ته د دعوت او جهاد په هکله یوه مقاله ولیکي، چې له یو مخ څخه کمه نه وي.

# د النازعات سورت

(دریمه برخه)

﴿أَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَاءُ بَنَاهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّاهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ
ضُحَاهَا ﴿٢٩﴾ وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا ﴿٣٠﴾ أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا ﴿٣١﴾ وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا
﴿٣٢﴾ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ﴿٣٣﴾﴾

## د کلمو معنا

{رَفَعَ} پورته يې کړ.

{أَغْطَشَ} تياره يې کړه.

{دَحَاهَا} ويې غوړوله، هواره يې کړه.

## ژباړه

آيا ستاسو پيدا کول ډېر زيات ګران کار دی که د آسمانونو؟ الله هغه جوړ کړي دي. د هغه چت يې ښه هسک درولای دی، د هغه شپه يې تياره کړې ده او ورځ يې راويستلې(روښانه کړې) ده. له هغه وروسته يې ځمکه غوړولې ده. له هغې څخه يې د هغې اوبه او شينلي راويستلي دي. او غرونه يې پکې کلک کړل. ستاسې او ستاسې د څاريو د ګټې لپاره.

## اجمالي تفسير

الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې د خپل بې پايه قدرت ځينې نښې نښانې په کايناتو او طبيعي پديدو کې، لکه: د آسمان، شپې او ورځې، ځمکې، اوبو او نباتاتو پيدايښت بيانوي، له دې بيان څخه موخه دا ده، چې انسان د يوه لوی حقيقت په توګه د الهي قدرتونو د نمونو په ليدلو سره پر آخرت او له مرګ وروسته په بيا راژوندي کيدو ايمان راوړي. هغه ذات چې د ځمکې، آسمان، شپې، ورځې او د طبيعت د نورو موجوداتو د پيدا کولو قدرت لري، پرته له کوم شکه په دې هم قادر دی چې انسان وروسته له مرګه دويم ځلي راژوندی کړي.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د دې لوست په مبارکو آیتونو کې فکر وکړي او په خپل چاپیریال کې دې د الله د قدرتونو په نښو نښانو له یو بل سره خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کېږي:

- وروسته له مرګه د بیا را ژوندي کېدو او محاسبې، د عقیدې ټینګښت.
- پر انسانانو باندې د الله د ځینو نعمتونو بیان.
- په کایناتو کې د فکر او سوچ له لارې د الله د علم او قدرت د نښو او آثارو درک کول.

**پوښتنې**

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{سَمْكَهَا - ضُحَاهَا - مَرْعَاهَا - الْجِبَالَ - مَتَاعًا}.

۲- الله تعالی ولې د خپل علم او قدرت ځینې نښې په یاد شوو آیتونو کې بیان کړي دي؟

۳- د اوبو، نباتاتو او په ځمکه کې د نورو ګټورو شیانو له پیدایښت څخه موخه څه ده؟

**کورنۍ دنده**

د لوست د آیتونو د مفهوم لنډیز په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# د النازعات سورت

(څلورمه برخه)

﴿فَإِذَا جَاءَتِ الطَّامَّةُ الْكُبْرَى ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ مَا سَعَى ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَن
يَرَى﴿٣٦﴾ فَأَمَّا مَن طَغَى ﴿٣٧﴾ وَآثَرَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿٣٨﴾ فَإِنَّ الْجَحِيمَ هِيَ الْمَأْوَى ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا
مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى ﴿٤١﴾ يَسْأَلُونَكَ عَنِ
السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا ﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَاهَا ﴿٤٣﴾ إِلَى رَبِّكَ مُنتَهَاهَا ﴿٤٤﴾ إِنَّمَا أَنتَ مُنذِرُ
مَن يَخْشَاهَا ﴿٤٥﴾ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَاهَا ﴿٤٦﴾﴾

## د کلمو معنا

{الطَّامَّةُ} لویه پېښه، قیامت.

{الْجَحِيمُ} دوزخ.

{طَغَى} سرکشي يې وکړه.

{الْمَأْوَى} استوګنځی.

{الْهَوَى} هوس، نفساني ناوړه غوښتني.

{السَّاعَةِ} قیامت.

{أَيَّانَ} څه وخت.

{مُنذِرُ} ويروونکی.

## ژباړه

بیا کله چې هغه لویه پېښه منځ ته راشي، هغه ورځ چې انسان خپلې ټولې پخوانۍ کړنې رایادې کړي.او د هر لیدونکي په مخ دوزخ پرانستل شي، نو چا چې سرغړونه کړې وي او د دنیا ژوند یې غوره ګڼلی وي، نو همدا دوزخ به یې د ورتګ ځای (استوګنځی) وي. او څوک چې د خپل رب له مخامخ کېدلو څخه ډار شوی وي او نفس یې له ناوړه غوښتنو څخه ساتلی وي، نو جنت د هغه استوګنځی دی. دا خلك چې له تانه پوښتنه کوي چې قیامت به کله پېښیږي؟ ستا له دې سره څه چې د نېټې یادونه یې وکړې؟ د هغه بشپړ معلومات خو یوازې ستا رب سره دي.

ته یوازې وېروونکی یې د هر هغه چا لپاره چې له هغه ساعت څخه وېرېږي. په کومه ورځ چې دا خلك قیامت وګوري، نو دوی به داسې وانګیري چې(په دې دنیا کې یا د مرګ په حالت کې یې) یوازې د یوې ورځې وروستنی برخه(ماښام) یا لومړنۍ برخه(څاښت) تېره کړې ده.

## اجمالي تفسیر

الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې د قیامت حالتونو ته چې لویه پېښه ورته ویل شوې ده، اشاره کوې او فرمایي چې انسان د قیامت په ورځ هر هغه څه چې په دنیا کې یې ترسره کړي دي، هغه را یادوي او دوزخ به د لیدونکو لپاره څرګند شي.

چا چې په دنیا کې سرغړونه کړې وي، کفر او ظلم یې خپله کړنلاره ګرځولې وي او یا یې د دنیوي خوندونو او شهوتونو په غوره کولو آخرت او قیامت هیرکړی وي، نو د داسې کسانو استوګنځی دوزخ دی. خو هغه څوک چې د الله له پوښتنې او حساب څخه ویره لري او له نفساني ناوړه غوښتنو یعنې حرامو شهواتو څخه یې ځان ژغورلای وي، نو د ده ورتګ به جنت ته وي چې د ده د استوګنې لپاره چمتو شوی دی.

په وروستنیو آیتونو کې الله تعالی خپل پیغمبرﷺ ته فرمایي، چې له بعث څخه منکر کافران له تا څخه د

قیامت د نیټې د راتلو پوښتنه کوي حال دا چې ته د هغې په اړه علم نه لرې او د قیامت د راتګ او پېښېدلو وخت او نېټه یوازې الله تعالی ته معلومه ده.

د پیغمبر کار د الله تعالی لوري ته د خلکو رابلل او د هغه له عذاب څخه ویره ورکول دي. کفار له تا څخه د استهزا په توګه پوښتنه کوي، حال دا چې دوی پر قیامت باندې ایمان نه لري، ته یوازې هغه چا ته د قیامت په اړه خبر ورکوې چې هغه پرې ایمان لري او له قیامت څخه د دوی ویره د دې لامل ګرځي چې له کفر، ظلم او ناوړه کارونو څخه ډډه وکړي.

د سورت په پای کې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته فرمایي، چې له قیامت څخه د منکرو کفارو مسخرو پوښتنو ته پاملرنه مه کوه، ځکه دا کافران به قیامت او د هغه ویروونکې ستونزې په خپلو سترګو ویني ، په هغه ورځ به پوه شي چې دنیوي ژوند او خوندونه یې د آخرت پر وړاندې له څو لنډو شیبو څخه پرته بل څه نه دي او داسې به وانګیري چې د دوی دنیوي ژوند له یو ماښام او یا سهار څخه زیات بل څه نه و.

**د لوست ګټې**

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- قیامت داسې سخته ورځ ده چې له هغې څخه په ډېره لویه پیښه تعبیر شوی دی.
- د قیامت په ورځ انسان خپل هر عمل چې په دنیا کې یې ترسره کړی وي، که هغه خېر وي او که شر، په یاد راولي او هیڅوک هم له خپلو کړو وړو څخه انکار نشي کولای.
- د دې خبرې بیانول چې مؤمن او نېک خلک به جنت ته ځي او د کافرو او فاجرو انسانانو استوګنځی به دوزخ وي.
- د دې خبرې څرګندول چې د قبر عذاب او ستونزې د قیامت د ستونزو پر وړاندې ډېرې وړې او ناڅیزه دي.

• انسان باید د قیامت ورځې او د هغې سختیو ته چمتو والی ولري او له ناوړه عقایدو او کړو وړو څخه چې دوزخ ته د لویدلو لامل ګرځي، ځان وژغوري.

• جنت ته د تللو لاره ایمان او نېک عمل دی.

## پوښتنې

۱- لاندې کلمې وژباړئ:

{يَتَذَكَّرُ – سَعَى – بُرِّزَتِ – مَقَامَ – عَشِيَّةً}.

۲- په مبارك آیت کې له ﴿الطَّامَّةُ الْكُبْرَى﴾ څخه مراد څه دی؟

۳- طغیان څه مفهوم لري؟

٤- د قیامت د ورځې د ځینو ستونزو نمونه واخلئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د نېکو اعمالو په هکله، چې جنت ته د انسان د ورتګ لامل ګرځي، یوه مقاله ولیکي چې له یو مخ څخه کمه نه وي.

# د عبس سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الر حيم

﴿عَبَسَ وَتَوَلَّى ﴿١﴾ أَن جاءهُ الْأَعْمَى ﴿٢﴾ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّى ﴿٣﴾ أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ الذِّكْرَى
﴿٤﴾ أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَى ﴿٥﴾ فَأَنتَ لَهُ تَصَدَّى ﴿٦﴾ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّى ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَن جاءكَ يَسْعَى
﴿٨﴾وَهُوَ يَخْشَى ﴿٩﴾ فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّى ﴿١٠﴾ كَلَّا إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴿١١﴾ فَمَن شَاء ذَكَرَهُ﴿١٢﴾ فِي
صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾ مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ﴿١٤﴾ بِأَيْدِي سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾﴾

## د کلمو معنا

{عَبَسَ} تندى يې تريوکړ.

{تَولى} مخ يې واړوه.

{الْأَعْمَى} هغه ړوند.

{يَزَّكَّى} ځان پاك کړي.

{الذِّكْرَى} پند.

{اسْتَغْنَى} بې پروايي وکړه.

{يَسْعَى} زيار باسي، په منډه راغي.

{تَلَهَّى} غفلت او بې پروايي کوې.

{سَفَرَةٍ} ليکونکي.

{بَرَرَةٍ} نېک عمله.

## ژباړه

تندى يې تريو کړ او مخ يې واړوه، چې کله هغه ړوند ورته راغى. ته څه خبر يې، کېداى شي چې هغه پاك شي. يا نصيحت ته غېر شي او نصيحت کول هغه ته ګټه ورسوي. کوم سړي چې بې پروايي غوره

کړه. تا هغه ته ډېره پاملرنه وکړه. او که هغه پاک نه شي، نو ته يې ضامن نه يې. او څوک چې په خپله تا ته په منډه راغی او هغه ويريده، له هغه سره تا بې پروايي وکړه. هيڅکله نه، دا خو يو پند او نصيحت دی. د چا چې زړه غواړي هغه دې ومني.دا په داسې صحيفو کې ليکل شوی دی چې مبارکې دي. په لوړو او پاکو پاڼوکې د عزتمنو(پرښتو) په لاسونو کې دي چې غوره او نيکو کاره دي.

## د سورت پېژندنه

د«عبس» سورت مکي دی. دوه څلوېښت آيتونه لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې(۸۰) سورت دی. د دې سورت لومړنی موضوع په نبي کريمﷺ باندې د هغه عتاب او ملامتيا بيانول دي، چې کله هغهﷺ له کافرانو سره د يوې ناستې په بهير کې يوه ړانده صحابي عبدالله بن ام مکتومرضي الله عنه ته، چې د يوې مسألې په هکله يې ورځخه پوښتنه کوله، کومه پاملرنه ونکړه او له هغه څخه يې د قريشو مشرانو ته خپله توجه واړوله تر څو هغوی اسلام ته راوبولي، نو له همدې امله دا سورت نازل شو او د (عبس) په نامه ونومول شو.

د عبدالله بن ام مکتومرضي الله عنه پر پېښې سربېره دا سورت نورې بنسټيزې موضوعګانې، لکه: د قيامت حالات، د هغو شيانو يادونه چې د انسان د ګټې لپاره پېدا شوي دي او د قيامت په ورځ د نېکو او بدو انسانانو برخليک هم بيانوي.

## اجمالي تفسير

سورت د عبدالله بن ام مکتومرضي الله عنه د پيښې په يادونې سره، چې د ده په خاطر الله جل جلاله په نبي کريمﷺ باندې ملامتيا وويله، پيليږي. حضرت محمدﷺ د قريشو له مشرانو سره د يوې ناستې په بهير کې نوموړي ړانده صحابي ته، چې د دين او قرآن په هکله يې له رسول اللهﷺ نه پوښتنه وکړه، څه پاملرنه ونه کړه او د پيغمبرﷺ دا نه پاملرنه، له دې امله وه، چې هغه غوښتل ترڅو عبدالله بن ام مکتوم ته بل وخت ځواب ورکړي او اوس چې د قريشو له مشرانو سره ناسته لري، بايد دوی اسلام ته راوبلي، نو ځکه پيغمبرﷺ د عبدالله بن ام مکتوم د ټينګار پر وړاندې تندی تريو کړ او له هغه څخه يې مخ وګرځاوه، هماغه و چې الله تعالی د پيغمبرﷺ دا کړنه خوښه نکړه او په هغه يې ملامتيا وويله.

الله تعالی خپل لوی پیغمبر ﷺ ته خطاب کوي او فرمايي: ته څه پوهیږې؟ شاید هغه (عبدالله بن ام مکتوم) غوښتي وي چې خپل ځان پاک کړي او یا پند واخلي او له هغه څخه ګټه ترلاسه کړي، خو هغه څوک چې ستا لارښوونو ته ارزښت نه ورکوي، په خپلو مالونو او شتو غولېدلي او د لویۍ او ځان غوښتنې لاره يې غوره کړې ده، ته هغوی ته خپل پام اړوې! په داسې حال کې چې دوی ستا د ټولې پاملرنې وړتيا نه لري او نه ته د دوی پرحتمي پاکۍ او لارښوونې مکلف يې، ځکه ستا یوازنۍ دنده د دین تبلیغ او خپرونه ده. خو هغه څوک چې د دین او قرآن د لارښوونو د حاصلولو لپاره تاته په منډه راځي او له الله څخه ویرېږي، ته له هغه څخه مخ اړوې او د هغه پر وړاندې بې پروايي غوره کوې!.

دا مبارک آیتونه د ابن ام مکتوم رضي الله عنه مقام او غوره والي ته اشاره کوي. باید وپوهیږو چې د پیغمبر ﷺ اجتهاد د اسلامي دعوت د مصلحت په خاطر و، هغه مبارک دا کار د دين د خپرولو او د کافرانو د ایمان راوړلو سره د هغه د حرص او مينې له امله ترسره کړ، دا کار نه د هغه د پیغمبرۍ عصمت ته تاوان اړوي او نه ګناه بلل کیږي، خو سره له دې الله تعالی بیا هم دا اجتهاد خوښ نه کړ او نبي کریم ﷺ يې دې ته متوجه کړ چې باید غوره کار پرې نښودل شي، چې هغه د اسلام په وړاندې مساوات او برابري ده او د اسلام دین ته په رابللو کې ټول برابر دي.

په وروستنيو آیتونو کې د قرآن کریم عظمت او لويي بیان شوې ده. د قرآن کریم آیتونه له نقص او عیب څخه پاک او د لوړ مقام لرونکي دي. قرآن کریم د الله تعالی وحې او کلام دی او د هغو پرښتو په واسطه لیکل شوی دی چې هغوی د لوړ مقام او نېکو کړنو څښتنې دي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته يې داسې اشاره کیږي:

- د الله په وړاندې د پیغمبر ﷺ د لوړشان او مرتبې بیانول؛ ځکه الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته ادب ورښيي، تر دې چې د يوه وړوکي مباح او روا کار په ترسره کولو خپل پیغمبر ﷺ ته دا نه خوښوي چې په مقابل کې يې بل مهم او غوره کار پریږدي.
- د وحې په رسولو کې د نبي کریم ﷺ په رښتینولۍ ټینګار او دا چې پیغمبر ﷺ په بشپړې امانتدارۍ سره الهي پیغام او خبرې که په هغه کې شخصاً ده ته ملامتیا هم وي، پرته له کمولو او پټولو څخه خلکو ته رسوي.

• د قدرمن صحابي عبدالله بن ام مکتوم﷛ د لوړې مرتبې او مقام بیان.

• د اسلام په دین کې د عدالت او برابرۍ پر بنسټ ټینګار او دا چې د الله تعالی په وړاندې د غوره والي یوازینی معیار، تقوی او پرهیزګاري ده نه مال، دبدبه او داسې نور.

• د قرآن کریم د غوره والي او عظمت بیان، چې د وروستني سپیڅلي آسماني کتاب په توګه د انسانانو د لارښوونې لپاره رالیږل شوی دی.

## پوښتنې

١- لاندې کلمې معنا کړئ:

{يُدْرِيكَ - لَعَلَّهُ، كَلَّا - صُحُفٍ - كِرَامٍ}.

٢- عبدالله بن ام مکتوم ته د پیغمبرﷺ د نه پاملرنې لامل څه و؟

٣- د الله له لوري پیغمبرﷺ ته عتاب، په څه دلالت کوي؟

٤- په یادو شوو آیتونو کې د عدالت او برابرۍ یوه بیلګه را په ګوته کړئ.

## کورنۍ دنده

د عدالت او برابرۍ په هکله، یوه لس کرښیزه مقاله ولیکئ.

# د عبس سورت

(دويمه برخه)

﴿قُتِلَ الْإِنْسَانُ مَا أَكْفَرَهُ ﴿١٧﴾ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُ ﴿١٨﴾ مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُ فَقَدَّرَهُ ﴿١٩﴾ ثُمَّ السَّبِيلَ يَسَّرَهُ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ أَمَاتَهُ فَأَقْبَرَهُ ﴿٢١﴾ ثُمَّ إِذَا شَاءَ أَنْشَرَهُ ﴿٢٢﴾ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَا أَمَرَهُ ﴿٢٣﴾ فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ إِلَى طَعَامِهِ ﴿٢٤﴾ أَنَّا صَبَبْنَا الْمَاءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَأَنْبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَعِنَبًا وَقَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَحَدَائِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَفَاكِهَةً وَأَبًّا ﴿٣١﴾ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ ﴿٣٢﴾﴾

## د کلمو معنا

| | | | |
|---|---|---|---|
| {ما أَكْفَرَهُ} | خومره کافر او ناشکره دی، څه شي کافر کړ هغه. | {صَبًّا} | په تويولو. |
| {خَلَقَهُ} | هغه يې پيدا کړ. | {شَقَقْنَا} | څيرې کړه موږ . |
| {السَّبِيلَ} | لاره . | {قَضْبًا} | سابه. |
| { يَسَّرَهُ } | آسانه يې کړه. | {فَاكِهَةً} | ميوه. |
| {أَنْشَرَه} | هغه به راپورته کړي ، هغه به ژوندی کړي. | {أَبًّا} | واښه. |

## ژباړه

لعنت دې وي په کافر انسان (مړ دې شي کافر انسان) څه شي کافر کړ هغه؟ له څه شي څخه الله هغه پيدا کړی دی؟ د نطفې له يوه څاڅکي څخه يې هغه پيدا کړ، بيا يې د هغه اندامونه برابر کړل.بيا يې د هغه لپاره د ژوند لاره آسانه کړه. بيا يې هغه مړ او قبرته يې ورساوه. بيا يې چې کله خوښه شي، نو راپورته به يې کړي. هيڅکله نه ، انسان هغه څه پوره نه کړل چې الله ورته امر کړی و. نو انسان دې خپلو خوړو ته وګوري. موږ اوبه له بره را تويې کړې دي. بيا مو ځمکه په عجيبه شان شلولې(څيرلې) ده، نو زرغون کړې موږ په هغې کې غلې دانې، انګور، سابه، زيتون، کجورې، ګڼ باغونه، ډول ډول ميوې او واښه. ترڅو تاسې او ستاسې څاروي ترې ګټه واخلي.

## اجمالي تفسير

الله تعالی په دې آيتونو کې لومړی د کافرانو انکار او ناشکري بيانوي او بيا د انسان پاملرنه د هغه بنسټيز جوړښت ته را اړوي او د خپل بې پايه علم او مطلق قدرت اغيزې د انسان په خلقت او پيدايښت کې را يادوي. په وروستيو آيتونو کې الله جل جلاله ځينې هغه نعمتونه را يادوي چې انسان ته يې ورپيرزو کړي دي.

د دې ټولو حقيقتونو له بيانولوڅخه موخه دا ده، ترڅو انسان خپل حقيقت وپيژني، د کايناتو د پيدا کوونکي د علم

او قدرت اغېزو ته په پاملرنې سره د ایمان او نېک عمل لاره خپله کړي او له کفر او د الله د اوامرو له سرغړونې څخه ځان وژغوري.

د (قتل) کلمه مفسرینو په مرگ او لعنت دواړو سره تفسیر کړې ده یعنې په کافر انسان باندې دې مرگ یا لعنت وي او له (الانسان) څخه مراد دلته هرکافر او متکبر انسان دی.

**فعالیت**

د ټولگي زده کوونکي دې په کوچنیو ډلو ووېشل شي او په خپلو منځوکې دې د الله تعالی د علم او قدرت د اغیزو او آثارو په هکله له یو بل سره خبرې وکړي.

## د لوست گټې

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر گټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کېږي:

- د الله تعالی د علم ، قدرت او حکمت د آثارو بیان، چې ټول د ایمان مستلزم دي.
- د الله تعالی د علم او قدرت د نمونو او نښانو د څرگندولو له لارې د الله تعالی د علم او قدرت پر شتون دلیل نیول، ځکه ټول جوړ شوي شیان د صانع ( جوړوونکي) د علم او قدرت پر شتون د لالت کوي، نو ځومره به ناشکره او له حق څخه منکر وي هغه څوک چې له دې ټولو حقایقو سره، سره بیا هم په الله تعالی ایمان نه راوړي.
- د دې خبرې بیانول چې انسان سره له ټولو هلوځلو بیا هم نشي کولای د الله تعالی د بې پایه نعمتونو شکر اداکړي.

**پوښتنې**

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{ قُتِلَ - نُطْفَةٍ - فَلْيَنْظُرِ - حَبًّا - حَدَائِقَ - غُلْبًا - مَتَاعًا }.

۲- په ذکر شوي مبارک آیت کې له انسان څخه څوک مراد دی؟

۳- د ﴿قُتِلَ الْإِنْسَانُ﴾ جمله په څه دلالت کوي؟

٤- الله تعالی ولې په یادو شوو آیتونوکې خپل یو شمېر نعمتونه بیان کړي دي؟

**کورنی دنده**

زده کوونکي دې په خپل چاپیریال کې د الله د قدرت ځینو آثارو ته په نظر اچولو سره یوه مقاله ولیکي، چې له یو مخ څخه کمه نه وي.

# د عبس سورت

(دريمه برخه)

بسم الله الر حمن الر حيم

﴿فَإِذَا جَاءَتِ الصَّاخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ
﴿٣٦﴾ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾
وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُولَئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾ ﴾

## د کلمو معنا

| | | | |
|---|---|---|---|
| {الصَّاخَّةُ} | سخته چيغه. | {ضَاحِكَةٌ} | خندېدونکي. |
| {يَفِرُّ} | تښتي. | { غَبَرَةٌ } | خاورې او دوړې به پرې وي. |
| {الْمَرْءُ } | انسان. | { قَتَرَةٌ} | توره، تياره. |
| {مُسْفِرَةٌ} | روښانه. | { الْفَجَرَةُ } | فاجران ، بدکاران. |

## ژباړه

نوکله چې غوږ کڼوونکې چيغه پورته شي. په هغه ورځ به انسان له خپل ورور، خپلې مور، خپل پلار، خپلې مېرمنې او خپلو اولادونو څخه تښتي. له هغو څخه پر هر يوه به په دې ورځ داسې حالت راشي چې د هغه به له ځانه پرته بل هيچاته پام نه وي. ځينې مخونه به په دې ورځ روښانه ځلېږي. ورين خندانه، خوښ او تازه به وي. په ځينو څېرو به په دې ورځ خاورې او دوړې وي او تک تور به اوښتي وي. (دا تور مخي) همدا کافران، فاجران او بد چلنه خلک دي.

## تفسير

الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې د قيامت وېروونکی حالت او پر انسانانو د هغه اغېزه بيانوي فرمايي: کله چې د انسانانو را ټولوونکې او وېروونکې چيغه راورسېږي، نو دا غږ به د قيامت د پيلېدلو نښه وي. په هغه ورځ به هر انسان له خپل ورور، مور، پلار، د ژوند له ملګرې ( مېرمنې) او اولادونو څخه تښتي. په دې ورځ به هر څوک له داسې حالت سره مخامخ وي چې د نورو له پاملرنې څخه به په ټوليزه توګه مخ اړوي او په خپل غم به اخته وي. په دې ورځ به ځينې مخونه روښانه، خندېدونکي او خوشحاله وي، ځينې نور مخونه به تک تور او ګردجن وي. دا حالت به له يوې خوا پر ده د قيامت د وېروونکې اغېزې له وجې وي او له بلې خوا به د ذلت او رسوايی غم د ده څېره توره او تياره کړې وي، کوم کسان چې د داسې حالت لرونکي وي همدوی کافران، د الله له وجود

نه منکران او د هغه له اوامرو څخه مخ ګرځوونکي او فاسقان دي. د قیامت دا بد او ویروونکی حالت به داسې وي چې هر انسان به په خپل غم او پریشانۍ کې اخته وي. په یوه حدیث کې له رسول الله ﷺ څخه روایت شوی دی چې د قیامت په ورځ به تاسې تناکې پښې، بربنډ او نا سنته را غونډکړای شئ، له پېغمبر ﷺ څخه د هغه یوې بي بي پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله! په داسې حالت کې کیدای شي چې یو بل ته وګوري او یو د بل شرمځای ووینې؟ پېغمبرﷺ په ځواب کې دا ﴿لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ﴾ آیت ولوست. دا حدیث ترمذي او نسایي له ابن عباس (رضي الله عنهما) څخه روایت کړی دی. همدارنګه یو بل حدیث امام مسلم له حضرت عایشې (رضي الله عنها) څخه روایت کړی دی.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- د قیامت ورځ داسې له ویرې او ډارڅخه ډکه ورځ ده، چې په هغې کې به هر انسان له خپلې مور، پلار، ورور، میرمنې او اولادونو څخه تښتي، ځکه چې هر سړی به په خپل غم کې اخته وي.
- د قیامت په ورځ به خلك په دوه ډلو وویشل شي:

الف: د مؤمنو او الله پیژندونکو انسانانو مخونه به د دوی د ښایسته عملونو په وجه روښانه او ځلیدونکي وي، دوی به د خپلو کړو وړو بدله مومي او د خوشالۍ او خوښۍ نښې نښانې به د دوی له څیرو څخه له ورایه ښکاري.

ب: کافر او الله نه پیژندونکي انسانان چې د الله له حکم او فرمان څخه مخ ګرځوي، مخونه به یې تک تور، د ذلت او سپکاوي ګردونه به یې له څیروڅخه ښکاري، چې دا به د دوی د اندیښنې او غم نښه وي.

### پوښتنې

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{جاءَتِ، صَاحِبَتِه، وُجُوهٌ، يَوْمَئِذٍ}.

۲- د قیامت په ورځ ولې د نېکو خلکو مخونه روښانه اوځلېدونکي وي او د خوشحالۍ نښې یې له څیرو څخه ښکاري؟

۳- انسان باید په دنیا کې څه وکړي، ترڅو د قیامت په ورځ له غم او اندیښنې څخه خلاصون ومومي؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست د مبارکو آیتونو په رڼا کې د قیامت د ورځې ځینې حالتونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# د التکویر سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الر حیم

﴿إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ﴿١﴾ وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ﴿٣﴾ وَإِذَا الْعِشَارُ
عُطِّلَتْ﴿٤﴾ وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ﴿٥﴾ وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ﴿٦﴾ وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ﴿٧﴾ وَإِذَا
الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ﴿٨﴾ بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ﴿٩﴾ وَإِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ﴿١٠﴾ وَإِذَا السَّمَاءُ كُشِطَتْ﴿١١﴾
وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ﴿١٢﴾ وَإِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ﴿١٣﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ﴿١٤﴾ ﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {الشَّمْسُ} | لمر. |
| {النُّجُومُ} | ستوري. |
| { الْجِبَالُ } | غرونه. |
| { الْعِشَارُ } | حاملې او بلاربې اوښې (چې په حمل یې لس میاشتې تېرې شوې وي). |
| {الْوُحُوشُ} | ځیروونکي حیوانات، ځناور. |
| {ذَنبٍ } | گناه. |
| { الصُّحُفُ } | د (صحیفة) جمع ده او دلته د کړنپاڼې (اعمالنامې) په معنا ده. |

## ژباړه

کله چې لمر ونغښتل شي او کله چې ستوري تت او خړپړ شي او کله چې غرونه وخوځول شي او کله چې د لسو میاشتو بلاربې اوښې په خپل حال (بې څښتنه) پرېښودل شي او کله چې د ځنګلونو ځناوران راغونډ او سره یوځای کړل شي او کله چې سمندرونه لمبه کړل شي او کله چې ساګاني (له جسدونو سره) یوځای کړل شي او کله چې له ژوندۍ خښې کړای شوې نجلۍ څخه پوښتنه وشي چې هغه په کومه گناه وژل شوې ده؟ او کله چې

عملنامې خپرې شي او کله چې د اسمان پرده وويستل شي. او کله چې دوزخ په ځوښ(جوش) راوستل شي او کله چې جنت نژدې راوستل شي، هغه وخت به هر چاته څرګنده شي چې له ځانه سره يې څه راوړي دي.

## د سورت پېژندنه

د التکوير سورت مکي دی، (۲۹) آيتونه لري او په (تکوير) ځکه نومول شوی دی چې د سورت په پيل او لومړي آيت کې د (تکوير) لفظ راغلی دی چې د لمر د نغښتلو او د هغه د روښنايي د تتېدلو خبره پکې راغلې ده چې دا په خپله د قيامت د پيلېدلو بله نښه ده.

د دې سورت موضوع هم قيامت او د هغه د نښانو پيل، د جنت او دوزخ يادونه او ورسره د وحې او رسالت بيان دی.

## اجمالي تفسير

په دې څوارلسو آيتونو کې د (اذا) کلمه لس ځلې راغلې ده چې د قيامت ځينې لويې نښې بيانوي. دا نښې د کايناتو د نظام د له منځه تللو علامې ګڼل کيږي. الله تعالی فرمايي: کله چې لمر ونغښتل شي، روښنايي له لاسه ورکړي او په يو تور ټيکلي بدل شي. کله چې ستوري خرپړ شي او د آسمان دقيق نظام له منځه لاړ شي او ستوري را ولويږي. کله چې غرونه له بېخه وايستل شي او د ذراتو د يوې مجموعې په څير حرکت وکړي. کله چې د عربو قيمتي مال، چې هغه بلاربې اوښې دي او د زېږنې وخت يې رارسيدلای وي او بې څښتنه پاتې شي او څښتنان يې د قيامت له ويرې په خپل غم اخته وي. کله چې ټول ځنګلي ځناوران د قيامت له ويرې يوځای ته را غونډ شي، ترڅو له يو او بل څخه خپل غچ واخلي او بيا خاوري شي. کله چې د سمندرونو اوبه په اور بدلې شي او نفسونه جوړه کړای شي، يعنې ارواګانې بېرته په بدنونو کې ننوځي او يا دا چې ښه نفسونه د ښو او بد نفسونه له خپلو بدو سيالانو سره يوځای کړلای شي. کله چې د بې ګناه ژوندۍ ښخې شوې نجلۍ څخه پوښتنه وشي چې په څه ګناه ژوندۍ ښخه شوې ده؟ ځکه عربانو به خپلې لورګانې د خپل غلط او ناروا دود يا شرم، غريبۍ او تنګ لاسی له امله ژوندۍ خښولې، يعنې د ښخوونکي پرځای به له ښخې کړای شوې نه پوښتنه کيږي چې ولې ژوندۍ خښه کړای شوې ده؟

کله چې د خلکو دکړو وړو پاڼې راورسيږ ي او د حساب او کتاب لپاره وړاندې شي او د هر انسان عملنامه

په ښي يا کيڼ لاس ورکړل شي، لکه څرنګه چې دا مطلب په يوه بل آيت کې هم راغلی دی چې که د يوه انسان عملنامه په ښي لاس ورکړل شي، نو دا انسان به کامياب او سر لوړی وي، له ده سره به حساب او کتاب آسانه وشي او ناوړه او بدعملو انسانانو ته به عملنامه د شا له لوري په چپ لاس ورکول کيږي.

کله چې آسمان د پوستکي په څېر له تن څخه بېل کړای شي، دا تعبير د کايناتو د نظام د له منځه تللو څخه کنايه ده. کله چې د دوزخ اور بل او ښه ګرم کړای شي چې دا مطلب د قرآن کريم په نورو آيتونوکې هم بيان شوی دی او د دوزخ د اور خس او خاشاك به انسانان او تيږې وي او کله چې جنت د جنتيانو لپاره رانژدې کړای شي، لکه څرنګه چې د ( ق) په سورت کې راغلي دي: ﴿وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ﴾ يعنې: جنت به د پرهيزګارانو لپاره ښه رانژدې کړای شي، نو په دې وخت کې به هر نفس خپل کړي عملونه، که نېک وي يا بد ارومرو له ځانه سره راوړي.

په دې څوارلسو آيتونو کې د قيامت د ورځې خطرناك حالت انځور شوی چې هغه د کايناتو د نظام خواره واره کېدل او د اور د بڅرکو په شان د غرونو حرکت کول دي. له بلې خوا به غرونه د اور د سمندرونو په څېرحرکت کوي او په دغه وخت کې به هر انسان خپله عملنامه ويني.

وروستنی آيت د ( اذا) ځواب دی يعنې په يادو شوو آيتونوکې د شرط ځواب دی او دا مطلب څرګندوي چې هر څوك به خپل کړه وړه له ځانه سره راوړي او د ښوکارونو ښتن به د خپل ښه عمل په وجه جنت ته، او د بدو کارونو ښتن به د خپلو ناوړه کارونو له وجې دوزخ ته لاړشي. هوښيار انسان بايد د دې خطرناکو پېښو په درك کولو سره خپلو کړو وړو ته متوجه شي او د قيامت ورځ او د هغې ستونزو ته ځان چمتوکړي. دا کار يوازې دنېکو کارونو په ترسره کولو او له بدو او ناوړه کارونو څخه په ډډه کولو ترسره کېدای شي.

### د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آيتونه يو شمېر ګټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

- د قيامت په راتلو سره به د هغه څرګندې نښې چې د کايناتو د نظام خواره واره کېدل دي، يو په بل پسې ظاهرې شي.

• د قيامت د ورځې له ويرې او هيبت څخه به انسان له هر ارزښتناك او قيمتي شي څخه بې پروا شي او پاملرنه به ورته نه کوي، لکه څرنګه چې په مخکني سورت کې راغلي دي چې انسان به له خپلوانو څخه تښتي.

• د قيامت پر ورځ باندې د عقيدې ټينګښت او دا چې قيامت، حشر او د اعمالو حساب ورکول حق او ارومرو راتلونکي دي.

• نېکو عملونو ته د خلکو هڅول، کوم چې د دوزخ له اور نه د ژغورنې او خلاصې لامل ګرځي.

• له شرك، ګناهونو او ناوړو اعمالو څخه د خلکو ويرول، چې د دوزخ په اور کې د سوځېدلو لامل ګرځي.

## پوښتنې

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

**{كُوِّرَتْ - انْكَدَرَتْ - سُيِّرَتْ - عُطِّلَتْ - حُشِرَتْ - سُجِّرَتْ ، سُعِّرَتْ}.**

۲- د قيامت په ورځ د کايناتو د نظام د خواره واره کېدو ځينې نښې بيان کړئ.

۳- د قيامت د ورځې د ويرونکو پېښو په بيانولو کې، د انسانانو لپاره څه عبرتونه او لارښوونې پرتې دي؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کايناتو د نظام د نړېدلو او د قيامت د پيلېدلو په هکله يوه مقاله وليکي، چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# د التکویر سورت

(دویمه برخه)

﴿فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ ﴿١٥﴾ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ ﴿١٦﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ﴿١٧﴾ وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ
﴿١٨﴾ إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿١٩﴾ ذِي قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ ﴿٢٠﴾ مُطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴿٢١﴾ وَمَا
صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُونٍ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ ﴿٢٣﴾ وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ ﴿٢٤﴾ وَمَا
هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ ﴿٢٥﴾ فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ ﴿٢٦﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ ﴿٢٧﴾ لِمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ
أَنْ يَسْتَقِيمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٢٩﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{الْخُنَّسِ} تلونکو راتلونکو او راګرځېدونکو ستورو.

{الْكُنَّسِ} پټېدونکو.

{عَسْعَسَ} چې تېره شي او بیا راوګرځي.

{تَنَفَّسَ} څرګند ووهي، سا واخلي.

{مَكِينٍ} د لوړ مقام، رتبې او قوت لرونکی.

{مُطَاعٍ} منل شوی، د پیروی وړ.

{ضَنِينٍ} بخیل.

## ژباړه

نو نه! زه لوړه (قسم) کوم په تلونکو او راتلونکو او په پټه خوځېدونکو ستورو. او په شپه چې کله تېره شي او بیا راوګرځي. او په سهار چې کله څرګند وهي او سا واخلي. دا په واقع کې د یوستر استازي وینا ده چې د ډېر قوت لرونکی، د عرش د څښتن په وړاندې د لوړې مرتبې او مقام څښتن دی. د هغه حکم منل

کيږي، هلته هغه د ډاډ وړ دی. او (ای د مکې خلکو!) ستاسې ملګری لیونی نه دی او ده یقیناً هغه (پیغام راوړونکی) په روښانه فضا (داسمان په څنډه) کې لیدلای دی او دی د غیب (خلکو ته د وحې د رسولو په کارکې بخیل نه دی او دا (قرآن) د کوم رټل شوي شیطان وینا نه ده، بیا تاسې کوم پلو ته ځئ؟ دا ( قرآن) خو د ټولو نړیوالو لپاره یو نصیحت دی. له تاسې نه هر هغه چاته چې غواړي په سمه لار لاړ شي او ستاسې په غوښتنه هیڅ نه کیږي، ترڅو پورې چې د الله رب العلمین خوښه نه وي.

## اجمالي تفسیر

د تېر شوي لوست په څوارلسو آیتونو کې د قیامت لویې نښې په داسې توګه بیان شوې وې چې کله دا نښې رامنځ ته شي، نو په هغه وخت کې به هر انسان ومومي چې د قیامت د ورځې لپاره یې له ځان سره څه راوړي دي. الله تعالی د دې لوست آیتونو کې د قرآن کریم او د پیغمبرﷺ د رښتینتوب لپاره په ستورو قسم یاد کړی دی او فرمايي: زه په هغو ستورو قسم یادوم چې بیا راګرځیدونکي او راختونکي وي او په سباوون چې کله څرک وهي او را وخیژي.

امام قرطبي (رحمه الله) په خپل تفسیر کې لیکلي دي: ستوري په ورځ کې پټیږي او د شپې راڅرګندیږي لکه هوسۍ (غرڅې) چې د شپې له مخې په خپلو غارونو کې پټیږي[1].

الله تعالی فرمايي: د مشرکانو د باطل ګومان پر خلاف دا قرآن کریم د الله تعالی خبرې دي او د عزتمنې پرښتې جبرائیل (علیه السلام) په واسطه راوړل شوی دی، دغه پرښته چې د لوی قوت څښتنه ده او د عرش د څښتن ( الله جل جلاله) په وړاندې له لوړ مقام او رتبې څخه برخمنه ده او څه شی چې د الله له لوري ورته سپارل کیږي هغه په بشپړ امانت پیغمبرﷺ ته رسوي.

په دې آیت کې د قرآن کریم اضافت جبرائیل (علیه السلام) ته له دې امله شوی دی چې قرآن کریم د ده په واسطه او د ده په ژبه پیغمبرﷺ ته رسیدلای دی. لکه څرنګه چې د قرآن کریم په بل آیت کې راغلي دي: ﴿نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ عَلَى قَلْبِكَ﴾ یعنې دا قرآن کریم ستا په زړه د امینې پرښتې جبرائیل (علیه السلام) په واسطه نازل شوی دی.

---

۱- د- قرطبي تفسیر ( ۱۹/ ۲۳۵ ).

په وروستي آیت کې الله تعالی د مکې خلك (قریش) او یا ټول بشریت مخاطب ګرځولي او فرمايي: دا ستاسو ملګری یعنې پیغمبرﷺ چې ستاسو په منځ کې ژوند کوي، کوم لیونی سړی نه دی، لکه څنګه چې د عناد او مخالفت له مخې د مکې مشرکانو هغه لیونی ګاڼه.

حضرت محمدﷺ دغه لويه پرښته جبرائیل (علیه السلام) د اسمان په څنډو کې لیدلې ده. بیا ور پسې فرمايي: دغه پېغمبر ﷺ ته چې د الله له لورې کوم پیغام ورکړل شوی دی، د هغه په رسولو کې یې تاسوته کوم بخل او بې پروایي نه ده کړې یا په بل عبارت دا چې هغه تاسې ته د دې غیبي وحې په رسونه کې هیڅ بخیلي نه ده غوره کړې او نه دا قرآن کریم د رټل شوي شیطان وسوسه یا خبره ده، نو ای د مکې خلکو! تاسې کوم لوري ته روان یئ؟ یعنې: له دې وضاحت او څرګندتیا سره، سره بیا هم قرآن دروغ ګڼئ او پېغمبرﷺ ته کوډګر، کاهن او شاعر خطاب کوئ.

په دريو وروستيو آيتونو کې فرمايي: دا قرآن د ټول بشريت لپاره پرته له پند او نصيحت څخه بل څه نه دی، دا د هغه چا لپاره پند او نصيحت دی چې په سمه لاره د تللو هیله من وي، یعنې: د ایمان لاره غوره کړي. تاسې پرته د الله له توفیق او غوښتنې نشئ کولای چې سمه لاره غوره کړئ، هغه ذات چې د ټولو کايناتو پيدا کوونکی او پالونکی دی باید له همغه څخه د سمې او نیغې لارې توفیق وغواړئ، ځکه پرته د الله له رضا او ارادې څخه هیڅ کار ممکن نه دی.

**فعالیت**

ستاسو په نظر دا آیتونه کوم بنسټیز مطلبونه را په ګوته کوي؟

### د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کېږي:

- د حضرت محمدﷺ د وحې او نبوت ثابتوالی.
- هغه پرښته چې پېغمبرﷺ او نورو پیغمبرانو (علیهم السلام) ته یې وحې راوړله، جبرائیل (علیه السلام ) و، دا پرښته د الله په وړاندې له لوړ او ځانګړې عزت او مقام څخه برخمنه ده.

• قرآن کریم د هغه چا لپاره، چې غواړي د ایمان لارې ته ځان ورسوي، پند او نصیحت دی.

• د حضرت جبرائیل (علیه السلام) د ځینو صفتونو، لکه: قوت، امانت، غوره مقام، بندګی او نورو بیان.

• د مشرکانو له تورونو څخه د پېغمبر اکرم ﷺ د پاکی بیان.

• د دې خبرې بیان چې د الله رضا او غوښتنه د بنده له رضا او غوښتنې څخه مخکې ده.

## پوښتنې

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{الْجَوَارِ، أَمِينٍ ،الْغَيْبِ ،رَجِيمٍ}.

۲- په ﴿وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ﴾ آیت کې خطاب چا ته دی؟

۳- له ﴿وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ﴾ آیت څخه څه مطلب تر لاسه کېږي او موخه یې څه ده؟

## کورنۍ دنده

آیا پېغمبر ﷺ جبرئیل (علیه السلام) لیدلای و؟ که یې لیدلای وي، نوڅرنګه او چیرته؟

زده کوونکي دې په دې اړه خپل معلومات د یوې اوه کرښیزې مقالې په ترڅ کې ولیکي.

# د الانفطار سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿إِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ ﴿١﴾ وَإِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴿٣﴾ وَإِذَا الْقُبُورُ
بُعْثِرَتْ ﴿٤﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ﴿٥﴾ يَا أَيُّهَا الْإِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ ﴿٦﴾
الَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ ﴿٧﴾ فِي أَيِّ صُورَةٍ مَّا شَاءَ رَكَّبَكَ ﴿٨﴾ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِالدِّينِ
﴿٩﴾ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ ﴿١٠﴾ كِرَامًا كَاتِبِينَ ﴿١١﴾ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴿١٢﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{انْفَطَرَتْ} وچوي.

{الْكَوَاكِبُ} ستوري.

{الْبِحَارُ} سمندرونه.

{الْقُبُورُ} قبرونه.

{خَلَقَكَ} ته يې پيدا کړې.

{تُكَذِّبُونَ} تاسې يې دروغ ګڼئ.

## ژباړه

کله چې اسمان وچوي او کله چې ستوري خواره واره شي. او کله چې سمندرونه وچوي او کله چې قبرونه پرانستل شي. هغه وخت به هرڅوک پر خپلو لومړنيو او وروستنيو عملونو وپوهېږي. ای انسانه! څه شي ته د خپل هغه مهربانه خدای په وړاندې مغروره کړی يې؟ چې هغه ته پيدا کړې يې، ستا اندامونه يې برابرکړي دي، ته يې په انډول جوړکړی يې او په هره بڼه يې چې خوښه وه ته

يې ونښلولې او جوړ يې کړې. هيڅکله نه، بلکې (اصلي خبره دا ده چې ) تاسې جزا او سزا دروغ ګڼئ. په داسې حال کې چې پر تاسې باندې څارونکي ټاکل شوي دي. داسې عزتمن ليکونکي چې ستاسې پر ټولو کړنو پوهيږي .

## د سورت پيژندنه

د الانفطار سورت مکي دی، (۱۹) آيتونه لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې (۸۲) سورت دی. (انفطار) مصدر دی او د (انفطرت) له کلمې څخه، چې د سورت په لومړي آيت کې راغلې ده، اخيستل شوی دی چې د چاودلو او څيريدلو په معنا دی. په دې سورت کې هم له هغې لويې پيښې يعنې د اسمانونو له څيريدو څخه يادونه شوې ده چې د قيامت له راتللو سره يوځای رامنځ ته کيږي.

## اجمالي تفسير

د دې سورت په لومړيو دريو آيتونو کې د قيامت د ورځې له لومړيو پېښو، لکه: د اسمان څيريدل، د ستورو رالويدل او د هغو ټوټه ټوټه کېدل، د سمندرونو طغيان، سرکښی او په يو بل کې ګډېدل چې د نړۍ او کايناتو د نازک او دقيق نظام له نړيدلو څخه عبارت دی، يادونه شوې ده. په وروستي آيت کې د قيامت نورې پيښې بيانېږي چې هغه د قبرونو څيريدل او له هغو څخه د مړو راوتل دي، دا کار د شپيلۍ په پوکلو را منځته کيږي . مړي دويم ځلي راژوندي کيږي، له قبرونو څخه راوځي او د هغوی په را پورته کېدلو سره د حشر ورځ پيل کيږي، نوځکه الله تعالی فرمايي: کله چې دا پېښې رامنځ ته شي نو هر نفس به په ښه توګه ومومي چې مخکې يې په دنيوي ژوندانه کې څه تر سره کړي دي؟

په وروستي آيت کې الله تعالی فرمايي: د قيامت په ورځ به سمندرونه سرغړوني کوي چې په پايله کې به سره يو ځای شي، چې دا د قيامت له نښو څخه بله نښه ده.

الله تعالی په شپږم آيت کې انسان ته خطاب کوي او هغه داسې رټي چې: هغه ذات چې ته يې په دې

ښایسته بڼه پیدا کړې او ښایسته اندامونه یې درکړل او په خپله خوښه یې جوړ کړې، دا نعمت او مهرباني دا ایجابوي چې انسان د الله شکر او مننه پرځای کړي، د هغه احکام ومني او له خپل پیداکوونکي او پالونکي څخه سرغړونه ونکړي.

په بل آیت کې الله تعالی فرمايي: « كَلَّا » یعنې: نه، هیڅکله نه، داسې نده لکه څرنګه چې یې کافر او له قیامت څخه منکر انسان انګیري، یعنې د نافرمانۍ او سرغړونې اصلي لامل دا دی چې دی په قیامت او جزا ایمان نه لري، یعنې کوم شي چې دی دوکه کړی د هغه یوازنی لامل د ده ناپوهي او غلط ګومان دی چې ګواکې ژوند همدا دنیوي ژوند دی او هغه ورځ به هیڅکله رانشي چې په هغې کې انسان د خپلو کړو وړو پایله ووینې.

دا په داسې حال کې ده چې الله تعالی د انسان د اعمالو د لیکلو او ساتلو لپاره پرښتې ټاکلې دي، دا عزتمنې پرښتې د انسانانو عملونه لیکي او د هغوی په ټولو کړو وړوخبرې دي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې څینو ته یې داسې اشاره کیږي:

۱-د قیامت د ورځې په را رسیدلو سره د کایناتو نازک نظام ویجاړیږي چې له نښو څخه یې د اسمان څیریدل، دستورو را پرځیدل، د سمندرونو سرغړونه، مستیدل او د مړو دویم ځلي را ژوندي کیدل او له قبرونو څخه د هغوی راپورته کېدل دي.

۲-د قیامت په ورځ خلک د خپلو کړو وړو پایلې ویني او د دوی له اعمالو څخه هیڅ شی هم پټ نشي پاتي کېدای.

۳-د هر انسان په هکله پرښتو ته دنده ورکړل شوې ده چې ټول نېک او بد عملونه ولیکي.

٤-له ناوړو پایلو څخه د هر هغه انسان وېرول چې په دنیوي ژوند کې ناوړه اعمال تر سره کوي.

۵-د شیطان په لومو کې له لویدنې څخه وېره او دا چې د نفس غوښتنې د ګناه او نافرمانۍ په کنده کې د

لویدلو لامل گرځي.

٦-د قیامت او له بیا راژوندي کېدلوڅخه انکار ، په دنیا او آخرت کې د انسان د هلاکت او تباهۍ لامل کیږي.

**پوښتنې؟**

۱-لاندې کلمې معنا کړئ:

{انْتَثَرَتْ- فُجِّرَتْ- بُعْثِرَتْ- قَدَّمَتْ- اَخَّرَتْ- رَكَّبَكَ- كاتِبِينَ}.

۲-د (الانفطار) سورت په پیل کې د قیامت څلور نښې ذکر شوې دي، دهغو نومونه واخلئ؟

۳-له «الحافظین» څخه څوك مراد دي او دوی څه دنده ترسره کوي؟

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې د لوست د آیتونو مفهوم په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# د الانفطار سورت

(دویمه برخه)

﴿إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿١٣﴾ وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ ﴿١٤﴾ يَصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّينِ ﴿١٥﴾ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَائِبِينَ ﴿١٦﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٧﴾ ثُمَّ مَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٨﴾ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْئًا وَالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ ﴿١٩﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{الْأَبْرَار} نېکان.
{ جَحِيم } دوزخ.
{ نَعِيم } نعمتونه.
{يَصْلَوْنَهَا} په هغه کې ننوځي.
{ الْفُجَّار} بدعمله، بدچلنه.

## ژباړه

بېشکه چې ښه خلک به په نعمتونو(مزو چرچو)کې وي او شک نشته چې بدکاران به په دوزخ کې اوسيږي. د جزا په ورځ به هغوی ورننوځي او له هغه(دوزخ) نه هيځکله پټيدای نشي. ته څه پوهيږې چې د جزا او سزا ورځ څه ده؟ هو، ته څه خبر يې چې هغه د جزا ورځ څه ده؟ دا هغه ورځ ده چې هيڅوك به د هيچا لپاره د هيڅ شي کولو وس نه لري، په هغې ورځ به فيصله په ټوله معنا يوازې د الله تعالی په واك کې وي.

## اجمالي تفسير

په دې آيتونو کې الله تعالی د دواړو ډلو نېکانو او بدانو پايلې بيانوي او فرمايي:

پرته له شکه مؤمنان يعنې هغه کسان چې په الله (جل جلاله) او د هغه په ستر پيغمبرﷺ يې ايمان راوړی او د نېکۍ او پرهيزګارۍ لاره يې خپله کړې ده، هغوی به د جنت په نعمتونو کې ژوندکوي. هغه کسان چې په الله ﷻ ، د هغه په پيغمبرﷺ او قيامت ايمان نه لري او د نا فرمانۍ لاره يې غوره کړې ده، دوی به په دوزخ کې وي. دا بدکاران به د قيامت د ورځې له فيصلې وروسته د خپلو ناوړو اعمالو له امله دوزخ ته داخليږي او دوی به څه وس ونلري، تر څو د دوزخ او د هغه له درد ناك عذاب څخه ځانونه وژغوري.

په وروستي آيتونو کې الله تعالی د قيامت د ورځې له ويروونکو حالاتو څخه چې په هغه کې انسان د خپلو کړو وړو بدله مومي، يادونه کوي او فرمايي: ته ای انسانه! څه پوهيږې چې د جزا او سزا ورځ به څرنګه وي؟ د ډېر زيات

ټینګار او د دې ورځې د ویرې او هیبت د څرګندونې له امله دا پوښتنه بیا تکراروي او فرمایي: ته څه پوهېږې چې د قیامت ورځ څرنګه ده؟ دا اسلوب د قرآن کریم په ډېرو ځایونوکې د قیامت د ویرې او هیبت د ستر ښودلو لپاره راغلی دی لکه: ﴿الْقَارِعَةُ . مَا الْقَارِعَةُ . وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ﴾ او ﴿الْحَاقَّةُ . مَا الْحَاقَّةُ . وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحَاقَّةُ﴾. ﴿الْقَارِعَةُ﴾ او ﴿الْحَاقَّةُ﴾ د قیامت له نومونو څخه دي.

یعنې: د قیامت د ورځې حالات داسې سخت، ستونزمن او ویره پاروونکي دي چې هیڅوك هغه په سمه توګه نشي درك کولای، ځکه د قیامت د ویرې او هیبت وصف او بیان د بشر له خیال او تصور نه ډېر اوچت دی.

الله تعالی په وروسته آیت کې فرمایي: په دې ورځ هیڅوك د دې وس نه لري چې بل چا ته ګټه ورسوي، یا د خپل زور او ځواك په مټ له هغه عذاب نه، چې د ده په انتظار کې دی، ځان وژغوري. بلکې په دې ورځ ټول واك او ځواك یوازې او یوازې د الله (جل جلاله) دی.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- د مؤمنو او پرهیزګارو انسانانو بدله، د جنت تل پاتې الهي نعمتونه دي.
- دکافرو او نا فرمانو انسانانو بدله، دوزخ او سوځوونکی اور دی.
- د قیامت په ورځ مطلق واک او اختیار یوازې د الله تعالی دی او هیڅوك نشي کولای چې خپل ځان او یا بل څوك د الله تعالی له عذابه وژغوري او هیڅوك هم د الله تعالی له اجازې پرته د بل لپاره شفاعت نشي کولای.
- د قیامت د سختې او لویې ورځې د ویرې او ستونزو بیان.

### پوښتنې

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{ يَوْمُ الدِّينِ، يَوْمَئِذٍ، الْأَمْرُ}

۲- د ابرار او فجار اطلاق پر چا باندې کیدای شي او په یادو شویو آیتونو کې د هر یوه پایله څرنګه بیان شوې ده؟

۳- د قیامت ځینې نومونه چې په قرآن کریم کې راغلي دي، بیان کړئ.

٤-د دې مبارك آیت ﴿وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَائِبِينَ﴾ مفهوم بیان کړئ.

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست د آیتونو له تفسیر څخه په ګټې اخیستلو، د قیامت په ورځ د کافرانو او بدکارانو د برخلیك په هکله یوه اته کرښیزه مقاله ولیکي.

# د المطففين سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ﴿١﴾ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ ﴿٢﴾ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ﴿٣﴾
أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ ﴿٤﴾ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٥﴾ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦﴾﴾

## د کلمو معنا

{ وَيْلٌ } هلاکت، تباهي.

{ الْمُطَفِّفِينَ } هغه کسان چې په پیمانه یا تله کې کمی کوي.

{ اكْتَالُوا } پیمانه رانیسي.

{ يَسْتَوْفُونَ } پوره یې اخلي.

{ يُخْسِرُونَ } کمی کوي، کم یې ورکوي.

## ژباړه

تباهي ده د تول کونکو لپاره. د هغو حال داسې دی چې کله له خلکو نه په پیمانه څه اخلي، نو پوره یې اخلي او کله چې خلکو ته په پیمانه یا تله څه ورکوي، نوکم یې ورکوي. آیا دا خلک باور نه کوي چې دوی راپاڅول کیږي په یوه لویه(د قیامت) ورځ کې. هغه ورځ، چې کله ټول خلک د رب العالمین په وړاندې ودریږي.

## د سورت پیژندنه

د (المطففین) سورت مکي دی، (٣٦) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې (٨٣) سورت دی.
په (المطففین) سره یې د نومولو وجه دا ده چې د سورت په پیل کې دا کلمه راغلې ده.
«المطففین» د «المطفف » د کلمې د جمعې صیغه ده او هغه چاته ویل کیږي چې د تللو یا پیمانه کولو په وخت کې د زیاتې ګټې د ترلاسه کولو په خاطر د نورو حق کم ورکوي، خو خپل حق پوره اخلي.

## د سورت د نازلیدلو لامل

نسايي او ابن ماجه د صحیح سند په یادونې سره د المطففین سورت د نازلیدلو د لامل په هکله له ابن عباس (رضي الله عنهما) څخه داسې روایت کړی دی: کله چې پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) مدینې منورې ته تشریف راوړ، نو د مدینې منورې خلکو به د پیمانې په راکړې ورکړې کې کمي کوله، هماغه و چې الله تعالی د المطففین له سورت څخه ځو آیتونه راولیږل چې وروسته له هغه خلکو په خپلو معاملاتو کې سمه لاره غوره کړه.

## اجمالي تفسیر

د المطففین سورت د هغو کسانو په وړاندې، چې په تله او پیمانه کې د خپل ځان د ګټې لپاره کمی یا زیاتی

کوي، د جنګ او سخت وعید له اعلان سره پیل شوی دی. الله تعالی فرمایي: د دوزخ تل (ژوره کنده)، عذاب او هلاکت دې وي د هغه چا لپاره چې په تله او پیمانه کې کمی او زیاتی کوي. د دې کړنې یعنې (تطفیف) مثال داسې دی، کله چې له خلکو څخه د ځان لپاره کوم شی تلي او یا پیمانه کوي، نو هغه بشپړ او پوره تر لاسه کوي او کله چې یې خلکو ته تلي او یا پیمانه کوي، نو کمی پکې کوي. په وروستي آیتونو کې الله تعالی مطففین د قیامت له ورځې څخه په ډارولو د عتاب ور ګرځولي او په اړه یې داسې فرمایي: آیا هغوی باور نه لري چې دویم ځلي به راژوندي کړای شي؟ په هغه لویه ورځ چې هغه د قیامت له ورځې څخه عبارت ده.

په هغه ورځ به ټول انسانان د خپلو عملونو د حساب ورکولو لپاره حاضر شي او د عالمیانو د پیداکوونکي او پالونکي په وړاندې به ودریږي.

له مبارکو آیتونو څخه موخه دا ده چې په تله او پیمانه کې کمی او زیاتی کول ناوړه عمل دی، د عدالت او رښتینولۍ له اصولو څخه مخالف کار دی، نو له الله څخه ویریدونکی انسان باید له داسې کارونو څخه ځان وژغوري. په تله او پیمانه کې کمی او زیاتی کول د آخرت په ورځ د ایمان لرلو سره په ټکر او تضاد کې دی، ځکه څوک چې د آخرت په ورځ، د قیامت په راتللو او د اعمالو په حساب ورکولو یقین لري، هغه هیڅکله هم داسې کار نه کوي چې په هغه لویه ورځ د ده د هلاکت او تباهۍ لامل وګرځي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- د ګټې د ترلاسه کولو لپاره د تطفیف (په وزن او پیمانه کې د کمي او زیاتي) حراموالی.
- خلکوته د بیا راژوندي کیدو او جزا ورکولو یادونه.
- د قیامت د ورځې د ویروونکو حالاتو بیان او دا چې خلک به د حساب ورکولو او د خپلو اعمالو د جزا لپاره د الله په وړاندې دریږي.

## پوښتنې

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{كَالُوهُمْ، يَظُنُّ ،مَبْعُوثُونَ ،النَّاسُ}.

۲- د المطففین سورت د نازلیدلو د لامل په اړه څه معلومات لرئ؟

۳- ولې د هغو کسانو لپاره چې په پیمانه او ترازو کې کمی او زیاتی کوي، سخت عذاب ټاکل شوی دی؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د تطفیف (په تله او پیمانه کې کمی او زیاتی) د دیني او ټولنیزو زیانونو په هکله یوه مقاله ولیکي چې له اتو کرښو څخه کمه نه وي.

# د المطففين سورت

(دويمه برخه)

﴿كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٍ ﴿٧﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا سِجِّينٌ ﴿٨﴾كِتَابٌ مَّرْقُومٌ ﴿٩﴾
وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ﴿١١﴾ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِ إِلَّا كُلُّ
مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ إِذَا تُتْلَى عَلَيْهِ آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِم
مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ كَلَّا إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُو
الْجَحِيمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ هَذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾﴾

## د کلمو معنا

{سِجِّينٌ} هغه کتاب دی چې د بدچلنو خلکو عملونه پکې ليکل کيږي.

{مَّرْقُومٌ} ليکل شوی.

{مُعْتَدٍ} تېرى کوونکی، له حده تېرشوی.

{أَثِيمٍ} بدعمله، ګناهکار.

{أَسَاطِيرُ} کيسې.

{رَانَ} زنګ وهلی دی.

## ژباړه

هيڅکله نه، ارو مرو د بدکارانو عملنامې د سجين په دفتر کې دي. او ته څه خبر يې چې د سجين دفتر څه شی دی؟ يو ليکل شوی کتاب دی. تباهي ده په هغه ورځ د دروغ ګڼونکو لپاره. د هغو لپاره چې د جزا او سزا ورځ دروغ ګڼي او دا ورځ دروغ نه ګڼي مګر هر هغه څوک چې له حده تېرى کوونکی بد عمله دی. کله چې پر هغه زموږ آيتونه ولوستل شي، نو وايي: دا خو د پخوانيو خلکو کيسې (افسانې) دي. هيڅکله نه، بلکې حقيقت دا دی چې د دې خلکو پر زړونو د دوی بدو عملونو زنګ اچولی دی.

هیڅکله نه، ارومرو به په هغه ورځ دوی د خپل رب له لیدلو څخه بې برخې وي. بیا به دوی په دوزخ کې واچول شي. بیا به دوی ته وویل شي چې دا هغه څه دي چې تاسې دروغ ګڼل.

**تفسیر**

الله تعالی فرمايي: ﴿كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٍ﴾ د «کلا» کلمه په عربي ژبه کې د رټنې او زجر لپاره استعمالیږی، دلته یې مفهوم دا دی، چې د قیامت د ورځې له ویرونکو حالاتو څخه وویریږئ ، په تله او پیمانه کې له کمي او زیاتي څخه ډډه وکړئ، ځکه کوم بدکاران چې دا کار کوي، هغوی د مجرمینو له ډلې څخه ګڼل کیږي او د دوی کړه وړه د بدکارو خلکو په دفتر کې چې د (سجین) په نامه یاد شوی دی لیکل کیږي. له (سجین) څخه مراد لکه څرنګه چې ابن کثیر (رحمه الله) وایي، هغه تنګ زندان دی چې د بدچلنو خلکو کړنپاڼې د هغه په دفتر کې ثبتیږي. بیا الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا سِجِّينٌ﴾، یعنې: څه شي ته پوه کړې چې سجین څه دی؟ دا پوښتنه دلته په زړه کې د وېرې او هیبت د پیدا کولو لپاره ده، ترڅو خلک د الهي احکامو له سرغړونې څخه ځانونه وژغوري. الله تعالی په خپله ﴿سِجِّينٌ﴾ تعریفوي او فرمايي: ﴿كِتَابٌ مَّرْقُومٌ﴾ یعنې سجین هغه دفتر دی چې عملونه پکې لیکل کیږي ، له تغییر او تبدیل څخه ساتل شوی دی. د فاجرانو او بدکارانو ( چې مطففین هم د هغوی له ډلې څخه دي) د پایلې او برخلیک له بیانولو څخه وروسته الله تعالی د هغو خلکو د هلاکت او تباهی یادونه کوي چې د قیامت ورځ دروغ ګڼي. د قیامت ورځ د دروغجنو لپاره د هلاکت او درد ناک عذاب ورځ ده، دروغجن هغه کسان دي چې د قیامت د ورځې بدله دروغ ګڼي، یعنې د قیامت راتلل دروغ ګڼي او باور پرې نه لري، نو الله تعالی د دوی صفتونه بیانوي او فرمايي: د قیامت ورځ یوازې هغه کسان دروغ ګڼي چې له حدودو څخه تیری کوي او ګناهکاران دي او له صفتونو څخه یې یو صفت دا دی چې کله د الله تعالی آیتونه پر دوی ولوستل شي، نو وایي: دا د پخوانیو خلکو کیسې او افسانې دي او کوم ارزښت او اعتبار نه لري، هغوی د الله تعالی آیتونه وحې نه ګڼي.

بیا الله تعالی د دوی د افترا او دروغو لامل بیانوي او فرمايي: « كَلَّا » نه هیڅکله داسې نده، بلکې د دوی زړونه د ناوړو عملونو په وجه زنګ وهلي چې نشي کولای حق وپیژني، نو ځکه یې زړونو ته قرآن لارنشي موندلای.

دا حقیقت په هغه حدیث کې، چې ابن جریر، نسایي او ترمذي د ابوهریرة ﷺ په روایت نقل کړی، راغلی دی چې پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: کله چې له کوم سړي څخه ګناه وشي، نو پر زړه يې یو تور داغ جوړیږي، کله چې له هغې ګناه څخه توبه وباسي او له الله تعالی نه بښنه وغواړي، نو له زړه څخه یې هغه تور داغ پاک شي او کله چې دویم ځلې ګناه ته مخه وکړي، نو دا تور داغ لوییږي او تر هغه اندازې پورې رسیږي چې په پای کې ټول زړه نیسي.

وروسته الله تعالی فرمايي: دا ډله خلك یعنې د قرآن او د قیامت له ورځې څخه منکرکسان به د قیامت په ورځ د الله تعالی له مهربانۍ او رحمت څخه په پرده کې ژوند کوي او د دوی ګناهونه به د الله د لیدلو مانع ګرځي او بیا دوی ارومرو دوزخ ته داخلیدونکي دي.

امام شافعي (رحمه الله) فرمايي: دا آیت په دې دلیل دی چې مؤمنان به د قیامت په ورځ الله تعالی ویني. د دوزخ ساتونکی (خازن) به د تمسخر او ملنډو په ډول د قیامت د ورځې منکرینو ته وايي: دا هماغه عذاب دی چې تاسو به په دینا کې دروغ ګڼلو او په هغه مو باور نه درلود، نو اوس دا عذاب وڅکئ.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- د قیامت د ورځې منکرین د هلاکت او تباهۍ وړ دي.
- د قیامت ورځ هغه کسان دروغ ګڼي چې له حق څخه تیري کوونکي او ګناهکار وي.
- د قیامت انکار کوونکي به د الله تعالی له رحمت او لورینې څخه محروم او د قیامت په ورځ به د الله تعالی له لیدلو څخه بې برخې وي.

• د قيامت د منکرينو لپاره سخت او شديد عذاب دی.

• پر ګناه باندې هميشه والی او له هغه څخه توبه نه کول، د زړونو د زنګ وهلو لامل ګرځي.

**پوښتنې؟**

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

**{كَلا، كِتَابَ، وَيْلٌ، يُكَذِّبُونَ}.**

۲- د فاجرانو د زړونو له زنګ څخه څه مراد دی؟ دا مطلب د حديث په رڼا کې بيان کړئ.

۳-امام شافعي (رحمه الله) په دې ﴿كَلَّا إِنَّهُمْ عَنْ رَبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَمَحْجُوبُونَ﴾ مبارك آيت کې پر څه شي استدلال کوي؟

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې د لوست د آيتونو لنډ مفهوم په خپلو کتابچو کې وليکي.

# د المطففين سورت

(دریمه برخه)

﴿كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْأَبْرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾ كِتَابٌ مَّرْقُومٌ ﴿٢٠﴾ يَشْهَدُهُ
الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢١﴾ إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ
نَضْرَةَ النَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَامُهُ مِسْكٌ وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ
﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُ مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{عِلِّيُّونَ} هغه کتاب دی چې د نېکانو عملونه پکې لیکل شوي دي.
{يُسْقَوْنَ} ورڅښل کیږي، خروبېږي.
{الْمُقَرَّبُونَ} د الله دربار ته نژدې.
{رَّحِيقٍ} شراب.
{الْأَرَائِكِ} تختونه، څوکۍ.
{مِسْكٌ} مشک.
{نَضْرَةَ} تازه والی، تازه ګي.
{تَسْنِيمٍ} په جنت کې دیوې چینې نوم دی.

## ژباړه

هیڅکله نه ، بېشکه د ښو خلکو کړنپاڼه (عملنامه) د (علّیّن) په دفتر کې ده.ته څه خبر یې چې (علّیّن) څه شی دی؟ یولیکل شوی کتاب دی، چې مقربې پرښتې یې ساتنه کوي. پرته له شکه چې ښه خلک به په مزو چړچو کې وي. په جګو څوکیو ناست ننداره کوونکي به وي. د هغو په څیرو کې به د نعمتونو د تازګی نښې لیدل کیږي. سر پټې خالص شراب به پرې څښل کیږي، چې د مشکو مهر به پرې لګیدلی وي، نو د دې سیالۍ په ګټلو کې دې سیالي کوونکي هڅه وکړي. په دغو شرابوکې به د تسنیم اوبه ګډې وي. دا هغه چینه ده چې یوازې الله ته مقرب خلک ترې اوبه څښي.

## تفسیر

په مخکینیو آیتونو کې د هغو انسانانو پایله او برخلیک بیان شو چې په تله او پیمانه کې یې کمی او زیاتی کاوه، ترڅنګ یې د بدکارانو د صفاتو او پایلو بیان هم وشو، په دې آیتونو کې د نېکو او ښوخلکو برخلیک او پایله بیانیږي. د دې خلکو کړنپاڼه به په (علیین) کې وي او دا هغه کتاب دی چې په هغه کې د نېکانو کړه وړه لیکل کیږي او مقربې پرښتې یې ساتنه کوي. وروسته الله تعالی فرمایي: پرته له شکه د الله تعالی نېک بندګان په بشپړو نعمتونو مزو چړچو

کې خوښ او خوشحاله اوسي چې هغه تل پاتې جنت دی. دوی به هلته په جګو تختونو ناست وي او هر لوري ته به د نعمتونو ننداره کوي. د جنتیانو په څېروکې د نعمتونو اغیزې او تازګي له ورایه ځرګندیږي او هلته به داسې شراب څښي چې سر به یې مهر شوی وي او په هغه کې به هیڅ داسې شی چې د هغه طبیعت یې بدل کړی وي، نه لیدل کیږی او د دې شرابو د جامونو مهر به د مشکو وي.

نوځوک چې دا نعمتونه غواړي هغه ته په کار دي چې د الله د احکامو منلو ته ځان چمتوکړي او په دې ډګر کې مسابقه وکړي ترڅو د قیامت په ورځ دا نعمتونه لاس ته راوړي، لکه څرنګه چې الله تعالی د (الصافات) په سورت کې فرمایي: ﴿لِمِثْلِ هَذَا فَلْيَعْمَلْ الْعَامِلُونَ﴾ یعنې: د داسې نعمتونو د لاس ته راوړلو لپاره باید عمل کوونکي نېک عمل وکړي. هغه اوبه چې د دې شرابو سره ګډېږي شوې دي هغه د (تسنیم) اوبه دي او (تسنیم) هغه چینه ده چې الله تعالی یوازې خپل نژدې بندګان له هغې څخه خړوبوي.

مفسرینو د جنت د شرابو په هکله چې هغه د (رحیق) په نامه یاد شوي دي، داسې لیکلي دي : د دې شرابو خاصیت او ځانګړتیا د دنیوي شرابو په څېر نه ده، چې انسان د سر په درد اخته، نشه او بې هوښه کړي، بلکې د جنت شراب داسې شراب دي چې د عنبرو بوی او بې سارې خوند لري.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

۱- د نېکو بنده ګانو د نیکیو بیان او د الله تعالی د هغو نعمتونو یادونه چې د دغو نېکانو لپاره یې چمتو کړي دي .

۲- د بعث (دویم ځل ژوندي کېدلو) او جزا پر عقیدې ټینګار او د هغه څه یادونه چې په آخرت کې رامنځ ته کیږي.

۳- د جنت او د هغه د تل پاتې نعمتونو د لاس ته راوړلو لپاره د بندګانو ترغیب او هڅول.

## پوښتنې؟

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{الْأَبْرَارِ، يَنْظُرُونَ ،تَعْرِفُ، النَّعِيم ،الْمُتَنَافِسُون}.

۲- د ځینو هغو نعمتونو نومونه واخلئ چې الله تعالی د نېکانو لپاره په جنت کې د هغو وعده کړې ده.

۳- په کومو چاروکې باید له یو بل سره مسابقه وشي ؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د تفسیر له کتابونو څخه په استفادې سره، د الله تعالی د نېکو بنده ګانو ځینې اوصاف په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# د المطففين سورت

(څلورمه برخه)

﴿إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُواْ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾ وَإِذَا مَرُّواْ بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا انقَلَبُواْ إِلَى أَهْلِهِمُ انقَلَبُواْ فَكِهِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا إِنَّ هَؤُلَاء لَضَالُّونَ ﴿٣٢﴾ وَمَا أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَافِظِينَ ﴿٣٣﴾ فَالْيَوْمَ الَّذِينَ آمَنُواْ مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾ هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{يَضْحَكُونَ} خاندي. {فَكِهِينَ} خوښي کوونکي، خوشحاله.

{يَتَغَامَزُونَ} اشارې او د ملنډو خندا کوي، سترګکونه وهي. {حَافِظِينَ} څارونکي، ساتونکي.

## ژباړه

پرته له شکه مجرمانو به (په دنيا کې) مؤمنانو پورې ملنډې او خندا کولې. کله به چې پر مسلمانانو تېريدل، نو په خپلو منځو کې به يې په هغوی پورې ملنډې، اشارې او خنداګانې کولې. کله به چې خپلو کورونو ته ورستنېدل، نو په خوشالۍ (ډېر غرور) به ورستنېدل. او کله به يې چې مؤمنان ليدل، نو ويل به يې: پرته له شکه همدوی (مؤمنان) لار ورکي دي. (حال دا چې) دوی د مؤمنانو د څارونکو په توګه نه وو ليږل شوي. نن به مؤمنان په کافرانو پورې خاندي. پر تختونو ناست د هغوی د حالت ننداره به کوي. آيا کافرانو ته د هغوی د بدو کړنو بدل او جزا ورکړل شوه؟.

## اجمالي تفسير

مفسرينو د دې مبارک آيت ﴿إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُواْ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ﴾ د نازليدو په هکله ويلي دي چې له مجرمانو څخه مراد د مشرکانو مشران، لکه: ابو جهل، وليد بن مغيره، عاص بن وائل او نور دي چې په غريبو او تش لاسو مسلمانانو، لکه: عمار، صهيب، بلال او د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نورو يارانو پورې به يې خندل.

وروسته له دې چې الله تعالى د قيامت په ورځ د انسانانو د کړنپاڼو له وېش څخه يادونه وکړه، د سورت په پای کې يې د کافرانو ځينې ناوړې کړنې چې په دنياکې ورباندې ستايل شوي وو بيان کړل. يو له دغو ناوړه کارونو څخه پر مسلمانانو باندې د دې کافرانو ټوکې او ملنډې وې، نو ځکه الله تعالى وفرمايل: په آخرت کې به مسلمانان د

دغو کافرانو او مجرمانو پرحال خاندي او ملنډې به پرې وهي. دا زيرى د الله تعالی له خوا مومنانو ته يو ډول ډاډ او تسلې ده چې د دوى زړونو ته پياوړتيا وربښي. کله به چې کافران له بازارونو او مجلسونو څخه د خپلو کورونو په لور ستنېدل، نو له دې ناوړو عملونو څخه به يې خوند اخيست او مسلمانان به يې په بې عقلی تورنول له يو بل سره به يې ويل: دې مسلمانانو نېغه لاره ورکه کړې ده! الله تعالی د دوى دا باطل ګومان ردوي او فرمايي: دا کافران د الله تعالی له لوري د مسلمانانو پر کړنو د څارونکو په توګه نه دي ګومارل شوي چې دوى ته سمه او نېغه لاره ورپه ګوته کړي.

د سورت په پای کې الله تعالی مسلمانانو ته ډاډ ورکوي چې د قيامت په ورځ به همدا کافران په خپله د مسلمانانو د ټوکو او ملنډو وړ وګرځي . الله تعالی فرمايي: د قيامت په ورځ به مومنان پر ښکلو تختونو ناست وي او د کافرانو د ذلت او رسوايی د بد حالت ننداره به کوي، هغوى پورې به خاندي ، لکه څرنګه چې دوى په دنيا کې د مومنانو په حال خندل او ملنډې به يې ورپورې کولې.

بيا الله تعالی فرمايي: ﴿هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ﴾: آيا کافرانو ته د دوى د کړنو بدله ورکړل شوه ؟ هو! کافرانو د ټوکو او ملنډو بدله چې په مسلمانانو پورې به يې کولې، ومونده.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آيتونه يو شمېر ګټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

- د مجرمانو د ناوړو صفتونو او بدو کړنو بيان.
- د مسلمانانو او اسلامي بلنې پر وړاندې د مکې د مشرکانو د دښمنۍ بيان.
- د دې خبرې بيانول چې مسلمانان به په آخرت کې کافران د دوزخ په عذاب کې ويني او د هغوى په ناوړو اعمالو پورې به خاندي.
- د الله تعالی له لوري د الله تعالی د نېکو بندګانو او دوستانو د تکريم او عزت بيان.

### پوښتنې؟

١- لاندې کلمې معنا کړئ:

{أَجْرَمُوا، مَرُّوا، انْقَلَبُواَ، ينظُرُونَ، ثُوِّبَ}.

٢- ولې کافرانو په مسلمانانو پورې ملنډې وهلې؟

٣- په آخرت کې په کافرانو پورې د مسلمانانو د ټوکو او ملنډو لامل څه دى؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د المطففين سورت د تفسير په رڼا کې د سورت مهمې موضوعګانې په يو مخ کې وليکي.

# د الانشقاق سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿إِذَا السَّمَاء انشَقَّتْ ﴿١﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ ﴿٣﴾ وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا
وَتَخَلَّتْ ﴿٤﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٥﴾ يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَى رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلَاقِيهِ ﴿٦﴾
فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ ﴿٧﴾ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴿٨﴾ وَيَنقَلِبُ إِلَى أَهْلِهِ مَسْرُورًا
﴿٩﴾ وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ وَرَاء ظَهْرِهِ ﴿١٠﴾ فَسَوْفَ يَدْعُو ثُبُورًا ﴿١١﴾ وَيَصْلَى سَعِيرًا ﴿١٢﴾ إِنَّهُ
كَانَ فِي أَهْلِهِ مَسْرُورًا ﴿١٣﴾ إِنَّهُ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴿١٤﴾ بَلَى إِنَّ رَبَّهُ كَانَ بِهِ بَصِيرًا ﴿١٥﴾﴾

## د کلمو معنا

{انشَقَّتْ} وچوي، څيرې شي.

{حُقَّتْ } ورسره ښايي، وړ دی.

{مُدَّتْ } هواره شي، وغوړوله شي.

{تَخَلَّتْ} خالي شي، تشه شي.

{كَادِحٌ } هلې ځلې کوونکی، هڅه کوونکی.

{ثُبُور } مرگ، هلاکت.

## ژباړه

کله چې آسمان وچوي او د خپل رب حکم پلی کړي او ورسره ښايي چې د رب حکم پلی کړي. او کله چې ځمکه راښکل ( هواره)شي. او هغه څه چې د هغې په دننه کې وي د باندې وغورځوي او تشه شي. او دخپل رب حکم پرځای کړي او له هغې سره همدا ښايي. ای انسانه! پرته له شکه ته هڅه کوونکی، د خپل رب لوري ته ورتلونکی او له هغه سره مخامخ کېدونکی یې، نو هغه چاته چې کړنپاڼه په ښي (لاس) ورکړل شي. له هغه سره

به ژر او په آسانۍ سره حساب وشي او خپلې کورنۍ ته به په خورا خوښۍ بېرته ستون شي او چاته چې کړنپاڼه د شا له لوري ورکړل شي، نو هغه به ژر مرګ غواړي. او سوځوونکي اور ته به ننوځي. پرته له شکه دی (په دنیاکې) د خپلو کسانو په منځ کې خوشحاله و. پرته له شکه هغه داسې انګېرله او باور يې درلود چې هیڅکله به زموږ خواته بېرته را ونه ګرځي. هو! پرته له شکه د هغه رب د هغه د حال ليدونکی دی.

## د سورت پيژندنه

د انشقاق سورت مکي دی، (۲۵) آيتونه لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې (٨٤) سورت دی، د دې سورت نوم د سورت له لومړۍ کلمې (انشقت) څخه اخيستل شوی دی.

مسلم او نسايي له ابوهريره ﷺ څخه د دې سورت د غوره والي په هکله روايت کوي: کله چې رسول الله ﷺ دا سورت تلاوت کړ، نو په پای کې يې سجده وکړه. د بل روايت له مخې چې بخاري، مسلم او نورو ډيرو کتابونو له ابوهريره ﷺ څخه روايت کړی دی راغلي دي، چې ابوهريره ﷺ وويل: وروسته له رسول الله ﷺ څخه به چې کله ما دا سورت په لمانځه کې ولوست، نو سجده به مې کوله، له دې امله تر مرګه پورې به د دې سورت په لوستلو سجده کوم.

## اجمالي تفسير

په دې سورت کې الله تعالی د قيامت د ورځې ترخې او وېروونکې پېښې يادوي او فرمايي: کله چې آسمان وچوي او ټوټې ټوټې شي چې دا د قيامت د ورځې له نښو څخه يوه نښه ده، د آسمان دا ټوټه ټوټه کېدل او څيرېدل به د الله د حکم پر اساس وي. وروسته بيا فرمايي: کله چې ځمکه وغوړول شي يعنې لوړوالی او ژوروالی يې په بشپړه توګه له منځه لاړ شي ، ټوله ځمکه سره برابره شي او څه چې په ځمکه کې دننه دي، برابره ده که هغه مړي وي او يا خزانې، ټول رابهر شي، ځمکه د دې شيانو له شتون څخه خالي شي او ځمکه د آسمان په څير د الله حکم پر ځای کړي، چې دلته د (اذا) ځواب محذوف دی او تقدير يې داسې کيږي: ( رأيتم أعمالكم من خير وشر)، يعنې: کله چې آسمان وچوي او ځمکه هواره شي او....... ، نو خپل ښه او بد عملونه به ووينئ، يعنې ټول انسانان، چې د حشر په ميدان کې د حساب او کتاب لپاره حاضريږي، د خپلو کړو وړو پايله به ويني.

بيا الله تعالی فرمايي: ای انسانه ! (مراد ورڅخه ټول انسانان دي که هغه کافر وي اوکه مسلمان) ته په دې دنيوي

ژوندانه کې د تل لپاره په ستونزو او کړاوونوکې مشغول يې، ته د دې کوښښونو او هلوځلو په پای کې بيا هم د الله لور ته ورتلونکی يې، پرته له شکه وروسته له مرګه له الله سره يو ځای کيږې او يا دا چې د خپلو کړو وړو ښه او يا بده پايله به وينې، يعنې هغه ټولې هلې ځلې دې چې په دنيا کې تر سره کړې دي او داسې دې انګيرله چې هرڅه په دنيا پورې تړلي دي، خو په حقيقت کې داسې نه دي؛ بلکې ته ارومرو د الله لوري ته روان يي او له هغه سره به مخامخ کيږې.

وربسې الله تعالی د قيامت په ورځ د انسانانو د ډلو يادونه کوي او فرمايي: هغه څوك چې خپله کړنپاڼه په ښي لاس اخلي هغه به د مومنانو له ډلې څخه وي او له دې ډلې سره به په آسانی حساب کيږي. خو چاته چې کړنپاڼه په کيڼ لاس ورکړل شي، نو هغه به د کافرانو او فاجرانو له ډلې څخه وي او له هغوی سره به په ډيرې سختی حساب کيږي لکه چې په قرآن کريم کې ورڅخه يادونه شوې ده.

امام احمد، بخاري، مسلم، ترمذي او نسايي له حضرت عايشې صديقې (رضي الله عنها) څخه په مختلفو عباراتو روايت کړ ی دی چې پيغمبرﷺ فرمايلي دي: که له چا څخه حساب واخېستل شي، نو هغه تباه شو، عايشې رضي الله عنها وفرمايل: اي د الله رسوله! آيا الله نه دي فرمايلي چې که چېرې چاته کړنپاڼه په ښي لاس ورکړل شي، نو له هغه څخه به په آسانه حساب واخيستل شي؟ پيغمبر ﷺ وفرمايل: هغه خو يوازې د کړنپاڼې وړاندې کول دي، خو که له چا نه پوښتنه وشي نو هغه به تباه او هلاک شي.

لنډه دا چې د حشر په ورځ له هغو مسلمانانو او مومنانو سره چې د الله احکام يې په خپل ژوند کې پلي کړي وي، په ډېرې آسانی سره حساب ترسره کيږي او دا خلك به خپلو کورنيو او د جنت ملګرو ته خوشحاله راستنيږي.

د قيامت په ورځ له مومنانو سره د معاملې له بيان څخه وروسته الله تعالی د کافرانو او بدکارانو حالت بيانوي او فرمايي: هغه کسان چې خپله کړنپاڼه د شا له لوري په کيڼ لاس اخلي، دوی د ځان لپاره مرګ غواړي او د دوزخ په شغلو کې به لاس او پښې وهي. دا خلك په دنيا کې د خپلوکورنيو په منځ کې خوشحاله وو او دا يې انګيرله چې همدا د دنيا ژوند د دوی په برخه دی او بيا دوی د الله په دربار کې دويم ځلې نه راژوندي کيږي. په وروستني آيت کې الله تعالی فرمايي: هو ! ولې نه (دوی ارومرو د الله په وړاندې حاضريدونکي دي) او الله تعالی د دوی ټول اعمال ويني.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آيتونه يو شمېر ګټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

• انسانان د قيامت په ورځ په دوو ډلو ويشل کيږي؛ يوه هغه ډله ده چې د نېکو عملونو او د الهي احکامو د ادا کولو په پايله کې خپلې کړنپاڼې په ښي لاس ترلاسه کوي او دا د خلاصون او کاميابۍ نښه ده، بله ډله کافران او بدکاران دي چې خپلې کړنپاڼې د شا له لوري په کيڼ لاس اخلي، چې دا د هلاکت نښه ده.

• د قيامت په ورځ د حساب لپاره له الله تعالى سره د انسان مخامخ کېدل حتمي دي.

• هر عاقل او بالغ انسان مکلف دی چې تر مرګه پورې خپلو هلوځلو ته دوام ورکړي، چې بيا بېرته راژوندی کيږي او له الله سره مخامخ کيږي.

• د ايمان او تقوى له څښتنانو سره په آسانۍ سره حساب کيږي، چې هغه يوازې د الله دربار ته وړاندې کېدل دي، خو که له چا څخه پوښتنه وشي، نو هغه به د ملامتۍ او تاوان وړ وګرځي؛ ځکه هغه د خپل خلاصون لپاره هيڅ کوم دليل او حجت نه لري.

• په دنيوي خوندونو او شهوتونو کې ډوبېدل او له آخرت څخه بې پرواکېدل، د انسان د تباهۍ او هلاکت لامل ګرځي.

### پوښتنې؟

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{السَّمَاءُ ،أَذِنَتْ ،أَلْقَتْ، يُحَاسَبُ ،سَعِيرًا، بَصِيرًا}.

۲- په دنيوي مزو او چړچو کې ډوبيدل او د آخرت هېرول، انسان ته څه زيان رسوي؟

۳- په ښي لاس د کړنپاڼې حاصلول د څه شي نښه ده؟

### کورنۍ دنده

د نېکو چارو په هکله، چې جنت ته د انسان د داخليدو لامل ګرځي، يوه لس کرښيزه مقاله وليکئ.

# د الانشقاق سورت

(دويمه برخه)

﴿فَلَا أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَاللَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾ وَالْقَمَرِ إِذَا اتَّسَقَ ﴿١٨﴾ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ ﴿١٩﴾ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ﴿٢١﴾ بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٢٥﴾﴾

## د کلمو معنا

{وَسَقَ} راټول کړي دي.

{اتَّسَقَ} بشپړه او روښانه شي.

{يُكَذِّبُونَ} دروغ ګڼي.

{يُوعُونَ} په خپلو زړونو کې يې پټوي.

{أَلِيمٍ} دردوونکی.

## ژباړه

نو نه، د ماښام په سور والي (شفق) سوګند يادوم او په شپه او هغه څه چې يې راټول کړي دي او په سپوږمۍ چې کله بشپړه شي. تاسې به پړاو په پړاو له يو حالت څخه بل ته لاړ شئ، نو په دې خلکو څه شوي دي چې ايمان نه راوړي؟ او کله چې دوی ته قرآن لوستل کيږي نو سجده نه کوي. بلکې کافران تل هغه (قرآن) دروغ ګڼي. او الله په هغه څه چې دوی يې په خپلو زړونو کې ساتي ښه پوه دی، نو دوی ته د دردوونکي عذاب زيری ورکړه. پرته له هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی او نيکې کړنې يې سرته رسولي دي، د هغوی لپاره پای ته نه رسيدونکی (بې انتهاء او بلا انقطاع) اجر او ثواب دی.

## تفسير

الله تعالی د قيامت او بيا را ژوندي کيدو د اثبات او ټينګار لپاره په (شفق) قسم يادوي. شفق له هغه سوروالي څخه عبارت دی، چې د اسمان په څنډو کې د شپې له پيلېدلو سره ځرګنديږي. همدارنګه الله تعالی په تياره شپه او سپوږمۍ چې کله يې ټيکلی بشپړ او روښانه شي، قسم يادوي. په دې موجوداتو قسم يادول د هغوی د پيداکوونکي په عظمت او لويی دلالت کوي. د (لا) حرف په (فلا أقسم) کې د مخکيني خبر د رد لپاره دی، يعنې: د دوی سوچ او انګېرنه د دويم ځلي نه راژوندي کېدلو او د الله په وړاندې د نه دريدلو په اړوند يو غلط او ناسم فکر او ګومان دی، دوی به ارومرو د الله په وړاندې د عمل د بدلې موندلو لپاره دريږي. د ﴿لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ﴾ جمله د قسم ځواب دی، چې معنا يې داسې ده: تاسې ارومرو د يوه سخت او ستونزمن حالت څخه يو بل سخت او له کړاو څخه ډک حالت ته تلونکي ياستئ، چې هغه له مرګ او له مرګه وروسته له حالت څخه عبارت دی، چې پايله يې جنت او يا دوزخ دی او هلته به تل تر تله ژوند تيروئ.

په وروسته آيتونو کې الله تعالی د کافرانو د دې انګيرنې او ګومان حقيقت، چې دوی دويم ځلي بيا نه راژوندي کيږي، ردوي او فرمايي: ﴿فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ څه لامل دی چې دوی په دويم ځلي بيا راژونديدو باور نه لري؟ يعنې په دې خلکو څه شوي دي چې ايمان نه راوړي. کومه پوښتنه چې په دې آيت کې راغلې ده، د انکار او يا هم د تعجب معنا ورکوي. ﴿وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْأٰنُ لَا يَسْجُدُونَ﴾ کله چې پر دوی قرآن لوستل کيږي، د هغه احکامو ته غاړه نه ږدي او الله تعالی ته سجده نه کوي. امام ابوحنيفه (رحمه الله) وايي: دا آيت د سجدې افاده کوي او دا ځکه چې دا آيت د هغو کسانو په بدۍ او مذمت کې نازل شوی دی، چې قرآن اوري او سجده نه ادا کوي.

بيا قرآن کريم په الله تعالی، د هغه په رسول او د آخرت په ورځ باندې د دغو کافرانو د ايمان نه راوړلو لامل داسې بيانوي: دوی د کفر لاره غوره کړې ده او په قرآن کريم باندې، چې د توحيد په عقيدې، وروسته له مرګه په بيا راژونديدلو او د حساب په پايله کې د ثواب او عذاب په بدله ورکولو، مشتمل دی، ايمان نه راوړي او هغه دروغ ګڼي، حال دا چې الله تعالی د انسانانو په ټولو رازونو او پټو او ښکاره عملونو پوه او عالم دی او د هغه علم د دوی پر ټولو چارو محيط دی. په وروسته آيت کې الله تعالی فرمايي: ای پيغمبره! له بيا را ژوندي کېدلو څخه منکرو کافرانو ته زيری ورکړه چې الله تعالی دوی ته دردوونکی عذاب تيار کړی دی او ارومرو به دوی ورسره مخامخ کيږي، يوازې هغه کسان له دې عذابه خلاصون مومي چې په الله تعالی ايمان راوړي او نيک عملونه ترسره کړي، د دې ډلې لپاره داسې بدله چمتو شوې ده چې تل تر تله به وي.

### د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آيتونه يو شمېر ګټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

• د څرګندو نښانو او دلايلو په شتون سره بيا هم پر خالق او پيدا کوونکي باندې د کافرانو ايمان نه راوړل د تعجب او حيرانتيا وړ او د سليم عقل او منطق خلاف کار دی.

• د ﴿وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْأٰنُ لَا يَسْجُدُونَ﴾ مبارك آيت د لوستلو پر مهال د سجدې مشروعيت.

• د الله تعالی علم ټول هغه څه رانغاړي چې انسان يې په زړه کې پټوي، ځکه د الله له علم څخه هيڅ شی پټ نه دی، نو انسان بايد د تل لپاره خپل زړه له بدو او ناوړو فکرونو او نيتونو څخه لرې وساتي او د خير په نيت او فکر کې واوسي.

### پوښتنې

۱- په (فَلَا أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ) مبارك آيت کې (لا) څه معنا لري او مقصد ورځنې څه دی؟

۲- د لاندينيو جملو مفهوم بيان کړئ:

﴿فَلَا أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ، وَاللَّيْلِ وَمَا وَسَقَ، وَالْقَمَرِ إِذَا اتَّسَقَ، لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ﴾.

### کورنۍ دنده

د (الانشقاق) سورت د تفسير په رڼاکې د دې سورت مهمې موضوعګانې وليکئ.

# د البروج سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿وَالسَّمَاء ذَاتِ الْبُرُوجِ ﴿١﴾ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُودِ ﴿٢﴾ وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ ﴿٣﴾ قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ ﴿٤﴾ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُودِ ﴿٥﴾ إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ ﴿٦﴾ وَهُمْ عَلَى مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ ﴿٧﴾ وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴿٨﴾ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ ﴿١٠﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ ﴿١١﴾﴾

## د کلمو معنا

{الْبُرُوجِ} د (بُرج) جمع ده چې د ستورو په معنا دی.

{الْمَوْعُودِ} وعده کړای شوی.

{مشْهُودٌ} حاضر کړای شوی، د لیدلو وړ.

{الْوَقُودِ} خس، خاشاک او لرګي.

{الْفَوْزُ} خلاصون او بری.

## ژباړه

په برجونو لرونکي اسمان سوګند او په وعده شوې ورځ. او په حاضریدونکي او حاضرکړای شوي. د کندو (خندقونو) خښتنان تباه کړای شول. چې د ژر لمبه کېدونکو موادو (تېز) اور و. کله چې هغوی د هغې کندې په غاړه ناست وو. څه چې یې له مومنانو سره کول هغه یې لیدل. له مسلمانانو څخه یې پرته له دې بله ګناه نه وه لیدلې چې دوی په داسې الله عزوجل چې زورور او ستایل شوي ایمان راوړی وو. هغه ذات چې د اسمانونو او ځمکې د پاچاهۍ خښتن دی او الله هرڅه ګوري. پرته له شکه هغو کسانو چې په مؤمنو نارینه وو او مؤمنو ښځو ظلم او تېری وکړ او بیا یې توبه ونه ایستله، نو ارومرو د هغوی لپاره د دوزخ عذاب دی او د هغوی لپاره د سوځوونکي اور سزا ده. پرته له شکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی او ښې کړنې یې ترسره کړې دي، هغوی ته باغونه دي چې د هغو لاندې ویالې بهیږي او دا ستر بری دی.

## د سورت پېژندنه

د (البروج) سورت مکي دی (۲۲) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې(۸۵) سورت دی. د البروج په نامه ځکه نومول شوی دی، چې د سورت په پیل کې د (البروج) لفظ راغلی دی. په دې سورت کې د اصحاب الاخدود (دخندق څښتنان) او د ظلم اوتېري پر وړاندې د هغوی د ستر جهاد یادونه شوې ده، چې ټولو مومنانو ته د دې لاربنوونه کوي، ترڅو کفر او تېري ته تسلیم نشي.

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبرﷺ به د ماسختن په لمانځه کې د البروج د سورت تلاوت کاوه او همدارنګه له جابر بن سمره رضی الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبرﷺ به د ماسپښین او مازدیګر په لمونځونو کې د (البروج) او (الطارق) سورتونه لوستل.

## اجمالي تفسیر

په دې سورت کې الله تعالی په آسمان قسم یادوي، چې د برجونو لرونکی دی. ځینو مفسرینو له برجونو څخه د هیئت(فلك) د علم پر بنسټ دولس برجونه مراد کړي دي چې د یوه کال په دوران کې لمر او ستوري د هغه ګرد چاپېره راڅرخېږي، د ابن عباس، مجاهد، قتاده، حسن بصري او نورو مفسرینو په وړاندې له (بروج) څخه مراد ستوري او کهکشان دي. بیا په هغه ورځ قسم یاد شوی دی چې د هغې د را رسیدلو وعده ورکړل شوې ده او هغه د قیامت ورځ ده. دریم قسم د هغې ورځې په لیدونکو او لیدل شویوڅیزونو یاد شوی دی؛ یعني هغه ورځ چې په خپله د هغې لپاره ګواه (حاضر) وي او په هغه څه چې نور د هغه لپاره حاضرېږي. د دې تفسیر له مخې له (شاهد) څخه مراد هغه خلك دي چې د قیامت په ورځ د حساب او کتاب لپاره حاضرېږي. له (مشهود) څخه مراد قیامت او د هغه ویروونکې منظرې دي، چې خلك پکې حاضرېږي. د یوه بل تفسیر له مخې د مشهود څخه مراد د جمعې او یا عرفې ورځ ده.

﴿قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ﴾ دا د قسم ځواب دی چې یا ورڅخه د بل شوي اور د کندو د څښتنانو هلاکت او تباهي مراد ده، یا د هغوی په هکله ښېرا مراده ده. مفهوم یې دا دی چې د کندو پرڅښتنانودې لعنت وي، یا دا چې د کندو څښتنان تباه او برباد شوي دي، یعنې د بل شوي اور د کندو څښتنان چې د یوه روایت له مخې دوی هغه ظالمان وو چې د مومنانو لپاره یې کندې ایستلې وې او په هغوکې یې اورونه بل کړي وو او بیا به یې په هغوکې مومنان پرمخې وراچول. دا ظالم کافران به د دې بل شوي اور د کندو په غاړه ناست وو او د مومنانو د سوځېدلو ننداره به یې کوله، خو د هغه وخت مومنان په خپل ایمان ټینګ او ثابت پاتې شول او له خپلې عقیدې څخه یوه ذره هم تېر نشول. د دې کیسې په بیانولو کې د اسلام د ستر پیغمبر او د هغه

د ملګرو لپاره تسلي او ډاډ دی، ترڅو دوی هم د پخوانيو مومنانو په څېر صبر او زغم ولري او د هغوی په شان د حق په لار کې له ستونزو او کړاوونو څخه ونه ویرېږي. په ورپسې دوو آیتونوکې الله تعالی د کافرانو د ظلم دلیل څرګندوي او فرمايي: ﴿وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ﴾ کافرانو له مؤمنانو څخه د کوم بدکار په سبب غچ نه اخیست، بلکې د دوی د ظالمانه غچ اخیستلو لامل دا و چې مؤمنانو په زورور او ستایل شوي الله ایمان راوړی و، په هغه ذات چې د اسمانونو او ځمکې مالك دی او د هغه علم پر هرڅه بشپړه احاطه لري، یعنې: د ټولو ستاینو ورټیا لري، څواکمن دی او د ځمکې او اسمانونو پاچاهي د همده ده. څرنګه چې وغواړي په هغه کې تصرف کولای شي، له هر شي څخه خبر دی او هر څه ویني. په مبارك آیت کې د الله تعالی له صفاتو څخه یو صفت (الْعَزِیزِ) چې د زورور معنا لري یاد شوی دی او دا دې ته اشاره ده چې که چېرې الله تعالی وغواړي، نو د دې زورورو ظالمانو د ظلم مخنیوی کوي او نه پرېږدي چې مومنانو ته کړاو ورسېږي . د (الْحَمِیدِ) صفت په یادولو کې دې ته اشاره ده چې الله تعالی د کړنو پایلو ته ارزښت ورکوي. او که په دنیا کې کافرانو او ظالمانو ته وخت او مهلت ورکوي، نو په هغه کې هم حکمتونه دي او د مسلمانانو د دنیوي ستونزو او کړاوونو په مقابل کې د قیامت په ورځ هغوی ته د اجر او ثواب بدله ورکوي. دا چې الله تعالی د هرڅه څارونکی اوکتونکی دی، د دې مطلب په بیانولو کې د کندو د څښتنانو(اصحاب الاخدود)، کافرانو او ظالمانو لپاره د وعید(عذاب)، د مومنانو لپاره په ثابت قدمی ، زغم او صبر د تلقین او د اخروي بدلې ژمنه ده.

په ور پسې آیت کې الله تعالی د هغو کسانو رټنه بیانوي، چې مؤمنان سړي او مؤمنې ښځې آزاروي او هغوی ته تکلیف رسوي. کوم کسان چې داسې ظلمونه کوي او توبه نه باسي، نو دا خلك د دوزخ د اور د شغلو وړ دي او په هغو کې به سوځيږي. په وروستني آیت کې د مؤمنو بندګانو د ایمان او نېك عمل پایله بیانیږي چې الله تعالی هغوی ته د رښتیني ایمان او نېکو عملونو په بدل کې، چې د حق په لار کې یې ستونزې ګاللې دي، جنت او پرېمانه نعمتونه ورپه برخه کوي.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د مضمون د ښوونکي په مرسته د اصحاب الاخدود کیسه د تفاسیرو په یوه کتاب کې مطالعه او په اړه دې یې مباحثه و کړي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آيتونه يو شمېر ګټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کېږي:

- د آخرت په ورځ د ايمان او عقيدې اثبات او د اعمالو پر بنسټ د ثواب او عذاب ورکول.
- د هغو مؤمنانو د بدلې بيان، چې د ازمېښتونو او ستونزو په وړاندې، له زغم او استقامت نه کار اخلي.
- د دوزخ له اور څخه د کافرانو ويرول او د نېکو اعمالو د ثواب په بيانولو او جنت ته په تللو سره، نېکو کارونو ته د مسلمانانو تشويقول او هڅول.
- د هغو مؤمنانو د غوره والي بيان چې د ظالمو کافرانو له لوري د اور په کندوکې واچول شول، خو له ايمان څخه ونه ګرځېدل او په خپل دين ټينګ او ثابت پاتې شول.
- د کافرانو او ظالمانو د سزا د پايلو بيان.

### پوښتنې

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{ شَاهِد، أَصْحَاب، الْأُخْدُود، النَّارِ، قُعُود، الْعَزِيز، فَتَنُوا، الْأَنْهَار}.

۲- پيغمبرﷺ د (البروج) مبارک سورت په کومو لمونځونو کې لوستلو؟

۳- د هغو کسانو سزا او بدله څه ده چې مؤمنانو ته رنځ او عذاب ورکوي؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د تفسير له کتابونو څخه د (اصحاب الاخدود) کيسه په لنډه توګه په خپلو کتابچو کې وليکي.

# د البروج سورت

(دويمه برخه)

﴿إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴿١٢﴾ إِنَّهُ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾ وَهُوَ الْغَفُورُ الْوَدُودُ ﴿١٤﴾ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ
﴿١٥﴾ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾ هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾ بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي
تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾ وَاللَّهُ مِن وَرَائِهِم مُّحِيطٌ ﴿٢٠﴾ بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَّجِيدٌ ﴿٢١﴾ فِي لَوْحٍ مَّحْفُوظٍ ﴿٢٢﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{بَطْشَ} نیول.
{يُبْدِئُ} په لومړي ځل او يا نوی پیداکول کوي.
{الْوَدُودُ} مینه کوونکی، د الله له صفتونو څخه یو صفت دی.
{الْمَجِيدُ} د لویې مرتبې والا.
{الْجُنُودِ} لښکرې.

## ژباړه

پرته له شکه ستا د رب نیونه ډېره سخته ده. بېشکه هغه په لومړي ځل پیداکول، کوي او (د پخوا په شان) بیا یې پیداکوي. هغه بښونکی مینه کوونکی دی. د عرش څښتن او(له هرڅه) لوی دی. څه چې یې خوښه شي، د هغه ښه ترسره کوونکی دی. آیا تاته د لښکرو خبر رسېدلای دی؟ د فرعون او د ثمود (د لښکرو). بلکې هغه کسان چې کافران شوي دي، هغوی په دروغو کې اخته دي. او الله دوی له هر لوري ایسار کړي دي، بلکې دا قرآن د لوړ شان او مرتبې لرونکی دی. په ساتلې شوې پاڼه کې خوندي او محفوظ دی .

## تفسیر

الله تعالی فرمایي: پرته له شکه له کافرانو او ظالمانو څخه ستا د پالونکي نیونه او غچ اخیستل ډېر سخت دی، یعنې د سترګو په رپ سره به ظالمان تباه کړي. دا وعید د مکې مشرکانو ته او همدارنګه د هرې زمانې کافرانو ته شامل دی. پرته له شکه الله تعالی د مطلق او بشپړ وس څښتن دی، لکه څرنګه چې یې انسان له نشت څخه هست کړ او هغه یې دنیا ته راوست، نو د هغه د بیا ژوندي کولو وس هم لري، یعنې د الله تعالی ذات هم په پیدا کولو او هم په دویم ځل را ژوندي کولو قادر دی.

په وروسته آیتونوکې الله تعالی خپل ځینې صفتونه بیانوي چې ټول د الهي ذات په لویې او مطلق کمال دلالت کوي: الله تعالی بښونکی او مهربانه دی، که څوک غواړي چې توبه وباسي او الله ته رجوع وکړي (که هر څومره لوبه ګناه یې هم کړې وي) هغه ته بښنه او پر هغه باندې رحم کوي. الله تعالی فرمانبردارو انسانانو ته د اجر او ثواب بدله ورکوي.

الله تعالی د عرش څښتن د پاچاهۍ بشپړ واکدار او د ټولو غورو اوصافو څښتن دی، څه چې وغواړي په ښايسته توګه يې ترسره کوي او هيڅ شی د الله تعالی د ارادې مخه نشي نيولای.

په وروستيو آيتونوکې الله تعالی د فرعون او ثموديانو څخه، چې په کفر او سرغړونه کې له حده تېرشوي وو، يادونه کوي، ترڅو د ټولو سرغړوونکو او ظالمانو لپاره عبرت او پيغمبر ﷺ او مومنانو ته تسلي او ډاډينه شي، څکه د حق او باطل د جګړې په پايله کې حق بريا مومي. په وروستي آيت کې بيا د مشرکانو او کافرانو د دروغو يادونه کيږي او په څرګند ډول دا بيانوي چې الله تعالی دمطلق واک او ځواک څښتن دی. کافران او ظالمان ټول د ده په ولکه کې دي او هيچا ته د الله له نيونې او عذاب څخه د تيښتې او خلاصون لار نشته. په دې مطلب کی د کافرانو او د اسلام د دښمنانو لپاره ډېر شديد وعيد دی.

دا مبارک سورت د قرآن پر حقانيت او دا چې هغه د الله تعالی کلام دی او په لوح محفوظ کې له شيطانانو څخه ساتل شوی دی، پای مومي. په دې مطلب کې د مشرکانو پر بې بنسټو تورونو څرګند رد دی چې هغوی قرآن کريم د بشرخبرې، کيسې او شعر ګڼلو.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آيتونه يو شمېر ګټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

- کافرانو او د اسلام دښمنانو ته د سخت عذاب وعده، چې د ناوړو اعمالو د دوام په صورت کې به په دنيوي او اخروي عذاب اخته کيږي.
- الله تعالی د خپل شفقت او مهربانۍ له امله، له خپلو دوستانو سره چې د ده نېک بندګان دي، دوستي کوي.
- د پخوانيو امتونو په کيسو کې د هوښيارانو لپاره زيات پندونه او عبرتونه نغښتي دي.
- د الله د مطلق ځواک بيان او دا چې هيڅ شی او هيڅوک د هغه د ځواک له احاطې څخه وتلی نشي.
- د قرآن کريم د شرافت او لويۍ بيان.

### پوښتنې؟

لاندې کلمې معنا کړئ:

{يُعِيدُ ،الْغَفُورُ، فَعَّالٌ، مُحِيطٌ، لَوْحٍ}.

١- فرعون څوک و او ولې د الله د قهر او غوسې وړ وګرځيده؟

٢- دا څرګندونه چې هيڅ شی او هيڅوک د الله د ځواک او نيونې له احاطې څخه وتلی نشي، څه مفهوم افاده کوي؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د تفسير د کتابونو په مرسته د ثموديانو کيسه په لنډه توګه په خپلو کتابچو کې وليکي.

# د الطارق سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَالسَّمَاء وَالطَّارِقِ ﴿١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الطَّارِقُ ﴿٢﴾ النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿٣﴾ إِن كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا
حَافِظٌ ﴿٤﴾ فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ مِمَّ خُلِقَ ﴿٥﴾ خُلِقَ مِن مَّاء دَافِقٍ ﴿٦﴾ يَخْرُجُ مِن بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ
﴿٧﴾ إِنَّهُ عَلَى رَجْعِهِ لَقَادِرٌ ﴿٨﴾ يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ ﴿٩﴾ فَمَا لَهُ مِن قُوَّةٍ وَلَا نَاصِرٍ ﴿١٠﴾﴾

## د کلمو معنا

| | | | |
|---|---|---|---|
| {الطَّارِق} | هغه شی چې د شپې څرګندیږي. | {التَّرَائِب} | د سینې هډوکي. |
| {النَّجْمُ} | ستوری. | {السَّرَائِرُ} | پټ شیان. |
| {خُلِقَ} | پیدا شوی دی. | {نَاصِرٍ} | ملا تړی، مرسته کوونکی. |
| {الصُّلْب} | شا، ملا. | | |

## ژباړه

قسم دی په آسمان او د شپې په څرګندیدونکي. ته څه پوهیږې چې د شپې څرګندیدونکی څه دی؟ هغه ځلیدونکی ستوری دی. هیڅ نفس داسې نشته چې پر هغه کوم ځارونکی نه وي. بیا دې انسان دې ته ځیر شي چې له څه شي پیدا شوی دی. له ټوپ وهونکو اوبو څخه پیدا شوی دی. چې د شا او سینې د هډوکو له منځ څخه راوځي. پرته له شکه هغه (خالق) د ده په دویم ځل پیداکولو قادر دی. په هغه ورځ چې(د انسان) پټ اسرار ښکاره او بربنډ کړای شي، نو هغه وخت به له انسان سره نه څه زور وي او نه کوم مرستندوی او ملاتړی.

## د سورت پیژندنه

د الطارق سورت مکي دی، (۱۷) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې (۸٦) سورت دی. په الطارق سره یې د نومولو وجه د الطارق کلمه ده چې د سورت په سرکې راوړل شوې ده.

## اجمالي تفسير

الله تعالی په اسمان او ځلیدونکي ستوري قسم یادوي چې په (النجم الثاقب) سره یاد شوی دی، که څه هم د (النجم ) کلمه مفرده ده، خو مراد ورځنې د ستوري جنس دی. له (الثاقب) څخه مراد دا دی چې دا ستوري په خپلې ځلا او روښنایي سره د شپې تورې تیارې روښانه کوي. بیا الله تعالی څرګندوي چې د هر انسان لپاره ساتونکې پربښتې ټاکل شوې دي چې د هغه عملونه د قیامت د ورځې د حساب لپاره ځاري او هغه ثبتوي. انسان باید داسې ګمان ونه کړي چې پر ده باندې ځارونکی او مراقب نشته او هر څه یې چې نفس وغواړي باید ترسره یې کړي. انسان دویم ځل راژوندی کیږي او د خپلو ذره ذره کړو، وړو حساب ورکوي. له همدې امله الله تعالی

فرمايي: انسان بايد د داسې حقيقت د درك كولو لپاره خپل پيدايښت او جوړښت ته فكر او سوچ وكړي چې دى له څه شي څخه پيدا شوى دى؟ انسان له هغو اوبو څخه پيدا شوى چې له هغه څخه په چابكۍ او ټوپ وهلو وځي. يادې شوې اوبه د ملا او د سينې د هډوكو ترمنځ پيدا او په ټوپ راوځي، دا ټول پر دې دلالت كوي چې د انسان لومړنى پيدايښت د دويم ځل راژوندي كولو په پرتله سخت او ستونزمن دى، كله چې د كايناتو پيدا كوونكى د انسان لومړنى پيدايښت له يوه داسې شي څخه منځ ته راوړي چې له هيڅ سره برابر وي، نو دويم ځلي ژوندي كول يې هم د څواكمن الله لپاره كومه ستونزه نه لري. په كومه ورځ چې انسان بيا را ژوندى كيږي، نو په سينو او زړونوكې به ټول پټ رازونه ښكاره او څرګند شي، يعني كوم اعمال چې انسان ترسره كړي دي او په دنيا كې يې له خلكو څخه پټ ساتلي دي او يا كوم كړاوونه او هلې ځلې يې چې ګاللي دي او تر شا يې څه مقاصد درلودل، هغه به ټول څرګند شي. بيا الله تعالى فرمايي: په دې ورځ به هيڅ داسې قدرت او ځواك شتون ونه لري چې له انسان څخه دفاع وكړي او هغه د الله له نيولو او محاسبې څخه وژغوري.

### د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آيتونه يو شمير ګټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره كيږي:

- د هر انسان لپاره يوې پرښتې ته دنده وركړل شوې ده چې د ده كړه وړه ترنظر لاندې ونيسي او هغه وليكي.
- هغه ذات چې د انسان د خلقت وس ولري، نو هغه ته دا ستونزمنه نده چې انسان وروسته له مرګه بيا راژوندى كړي.
- د قيامت په ورځ د انسان كړه وړه او نيتونه تر پوښتنې لاندې راځي او هيڅ شى د الله له محاسبې څخه پټ نشي پاتې كيدلاى، هغه وخت هيڅوك د دې وس او توان نه لري چې يو انسان د الله له محاسبې څخه وژغوري او يا له هغه سره مرسته وكړي.

### پوښتنې؟

١- لاندې كلمې معنا كړئ:

{الثَّاقِبُ ،حَافِظٌ، دَافِقٍ، تُبْلَى}.

٢- د انسان په پيدايښت او هغې مادې چې دى ورڅخه دنيا ته راغلى دى، څرنګه كولاى شئ د الله په قدرت او ځواك استدلال وكړئ؟

٣- د ﴿يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ﴾ له جملې څخه مراد څه دى؟

### كورنۍ دنده

د مباركو آيتونو له تفسير نه په استفادې سره د انسان په پيدايښت كې د الله تعالى د ځواك د نښو په هكله يوه شپږ كرښيزه مقاله وليكئ.

# د الطارق سورت

(دویمه برخه)

﴿وَالسَّمَاء ذَاتِ الرَّجْعِ ﴿١١﴾ وَالْأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ﴿١٢﴾ إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿١٣﴾ وَمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ﴿١٤﴾ إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ كَيْدًا ﴿١٥﴾ وَأَكِيدُ كَيْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ الْكَافِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿١٧﴾﴾

## د کلمو معنا

{الرَّجْعِ } باران.

{الصَّدْعِ} چاود، سوری.

{فَصْلٌ } غوڅه، فیصله شوي.

{الْهَزْلِ } بابیزه، ټوکه ، مسخره.

{يَكِيدُونَ} دسیسې جوړوي.

{رُوَيْدًا} لږ غونډې

## ژباړه

قسم دی په اسمان چې باران وروي. او په ځمکه چې (د بوټو ټوکیدو پر مهال) چوي. پرته له شکه دغه (قرآن) غوڅه او واضحه خبره ده. او دا ټوکه او مسخره نه ده. بېشکه دا خلك (کافران) سختې دسیسې جوړوي. او زه به هم یو پوخ تدبیرکوم، نو وخت ورکړه (اې پیغمبره)کافرانو ته څه لږ غونډې مهلت ( ترڅو د خپلو کړنو بدله ووینې).

## تفسیر

الله تعالی په لومړي او دویم آیت کې په وروونکي آسمان او څمکې، چې په هغې کې ډول ډول بوټې او گیاوې رازرغونوي، قسم یادوي. له دې ډول ټینگار نه موخه دا ده چې قرآن کریم حقه، واضحه او روښانه وینا ده چې

حق له باطل څخه بېلوي او په هغه کې هیڅ بې ګټې او بابیزه خبره نشته.

په وروستي آیت کې الله تعالی د مسلمانانو پر خلاف د کافرانو چل او دسیسو ته اشاره کوي او فرمايي: کافران دسیسې جوړوي، ترڅو مسلمانان او اسلام ضعیف کړي، مګر علیم او ځواکمن الله د دوی ټولې دسیسې شنډوي، د اسلام سپېڅلي دین او مومنو بندګانو ته بریالیتوب ورپه برخه کوي. د مبارک سورت په وروستني آیت کې الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته امر کوي او فرمایي: سره له دې چې کافران دسیسې او توطئې جوړوي خو بیا هم دوی ته لږ مهلت ورکړه، ترڅو د خپلو ناوړو عملونو بدله و مومي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- د قرآن کریم د حقاینت ثابتوالی او دا چې په هغه کې هیڅ بې فایدې خبره نشته.
- د دې خبرې بیانول چې کافران د اسلام پر ضد دسیسې جوړوي .
- د دې خبرې څرګندول چې الله تعالی د کافرانو دسیسې شنډوي او له خپل دین سره مرسته کوي.

## پوښتنې

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{ذَاتِ ،كَيْدًا، فَمَهِّلِ، أَمْهِلْهُمْ}.

۱- الله تعالی ولې په آسمان او ځمکه سوګند یاد کړی دی؟

۲- کافران ولې د اسلام او مسلمانانو پر ضد دسیسې جوړ وي؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د قرآن کریم د حقانیت په هکله یوه اووه کرښیزه مقاله ولیکي.

# د الأعلى سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الأَعْلَى ﴿١﴾ الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّى ﴿٢﴾ وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَى ﴿٣﴾ وَالَّذِي أَخْرَجَ الْمَرْعَى ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُ غُثَاءً أَحْوَى ﴿٥﴾ سَنُقْرِئُكَ فَلا تَنْسَى ﴿٦﴾ إِلاَّ مَا شَاءَ اللَّهُ إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا يَخْفَى ﴿٧﴾ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَى ﴿٨﴾﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {سَبِّح} | وستايه، په پاکی یاد کړه . |
| {الأَعْلَى} | لوړ. |
| {فَسَوَّى} | نوبرابر يې کړ، اندول يې کړ. |
| {قَدَّر} | اندازه يې کړ. |
| {فَهَدَى} | ښوونه يې وکړه . |
| {الْمَرْعَى} | څرځای، شنه واښه. |
| {غُثَاءً أَحْوَى} | وچ او تور واښه، بوس. |

## ژباړه

(ای پیغمبره) د خپل لوړ رب د نوم ستاینه وکړه. هغه چې پیدا يې کړ او اندول يې برابر کړ، هغه چې اندازه يې کړ او لارښوونه يې کړې ده. شنه او تازه څرځایونه يې زرغون کړي. بيا يې وچ او تور بوس وګرځول. ډېر ژر به پرتا (قرآن) ولولو، نو نه به يې هېروئ. پرته له هغه چې د الله خوښه ده. بېشکه چې الله پاک په ښکاره او پټو پوهېږي. موږ به تا ته د آساني لارې (شریعت) اسانتیا در په برخه کړو.

## د سورت پېژندنه

د «الْأَعْلَى» سورت مکي سورت دی، (١٩) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې (٨٧) سورت دی. د دې سورت نوم د سورت له لومړني آیت ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى﴾ څخه اخیستل شوی دی.

د دې سورت موضوع د الله تعالی توحید، د الله ﷻ صفات، د هغه د قدرت دلایل، پیغمبر ﷺ ته د وحې او قرآن

نازلېدل ، د قرآن د حفظ او يادولو آسانتيا، د ويښو زړونو د ښښتنانو لپاره نصيحت، نېکه موعظه او د آخرت د ورځي يادونه ده.

## د الأَعْلَى سورت فضيلت

د الْأَعْلَى سورت د فضيلت او غوره والي په اړه، بخاري او مسلم له حضرت معاذ ﷺ څخه روايت کړی دی چي رسول الله ﷺ به مسلمانان په لمانځه کي د (الْأَعْلَى، الشمس او الليل) د سورتونو لوستلو ته ترغيبول. همدارنگه له نعمان بن بشير ﷺ څخه روايت شوی دی چي رسول الله ﷺ به د اختر او جمعي په لمونځونو کي د الْأَعْلَى او (الغاشية) سورتونه لوستل، په بل حديث کي عائشه (رضي الله عنها) روايت کوي، چي پيغمبر ﷺ به د وترو په لمانځه کي د الْأَعْلَى د سورت تلاوت کاوه.

## اجمالي تفسير

د سورت په پيل کي الله تعالى پيغمبر ﷺ او د هغه امت ته امر کړی دی چي: د خپل رب نوم په پاکى او لويى سره يادکړي، يعني هغه له هر هغه څه نه چي د هغه له شان سره نه ښايي پاک او سپېڅلى وگڼي، هيڅوک دي د الله په نوم نه مسمى کوي، د الله تعالى نوم دي په ناپاکو ځايونو کي نه اخلي او د هغه نوم دي په عزت او احترام سره واخيستل شي.

امام قرطبي فرمايي: دلته د الله تعالى له نوم نه مراد د هغه ذات دی. امام ابوحيان فرمايي: په مبارک آيت کي د الله نوم ذکر شوی دی او مفهوم يې داسي دی چي د الله ﷻ نوم داسي پاک وساتئ چي په هغه نوم، کوم بت نه وي نومول شوی. له (الأعلى) څخه مراد دا دی چي د الله تعالى شان او مرتبه له هر هغه څه نه لوړه ده چي مشرکان يې پرې موصوفوي.

د احاديثو په کتابونوکي روايت شوی دی چي کله د الواقعة په سورت کي د ﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ﴾ آيت او په دي سورت کي د ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الأَعْلَى﴾ آيت نازل شو، نو پيغمبر ﷺ وفرمايل : تاسي دغو (آيتونو) ته په خپله رکوع اوسجده کي ځاى ورکړئ، يعني هغه په خپله رکوع اوسجده کي(د تسبيح په ډول) ووايئ.

وروسته له لومړني آيت څخه، الله تعالى په وروسته څلورو آيتونوکي خپل ذات په داسي صفاتو موصوف کړی دی چي د هغه د وجود او قدرت څرگندونه کوي، الله تعالى فرمايي: ﴿الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّى﴾: الله هغه ذات دی چي ټوله هستي يې پيدا کړي ده چي د هستۍ له موجوداتو نه يو هم انسان دی. الله تعالى هرمخلوق په ښکلي صورت او جوړښت پيداکړی دی، د انسان ونه او تنه (قد اوقامت) يې برابر او د بدن ټول غړي يې ورسره متناسب او ښکلي پيداکړي دي. دا ټول د الله ﷻ په حکمت، تدبير اوعلم دلالت کوي، لکه څرنگه چي الله تعالى د (السجدة) په سورت کي فرمايي: ﴿الَّذِي أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ﴾ [السجدة: ۷] ، يعني: الله هغه ذات دی چي

هرڅه يې ډېر ښه اوکره پيدا کړي دي.

﴿وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَى﴾ الله ﷻ هغه ذات دی چې د هرڅه اندازه يې د هغه د شان او منفعت مطابق مقدره کړې ده او هغه ته يې د منفعت اخيستلو لاره ښودلې ده؛ يعنې د ټولو شيانو جنس، نوع، صفات، کړنې، ويناوې او نېټه يې ټاکلې ده، هرڅه ته يې مناسبه لاربشوونه کړې ده. د بېلګې په ډول، ځمکه، سپوږمۍ، لمر، اوستوري يې د هستی په فضا کې ځوړند او معلق ګرځولي دي او د هر يوه لاره او مدار يې ټاکلی دی. رڼا، تياره، اوبه، باد، جمادات، معدنونه او د موجوداتو نور ډولونه يې پېدا کړي دي او له هغو نه يې د ګټو اخستلو لارې څرګندې کړي دي. ونې، بوټي، ميوې او ګلان يې پېدا کړي دي او په هغو کې يې دا خاصيت ايښی دی چې څرنګه خپلې ريښې او جرړې په ځمکه کې ښخې کړي. ډول،ډول مرغان او خزندګان (حشرات) يې پېدا کړي دي او هغو ته يې د ژوند کولو او منفعت لارې چارې ښودلې دي. همدارنګه الله تعالی انسان پېدا کړ، غړي يې ورته برابرکړل او هر اندام ته يې ځانګړې دنده وسپارله، ترڅو يې سرته ورسوي، چې دا لويه کارخانه او ستر سيستم په خپل ذات کې د الله تعالی د عظيم قدرت څرګندونه کوي.

بيا الله تعالی د ﴿وَالَّذِي أَخْرَجَ الْمَرْعَى﴾ په مبارک آيت کې خپل د قدرت نښې د ونو، بوټو او نباتاتو په نعمت سره داسې بيانوي: الله تعالی هغه ذات دی چې څرځايونه يې پېدا کړي دي او په خپل قدرت سره يې هغه تازه، وچ او ميده ګرځولي دي، ترڅو ستاسې څاروي ترې د خوړو لپاره ګټه پورته کړي.

د{الْمَرْعَى} لفظ سره له دې چې د څارويو په واښو دلالت کوي، خو دلته ترې يوازې واښه مراد نه دي، بلکې د آيت مقصد او فحوا ټولو نباتاتو او شنيليو ته شامليږي. همدارنګه له نباتاتو څخه مطلب يوازې هغه نباتات نه دي چې د پسرلي په موسم کې پيدا کيږي، بلکې په دې مبارک آيت کې دې ته اشاره ده چې نباتات او نور واښه په اوړي، مني او ژمي کې ځانګړي حالات اختياروي؛ ځکه کله دغه نباتات تازه او شنه وي، کله بيا دغه نباتات ژيړ، وچ او تور ګرځي او د څارويو په واښو بدليږي او يا يې بادونه نوروځايونو ته نقلوي. دا ټول هغه نښې او علامې دي چې د الله تعالی په وحدانيت، قدرت او قوت دلالت کوي.

بيا الله تعالی خپل پېغمبرﷺ ته داسې خطاب کوي : ﴿سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسَى﴾ يعنې: موږ پر تا قرآن لولو، نو ته به يې هيڅکله نه هيروې، پرته له هغه نه چې د الله خوښه وي. د دې مبارک آيت د شان نزول په هکله داسې روايت شوی دی چې رسول (عليه السلام) به د قرآن د نزول پر مهال، مخکې له دې چې جبرائيل عليه السلام د وحې له القا څخه فارغ شي، له خپل ځان سره آيتونه تکرارول، ترڅو چې يې هېر نشي، له دې امله الله تعالی رسول عليه السلام ته ډاډ ورکړ چې هيڅکله به ستا له ذهن څخه قرآن کريم ونه وځي، مګر هغه چې الله تعالی د هغه هېريدل وغواړي، بېشکه الله ﷻ په هر هغه څه چې ښکاره او پټ وي عالم اوخبردی. بيا الله ﷻخپل عزتمن پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ته زېری

ورکوي چې موږ به تا ته شریعت داسې آسانه کړو چې په هغې کې به هیڅ سختي او حرج نه وي، لکه څرنګه چې په بل آیت کې الله ﷻ داسې فرمایلي دي: ﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ﴾ [الحج: ۷۸]، یعنې: (الله ﷻ) پرتاسې په دین کې هیڅ کوم حرج او تکلیف نه دی ګرځولای.

## د لوست ګټې

د پورتنیو آیتونو ځینې ګټې او لارښوونې په لاندې ډول دي:

- د الله ﷻ د تسبیح وجوب او په پاکۍ، عزت اواحترام سره د هغه د نوم یادول .
- د وتر، جمعې او اخترونو په لمانځه کې د (الْأَعْلَى) د سورت د لوستلو فضیلت.
- پېغمبرﷺ د (الْأَعْلَى) سورت ډېر زیات خوښاوه؛ ځکه چې په دغه سورت کې الله تعالی هغه ته دوه لوی زېرې ورکړې دي: لومړی دا چې ده او د ده امت ته یې دین اوشریعت آسانه کړ، نو ځکه کله به چې پېغمبرﷺ د دوو امرونو تر منځ واقع کېده؛ نو تر ټولو آسان امر به یې غوره کاوه. دویم دا چې په دې سورت کې الله ﷻ رسول (علیه السلام) ته ډاډ ورکړ چې قرآن عظیم الشان به یې نه هېرېږي.
- الله ﷻ هغه ذات دی چې ټول مخلوقات یې پیدا کړي دي، هرڅه یې په ښه شکل او صورت سره ښایسته کړي دي، موخه اومقصد یې ورته مشخص کړی دی، چې دا ټول د الله تعالی د قدرت او عظمت څرګندونه کوي.
- الله تعالی د څارویو د ودې او خوراك لپاره واښه اونباتات پیدا کړي دي اوحیوانات یې د انسان د ګټې او خدمت لپاره پیدا کړي دي.

## پوښتنې؟

۱- د﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى﴾ د مبارك آیت مفهوم څرګند کړئ.

۲- د دې سورت له لومړني آیت وروسته، د الله تعالی د وحدانیت او قدرت څلور آیتونو بیان شوي دي، کوم آیتونه چې د الله تعالی پر وحدانیت او قدرت دلالت کوي هغه څرګند کړئ.

۳- په {إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ} کې له استثناء څخه مراد څه شی دی ؟

٤- دا چې پېغمبرﷺ به د(الأعلی) سورت خوښوه، دلیل یې څه و؟ څرګند یې کړئ.

## کورنۍ دنده

د(الأعلی) د سورت فضایل په لسوکرښوکې بیان کړئ.

# د الأعلى سورت

(دويمه برخه)

﴿فَذَكِّرْ إِنْ نَفَعَتِ الذِّكْرَى ﴿٩﴾ سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَخْشَى ﴿١٠﴾ وَيَتَجَنَّبُهَا الْأَشْقَى ﴿١١﴾ الَّذِي
يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرَى ﴿١٢﴾ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَى ﴿١٣﴾ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّى ﴿١٤﴾ وَذَكَرَ
اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى ﴿١٥﴾ بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿١٦﴾ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى ﴿١٧﴾ إِنَّ هَذَا
لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَى ﴿١٨﴾ صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى ﴿١٩﴾﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {سَيَذَّكَّر} | ژر به نصيحت ومني. |
| {وَيَتَجَنَّبُهَا} | او ځان ترې په څنګ کوي. |
| {يَصْلَى} | داخل به شي. |
| {تُؤْثِرُونَ} | غوره ګڼئ، ترجيح ورکوئ. |
| {وَأَبْقَى} | تل پاتې، دايمي. |
| {الصُّحُفِ} | صحيفې. |

## ژباړه

نو ته نصيحت (پند) ورکړه که نصيحت ګټور وي. ژوک چې ويريږي هغه نصيحت مني او زيات بدمرغه به له دې نه په ډډه کيږي. هغه چې ننوځي ډېر لوی او رته. بيا به نه په کې مري او نه به ژوندی کيږي. بريمن شول هغه چې سپېڅلتيا يې غوره کړه، د خپل رب نوم يې ياد کړ، نولمونځ يې وکړ، بلکې تاسې د دنيا ژوند ته ترجيح ورکوئ، په داسې حال کې چې اخروي ژوند ډېر غوره او تل پاتې دی. همدا خبره په مخکينيو صحيفو کې هم ويل شوې وه، د ابراهيم او موسٰی په صحيفو کې.

## اجمالي تفسير

وروسته له دې چې د دې مبارک سورت په لومړنۍ برخه کې پېغمبر ﷺ ته د قرآن عظیم الشان د لوستلو او نه هیریدلو او د دین په چارو کې د آسانۍ زېرى او بشارت ورکړ شو. په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د پېغمبر ﷺ پام د هغه اساسي مسئولیتونو ته را اړوي او داسې فرمايي: ای محمده! په قرآن سره پند ورکړه (نصیحت وکړه) او د اتمام حجت لپاره خلک د نېکۍ لارې ته رابله، که پند او نصیحت ګټور وي؟ یعنې د دین بلنه او دعوت ټولو خلکو ته ورسوه، ځوک چې پند مني او نصیحت ته غوږ نیسي، نو هغه به ترې ګټه پورته کړي. دلته مطلب دا دی چې د خلکو په منځ کې داسې کسان هم شته چې باید ډېره پاملرنه ورته وشي، خو هغه ځوک چې پرخپل کفر، عناد او سرغړونې ولاړ او هغه ته دوام ورکوي نو پند او نصیحت هغه ته کومه ګټه نه رسوي.

مبارک آیت دې ته اشاره کوي چې له خلکو سره باید د هغوی د عقل او پوهې په کچه خبرې وشي. ابن کثیر (رحمه الله) وايي: د تعلیم او علم خپرولو له آدابو څخه دا دي چې پر علمي مسایلو باندې له هغو کسانو سره مباحثه ونشي چې د علم له نعمت څخه بې برخې وي او په علمي مسایلو نه پوهیږي.

مسلم له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه په یوحدیث کې روایت کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي : یو قوم ته باید داسې خبرې بیان نشي چې هغوی یې له پوهې او ادراک څخه عاجز وي. همدارنګه دیلمي له علي رضي الله عنه څخه او بخاري په موقوف حدیث کې داسې روایت کړی دی : له خلکو سره د هغوی د پوهې، عقل او علم مطابق خبرې وکړئ ، آیا غواړئ چې الله او رسول یې تکذیب شي؟

بیا الله جل جلاله فرمايي: که چېرې له الله جل جلاله څخه ووېرېږئ، نوډېر ژر به نصیحت ومنئ، یعنې که د چا په زړه کې د الله تعالی ډار موجود وي باید له الله تعالی څخه ووېرېږي، هر وخت پند او نصیحت ته غوږ شي او ګټه ترې پورته کړي. بېشکه ځوک چې له پند او نصیحت څخه لرې والی اختیاروي او ځان ترې ژغوري، نو یقینا دا کس بدمرغه دی، د خپل کفر او عناد له امله به دوزخ ته داخلیږي او د تل لپاره به د جهنم په اور کې وي، بیا به نه مري چې له عذاب څخه خلاص شي او نه به هم رغېږي چې بې غمه او آرامه شي.

د سرغړوونکو او بدمرغو انسانانو د عاقبت او پایلو له بیانولو وروسته، الله تعالی د هغو انسانانو پایلې چې له شرک او کفر څخه لرې والی غوره کوي او د نفس په تزکیه او پاکۍ بوخت وي، داسې بیانوي: پرته له

شکه هغه څوک بريالی او سرلوړی دی چې ځان د الله تعالی له عذاب څخه ژغوري، له کفر او شرک څخه لرې والی اختياروي، په ټولو حالاتو کې دخپل رب نوم يادوي، لمونځ ادا کوي او ورسره د الله تعالی نور عبادتونه هم پرځای کوي.

ابوبکر بزار له جابر ﷺ څخه روايت کوي چې کله له نبي کريم ﷺ نه د ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّى﴾ آيت په اړه پوښتنه وشوه، هغهﷺ په ځواب کې وفرمايل: بريمن هغه څوک دی چې د لاإله إلاّ الله شهادت ورکړي، له الله تعالی سره شريک و نه نيسي او زما په رسالت ګواهي ورکړي. د ﴿وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى﴾ د مبارک آيت د تفسير په اړه له رسول الله ﷺ څخه روايت شوی دی چې د دې آيت مراد پنځه وخته لمونځ کول او پر هغو مداومت او پابندي ده.

بيا الله تعالی ټول انسانان مخاطب ګرځوي او د هغو کسانو غندنه کوي چې د دنيا ژوند غوره ګڼي او هغه ته د آخرت پر ژوندانه ترجيح ورکوي، الله تعالی فرمايي: ﴿بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا﴾ يعنې: تاسې ته چې د څه امر شوی دی، هغه نه پرځای کوئ، بلکې د دنيا ژوند ته پر آخرت ترجيح ورکوئ، حال دا چې د آخرت ژوند او نعمتونه د دنيا په پرتله همېشه او تل پاتې دي.

د سورت په آخري برخه کې دا څرګندېږي چې د ټولو آسماني اديانو سرچينه يوه ده، يعنې ټول آسماني اديان په اصولو او اساساتو کې يو شان دي او هيڅ کوم توپير پکې نه ليدل کيږي، پرته له شکه دغه تعليمات په پخوانيو کتابونو او صحيفوکې، په ځانګړې توګه د ابراهيم او موسی (عليهما السلام) په صحيفوکې ذکرشوي دي.

ابن عساکر له ابوذر ﷺ څخه روايت کوي چې د الله تعالی د رالېږل شويو کتابونو د شمېر په اړه له رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه، رسول الله ﷺ په ځواب کې وفرمايل : يوسل او څلورکتابونه؛ پنځوس صحيفې پر شيث عليه السلام، دېرش صحيفې پرادريس عليه السلام ، لس صحيفې پر ابراهيم عليه السلام او مخکې د تورات له رالېږلو څخه، لس صحيفې پرموسی عليه السلام ، تورات، انجيل، زبور او قرآن کريم.

### د لوست ګټې

پورتني آيتونه ځينې ګټې او لارښوونې لري چې عبارت دي له:

• د نفس د تزکيې، ذکر او لمانځه په لوري د مؤمن تشويقول، چې په ځانګړې توګه دا امور د وړوکي اختر پر مهال حاصلېدلای شي، کله چې مومن زکات او د فطر صدقه ورکړي او بيا د اختر د لمانځه د ادا کولو

لپاره ووځي.

• تذکیر، پند او نصیحت د هغه چا لپاره ګټور دی، چې ګټه ترې پورته کړي او په حقیقت کې همدغه کسان نېکمرغه او په سمه لاره روان دي.

• بد مرغه او سرغړوونکي کسان د پند، نصیحت اوښوخبرو له منلو او اورېدلو څخه ځان ژغوري.

• کافران به دوزخ ته ننوځي، بیا به دوی هلته نه مري او نه به هم رغېږي.

• د دنیا او آخرت برى اوکامیابي د هغه چا په برخه وي چې د الله په یاد او د هغه په عبادت کې خپل ژوند تېرکړي او د آخرت ابدي ژوند ته پر فاني دنیا ترجیح ورکړي.

• د دین اصول اوحقایق د ټولو پخوانیو امتونو په کتابونو کې یو شان دي او دا پر دې دلالت کوي چې دا ټول کتابونه د الله تعالی وحې ده، چې پېغمبرانو (علیهم السلام) باندې د هغه له لوري نازله شوې ده.

## پوښتنې

١-د لاندنیوکلماتو مفهوم بیان کړئ.

{ فَذَكِّرْ – سَيَذَّكَّر – الْأَشْقَى – تَزَكَّى – فَصَلَّى – تُؤْثِرُونَ }.

٢- په دې سورت کې د پېغمبر ﷺ د رسالت تر ټولو اساسي شیان څه ذکرشوي دي؟

٣-داعي او عالم باید د دعوت او تعلیم آداب او حالات رعایت کړي. په دې هکله په ځینو احادیثو او مأثورو روایاتو استدلال وکړئ.

٤- د﴿إِنَّ هَذَا لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَى﴾ له مبارك آیت نه څه استنباط کولای شئ؟ په لنډه توګه یې بیان کړئ.

٥- دکتابونو اوصحیفو تر منځ څه توپیر شتون لري؟ څرګند یې کړئ او تر څنګ یې د آسماني کتابونو او صحیفو شمیر هم بیان کړئ.

## کورنۍ دنده

د لوست د آیتونو له مخې، د نېکو او بدمرغو کسانو په هکله، لس کرښیزه مقاله ولیکئ.

# د الغاشية سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ ﴿١﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ﴿٢﴾ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿٣﴾ تَصْلَى نَارًا حَامِيَةً ﴿٤﴾ تُسْقَى
مِنْ عَيْنٍ آنِيَةٍ ﴿٥﴾ لَّيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ ﴿٦﴾ لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِن جُوعٍ ﴿٧﴾﴾

## د کلمو معنا

| | | | |
|---|---|---|---|
| {هَلْ أَتَاكَ} | آیا تا ته رسېدلی دی. | {حَامِيَةً} | ډېر تود او ګرم. |
| {الْغَاشِيَةِ} | قيامت، پټوونکی، خوريدونکی. | {آنِيَةٍ} | خوټېدلي، ایشېدلي او ډېرې تودې. |
| {خَاشِعَةٌ} | خوار او ذليل. | {ضَرِيعٍ} | اغزي لرونکي او ترخه بوټي. |
| {عَامِلَةٌ} | ربړ ایستونکي او زيار ایستونکي. | {لَا يُسْمِنُ} | نه چاغوي، نه څربوي. |
| {نَاصِبَةٌ} | ستړي ستومانه، رنځ راښکوونکي. | | |

## ژباړه

ايا تا ته د هغه خوريدونکي افت (غاشيې) خبر رسېدلای دی ؟ ځيني مخونه به په هغه ورځ ترېدلي او خوار وي. سخت زيار ايستونکي او ستړي کيدونکي به وي. په تود (ګرم ) اور کې به ننوتونکي وي. د خوټېدلي چينې اوبه به هغوته د څښلو لپاره ورکړای کيږي. له اغزو لرونکو بوټو پرته به بل هيڅ ډول خواړه د هغوی لپاره نه وي، چې نه يې چاغوي او نه به يې لوږه لرې کوي.

## د سورت پېژندنه

د (الغاشيه) سورت مکي دی، (٢٦) آيتونه لري او د عثماني مصحف له ترتيب سره سم په (٨٨) رديف کې ځای لري. د دې سورت نوم د دغه سورت له پيل څخه اخيستل شوی دی. الغاشية د قيامت له نومونو څخه يو نوم دی، چې د ويرووونکو پيښو په معنا راغلی او ويره او هيبت يې ټول خلک نيسي.د سورت موضوع د قيامت ورځ، د هغې احوال او په آخرت کې د مؤمنانو لپاره د نعمتونو او د کافرانو لپاره د عذاب بيان دی.د دې سورت په وروستی برخه کې د کايناتو د پيدايښت او نظام په اړه د څښتن تعالی د قدرت نښې په دقيقه بڼه څرګندې شوې دي.

## له مخکيني سورت سره يې تړاو

د الاعلی په سورت کې د مؤمنانو او کافرانو لپاره د جنت او دوزخ صفتونه په لنډه توګه ياد شول، په دې سورت کې پورتني صفتونه په بشپړ ډول سره بيان شوي دي.

## اجمالي تفسير

د دې سورت په لومړۍ برخه کې خدای تعالی خپل رسول ته د قيامت د ورځې د رسيدو د خبر په هکله ټينګار کړيدی، هغه خبر چې د ويرې او هيبت سختي يې انسانان رانغاړي.

الله جل جلاله په دې ورځ د انسانانو د حالت په نظر کې نيولو سره، دوی په دوو برخو وېشلي دي او فرمايي: په دې ورځ ځينې مخونه خوار او ذليل دي، دا ډله هماغه د کافرانو ډله ده. دوی د هغه عذاب له امله چې ليدلی يې دی ځيرې يې ذليلې او رنګ يې الوتی وي، چې د قيامت د ورځې له عذاب سره مخ کيږي. دغه ډله به سخته ربړليدلې، رنځ ايستلې، ستړې او ستومانه وي، ځکه چې دغې ډلې په دنيا کې بې ځايه او بې مورده خپل ځانونه ستړي او ستومانه کړيدي، دوی به سوځونکي او ګرم اور ته ننوځي او کله چې دوی تږي شي او اوبه وغواړي، له هغې چينې څخه دوی ته اوبه ورکول کيږي چې د هغې په اوبو يې تنده نه ماتيږي، بلکې د هغې د تودوالي له امله يې تنده لا زياتيږي. همدارنګه دوی ته هغه خواړه او ډوډۍ نه ورکول کيږي چې پرې ماړه شي، له دې امله الله تعالى فرمايلي دي: د دې ډلې لپاره له «ضريع» (تريخ بوټي) څخه پرته نور خواړه، نه ورکول کيږي چې په دې خوړو نه دوی چاغيږي او نه يې هم لوږه له منځه ځي.

مفسرينو ويلي دي: کله چې دا آيت ﴿لَّيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ﴾ نازل شو، مشرکانو به د مسخرو په ډول ويل: زموږ اوښان د ضريع واښه خوري او په هغې څربيږي، وروسته دا آيت﴿لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِن جُوعٍ﴾ نازل شو، يعني نه دوی چاغوي او نه يې لوږه له منځه وړي.

﴿ضَرِيعٍ﴾ داسې يو تريخ او بد خونده بوټی دی چې د حجاز خلک ورته د شينوالي په وخت کې (شبرق) وايي، کله چې دا بوټی وچ شي هغه ته (ضريع) وايي چې ډېر زهرناک او بد خونده دی. په همدې توګه د دوزخيانو لپاره يو بل ډول خواړه هم شته، چې هغه ته (زقوم) وايي او زقوم هم بد خونده او زهري خواړه دي.

## د لوست ګټې

پورتني آيتونه ځينې لاندې ګټې او لارښوونې را په ګوته کوي:

- د قيامت له نومونو څخه يو هم (الغاشيه) د پټوونکي په معنا دی، چې وحشت او وېره يې انسانان پټوي.
- کافران د قيامت په ورځ له خوارو او ذليلو څېرو سره راټوليږي او په دردونکي عذاب به اخته کيږي.
- مشرکان او بت پرستان په دنيا کې بې ځايه خپل ځانونه په شرکي اعمالو او د بتانو په عبادت کې ستړي کوي، همدارنګه د قيامت په ورځ به هم ستړيا او ذلت د دوی په برخه وي.
- په مبارکو آيتونو کې دوزخيانو ته له ترخو او بد بويه خوړو څخه مخکې د اوبو څښلو يادونه شوېده، دا ځکه چې هغوی د سختې ګرمۍ له امله له خوړو څخه اوبو ته ډېره زياته اړتيا لري.
- دوزخيانو ته د ضريع د خوړو ورکول په دې معنا دي چې دوزخيان اصلاً هيڅ غذا او خواړه نه لري؛ ځکه چې ضريع نه لوږه له منځه وړي او نه هم بدن ته قوت او انرژي ورښني.

### پوښتنې

۱: لاندې کلمې معنا کړئ:

﴿الْغَاشِيَةِ، خَاشِعَةٌ، عَامِلَةٌ، نَّاصِبَةٌ، حَامِيَةً، ضَرِيعٍ، لَا يُسْمِنُ﴾

۲: د قيامت ورځ ولې د الغاشيه په نامه نومول شوېده؟

۳: کفار او مشرکين به ولې د قيامت په ورځ ستړي او ستومانه وي؟

# د الغاشية سورت

(دویمه برخه)

﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾ لِسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾ لَّا تَسْمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً ﴿١١﴾ فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴿١٣﴾ وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ﴿١٤﴾ وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ﴿١٥﴾ وَزَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ ﴿١٦﴾﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| { نَّاعِمَةٌ } | تازه، ښکلي، ښیرازه. |
| { لَاغِيَةً } | بابیزه، بې ګټې خبرې. |
| { سُرُرٌ } | د ناستې تختونه. |
| {نَمَارِقُ } | بالښتونه. |

## ژباړه

ځینې مخونه به په هغه ورځ ښیرازه او تازه وي. له خپل زیار او کوښښ(کړو) څخه به خوشحاله وي. په لوړ مقامه جنت کې به وي. په هغه کې به بابیزه او بې ګټې خبره نه اوري. په هغه کې به بهیدونکې چینې وي. په هغه کې به د ناستې لوړ او ښکلي تختونه وي، جامونه به(د چینې ترڅنګه) ایښودل شوي وي. بالښتونه به څنګ په څنګ کتار کېښودل شوي وي او ښکلي فرشونه به غوړېدلي وي.

## اجمالي تفسیر

د سورت په لومړۍ برخه کې د کافرانو ناوړه حالات، د دوی د ځښاک او خوړو بد والی او خرابوالی بیان شو. په دې آیتونو کې د مؤمنانو او نېک عمله انسانانو حالت بیان شوی دی. الله تعالی فرمایي: ځینې مخونه به په دغه ورځ خوښ، تازه او روښانه وي، یعني: د خوښۍ او خوشحالۍ، روښانتیا او تازه والي نښې به پکې څرګندې وي، لکه چې په بل ځای کې د دې مؤمنو بندګانو په شان کې دارنګه راغلي دي: ﴿تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيمِ﴾ (المطففین-۲۴).

یعني: د هغو په څېرو کې به ته دخوښۍ نښې لیدای شې. د نعیم (د جنت لوی نعمت) دا ښیرازي، تازګي او خوشحالي له دې امله ده چې دغه مؤمن بندګان خپله پایله او نتیجه بریالۍ ګوري، له همدې امله په ورپسې آیت کې الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿لِسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ﴾ یعني: دوی په دنیا کې له خپلو کړو څخه راضي او خوښ دي، چې د هغې پایله به ګوري.

په دې دوو آیتونو کې الله تعالی نېک انسانان (متقیان او مؤمنان) په دوو صفتونو یاد کړي دي: یو صفت دا دی چې طراوت او خوشحالي به یې په څېرو کې ښکاره وي. بل صفت یې دا دی چې دوی به له خپل زیار او هڅو څخه خوښ او راضي وي.

وروسته بیا الله تعالی د جنت لپاره اوه صفتونه بیان کړي دي او فرمايي: دوی په ډېر لوړ او عالي جنت کې ژوند سرته رسوي چې په هغه کې به چتي، بې ځایه اوبابېزه خبرې نه اوري، ځکه چې جنت د عزتمندو او ښاغلو بندګانو ځای دی. د جنت بل صفت دا دی چې په هغه کې بهیدونکې چینې دي چې جنتیان به له هغې څخه په مړه خیټه اوبه څښي او خړوبیږي، سره له دې چې په دې آیت کې (عین) په مفرده صیغه راغلی دی، خو د جنس یا عموم افاده ترینه اخیستل کیږي چې د ډېرو چینو په معنا ده، د تل لپاره به رواني وي او اوبه یې هیڅکله نه وچیږي. بل صفت یې دا دی چې په جنت کې د جنتیانو د کیناستلو لپاره لوړ تختونه ایښودل شوي دي، چې هغوی پرې کیني.

بل صفت یې دا دی چې هلته له شرابو څخه ډکې پیالې ایښودل شوي، ښکلي بالښتونه هم تنظیم شوي دي او ښایسته فرشونه هوار شوي دي، یعنې په جنت کې د جنتیانو لپاره له شرابو څخه ډکې پیالې ایښودل شوې دي او هر وخت چې وغواړي څښلی یې شي.

همدارنګه په جنت کې کتار په کتار بالښتونه ایښودل شوي دي، هرکله چې وغواړي پر هغو باندې ډډه لګوي؛ په همدې توګه په هغه کې ښکلي او ویاړن فرشونه غوړیدلي دي چې د پاسه پرې کښیني.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

• پورتني مبارك آیتونه له مرګ نه وروسته په بیا راژوندي کیدو او د قیامت په ورځ د مکافاتو او مجازاتو پر ورکړه ټینګار کوي.

• پورتني یاد شوي آیتونه د جنت لپاره لاندې اووه صفتونه بیانوي: ۱: جنت او یا لوړ بڼونه. ۲: بې ځایه او چتي خبرې به هلته نه اوریدل کیږي. ۳: په هغه کې به چینې بهیږي. ٤: د ناستې لپاره لوړ او جګ تختونه ٥: له شرابو څخه ډکې پیالې او جامونه. ٦: کتار ایښودل شوي بالښتونه او تکیې. ۷: غوړیدلي ښکلي او ویاړن فرشونه.

• د جنت په یادو شویو صفتونو سره مؤمنانو ته د هغو الهي نعمتونو زیری ورکړای شوی دی چې هغو ته د رسیدلو لپاره پر دوی لازمه ده چې په دنیا کې هڅه او کوښښ وکړي.

• بې ځایه خبرې، باطله وینا، دروغ، لهو او لعب د انسان نفس ځوروي، نو له دې امله جنتیان د چتي خبرو له اوریدلو څخه په امن کې دي.

### پوښتنې

۱: لاندې کلمې معنا کړئ:

﴿عَالِيَةٍ، مَّوْضُوعَةٌ، نَمَارِقُ، مَبْثُوثَةٌ﴾.

۲: لاندې کلمې په پورتنیو آیتونو کې د صفاتو په توګه راغلي دي، د لاندېني هر صفت په مخکې د هغه موصوف ولیکئ:

............ عالیة ............ جاریة ............ مرفوعة............ مصفوفة............ مبثوثة.

۳: د جنت او جنتیانو لپاره اوه عالي او نېک صفتونه بیان شوي دي، دا اوه صفتونه په مبارکو آیتونو کې په ګوته کړئ.

# د الغاشية سورت

(دریمه برخه)

﴿أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى السَّمَاء كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا مَن تَوَلَّى وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ﴿٢٦﴾﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| { أَفَلَا يَنظُرُونَ } | نو آيا هغوی د عبرت په نظر نه ګوري. |
| { كَيْفَ رُفِعَتْ } | څرنګه اوچت کړای شوی دی. |
| { كَيْفَ نُصِبَتْ } | څرنګه ودرول شوي دي. |
| { كَيْفَ سُطِحَتْ } | څرنګه غوړول (هواره) شوې ده. |
| { بِمُصَيْطِرٍ } | حاکم او کنټرولوونکی. |
| { إِيَابَهُمْ } | د هغوی بېرته راستنېدل. |

## ژباړه

آيا هغوی اوښ ته نه ګوري چې څرنګه پيدا کړای شوی دی؟ او اسمان ته نه ګوري چې څرنګه اوچت کړای شوی دی؟ او غرونو ته نه ګوري چې څرنګه ودرول شوي دي؟ او ځمکې ته نه ګوري چې څرنګه غوړېدلې ده؟ نو پند ورکړه. ستا دنده يوازې پند ورکول دي او پر هغوې حاکم او زور زياتی کوونکی نه يې(چې په ايمان راوړلو يې مجبور کړې)، خو هغه څوک چې مخ واړوي او کافر شي، نو الله تعالی به هغه ته درنده سزا ورکړي. بېشکه د دې ټولو خلکو بېرته راګرځېدل زموږ لوري ته دي، نو بيا له هغوی سره حساب زموږ کار دی.

## اجمالي تفسير

وروسته له دې چې الله تعالی د قیامت په راتګ ټینګار وکړ او انسانان یې په دوو نېکمرغو او بدمرغو ډلو ووېشل، د سورت د وروستۍ برخې په آیتونو کې الله تعالی د خپل وجود، وحدانیت او قدرت د دلیلونو په بیانولو پیل وکړ.

په دې آیتونو کې الله تعالی د انسانانو پام د نړۍ د نظام او د پیدایښت او خلقت ځینو عجیبو بېلګو ته رااړوي؛ چې دا ټول د خالق تعالی په عظمت او د هغه په بې ساري قدرت دلالت کوي، لکه څرنګه چې الله تعالی د انکار او رټنې په اسلوب د انسانانو پام او توجه دېته را اړوي، چې ولې دوی د اوښ حیرانونکي او عجیب پیدایښت ته نه ګوري چې په کومو ځانګړتیاوو سره خلق شوی دی؟

همدارنګه دا مبارك آیتونه، انسان د کایناتو پټو رازونو ته متوجه کوي، د هغه نظر اسمان ته را اړوي چې هغه یې پرته له ستنو څرنګه جګ درولی دی او هغه یې په لمر او ستورو ښایسته کړی دی.

بیا الله تعالی د انسان پام غرونو ته را اړوي او فرمايي: غرونو ته وګورئ چې د مېخونو په څېر مو په ځمکه کې خښ کړي دي.

همدارنګه دوی ځمکې ته نه ګوري چې هغه مو څرنګه هواره کړې ده، ترڅو انسانان په هغې کې سوکالي او هوساینه ومومي. هغه مو په بوټو، ونو، مېوو او کرهڼو ښکلې کړېده چې له هغو څخه ګټه واخلي او د هغې په تل کې له پټو معدنونو څخه استفاده وکړي.

یوازې دا څلور ډوله مخلوق د ټولو مخلوقاتو له منځه په مبارکو آیتونو کې بیان شوي دي؛ ځکه انسان په خپل ورځني ژوندانه کې ډېر ځله هغو ته ګوري، باید د هغو په پټو او ښکاره رازونو کې سوچ او تدبر وکړي، ترڅو د ځواکمن خالق په قدرت ډېر ښه وپوهيږي.

وروسته بیا خدای تعالی خپل پیغمبرﷺ ته لارښوونې کوي چې د دې دلیلونو په نظر کې نیولو سره په پند او نصیحت کولو پیل وکړي، فرمايي: ای زموږ پیغمبره! نصیحت وکړه، او پند ورکړه؛ ځکه چې ته یوازې نصیحت کوونکی او پند ورکوونکی یې، پرته له پند او نصیحته د هغوی پر زړونو تسلط او حاکمیت نه لرې، یعنې ته دغه مشرکین د خدایﷻ د قدرت د دلیلونو په وړاندې کولو سره وویروه، ترڅو هدایت ومومي او سمې لارې ته راوګرځي.

له دې امله د ﴿لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ﴾ آيت دوی ته د پند او نصيحت د ټينګار لپاره راغلی دی.

لکه څنګه چې د يونس په سورت کې الله تعالی فرمايي:﴿أَفَأَنتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّى يَكُونُواْ مُؤْمِنِينَ﴾(يونس: ۹۹)،

يعنې: آيا ته خلك په زور سره ايمان راوړلو ته اړ باسې(چې په حقيقت کې دا ډول ايمان راوړل د منلو وړ نه دی).

امام احمد، مسلم، ترمذي او نسايي له جابر (رحمه الله) څخه روايت کړيدی چې رسول اللهﷺ وفرمايل:(أُمرتُ أن أُقاتل الناس حتی يقولوا لا إله إلا الله، فإذا قالوها عصموا مني دماءهم و أموالهم إلا بحقها و حسابهم علی الله عزوجل).

ترجمه: زه مامور کړای شوی يم چې له خلکو(مشرکينو) سره تر هغه بريده جنګ وکړم چې (لا اله الا الله) ووايي(د خدایﷻ توحيد ته مخ را واړوي) کله چې يې دا کلمه په ژبه راوړه، نو بيا يې وينې او مالونه په امان کې دي، مګر په هغه صورت کې چې حق پر دوی ثابت شي(چې په هغه حالت کې له دوی څخه بدله اخيستل کيږي) او نور حساب يې له اللهﷻ سره دی، بيا پيغمبرﷺ دا آيت ولوست:﴿فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ . لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ﴾[1].

وروسته بيا الله تعالی فرمايي:﴿إِلَّا مَن تَوَلَّى وَكَفَرَ . فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ﴾: خو هغه چا چې د پند او نصيحت له منلو څخه مخ واړوه او ډډه يې وکړه او په ژبه او زړه يې له الله تعالی څخه انکار وکړ، نو دا کس له دنيوي عذاب ، لکه: قتل، اسارت او د مال په غنيمت نيول کېدلو سربيره ، د آخرت په دردونکي او تلپاتې عذاب اخته کيږي.

دلته خدای تعالی خپل پيغمبرﷺ ته ډاډ ورکوي چې که ته پر دوی برلاسی نشې او غلبه پرې حاصله نه کړې او يا ستا پند اونصيحت ونه مني، نو دوی به د الله تعالی له محاسبې، غلبې او حاکميت څخه خلاصون ونه مومي.

د سورت په پای کې الله تعالی يو ځل بيا، د انسانانو پر دويم ځلې ژوندي کېدلو او د يوه ځواکمن خالق حضور ته د حساب او کتاب لپاره د هغوی پر ورتللو ټينګار کوي او فرمايي:﴿إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ . ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا

۱- - دا حديث شريف په صحيحينو کې هم له ابوهريرة (رضي الله عنه) څخه روايت شوی دی، خو آيت پکې نه دی راغلی.

حِسَابَهُمْ﴾. یعنې: بیا ددوی بېرته راګرځېدل زموږ لور ته دي، ددوی د کړنو حساب او کتاب به موږ ورکوو، که نېک او ښایسته کارونه یې کړي وي، نو ښه عوض او بدل به ومومي او که چېرته یې ناوړه اوبد کارونه کړي وي، نو د الله تعالی په سخت عذاب به اخته شي او هیڅکله به له هغه څخه ونه ژغورل شي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کېږي:

- په کایناتو کې د خدای ﷻ مخلوقات، د الله تعالی پر شتون ښکاره دلایل دي، د هغه د ځواکمنتیا او قدرت څرګندونه کوي او وروسته له مرګه د انسانانو په بیا ژوندي کولو دلیل ګڼل کېږي. د حیواناتو پیدایښت، د ځمکې، اسمان او غرونو حیرانوونکې خلقت، د څښتن تعالی د ځواک بېلګې دي.
- په مبارکو آیتونو کې د ټولو ژویو له منځه، د اوښ پیدایښت ته اشاره شوېده، ځکه چې اوښ د عربو لپاره ډېر ښه او غوره ځاروی و او له هغه څخه به یې د ډول ډول کارونو په ترسره کولو کې ګټه اخیستله.
- د پیغمبر ﷺ مهمه او بنسټیزه دنده خلکو ته تبلیغ، پند، نصیحت او موعظه کول وو او په زور سره پر خدای ﷻ باندې ایمان راوړلو ته د خلکو اړ کول، د هغه مسؤلیت نه و.
- هغه څوک چې د الله ﷻ او د هغه د استازی له بلنې او دعوت څخه مخ اړوي، د هغوی لپاره په دنیوی جزا سربېره په آخرت کې هم د دوزخ دردونکی عذاب، تیار کړای شوی دی.

## پوښتنې؟

۱: د (الغاشیه) مفهوم بیان کړئ.

۲: د کایناتو له پدیدو څخه ولې څلور څیزونه (ځمکه، اسمان، غرونه او اوښ) په مبارکو آیتونو کې د پیدایښت د دلیل په توګه غوره شوي دي؟

## کورنۍ دنده

د (الغاشیة) د سورت د مطالبو لنډیز په اتو کرښو کې ولیکئ.

# د الفجر سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَالْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿٣﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ﴿٤﴾ هَلْ فِي ذَٰلِكَ
قَسَمٌ لِذِي حِجْرٍ ﴿٥﴾ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ﴿٧﴾ الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ
مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ﴿٨﴾ وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرْعَوْنَ ذِي الْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾
الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿١١﴾ فَأَكْثَرُوا فِيهَا الْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ
﴿١٣﴾ إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾﴾

## د کلمو معنا

| | | | |
|---|---|---|---|
| {لَيَالٍ} | شپې. | {ذَاتِ الْعِمَادِ} | د ستنوښتن. |
| {عَشْرٍ} | لس (د ذي الحجې لومړۍ لسيزه). | { جَابُوا} | توږلې، غوڅولې، پرې کولې. |
| {الشَّفْعِ} | جوړه (جفت). | {الصَّخْرَ} | د غره تيږه. |
| {الْوَتْرِ} | تاق. | {الْأَوْتَادِ} | ميخونه. |
| {اللَّيْلِ} | شپه. | {سَوْطَ} | دُره، متروکه ( قمچينه). |
| {إِذَا يَسْرِ} | کله چې ځي، راځي. | {الْمِرْصَادِ} | څارنځی . |
| {لِذِي حِجْرٍ} | د عقل د خښتنانو لپاره. | | |

## ژباړه

قسم دی پر سهار، پر لسو شپو او پر جوړه(جفت) او تاق باندې. قسم دی پر شپې باندې چې کله ځي( او بېرته راځي). ايا په دې کې (هغه څه چې وويل شول) د کوم هوښيار لپاره څه قسم شته ؟ آيا تا ونه ليدل چې ستا رب له عاديانو سره څه وکړل؟ او له ارم سره چې د لوړو ستنو څښتنان وو؟ هغه چې په ښارونو (هېوادونو) کې يې انډول نه وو پيدا شوی ، او له ثموديانو سره چې لويې تيږې يې د درو، له څنډو څخه غوڅولې او په هغو کې به يې سمڅې او ماڼۍ جوړولې، او د ميخونو د څښتن فرعون سره (چې د خلکو د تعذيب لپاره يې کارول). دا هغه کسان وو چې د نړۍ په هېوادونو کې يې ډېرې سرغړونې کړې وې؛ او په هغو ښارونو کې يې ډېر فساد خپورکړی و؛ نو له همدې امله خدای تعالی پر دوی د عذاب متروکه، دُره (قمچينه) نازله کړه؛ په يقين سره ستا رب (د تېرې کوونکو لپاره) په څارنځي کې دی.

## د سورت پېژندنه

د الفجر سورت مکي دی، (۳۰) آيتونه لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې په (۸۹) رديف کې راځي. د دې سورت نوم د هغه له لومړني آيت څخه اخيستل شوی دی چې په هغه کې الله ﷻ په فجر(سهار) سوګند ياد کړی دی. په دې سورت کې د کافرانو بده او ناوړه پايله(عاقبت) او د قيامت په ورځ د انسان له حالت څخه يادونه شوېده.

## له مخکني سورت سره يې تړاو

په تېر شوي سورت کې انسانان د قيامت په ورځ په دوو(نيکمرغه او بد مرغه) ډلو وېشل شوي وو، چې د يوې ډلې مخونه به په هغه ورځ خوار او ګردجن وي او بله ډله به يې خوبښ خوشاله او تازه ښکاري.

په دې سورت کې د عاد، ثمود او فرعون د قومونو يادونه د شقی او بدبختو خلکو د بېلګې په توګه راغلې ده، همدارنګه په دې سورت کې د﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ﴾ آيت د﴿أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ﴾ مبارک آيت سره ورته والی او مناسبت لري.

## اجمالي تفسير

د سورت په پيل کې الله ﷻ په پنځو څيزونو سوګند ياد کړی، يعني د سهار په لمونځ يا د سبا پر وخت چې په خپلې رڼا سره د شپې تياره له منځه وړي؛ تر څو انسان په کوښښ او هڅه پيل وکړي، حلاله روزي لاس ته راوړي او د ذي الحجې په لومړيو لسو ورځو يې قسم ياد کړی، چې د حج د مناسکو ورځې دي. امام بخاري د ابن عباس په روايت يو حديث له پيغمبر ﷺ څخه روايت کړی چې فرمايلي يې دي: (مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ فيهن مِنْ هَذِهِ الأَيَّامِ [يعني عشر ذي الحجة]، قَالُوا : وَلاَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ؟ ، قَالَ : وَلاَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، إِلاَّ رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ ، ثُمَّ لَمْ يَرْجِعْ بِشَيْءٍ).

يعنې: د هيڅ ورځې نيک عمل د الله ﷻ په نزد ډېر ګران او محبوب، له دې ورځو (د ذی الحجې له لسو ورځو) څخه نه دی، صحابه کرامو وويل: او نه جهاد د خدای ﷻ په لار کې؟ هغه وويل: او نه جهاد د خدای په لار کې، مګر هغه سړی چې د خپلو شتو سره د الله تعالی په لار کې وتلی وي او بيا له هغه مال څخه يو څيز هم له ځان سره را نه وړي (خپل مال خرڅ کړي او خپله هم شهيد شي).

قسم د هر څيز په جفت او تاق باندې، لکه د لوی اختر ورځ چې جفته او د عرفې ورځ چې تاقه ده.

لومړی لسمه او دويمه نهمه ورځ ده، همدارنګه ويل شويدي چې(الشفع) د تشريق د ورځو دوې لومړۍ ورځې دي چې حاجيان د بيرې او تلوار د انتخاب په صورت کې له منا څخه راوځي او وتر(تاق) د هغې دريمه ورځ ده.

سوګند په شپه چې راشي، او بيا شا واړوي او سبا شي، لکه چې په يو بل ځای کې راغلي دي: ﴿وَاللَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ﴾ (المدثر: ۳۳)، يعنې: کله چې شپه شا واړوي، څرنګه چې د ورځې په رارسېدلو کې د انسان ګټه نغښتې ده، همدارنګه د شپې راتګ د نفسونو هوساينه او آرامي له ځان سره لري، ځکه کله چې خلک د ورځې د زيار له امله ستړي کيږي، د شپې آرام کوي او نوی قوت پيدا کوي.

بيا خدای تعالی د هغو قومونو يادونه وکړه چې د هغه له الوهيت او احکامو څخه يې سرغړونه کړېده، لکه د عاد، ثمود او فرعون قومونه چې د بېلګې او عبرت په ډول يې ورڅخه يادونه کړې ده او فرمايلي يې دي: آيا تا ونه ليدل چې ستا پالونکي له عاد او ارم سره چې د لوړو ستنو څښتنان وو، څه وکړل؟

له عاد او ارم څخه مراد هغه قومونه دي چې په قرآن کريم کې ورڅخه يادونه شوې ده او د عربو په تاريخ کې هغوی ته لومړني عاد وايي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ هغوی تباه کړل. دا هغه قوم وو چې هود (عليه السلام) د هغوی لپاره راليږل شوی و، کله چې هغوی د خدای تعالی په عذاب اخته شول، نو کوم کسان چې له هغه عذاب څخه ژوندي پاتې شول، د دويم عاد په نامه ياديږي. لومړي عاد ته له دې امله (ارم) ويل شوي دي چې دې خلکو د هغه قوم له ښاخونو سره اړيکه درلوده چې د نسب په لړ کې له ارم بن سام بن نوح څخه جلا شوي دي. له همدې خيل څخه ځينو نورو مشهورو تاريخي ښاخونو ژوند کاوه چې ثموديان هم له هغې جملې څخه دي. عاد او ارم ته له دې امله د ستنو څښتنان ويل شوي دي چې هغوی لوړې آبادۍ جوړې کړې وې؛ له دې امله دوی پر ځمکه کې د لوړو ودانيو بنسټ ايښودونکي ګڼل شوي دي.

همدارنګه د دې قوم وګړي د پلنو پښو، غښتلو بدنونو، جګو ونو او قوي غړو لرونکي وو، چې په تاريخ کې د دوی په څېر ځوک په دې لويي او قوت نه وو تېر شوي.

بيا الله تعالی د ثمود د قوم يادونه وکړه، هغه قوم چې صالح عَلَيْهِ السَّلَامُ د پيغمبر په صفت هغوی ته مبعوث شوی و، دې قوم تيږې توږلې او له هغو څخه به يې کورونه جوړول، ښکلي عمارتونه او مانۍ يې جوړولې او دې قوم د شام او حجاز د سيمې ترمنځ ژوند کاوه.

قرآن کريم د دې قوم په هکله په بل ځای کې فرمايي: ﴿وَكَانُواْ يَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا آمِنِينَ﴾ (الحجر: ۸۲)، يعنې: هغوی به له غرونو څخه د امن کورونه او ځايونه توږل. وروسته بيا د مصر له مشهورو چارواکو څخه يادونه کوي چې د موسی (عليه السلام) په زمانه کې يې پاچاهي درلوده؛ چې هغوی په -ذي **الأَوْتَادِ**- د ميخونو په څښتنانو سره شهرت درلود، جګې ودانۍ او د اهرامو لوی آثار يې جوړ کړل چې د دې اهرامونو بنې د مېخ د تېرې څوکې او پراخ بيخ سره ورته والی لري، ځينو مفسرينو ويلي دي: له(اوتاد) څخه مراد د هغه لښکرې او سپاهيان دي چې د هغه د حکومت ستنې يې ټينګې کړې وې.

الله تعالی د دې قومونو په برخه کې فرمایلي: دوی هغه کسان وو چې په ښارونو کې یې سرونه په تکبر او غرور سره هسک کړي وو او فساد یې خپور کړی و، د الله تعالی د بندګۍ او اطاعت په عوض یې کفر ،ګناهونو او پر بنده ګانو باندې ظلم او تېری پیل کړ، هماغه وو چې الله تعالی پر دوی باندې د عذاب متروکه(قمچینه) نازله کړه چې د دې تفصیل د(الحاقة) په سورت کې بیان شوی دی او مراد د متروکې له عذاب څخه؛ هغه دردونکی عذاب دی چې د قمچینې په ګوزار سره بدن ته تعذیب ورکوي، بې له شکه ستا پالونکی د هغوی د حال څارونکی دی او هیڅ څیز له الله تعالی څخه پټ نه دی، ارومرو به الله تعالی د هغه جزا انسان ته ورکوي.

## د لوست ګټې

پدې مبارکو آیتونو کې ځینې لاندې ګټې او لارښوونې نغښتې دي:

- د هستۍ د نظام په ځینو عجیبو شیانو باندې سوګند یادول، د مسلمانانو پام د دې څیزونو عظمت او ارزښت ته راړول دي.
- ځینې وختونه د نورو وختونو په پرتله له ځانګړي اهمیت او ارزښت څخه برخمن وي، چې له هغې جملې څخه د سهار د لمانځه یا هم مطلق سبا او همدارنګه د ذي الحجې لومړۍ لسیزه ده.
- سرغړونکي او باغي ملتونه، لکه: عاد، ثمود، فرعون او د هغه قوم د خپلې سرغړونې له امله هلاک او تباه شول.
- خدای تعالی د بندګانو د حال څارونکی دی، د سرغړوونکو او باغیانو ظلم او تېری ویني او د خپل حکمت او مشیئت پر بنسټ د عذاب متروکه پر دوی نازلوي.
- د قیامت د ورځې د سختیو او ستونزو بیان.
- د انسانانو وېش په دوو (نېکو او بدو) ډلو باندې.

**پوښتنې؟**

۱: د الفجر سورت په پیل کې الله تعالی په څو څیزونو سوګند یاد کړی دی؟

۲: په دې سورت کې د هغو څیزونو مفهوم او ارزښت چې سوګند پرې یاد شوی دی، په لنډ ډول بیان کړئ.

۳: د (إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ - جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ - فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ) د جملو مفهوم څرګند کړئ.

**کورنۍ دنده**

په دې سورت کې د یادو شویو قومونو ځایونه او صفتونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# د الفجر سورت

(دويمه برخه)

﴿فَأَمَّا الْإِنسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾ وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ
فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ ﴿١٦﴾كَلَّا بَل لَّا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ ﴿١٧﴾وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَى
طَعَامِ الْمِسْكِينِ ﴿١٨﴾وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ﴿١٩﴾ وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴿٢٠﴾﴾

## د کلمو معنا

{ابْتَلَاهُ} هغه يې وازمايه.

{فَقَدَرَ} نو کم کړ، تنگ کړ.

{أَهَانَنِ} زه يې سپک کړم، زه يې خوار کړم.

{لَا تَحَاضُّونَ} تاسي يو بل نه هڅوئ.

{التُّرَاثَ} ميراث.

{أَكْلًا لَمًّا} ډېرخوړل.

{حُبًّا جَمًّا} ډېره زياته مينه.

## ژباړه

خو د انسان حال دا دى چې د هغه رب کله هغه په ازمېښت کې واچوي او هغه ته عزت او نعمت ورکړي، نو هغه وايي چې زما رب زه د عزت خښتن کړم او کله چې هغه په ازمېښت کې واچوي او روزي پرې تنگه کړي، نو وايي زه خپل رب ذليل کړم. هيڅکله نه ، بلکې تاسي له يتيم سره د عزت چال چلند نه کوئ او مسکين ته د خوړو په ورکولو يو بل نه هڅوئ او تاسي د ميراث ټول مال(په روا او ناروا) ډول خورئ. او له مال سره مو له اندازې زياته مينه ده .

## اجمالي تفسير

الله تعالی د تېرشوي لوست په ترڅ کې وفرمایل، چې هغه د انسانانو څارونکی دی او هغوی به له خپلو اعمالوسره سم مکافات او مجازات کړي.

په دې آیتونو کې الله تعالی انسان د رټنې اوتنبیه لاندې نیسي، چې هغه د دنیا په خوندونو پورې خپل زړه تړي او د آخرت چاروته پاملرنه نه کوي، پداسې حال کې چې الله تعالی د بنده زیاته پاملرنه آخرت ته را اړوي. له دې امله یې انسان د دنیا چاروته د مخ اړونې له کبله د رټنې لاندې نیولای دی، فرمایي: کله چې انسان د الله تعالی له خوا د ازمېښت لاندې ونیول شي او په خپل ورځني ژوند کې د عزت، مرتبې او جلال څښتن شي، په غرور او لویۍ سره وایي چې زه د دې عزت او لوړتیا وړ او جوګه یم چې خدای-جل جلاله- راته رابښلی دی. خوکله چې له تنګسۍ او فقر سره مخ شي او خدای تعالی یې روزي لږه کړي، هغه وخت وایي: زه الله تعالی خوار او بې پته کړم. یعنې دی د دنیا غوره ژوند د خپل ځان لپاره د پت او کرامت دلیل ګڼي، د الله تعالی د نعمت له شکر او د هغه د ازمېښت په وړاندې له زغم او صبر څخه سرغړونه کوي. پرته له شکه په دې ځای کې له انسان څخه مراد مطلق انسان دی؛ که هغه مسلمان وي او که کافر. نو د بډاینې(ثروت) څښتن کېدل، مقام او منصب لاس ته راوړل، د دې دلیل نه دی چې الله تعالی له ده څخه راضي او خوښ دی، همدارنګه بېوزلي او خواري په دې دلالت نه کوي چې الله تعالی له هغه شخص څخه نا راضه او نا خوښه دی، نو د دې دواړو ناسمو نظریو د غندنې له امله یې انسان تنبیه کړی دی او په ډېر ټینګار یې وفرمایل: هیڅکله داسې نده چې دوی ګومان کوي؛ ځکه چې الله تعالی مال او دولت خپلو دوستانو او هم خپلو دښمنانو ته ورکوي، چې په دې دواړو حالتونوکې هغه څه چې د الله تعالی په نزد اعتبار لري، د هغه پیروي او اطاعت دی، که چېرته انسان بډای او شتمن وي خامخا دې د الهي نعمت شکر او مننه پر ځای کړي، که چېرته فقیر او په تنګسه کې وي، پر هغه لازم دی چې صبر او زغم وکړي.

وروسته له دې چې الله تعالی د بد انسان خبرې اوګومان وغنده، د دې ډول انسانانو کړنې یې هم وغندلې، هغه دا چې کله یو سړي ته ډېره شتمني ورکړل شي، هغه د الله تعالی حق د دې مال په اړوند نه اداکوي او ټول مال د خپلو مصالحو لپاره لګوي، له دې امله الله تعالی فرمایي: ای شتمنو انسانانو! د میراث مال ټول

پریوځای خورئ؛ د ډېرمال درلودل، له حد څخه زیات خوښوئ یعنې د (یتیم) حق په نظرکې نه نیسئ او پر هغه باندې دنیکی لورینه روا نه ګڼئ، په میراث کې ورته برخه نه ورکوئ او د ما ل په ټولولو کې داسې بوخت او سرګردانه یاستئ چې پدې اړه هیڅ سوچ نه کوئ چې آیا دا مال له حلالې لارې ترلاسه شوی دی او که له حرامې. نو د دې آیت مطلب دا دی چې د مالونو په ټولولو کې داسې ډوب یاستئ چې آخرت مو هېر کړی دی، حال دا چې الله تعالی تاسې ته آخرت غوره کړی دی او د هغه لپاره یې د چمتوالي امر کړی دی.



**فعالیت**

زده کوونکې دې د ښوونکې په لارښوونه د آیتونو او احادیثو په رڼا کې د یتیم او له هغه سره د چلن په اړه خبرې اترې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

• دا نړۍ د آزموینې ځای دی، د هوسا، ښکلي ژوند او شتمنی لاس ته راوړنه، د دې دلیل نه دی چې الله تعالی له داسې کسانو څخه خوښ دی او دوی یې د خپل تکریم لاندې نیولي دي او نه هم د بنده فقر او غریبي له ده څخه د څښتن تعالی د ناخوښی دلیل دی، بلکې شتمني او غریبي، دواړه یوازې د انسان د امتحان او ازمېښت لپاره دي.

• د مکې مشرکانو د مادیاتو او ماده پرستی د نظریې پر بنسټ، د انسان د لویی معیار، د مال او شتو په لرلو، مخورتوب، مقام، شان او شوکت کې ګڼلو.

• د انسان طبیعت داسې دی چې د مال او دولت په راټولولو او درلودلو کې حریص دی. دا حرص هغه دې ته اړ باسي چې د یتیم او بېوزلي د مال له خوړلو، له ناروا لارې څخه د مال او شتو له راټولولو څخه ډډه نه کوي.

• په مبارکو آیتونو کې یتیمانو، وږو او بېوزلو ته د خوړو په ورکولو امر او هڅونه شوې ده.

• مبارکو آیتونو، د حق څښتنانو ته د میراث په ورکړه امر او هڅونه کړېده، برابره ده که د حق څښتن

نر وي او که ښځه، کوچنی وی او که لوی.

• مبارکو آيتونو، په نا مشروعه توګه د نورو د حقونو د خوړلو له لارې، د مال او شتو راټولول غندلي دي او د انسان د عزت معيار يې د پيسو او مال په درلودلو سره رد کړی دی.

## پوښتنې؟

۱- په لوستل شويو آيتونوکې د لاندنيو عبارتونو مفهوم تشريح کړئ:

**{إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ، فَأَكْرَمَهُ، أَهَانَنِ، وَلَا تَحَاضُّونَ، تَأْكُلُونَ التُّرَاثَ }**

۲- د ﴿وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا﴾ په مبارك آيت کې ولې له مال او دولت سره مينه لرل، غندل شوې ده؟

## کورنۍ دنده

د (دانړۍ د انسان د ازمېښت ځای دی) ترمطلب لاندې په شپږو کرښوکې يوه مقاله وليکئ.

# د الفجر سورت

(دریمه برخه)

﴿كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾ وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾ وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ
يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَى﴿٢٣﴾ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي ﴿٢٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا
يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ ﴿٢٥﴾ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُ أَحَدٌ ﴿٢٦﴾ يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ ارْجِعِي
إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾ فَادْخُلِي فِي عِبَادِي ﴿٢٩﴾ وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴿٣٠﴾ ﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {دُكَّتِ الْأَرْضُ} | ځمکه وښکول شي او ټوټې ټوټې شي. |
| {دَكًّا دَكًّا} | په قوي خوځښت او ټکولو سره. |
| {وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَى} | او هغه ته به پند څه ګټه ونه رسوي. |
| {يَا لَيْتَنِي} | ای کاشکې زه وای. |
| {قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي} | یو څه (له نېکو اعمالو) مې زما د دغه ژوند لپاره مخکې لېږلي وای. |
| {(وَلَا يُوثِقُ)} | نه تړي. |
| {وَثَاقَهُ} | د هغه په څېر تړل. |

## ژباړه

هیڅکله (داسې نده چې هغوی سوچ کوي، بلکې) هغه وخت چې ځمکه و ټکول شي په سختو ټکولو سره، او(ستا د پالونکي په فرمان) پرښتې راشي کتار په کتار(صف په صف)، او په هغه ورځ چې دوزخ راوستل شي. هغه ورځ چې انسان متذکرکیږي(پند اخلي)، خو دا پند هغه ته څه ګټه لري؟! وايي به: کاشکې چې د دغه ژوند لپاره مې څه وړاندې لیږلای وای، نو په هغه ورځ هیڅوک

د الله تعالی په ځېر عذابوونکی نه دی او هیڅوک د ده په ځېر یو څوک بند ته نه را کاږي. ای هوسا او ډاډمن نفسه! دخپل پالونکي لورته راوګرځه، پداسې حال کې چې ته له هغه څخه خوشحاله یې او هغه له تا څخه خوښ دی. نو ننوځه زما د بنده ګانو په ډله کې. او ننوځه زما جنت ته.

**اجمالي تفسير**

کله چې الله تعالی په تېرو آيتونو کې د انسانانو منفي ويناوې او ناوړې کړنې وغندلې، په دنيا پورې د دوی د زړونو تړاو، چې د آخرت دهيريدلو لامل ګرځي، دوی ته وريادوي، چې د زړه د تړاو په پايله کې دوی د يتيمانو او بېوزلو مالونه خپل ګڼي، هغوی له خپلو حقوقو څخه بې برخې کوي، چې په دې سره دوی له آخرت څخه غافله کيږي، حلال او حرام نه پيژني او يوازې د مال راټولو په سوچ کې وي. په دې آيتونو کې الله تعالی دوی د آخرت له ويرونکو حالاتو څخه ډاروي او فرمايي: په هغه ورځ چې ځمکه وخوځيږي او سخته وټکول شي، درې مهمې پېښې به رامنځ ته شي چې يوه پيښه يې د ځمکې ټکول، يعنې د هغې ټوټه، ټوټه کېدل دي. بيا به سخته زلزله ټوله ځمکه وخوځوي؛ ټول غرونه به دځمکې له سطحې سره هوار شي او د ځمکې ټوله سطح به يو شان شي. ټول مړي به له قبرونو څخه راووځي. يو او ځواکمن خدای(جل جلاله) به د بنده ګانو د برخليک پريکړه کوي؛ پرښتې به په بې شمېره کتارونو او صفونوکې حاضرې شي او دا د قيامت دويمه پيښه ده چې په دې ورځ به رامنځ ته کيږي. بيا به دوزخ حاضرشي، ترڅو هغه کسان چې په دې ډګر کې راټول شوي، هغه له نژدې څخه وګوري لکه څرنګه چې د (النازعات) په سورت کې راغلي دي: ﴿وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَن يَرَى﴾ (النازعات: ٣٦)، يعنې: دوزخ به د ليدونکو د ليدنې لپاره راښکاره کړای شي. د دوزخ ښکاره کېدل او ښودل د قيامت دريمه پيښه ده، چې په دې ورځ به رامنځ ته کيږي؛ نو انسان په دې ورځ ښه پوهيږي، هغه څه چې يې په دنيا کې سرته رسولي، په ياد يې راځي. خو دا پوهېدنه ورته څه ګټه نه رسوي. يعنې انسان چې په دې وخت کې په هوښ راغلی او په حقيقت پوه شوی دی،

نو دا پوهه ورته څه ګټه نشي رسولی؛ له پښېمانۍ او حسرت سره وايي: کاشکې د دې ورځې لپاره مې له نېکو کارونو څخه یو څه توښه له ځان سره درلودلای. له داسې ورځې سره له مخامخ کېدو څخه مخکې مې رالېږلای وای. نو په دې ورځ هیڅوک نشي کولای چې د الله تعالی په څېر عذاب ورکړي. یا یې لاسونه په زنځیرونو وتړي چې دا ډول خبرتیا، انسانان د ښوکارونو سرته رسولو او په الله تعالی باندې ایمان راوړلو ته هڅوي، د کفر او نا فرمانۍ له عواقبو څخه یې ویروي. بیا الله تعالی د هغو انسانانو راتلونکی حالت بیانوي چې د نفس غوښتنې یې نه دي منلي او آخرت ته یې پر دنیا ترجیح ورکړې ده، الله تعالی دې ډول مؤمن انسان ته فرمايي: ای هوسا او ډاډ من نفسه! د خپل پالونکي لورته له داسې حالت سره راوګرځه چې د خپل برخلیک څخه خوښ او خوشحاله اوسې. د خپل پالونکي په وړاندې قدر او منزلت لرې. ته زما د غوره بندګانو په ډله کې ننوځه؛ یعنې خپل ځان د هغو له ډلې څخه وشمېره او زما جنت ته، د ننه(داخل) شه! هغه ځای ته چې الله(جل جلاله) خپلو بنده ګانو سره د هغه وعده کړې ده. هغه ځای ته چې انسان په هغه کې ډاډمن او خوشحال وي او په تلپاتې نعمتونوکې وخت تېروي اوله هغو څخه ګټه اخلي.

له ډاډمن نفس څخه مراد انساني نفس دی؛ چې پرته له شک او تردید، له بشپړ ډاډ او اطمینان سره یې زړه په الله پورې تړلی وي او د هغه اطاعت او فرمانبرداري پرځای کوي او هغه یې د خپل ژوند کړنلاره ګرځولې وي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

• د قیامت د ورځې له نښوڅخه یوه دا ده چې ځمکه به په سختو ټکولو سره وټکول شي. ټوټې، ټوټې به شي، چې د دې ټکولو په پایله کې به ټول غرونه، د ځمکې له سطحې سره هوار شي او د ځمکې ټوله سطح به یو رنګ شي.

• انسان په دې ورځ پښېمانيږي، خو دا پښېمانتيا ورته څه ګټه نه لري.

• دوزخ به هغو کسانو ته چې د حشر په ډګرکې راټول شويدي، راوړل شي او هغوی به يې له نژدې څخه وګوري. خلک به د ويرې او ترهې په حالت کې وي. هيڅوک په هغه ورځ نشي کولای چې د الله تعالی په څېر عذاب ورکړي او يا لاسونه په ځنځيرونو وتړي.

• د قيامت په ورځ به مطيع او فرمان وړونکي مسلمانان خوښ او خوشحاله وي.

## پوښتنې؟

١- د قيامت په ورځ به د مؤمنانو او کافرانو ډلې له کوم برخليک سره مخامخ کيږي؟

٢- د دې لوست آيتونو ځينې مهمې پېښې را په ګوته کړې دي چې د قيامت په ورځ به رامنځ ته کيږي، هغه پېښې بيان کړئ.

## کورنۍ دنده

د (الفجر) سورت د مفهوم لنډيز په اتو کرښو کې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# د البلد سورت

(لومړی برخه)

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿لَا أُقْسِمُ بِهَذَا الْبَلَدِ ﴿١﴾ وَأَنتَ حِلٌّ بِهَذَا الْبَلَدِ ﴿٢﴾ وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ﴿٣﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا
الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ ﴿٤﴾ أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ ﴿٥﴾ يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ﴿٦﴾
أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُ أَحَدٌ ﴿٧﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{الْبَلَدِ} دمکې مکرمې ښار.

{والِدٍ} پلار (ادم علیه السلام).

{وَلَدَ} زوی، د ادم عليه السلام زامن.

{فِي كَبَدٍ} په رنځ او ربړکې.

{أَيَحْسَبُ} ایا ګومان کوي.

## ژباړه

سوګند (قسم) خورم په دې ښار(مکې) باندې. او ته استوګن (مقیم) یې په دې ښارکې. او سوګند دی په پلار او په هغه څه چې زیږولی یې دی. په حقیقت کې موږ انسان په سختی کې پیدا کړی دی. ایا هغه ګومان کوي چې هیڅوك به پر ده برلاسی نشي؟ وایي چې ما ډېره شتمني له لاسه ورکړې ده. ایا ګومان کوي هغه چې هیچا هغه لیدلی نه دی؟

**د سورت پېژندنه**

د(البلد) سورت مکي دی، (۲۰) آیتونه لري او دعثمانی مصحف د ترتیب له مخې په(۹۰) ردیف کې ځای لري. د دې سورت نوم له لومړي آیت څخه اخیستل شوی دی. ځکه چې الله تعالی په البلد(مکې ښار) باندې سوګند یاد کړی دی. د دې سورت موضوع، انسان او د قیامت په ورځ د هغه بریا یا ناکامي ده.

**له مخکیني سورت سره یې تړاو**

د الفجر په سورت کې الله تعالی هغه کسان چې له مال سره د حرص او مینې لرلو له امله، د یتیم حق خوري او خلك د بېوزلو مرستې او خوړو ته نه هڅوي، غندلي دي. په دې سورت کې الله تعالی هغه مکلفیتونه بیانوي، چې له یو شتمن او بډای انسان سره وړ دي، لکه د مریانو ازادول، د قحطی او تنګسې پر مهال خلکوته خواړه ورکول او داسې نور. همدارنګه مخکینی سورت د آخرت په ورځ کې د مطمئن نفس د خرنګوالي (حالت) په بیانولو سره پای ته ورسېد، په دې سورت کې د ډاډمن نفس د حاصلولو د لارو چارو یادونه شوې ده او له هغو خیزونو څخه، چې ډاډ او نېکمرغي له منځه وړي، د حذر او ځان ساتنې ذکر راغلی دی.

**اجمالي تفسیر**

د سورت په پیل کې الله تعالی په مکه معظمه چې د خدای(جل جلاله) استازی په هغې کې استوګن و، په ادم او د هغه په زامنو باندې سوګند یاد کړی دی، چې انسان په پرله پسې سختۍ او مشقت کې پیدا شوی دی. د ﴿لَا أُقْسِمُ بِهَذَا الْبَلَدِ﴾ په جمله کې د«لام» توری زاید او د قسم د تاکید لپاره راغلی دی چې دا ډول سوګند ته مؤکد سوګند وایي. له هغه ښارڅخه چې الله تعالی پر هغه سوګند یاد کړی دی، مکه مکرمه مراد ده. په یو متفق علیه حدیث کې راغلي دي: الله تعالی د مکې ښار له

هغې ورځې څخه چې اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړل، د قیامت تروروځې پورې په خپل حکم حرام وګرځاو، نه دې د هغه بوټې ووهل شي، او نه دې هم د هغه واښه او ونې پرې کړلې شي. پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: دا ځمکه(مکه مکرمه) د ورځې له خوا د یو ساعت لپاره ماته حلاله وګرځول شوه او بیا بیرته خپل مخکیني حرمت ته وګرځیدله. له دې حلال ګرځوني څخه مراد د مکې فتح ده چې مشرکینو د هغې حرمت تر پښو لاندی کړ او د څښتن تعالی د استازي او مسلمانانو مال او ځان یې مباح وګاڼه، هغوی یې له مکې څخه وایستل، چې د مشرکینو د دې ظلم او تېري په مقابل کې الله تعالی په دې مبارک آیت کې مکه مکرمه دخپل پیغمبرﷺ لپاره حلاله وګرځوله او د هجرت په اتم کال مکه مکرمه فتح شوه، په وروسته آیت کې یې په(ادمعليه السلام) او په هغو توکمونو(نسلونو) باندې چې له ده څخه نړۍ ته راغلي سوګند یاد کړی دی. بیا د دې سوګندونو په ځواب کې الله تعالی فرمایلي دي:﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ﴾. یعنې: موږ انسان په ربړونو او کړاوونو کې پیدا کړ؛ په همدې دلیل د سختیو او ستونزو سره مخامخ وي، یعنې: له هغې شیبې څخه چې په نړۍ کې یې قدم ایښی دی؛ د ستونزو، سختیو او ډول، ډول پیښو سره مخامخ دی. وروسته الله تعالی د انسان رټنه او غندنه کوي او داسې فرمايي: ﴿أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ﴾. یعنې: آیا دا انسان چې له داسې سختیو او ربړونو سره پیدا شوی، ګومان کوي چې څوک به پر ده برلاسی نشي؟

روایت شوی دی چې دا آیت د أبي الأسد بن كلدة الجمحي په هکله نازل شوی دی؛ هغه څوک چې په خپل ځواک او قوت مغرور و، د ابن عباس(رضی الله عنه) په وینا هغه د رسول الله په دښمنۍ کې ډېرې پیسې لګولې وې. د ﴿يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا﴾ په تفسیر کې ویل شوي دي چې دا آیت د حارث بن عامر په هکله نازل شوی دی چې کله هغه له پیغمبرﷺ څخه د هغې کفارې په هکله چې ده پورې یې اړه درلوده، وپوښتل او پیغمبرﷺ ورته دستور ورکړ، چې کفاره دې ورکړي، هغه سره له سرغړونې او ملنډو څرګنده کړه چې (لقد أهلكتُ مالاً لبداً): ډېره شتمني مې په صدقو او کفارو کې لګیدلې ده! څرګندای شي چې دا مبارک آیت هرانسان ته شامل شي او د قیامت په ورځ به له

ځان سره وايي: ډېر مالونه مې (لکه څنگه چې د جاهليت په وخت کې دود او رواج و) د وياړنو، مکارمو او د شهرت د تر لاسه کولو لپاره پر خلکو ولگول. ورپسې الله تعالی انسان د ناپوهۍ او جهل له امله ملامتوي او فرمايي: ﴿أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ﴾: آيا هغه گومان لري چې هغه هيچا نه دی ليدلی؟ خدای تعالی به له هغه څخه او د هغه د شتو په هکله، چې په کومو لاروکې يې لگولي دي، پوښتنه ونکړي؟

## د لوست گټې

پورتني مبارک آيتونه ځينې لاندې گټې او لارښوونې لري:

• په مکه مکرمه او پيغمبرﷺ باندې سوگند يادول، د الله تعالی د لويی او د پيغمبرﷺ د مقام او منزلت بيانونکی دی.

• انسان د زيږيدنې له وخت څخه تر مړينې پورې په ستونزو او کړاوونو کې اخته وي.

• له دين سره د دښمنۍ په لار کې د پيسو او دولت لگول ، په پای کې پښيماني او ملامتي لري، الله تعالی له داسې کړنو څخه هيڅکله ناخبره نه دی او د ښمنانو ته به بدله ورکوي .

### پوښتنې

۱- د سورت په لومړيو مبارکو آيتونوکې په کومو شيزونو او دڅه لپاره قسم ياد شوی دی؟

۲- په مبارك آيت کې له ﴿وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ﴾ څخه څه مراد دی؟

۳- لاندې آيتونه څه مفهوم لري؟

{وَأَنتَ حِلٌّ بِهَذَا الْبَلَدِ - أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ - أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا}.

# د البلد سورت

(دويمه برخه)

﴿أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ ﴿٨﴾ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ﴿٩﴾وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ
﴿١١﴾وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾يَتِيمًا ذَا
مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا
بِالْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾أُوْلَئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا هُمْ أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ
﴿١٩﴾عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾﴾

## د کلمو معنا

{النَّجْدَيْنِ} دوه لارې (خير او شر).

{فَلَا اقْتَحَمَ} نو هغه تېر نشو، تر سره يې نکړ.

{الْعَقَبَةَ} ګرېنګ، د غره سخته او ستونزمنه لاره.

{فَكُّ رَقَبَةٍ} د غاړې (مريي) ازادول.

{مَسْغَبَةٍ} لوږه.

{مَقْرَبَةٍ} خپلولي، خپلوان.

{مَتْرَبَةٍ} په خاورو ناست مسکين، سخت ژوند.

{مُّؤْصَدَةٌ} سرپوښ کړای شوی، خپريدونکی.

## ژباړه

ايا موږ هغه ته دوه سترګې نه دي ورکړي؟ او يوه ژبه او دوه شونډې؟ او هغه ته مو د دوو (خير او شر) لارو ښودنه وکړه؛ نو هغه له سخت ګرېنګ (غونډۍ)څخه تېر نشو. او څه شيز ته ويوهولې چې هغه سخت ګرېنګ

(عقبه) څه دی؟ ازادول د مريي او يا د لوږې په ورځ خواره ورکول، خپلوان يتيم ته يا په خاورو ناست (ککړ) مسکين ته. بيا وي (دغه آزاد کوونکی طعام ورکوونکی) له هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی او يو بل ته په زغم(صبر) او مهربانی کولو توصيه کوي. دا ډله اصحاب اليمين (چې عملنامه به ورته په ښي لاس ورکول کيږي) دي. او هغه کسان چې زموږ پر آيتونو باندې کافرشويدي، دوی بد او شوم(د کيڼ اړخ څښتنان) دي. او پر دوی به له هرې خواگرد چاپير اور وګمارل شي (هغه اور چې دوی په خپله ولکه کې راولي او بيا دوی د تېښتې لار نلري).

## اجمالي تفسير

خدای تعالی په مخکينيو آيتونوکې انسان د ناوړو عادتونو له امله د رټنې او توبيخ لاندې ونيوه. په دې آيتونوکې يې پر دې، خبروي چې د هغو مادي او معنوي نعمتونو پر وړاندې چې مهربان پالونکي هغه ته په وړيا توګه وريه برخه کړي دي، د الله تعالی مننه او شکر پر ځای کړي او په نېکو کارونو، لکه: د مريانو په آزادولو، له يتيمانو او اړوکسانو سره په مرسته کولو پيل وکړي. په صبر او زغم، خير او ښېګڼې، نرمی او مهربانی سره خلك راوبلي. لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: آيا موږ دې مغرور او ځان منونکي انسان ته چې د نوم او شهرت لپاره خپله شتمني مصرفوي، دوه سترګې او يوه ژبه او دوه شونډې نه دي ورکړې؟ بلکې موږ د دې انسان لپاره د ليد او خبرو کولو وسيله چمتوکړې ده او هغه ته مو د ښو او بدو ترمنځ د توپير کولو نعمت ورکړی دی، د خير او شر دواړه لارې مو ورته په روښانه او ځرګند ډول ښودلې دي. هغه ته مو روغ فطرت او د عقل نعمت ور وباښه، ترڅو وکولای شي چې خير له شرڅخه جلا کړي، خپلې ټولې ناوړې نفسي غوښتنې تر پښو لاندې کړي او د شيطان لاره پرېږدي، نو الله تعالی فرمايي: ولې په دغه انسان کې بدلون را منځ ته نشو او هغه څه چې د الله تعالی لورته د ده د رسېدو خنډ ګرځېده؟! ولې يې هغه  له خپلې لارې څخه لرې نه کړ او د خپل شيطاني نفس غوښتنې يې مهار نه کړې؟! همدارنګه ولې يې انساني عظمت ته د رسېدو لپاره هڅې ونه کړې او له خپل نفس سره يې جهاد ونه کړ؟!

بیا الله تعالی د دې سختې او ستونزمنې لارې د وهلو (سرته رسولو) په هکله فرمايي:﴿فَكُّ رَقَبَةٍ...﴾. يعنې: له دغو سختو ګړنګونو، لوړو ژورو او هلاکت څخه د ژغورنې لار، د بند له قيد څخه د مريي ازادونه ده چې د ازادۍ له نعمت څخه خوند واخلي او يا لږترلږه د هغه په ازادۍ کې مرسته وکړي او برخه واخلي، همدارنګه بېځوکه يتيمانو او تش لاسو غريبانو ته چې د قحطۍ او لوږې په ورځوکې له ستونزو سره مخامخ وي؛ خواړه ورکړي او هغوی د لوږې له رنځ او کړاو څخه وژغوري.

د مبارکو آيتونو په پای کې فرمايي: څوک چې داسې کارونه سرته رسوي؛ د هغوکسانو له ډلې څخه به وي چې پر خدای ﷻ ايمان راوړي؛ په زغم، لورينې او ترحم سره يو بل ته توصيه کوي، چې د الله تعالی د شفقت او ترحم وړ به وګرځي، او الله تعالی فرمايي: د دې اوصافو درلودونکي خلک (اصحاب اليمين) دي، يعنې: دخپلو عملونو پاڼې به په ښي لاس اخلي او هغوکسانو چې د کفر او ناشکرۍ لار غوره کړېده او زموږ د قدرت په آيتونو او نښو کافر شوي دي، دوی (اصحاب الشمال) دي، چې د دوزخ لمبې به يې له هرې خوا څخه راګيروي او له هغې څخه به خلاصون ونه مومي.

### د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آيتونه يو شمېر ګټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

- ليدل ، اورېدل، خبرې کول، پېژندل او دېته ورته الهي نعمتونه د دې غوښتنه کوي چې انسان بايد له دغو نعمتونو څخه د حق پېژندنې په برخه کې ګټه واخلي او د خدای ﷻ شکر پرځای کړي، باطل پرېږدي، او د ايمان او نېکو اعمالو لاره خپله کړي.
- د الله تعالی پيرزوينې د دې غوښتنه کوي چې انسان د ايمان او بندګۍ لاره غوره کړي او د شيطان له پيروۍ او د نفس له ناوړو غوښتنو څخه ډډه وکړي، ترڅو پر صبرکولو او له يوبل سره د ترحم ثواب ومومي.

## پوښتنې

١- لاندني مبارك آيتونه معنا كړئ:

﴿وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ﴾- ﴿فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ﴾- ﴿فَكُّ رَقَبَةٍ﴾- ﴿أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ﴾-﴿أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ﴾.

٢- يتيم او بېوزلو ته د مرستې او كومك لاس ورغځول، څه ارزښت او ثواب لري؟

٣- له اصحاب اليمين او اصحاب الشمال څخه مراد كوم كسان دي؟ او هغه صفتونه چې هغوی يو له بل څخه جلا كوي، كوم دي؟

## كورنۍ دنده

زده كوونكي دې هغه مهم كارونه چې په دې مبارك سورت كې د انسان د ژغورنې لپاره ياد شوي دي، په خپلو كتابچوكې د يادښت په توگه وليكي.

# د الشمس سورت

(لومړی برخه)

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا ﴿١﴾ وَالْقَمَرِ إِذَا تَلاهَا ﴿٢﴾ وَالنَّهَارِ إِذَا جَلَّاهَا ﴿٣﴾وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَاهَا
﴿٤﴾ وَالسَّمَاء وَمَا بَنَاهَا ﴿٥﴾ وَالْأَرْضِ وَمَا طَحَاهَا ﴿٦﴾ وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا ﴿٧﴾ فَأَلْهَمَهَا
فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا ﴿٨﴾ قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا ﴿٩﴾ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا ﴿١٠﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{وَضُحَاهَا} او د هغه په روښنايي(رڼايي).

{تَلاهَا} هغه پسې راشي.

{جَلَّاهَا} هغه خرګند او ښکاره کړي.

{يَغْشَاهَا} هغه پټ کړي، وپوښي.

{طَحَاهَا} هغه يې هواره او غوړولې ده.

{سَوَّاهَا} هغه يې برابر کړ.

{فَأَلْهَمَهَا} نوهغه ته يې الهام وکړ، هغه ته يې وروپېژندل.

{زَكَّاهَا} نفس يې پاک کړ.

{دَسَّاهَا} هغه يې لاندې پټ کړ، هغه يې ککړ کړ.

## ژباړه

سوګند په لمر او د هغه په رڼا، او په سپوږمۍ کله چې د لمر پسې راشي، او په ورځ کله چې لمر ښکاره کړي، او په شپه کله چې ځمکه و پوښي، او قسم دی په اسمان او د هغه په پيداکوونکي، او سوګند دی په ځمکه او په هغه چا چې هواره کړې يې ده. او سوګند دی په انساني نفس او د هغه په برابروونکي (منظمونکي)؛ بيا

يې نېکي او بدي هغه ته ورو پېژندله(الهام کړه). په ريښتيا سره بريمن شو هغه څوک چې نفس يې پاك کړ، او زيانمن شو هغه څوك چې هغه يې (په معصيت او گناه)ککړ کړ.

## د سورت پېژندنه

د الشمس سورت مکي دی، (۱۵) آيتونه لري او د عثماني مصحف له ترتيب سره سم په (۹۱) رديف کې ځای لري. د دې سورت موضوع د انساني نفس د هدايت او گمراهی بيان دی. دا سورت د هغه په لومړي لفظ يعنې الشمس (لمر) سره نومول شوی دی.

## له مخکيني سورت سره يې تړاو:

۱- د (البلد) سورت د اصحاب اليمين او اصحاب الشمال په څرگندولو سره پای ته ورسېد او دا سورت د دواړو ډلو کړنې بيانوي.

۲- د مخکيني سورت په ورستنيو آيتونو کې د کفارو پايله او برخليك بيان شو چې د آخرت په ورځ کې به ورسره مخامخ کيږي. د دې سورت په پای کې هم د ځينو کفارو دکړنو او د هغو پايلو يادونه شوېده چې دوی به ورسره  مخامخ کيږي.

## اجمالي تفسير

د دې سورت په پيل کې الله تعالی په خپلو ځينو لويو مخلوقاتو سوگند يادکړی دی چې په کايناتو کې د ډېر ارزښت لرونکي دي. هغه مخلوقات چې د انسان، حيوان، نبات او نورو مخلوقاتو پر ژوند باندې اغېزه لري او د الله تعالی د يووالي او ځواکمنی لپاره ښکاره دليلونه دي. الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې په لمر او په ورځ کې د هغه په رڼا، په سپوږمۍ چې د لمر له پرېوتلو څخه وروسته د شپې راخيژي او همدارنگه په ورځ او هم په شپه چې کله يې تياره ځمکه ويوښي، سوگند يادوي. او په اسمان او د هغه په پيداکوونکي، په ځمکې

او د هغې په خالق چې هغه يې د ژوندانه لپاره هواره کړېده، قسم يادوی. په پای کې په نفس او هغه ذات چې دغه نفس يې منظم او برابر پيداکړی دی، سوګند يادوي. د انسان د نفس له برابرۍ او سمون څخه مطلب دا دی چې هغه ته يې هر ډول ځواک، ظاهري او باطني حواس ورکړي. دې نفس ته يې د نېکۍ، پاکۍ او د فسق او بدکارۍ لارې ښودلې دي. د دې دواړو لارو د توپير توان يې ورته ورکړی دی.

بيا الله تعالی هغه لاره چې نفس هغه غوره کړې، بيان کړه او فرمايي: په يقين سره هغه څوک بريالی شو چې خپل ځان يې پاک وساته او مهذب يې کړ؛ يعنې د تقوی او نېک عمل لاره يې غوره کړه او په هغې روان شو، هغه څوک ناکام او زيانمن شو چې نفس يې په تقوا او نېک عمل سره عادت نه کړ او د هوا او هوس ښکار شو. په حديث شريف کې راغلي دي: کله چې رسول اللهﷺ په تلاوت کې دې آيت ﴿فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا﴾ ته راورسېد، نو ويې فرمايل: (اللهم آتِ نفسي تقواها، أنت وليُّها ومولاها وخيرمن زكَّاها): ای زما پالونکيه! زما نفس ته تقوا وربه برخه کړه، ته د دې نفس چارې جوړوونکی او د هغه بادار يې او يوازې ته هغه غوره څوک يې چې هغه ته پاکي وربښې.

## د لوست ګټې

د پورتنيو مبارکو آيتونو ځينې ګټې او لارښوونې په لاندې ډول دي:

• د هستی د نظام په ځينو مخلوقاتو باندې د خدای تعالی سوګند يادول، د الله تعالی د قدرت د مظاهرو څرګندونکی دی او د انسان پام د دې مخلوقاتو ارزښت ته را اړوي.

• خدای تعالی انساني نفس پيداکړی او هغه يې منظم کړی دی، نو په ايمان او تقوا باندې د دغه نفس د ښکلا لپاره بايد د نېکو اعمالو له لارې هڅه او هاند وشي.

• دغه مبارک آيتونه، انسان نېک عمل او ايمان ته هڅوي او له شرک، ګناه او د نفس له ککړتيا څخه يې ويروي.

• د انسان برياليتوب د هغه د نفس په تهذيب او په نېغه لاره د هغه په تګ پورې تړلی دی، چې هغه ته د نفس تزکيه وايي. د هغه ناکامي او مراد ته نه رسېدل، د هغه د نفس په غوښتنو او بې باکۍ کې نغښتې ده.

## پوښتنې

۱- د الشمس سورت په لومړنیو آیتونوکې الله تعالی په کوموڅیزونو سوګند یادکړی دی؟

۲- د الله تعالی سوګند یادول په دغو مخلوقاتو باندې، په څه شي دلالت کوي؟

۳- لاندې آیتونه وژباړئ:

وَالْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا﴿٢﴾ وَالنَّهَارِ إِذَا جَلَّاهَا﴿٣﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَاهَا ﴿٤﴾ وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا ﴿٧﴾.

٤-د لوست په مبارکو آیتونوکې د انسان د بریا او ناکامۍ معیار د نفس په څرنګوالي کې ټاکل شویدی، په دې اړه مبارک آیتونه تلاوت او توضیح کړئ.

## کورنۍ دنده

د انساني نفس د بریالیتوب او ناکامۍ لارې، په اتو کرښوکې په خپلو کتابچوکې ولیکئ.

# د الشمس سورت

(دویمه برخه)

﴿كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَاهَا ﴿١١﴾ إِذِ انْبَعَثَ أَشْقَاهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ نَاقَةَ اللَّهِ وَسُقْيَاهَا ﴿١٣﴾
فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْبِهِمْ فَسَوَّاهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبَاهَا ﴿١٥﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{بِطَغْوَاهَا} دهغوی د سر غړونې له کبله. {نَاقَةَ اللَّهِ} د الله تعالی اوښه.

{انْبَعَثَ} پورته شو. {فَعَقَرُوهَا} نو هغه یې ووژله.

{أَشْقَاهَا} تر ټولو بدمرغه د هغوی. {فَدَمْدَمَ} نو قهر اوغوسه وکړه.

## ژباړه

ثمودیانو د خپلې سرکشۍ له امله دروغ وګڼل. کله چې د هغه قوم تر ټولو زیات بد مرغه قهرجن سړی وریسې پاڅېده. نو د الله رسول (صالح علیه السلام ) هغو خلکو ته وویل: چې پام کوئ ، د الله اوښې ته ( لاس ورنه وړئ ) او د هغې د اوبو څښلو ( مانع نشئ ). خو هغو د هغه خبره دروغ وګڼله او اوښه یې ووژله ، په پای کې د هغو د ګناه په بدله کې د هغو رب پر هغو باندې داسې افت راکوز کړ، چې ټول یو برابر له خاورو سره خاورې شول او الله تعالی د دوی د هلاکولو له کومې پایلې څخه هېڅ وېره نه لري.

## اجمالي تفسیر

د دې سورت په پیل کې الله تعالی په خپلو ځینو لویو مخلوقاتو سوګند یاد کړ چې که چېرته یو څوک خپل نفس پاک کړي، ایمان او تقوا غوره کړي او د نېکو اعمالو په سرته رسولو پیل وکړي، بری او خلاصون یې په برخه کېږي. که چېرته د ایمان راوړلو او نېکو عملونو پرځای د نفس او شیطان غوښتنو ته غاړه کېږدي، د ده عاقبت او پایله پرته له زیان، ناکامۍ او تاوان څخه بل څه نه ده. نو الله ﷻ په دې پنځو آیتونو کې د صالح عليه السلام د قوم (ثمودیانو) قصه د بېلګې په توګه یاده کړې، چې دې قوم د خدای ﷻ د پیغمبر صالح عليه السلام د نصیحتونو پرخلاف د اوښې په وژنې پیل وکړ، په دې توګه دوی د نېکۍ او ایمان لار پرېښوده او د شیطان او خپل نفس غوښتنې پې ومنلې، نوالله تعالی وفرمایل: د صالح عليه السلام قوم د خپلې سرغړونې او عصیان پر بنسټ، صالح عليه السلام دروغجن وګاڼه او هغه یې تکذیب کړ. کله چې د دوی یو بد بخت او شریر شخص د (قُدار بن سالف )په نامه د دوی له منځه را پاڅېده او هغه اوښه یې چې د هغې د اوبو څښلو لپاره یوه ورځ ټاکل شوې وه، ووژله او دا عمل یې په رښا ورځ د خپل قوم په مخکې د هغوی له ملاتړاو رضا سره سم ترسره کړ، پداسې حال کې چې د دوی پیغمبر حضرت صالح عليه السلام دوی ته ویلي وو: دغه اوښه د اوبو څښلو له وار څخه مه منع کوئ. دا هغه اوښه وه چې الله تعالی د یوې تیږې له منځه را وویسته او د معجزې په ډول یې صالح عليه السلام ته ورکړه . نو ا لله ﷻ دوی د دغې سرغړونې او ګناه په مقابل کې په دردوونکي عذاب اخته کړل. داسې ویرونکی او سخت اواز یې پرې نازل کړ چې ټول یې وځکول او له خاورو سره یې خاورې

کړل. دغه الهي عذاب په دې دليل د ثمود د قوم غټ او واړه هلاک کړل چې (قدار بن سالف) چې د ثمود د قوم يوله هغو شريرو او بدبختو وګړو څخه و او د دې ناوړې کړنې د سرته رسولو لپاره راپاڅيده، نوټول په دې سلا شول او غټ او واړه دهغه په جرم کې شريک شول، نو د ثمود قوم خپل پيغمبر دروغجن وباله او دهغه معجزه چې اوښه وه هغه يې په توره ووهله او مړه يې کړه، د دې نا فرمانۍ اوګناه په مقابل کې الله تعالی دوی ټول له يوې مخې واخيستل او له ځمکې سره يې برابر کړل.

په دې سورت کې له ناقې څخه مراد هغه اوښه ده چې الله ﷻ هغه د لويې تيږې له منځه د معجزې په ډول صالح عليه السلام ته څرګنده کړه. صالح عليه السلام هغوی ته وويل: دا د خدای ناقه ده دا پريږدئ چې د ځمکې په هر ځای کې چې غواړي وخريږي او دا چې يوه ځانګړې ورځ د دې د اوبو څښلو حق دی او يوه ورځ ستاسو د نورو حيواناتو لپاره ده.

**فعاليت**

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د ثمود دقوم، د هغه پيغمبرچې هغوی ته رالېږل شوی و او د دغه قوم د استوګنې د ځای په هکله له يوبل سره بحث او خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آيتونه يو شمېر ګټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

• د ثمود، د قوم پيښې د هغو کسانو لپاره د پند او عبرت درس دی چې د نفس دپاکۍ او مهارولو پرځای نفساني غوښتنو ته غاړه ږدي او د دې پر ځای چې ايمان او تقوا ته مخه کړي او غوره کارونه سرته ورسوي، د نفس او شيطان غوښتنو ته لبيک وايي.

• د الله تعالی عذاب د ثمود د قوم ټول غټ او واړه ونيول، دا ځکه چې دوی د يو شقي او بد بخته وګړي په جرم اوګناه سلا او راضي شول او د هغه مخه يې ونه نيوله.

•هغه کسان چې د ظالمو، سرغړوونکو اوګناهګارو انسانانو پرپل قدم ږدي، الهي عذاب به دوی ټولو ته شامليږي.

• الله تعالی د جزا ورکولو پر مهال له هيچا څخه ويره نلري او نه د خپلې جزا ورکونې له پايلې څخه ويريږي، خو مخلوق د خپل کار له عاقبت څخه ويريږي. الله تعالی چې د هر څيز اراده وکړي هغه تر سره کوي او هيڅوک هم ترې د پوښتنې حق نلري.

**پوښتنې**

١- د لاندينيو آيتونو مفهوم بيان کړئ:

﴿كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَاهَا - إِذِ انْبَعَثَ أَشْقَاهَا - فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ نَاقَةَ اللَّهِ وَسُقْيَاهَا - فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْبِهِمْ فَسَوَّاهَا﴾.

٢ـ کوم پيغمبر د ثمود قوم ته رالېږل شوی و؟ او دا قوم د کومې ګناه له امله د کوم عذاب په واسطه هلاک شو؟

٣ـ د صالح عليه السلام معجزه څه وه؟ او د ثمود د قوم ډېر بدبخته وګړی چې اوښه يې ووژله، څه نوميده ؟

# د اللَّيْل سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى ﴿١﴾وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّى ﴿٢﴾ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَى ﴿٣﴾ إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتَّى ﴿٤﴾
فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى ﴿٥﴾ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَى
﴿٨﴾ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى ﴿٩﴾ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى ﴿١٠﴾ وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّى﴿١١﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{إِذَا يَغْشَى} کله چې پټ کړي.

{إِذَا تَجَلَّى } کله چې روښانه شي.

{لَشَتَّى} ډول، ډول او جلا، جلا دي.

{فَسَنُيَسِّرُهُ} نو ژر به يې آسان کړو.

{لِلْيُسْرَى} د آسانۍ لپاره.

{لِلْعُسْرَى} د سختۍ لپاره .

{إِذَا تَرَدَّى} کله چې هلاک شي، تباه شي.

## ژباړه

سوګند په شپه چې کله (په خپلې تيارې سره هرڅه) پټ کړي، او سوګند په ورځ چې کله رڼا او روښانه شي، او سوګند پر هغه ذات چې نر او ښځه يې پيدا کړي دي، پرته له شکه ستاسې کوښښ او زيار يوشانته نه دی، نو چا چې خپل مال (د خدای په لار کې) ورکړ او پرهيزګاري يې وکړه، او نېکۍ يې رښتينې وګڼله، هغه ته به موږ د اسانۍ لارې لپاره اسانتيا ورکړو . او هغه چا چې بخيلي وکړه او (د الله له لارې څخه) بې پروا شو او نېکۍ يې دروغ وګڼله. نو موږ به ده ته سخته (د دوزخ) لاره چمتو کړو او کله چې (هلاک شي اوجهنم) کې ولوېږي، نو مال او شتمني به يې ده ته څه ګټه ونه رسوي.

## د سورت پېژندنه

سورت اللَّيل مکي دی، (۲۱) آيتونه لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې (۹۲) سورت دی. د دې سورت بنسټيزه موضوع پر دوو ډلو يعنې مؤمنانو او کافرانو باندې د انسانانو وېش او د هغوی د هر يو د برخليک بيانول دي. د دغه سورت نوم د سورت له لومړي آيت څخه اخيستل شوی دی. د دې سورت تړاو له مخکيني سورت سره داسې دی: کله چې الله تعالی په مخکيني سورت کې و فرمايل: چا چې خپل نفس له ګناهونو څخه پاک کړ، نو له عذاب څخه يې خلاصون وموند او چا چې هغه په ګناهونو ککړ او پټ کړ، زيانمن شو، نو په دې سورت کې هم د څېنو هغو صفاتو يادونه شوې ده چې د انسان د بريا او خلاصون ، يا د هغه د ناکامۍ او زيان بيانوونکي دي.

## د نزول سبب

د ﴿فَأَمَّا مَن أَعْطَى وَاتَّقَى .......﴾ د مبارکو آيتونو په شان نزول کې روايت شوی دی، چې کله ابوبکر صديق رضي الله عنه هغه غلامان چې اسلام ته يې مخه کړې وه، آزادول، نو د هغوی له ډلې څخه يې د ښځو او سپين ږيرو آزادول غوره ګڼل، يوه ورځ يې پلار (ابو قحافه) ده ته وويل: زويه! زه تا وينم چې کمزوري خلک ازاد وې! که قوي او پياوړي خلک دې ازاد کړي وای ښايي چې دوی له ستا څخه ملاتړ کړی وای. ابوبکر صديق رضي الله عنه په ځواب کې وويل : پلاره! زه له دې امله هغوی آزادوم چې د الله تعالی ثواب او رضا تر لاسه کړم، همغه و چې نوموړي آيتونه د سورت تر پايه نازل شول. د ﴿فأما مَن بَخِلَ.....﴾ آيتونه د اميه بن خلف په هکله نازل شوي دي.

## اجمالي تفسير

په دې سورت کې الله تعالی په شپه او ورځ ، په نر او ښځه سوګند ياد کړی، فرمايي :

سوګند په شپه چې کله ټول څيزونه په خپله توره لمن کی راونغاړي، سوګند په ورځ چې کله يې رڼايي خوره شي، سوګند په هغه ذات چې نر او ښځه يې پيدا کړي دي چې ستاسو زيار او کوښښ ډول، ډول دی؛ يعنې ځينې هغه کسان دي چې په نيکی او ښيګڼې پسې روان او د هغې په لټه او سرته رسولو کې دي او ځېنې هغه کسان دي چې بدوکارونو او ګناهونو پسې روان دي، چې د دغه زيار او کوښښ وروستی پايله دا ده چې ځينې به جنت ته ځي او د ځينو نورو جزا به دوزخ وي. دغه دوې ډلې په خپل کوښښ او زيار کې سره يو شان نه دي او له يو بل څخه تو پيرلري، لکه څرنګه چې الله تعالی د (الحشر) په سورت کې فرمايي: ﴿لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ

﴿وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُونَ﴾ یعنې: دوزخیان او جنتیان هیڅکله یوشانته نه دي، همدا جنت ته تلونکي خلك په اصل کې بریالي دي.

په وروسته آیتونوکې الله تعالی د دواړو ډلو (نیکانو او بدکارانو) صفات بیان کړي دي چې فرمایي: هغه څوك چې خپل مال په خیر او نیکو کارونو کې مصرفوي، خپل ځان له ناوړو کارونو څخه ژغوري او د الله تعالی پر وعده یقین او باور لري، موږ به هغه کارونه چې هغه ته مو پرې امرکړی دی، د هغه لپاره اسانه کړو، د نیکی هغه لاره چې یې غوره کړې ده د هغه لپاره آسانه کړو، خو چا چې بخل او شومتیا وکړه ، خپل مال یې د خیر په لارو کې مصرف نه کړ او ځان یې له خپل پروردگار څخه مستغني وګڼلو او بې پروایي یې غوره کړه، نو ژر به پرې د خلاصون لاره تیاره کړو او پایله به یې د دوزخ اور وي چې مال او شتمني به یې هم له تباهی او نابودی سره مخامخ شي او هیڅ ګټه به ترې پورته نکړي.

بخاري او مسلم له علی بن ابي طالبﷺ څخه روایت کړی دی چې موږ له رسول الله ﷺ سره په یوه جنازه کې وو، رسول الله ﷺ و فرمایل: د تاسو له جملې څخه به څوك نه وي چې ځای یې په جنت او دوزخ کې نه وي. صحابه وو (رضوان الله علیهم) وفرمایل: چې دارنګه حال وي نو بیا ولې توکل ونه کړو؟ پیغمبرﷺ وفرمایل: عمل وکړئ د هرانسان لپاره هغه عمل آسان شوی دی چې د هغه لپاره پیدا شوی دی او وروسته یې بیا دغه آیت ولوست: ﴿فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى، وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى، فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى، وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَى، وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى، فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى﴾.

**فعالیت**

دغه مبارك سورت انسانان پر دوو ډلو وېشلي دي. زده کوونکي دې د مبارکو آیتونو په رڼا کې د دې ډلو د اوصافو او برخلیك په هکله بحث او خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آيتونه يو شمېر ګټې لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

• پر ځينو موجوداتو د الله تعالی قسم کول چې د هغه د قدرت ښکارندوی دي، د دغو موجوداتو ارزښت او اهميت راپه ګوته کوي.

• دنېکۍ او بدۍ، سختۍ او اسانۍ، باور لرلو او تکذيب کولو او د نر او ښځې ترمنځ توپير لکه د شپې او ورځې د توپير، په څير دی.

• پورتني مبارك آيتونه پر دې دلالت کوي چې سخاوت او ورکړه له ښو اخلاقو څخه او بخل له بدو اخلاقو څخه شمېرل کېږي.

### پوښتنې؟

د لاندنيو کلمو معنا بيان کړئ:

**{يغشَى - تَجَلَّى - شَتَّى - أَعْطى - فَسَنُيسرُهُ - وَاسْتَغْنَى}.**

۲- په دې سورت کې په کومو څيزونو قسم ياد شوی دی؟ او د الله تعالی قسم پر دغو مخلوقاتو څه مفهوم لري؟

۳- د دغو مبارکو آيتونو ﴿فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى...﴾ شان نزول په لنډه توګه څرګند کړئ.

### کورنۍ دنده

د لوست د آيتونو د مفهوم لنډيز وليکئ.

# د اللَّيْل سورت

(دويمه برخه)

﴿إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَى ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَى ﴿١٣﴾ فَأَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّى ﴿١٤﴾ لَا يَصْلَاهَا إِلَّا
الْأَشْقَى ﴿١٥﴾ الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّى ﴿١٦﴾ وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ﴿١٧﴾ الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى﴿١٨﴾ وَمَا
لِأَحَدٍ عِنْدَهُ مِنْ نِعْمَةٍ تُجْزَى ﴿١٩﴾ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَى﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضَى ﴿٢١﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{نَارًا تَلَظَّى} هغه اور چې لمبې وهي. {وَسَيُجَنَّبُهَا} او له هغه نه به هرومرو په ډډه شي، ځان گوښه کړي.

{لَا يَصْلَاهَا} هغه ته نه ورننوځي. {الْأَتْقَى} ډېر ښه پرهيزگار.

{الْأَشْقَى} بدمرغه، بدبخت.

## ژباړه

په يقين سره هدايت کول پرموږ باندې دی، او آخرت او دنيا دواړه زموږ په واک کې دي، نو ويره درکوم تاسې ته له لمبې وهونکي اور څخه، نه به ننوځي هغه ته مگر لوی بد بخت، هغه چې د الله دين يې دروغ گڼلی او مخ يې اړولی دی، نو ژر به ځان په څنگ کړي له هغه نه ډېر ښه پرهېزگار. هغه څوک چې د سپېڅلتيا لپاره خپل مال د الله په لار کې لگوي، او د هيڅ نېک کار او ښېگڼې له کولو څخه يې مقصد دا نه وي چې د چا د ښېگڼې بدل ورکړي، پرته له دې چې د خپل لوړ رب خوښي تر لاسه کړي، او ډېر ژر به يې د رب خوښي په برخه شي ( ډېر ژر به له خپل رب څخه خوشحاله شي).

## اجمالي تفسير

په دغو مبارکو آيتونو کې الله تعالی فرمايي: هدايت زما پر غاړه دی، يعنې موږ ښه او بد دواړه درته بيانوو او دواړه لارې درښيو، وروسته به هر چاته د هغه له عمل سره سم (چې د خپل ځان لپاره يې غوره کړې دی) سزا او جزا ورکړم، د دنيا او آخرت مالک الله تعالی دی، له همدې امله الله تعالی انسان د دوزخ له لمبه وهونکو شغلو څخه ويروي او فرمايي: هر څه چې په دنيا او آخرت کې دي، هغه زما دي، نو ځکه هر څوک چې له دنيا او آخرت څخه برخه غواړي، نو زه يې هغه چا لره ورکوم چې زما خوښه وي، که څوک د هدايت سمه لاره پرېږدي ماته کوم ضرر او تاوان نشي رسولای او نه د چا هدايت او لارموندنه د الله تعالی ربوبيت او الوهيت ته څه گټه رسولای شي، بلکې گټه او تاوان خپله تاسو ته متوجه ده.

وروسته الله تعالی فرمايي: زه تاسې د دوزخ له لمبه وهونکي اور څخه ويروم، بد مرغه هغه څوک دی چې حق دروغ گڼي او له هغه نه مخ اړوي او دوزخ ته ننوځي، يعنې د انبياوو (عليهم الصلاة والسلام) له لارې چې کومه الهي وحې هغوی ته ابلاغ شوې ده، پر هغې ايمان نه راوړي او د شرعي احکامو له منلو څخه مخ اړوي.

يوازې هغه څوک له اورڅخه لرې پاتې کېدای شي چې د الله تعالی په لاره کې د مال په مصرفولو سره خپل نفس پاک

کړې او د الله تعالی د رضا د حاصلولو لپاره هڅه او هاندکوي او د خپل دغه نېک عمل لپاره له هیچا څخه بدله (عوض) نه غواړي، بلکې خپل اجر او بدله له الله تعالی څخه غواړي او لکه ابوبکر صدیقؓ د الله تعالی د رضا د حاصلولو لپاره خپل مال او شتمني لګوي. په دې هکله ابن ابي حاتم له عروه ؓ څخه روایت کوي چې ابوبکر صدیق ؓ اوه تنه مریان په خپلو پیسو آزاد کړل او دا غلامان داسې کسان وو چې د اسلام قبلولو له امله یې د مشرکانو له لوري په ستونزو او تکلیفونو کې ژوند تېراوه، هماغه و چې دغه آیت نازل شو: ﴿وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى﴾.

د ابوبکر صدیقؓ له خوا د غلامانو د آزادولو په اړه ډېر احادیث راغلي دي چې د هغو له جملې څخه یو هم د بلالؓ آزادول دي. لکه څرنګه چې ابن عباس (رضي الله عنهما) روایت کړی دی چې کله ابوبکرصدیق ؓ بلال ؓ آزاد کړ، نو مشرکینو به په خپل منځ کې داسې خبرې کولې چې بلال له ابوبکرؓ سره څه احسان کړی و چې له مشرکینو څخه یې په پېرېدلو سره د غلامۍ له قید څخه آزاد کړ! هماغه و چې دا مبارک آیت نازل شو: ﴿وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ مِنْ نِعْمَةٍ تُجْزَى...﴾. او دا یې روښانه کړه چې د دې ښېګڼې له کولو څخه یې مقصد دا نه و چې د چا د ښېګڼې بدل ورکړي، بلکې یوازې د الله تعالی د رضا حاصلولو لپاره یې دا عمل ترسره کړ او ژر ده چې الله تعالی له ده څخه راضي شي.

**فعالیت**

زده کوونکې دې د ښوونکي له لارښوونو سره سم، د حضرت بلال ؓ د آزادۍ په اړه خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

د پورتنیو مبارکو آیتونو ځینې ګټې او لارښوونې په لاندې ډول دي:

- د انسانانو د ښېګڼو او بدیو بیانول ، د سمو او کږو لاروښوودنه پر الله تعالی دي او دا چې انسان له دغو دواړو لارو څخه د یوې په غوره کولو سره د ثواب یا عذاب ورګرځي.
- د دنیا او آخرت یوازینی حقیقي مالك او متصرف الله تعالی دی.
- د دوزخ اورته به یوازې هغه خوك ننوځي چې په الله تعالی ایمان او باور نه لري او د الله تعالی له حکمونو څخه سر غړونه کوي، هر بدکار انسان به له خپل عمل سره سم د دوزخ اور ته لوېږي او په دردوونکي عذاب به اخته کیږي، لکه څرنګه چې په یوحدیث کې راغلي دي، د دوزخ تر ټولو آسانه عذاب هغه دی چې دوزخي ته د اور پڼې په پښو شي او له دماغ څخه یې لوګي پورته کیږي.

**پوښتنې**

۱- د (اللیل) په سورت کې الله تعالی انسانان په کومو دوو ډلو وېشلي دي چې له خپل عمل سره سم د ثواب او یا عذاب بدله ورکول کیږي ؟

۲- د آخرت په ورځ چې انسانان پر دوو ډلو وېشل کیږي، د هرې ډلې برخلیک به څرنګه وي؟

**کورنۍ دنده**

د اللیل د سورت لنډیز په اتو کرښو کې ولیکئ.

# د الضحی سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَالضُّحَى ﴿١﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى ﴿٢﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى ﴿٣﴾ وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَكَ مِنَ
الْأُولَى ﴿٤﴾ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى﴿٥﴾ أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَى ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَى
﴿٧﴾ وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَى ﴿٨﴾ فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴿٩﴾ وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ﴿١٠﴾ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ
رَبِّكَ فَحَدِّثْ﴿١١﴾ ﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {وَالضُّحَى} | قسم په څاښت، په رڼا ورځ. |
| {إِذَا سَجَى} | کله چې خوره شي، ارامه شي. |
| {وَمَا قَلَى} | او نه (پر تا) غوسه شوی دی، نه يې دښمني (در سره) کړې ده . |
| {فَآوَى} | نو پناه يې درکړه، ځای يې درکړ . |
| {عَائِلًا} | فقير او بېوزلی . |
| {فَلَا تَقْهَرْ} | نو قهر (پرې) مه کوه. |
| {فَلَا تَنْهَرْ} | نو مه (يې) رټه. |
| {فَحَدِّثْ} | نو بيان کړه. |

## ژباړه

سوګند د څاښت په وخت چې کله لمر راوخېژي، او ټول ځايونه روښانه کړي. او قسم په شپې باندې چې کله ټول ځايونه پټ کړي، چې ستا پالونکي (الله تعالی) ته نه يې پرېښودلی، او نه يې پر تا باندې قهر او غوسه کړې ده. په يقين سره آخرت ستا لپاره له دنيا څخه غوره دی. او ژر به ستا پروردګار تا ته دومره نعمتونه درکړي، چې ته پرې خوشحاله شې. آيا ته يې يتيم نه يې موندلای، نو ځای يې درکړ ؟ او وې موندلې ته چې نه پوهېدې (په شرع او احکامو د شريعت) نو تا ته يې شرعي احکام دروښودل (نبوت يې درکړ). او ته يې محتاج او بېوزلی وموندلې، نو شتمن او بې پروا يې کړې، نو پر يتيم باندې قهر او غوسه مه کوه، او سوالګر مه رټه او د خپل رب ښېګڼه او لورينه ښکاره او بيان کړه.

## د سورت پیژندنه

د (الضحی) سورت مکي دی، (۱۱) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې په (۹۳) ردیف کې دی. د دغه سورت نوم د سورت له لومړي آیت څخه اخیستل شوی دی. الله تعالی په الضحی چې د څاښت په معنا دی قسم یادکړی دی. د الضحی سورت د رسول اللهﷺ په باره کې نازل شوی دی او د دې سورت موضوع د رسول اللهﷺ د حالت بیان دی چې الله تعالی هغه په دنیا کې یتم پیدا کړ، وروسته بیا الله تعالی هغه د هدایت او شتمنۍ څښتن وګرځاوه.

## د نزول سبب

کله چې پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) باندې د څه وخت لپاره د وحې د نزول لړۍ وځنډېده، نو مشرکانو دا اوازې او بې ځایه ویناګانې خپرې کړې، چې پروردګار خپل پېغمبر حضرت محمدﷺ پرېښی دی، همااغه و چې د الضحٰی سورت نازل شو او پېغمبرﷺ له ډېرې خوشحالۍ څخه د (الله اکبر) ناره پورته کړه.

## اجمالي تفسیر

د سورت په پیل کې الله تعالٰی د ورځې په رڼا چې د لمر وړانګې یې ټول ځایونه روښانه کوي، په شپه باندې چې کله آرامي شي او په خپلې تیارې سره ټول ځایونه پټ کړي، قسم یاد کړی دی چې خپل پېغمبرﷺ یې یوازې نه دی پرېښی او نه پر هغه باندې غوسه شوی دی.

د مکې د مشرکانو د غرضي خبرو او پروپاګنډو پر خلاف د څه وخت لپاره د وحې ځنډېدل پردې دلالت کوي چې دغه کتاب (قرآن کریم) د الله ﷻ له لوري دی، ځکه که چېرې قرآن کریم د رسولﷺ په خپل لاس جوړ شوی کتاب وی، نو وحې به له هغه څخه د څه وخت لپاره نه وای ځنډېدلې او نه به هغهﷺ نارامه او پرېشانه وای. بیا الله تعالی پېغمبرﷺ ته زیری ورکوي چې راتلونکی وخت به دې له تېر شوي وخت څخه ښه او ډېر روښانه وي او ستا د آخرت ژوند به د دنیا د ژوند په پرتله ډېر ښه وي. له دې امله په دغو آیتونو کې پېغمبرﷺ ته له یوې ورځې څخه تر بلې، د عزت او مرتبې د زیات والي خبر ورکول کېږي.

له عبدالله بن مسعودؓ څخه روایت دی چې یوه ورځ رسول اللهﷺ پر یوه پوزکي ویده و، کله چې له خوب څخه پاڅېده ویې لیدل، چې د پوزي د پټیو نښې د ده په مبارك بدن وې او ویې غوښتل، چې د پوزي د پټیو نښې له خپل بدن څخه لرې کړي، په دغه وخت کې موږ ورته وویل. ای د الله رسوله! آیا اجازه راکوئ، چې د دغه پوزي پر مخ یو فرش هوار کړم؟ رسول اللهﷺوفرمایل: زما له دې دنیا سره څه کار؟ زما او د دې دنیا مثال د یو مسافر

دی، چې د لنډ وخت لپاره د یوې ونې تر سیوري لاندې ویده شي او بیا ورځنۍ لاره شي او خپله لار وهي.

وروسته بیا الله تعالٰی د خپل پېغمبرﷺ د تسلۍ او اطمینان لپاره د خپلو هغو نعمتونو یادونه کوي چې هغهﷺ ته یې د ماشومتوب او یتیمۍ له زمانې څخه د پېغمبرۍ تر زمانې پورې ورکړي وو، د الله تعالی نعمت، احسان او مهرباني هر وخت دده په برخه وه، د ماشومتوب اوښېدو خوړلو په زمانه کې د مهربان نیکه عبدالمطلب په غېږ کې او همدارنګه د زړه سوونکي تره ابوطالب په کور کې و. بیا الله تعالٰی فرمایي: ته له حق څخه ناخبره وې، د حق او شریعت په پلټنه کې حېران او سرګردان ګرځېدلې، د دین او شریعت په درلېږلو مې درته لارښوونه وکړه.

همدارنګه الله تعالٰی هغه ته د دې احسان یادونه کوي، چې ته مې دنیا ته فقیر او بېوزلی راوستی وې، خو د بي بي خدیجې (رضي الله عنها) د مال او دولت په تجارت سره مې د مال او شتو څښتن کړې.

ابن جریر او ابن ابي حاتم له قتادة رضي الله عنه څخه روایت کړی دی، چې په پورتنیو دریو آیتونوکې له نبوت څخه مخکې د پېغمبرﷺ حال بیان شوی دی.

د سورت په وروستنۍ برخه کې الله تعالٰی خپل پېغمبرﷺ د ټولنې ځینو ټولنیزو اخلاقو ته دعوت کړی دی او ده ته (د ده د امت د تعلیم لپاره) داسې فرمایي، چې پر یتیم باندې ظلم او تېری مه کوه، سوالګر له ځان څخه مه شړه، که هغه له تا څخه د علم او یا د مال غوښتنه وکړي ، نو په دواړو حالاتو کې باید له هغه سره په سمه توګه کړنه وشي او هغه ته ځواب وویلی شي.

په وروستني آیت کې الله تعالٰی فرمایي: هغه نعمتونه چې الله تعالی پر تا د هغو لورینه کړې ده، هغه ښکاره کړه، یعنې هغه بیان کړه او د هغو شکر ادا کړه، هغه دا چې الله تعالٰی تا ته د قرآن کریم او هم د نبوت نعمتونه درکړي دي.

ابو داؤد او ترمذي له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت کړی دی، چې پېغمبرﷺ فرمایلي دي: ((لا یشکر اللهَ من لایشکر الناسَ)): هغه څوک، چې د خلکو شکر ادا نه کړي، د الله جل جلاله شکر یې نه دی ادا کړی.

نو په دې مبارک سورت کې الله تعالٰی له یوې خوا خپل پېغمبرﷺ ته د سختو او ستونزمنو حالاتو، د یتیمۍ حالت، هدایت، شتمنۍ او بډایۍ، لوړمقام او د خپلو نعمتونو یادونه کړې ده او له بلې خوا یې له پېغمبرﷺ څخه دا غوښتنه کړې ده چې یتیمانو سره ښه سلوك او پر هغو باندې زړه سوی او مهرباني ولري. همدا راز پېغمبر ﷺ ته یې ارشاد کړی دی، چې د خپل حالت په کتلو سره باید پر نورو خلکو مهربانه واوسې، له هغوی سره ښه چلن وکړې او هیڅوك له ځان څخه خوابدی نکړې او د الله تعالٰی د نعمتونو مننه وکړې.

### فعالیت

زده کوونکي دې د پیغمبرﷺ د یتیم والي په هکله او دا چې په وړکتوب کې چا د ده سرپرستي کوله، په خپلو منځونو کې په لنډه توګه مباحثه وکړي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- په دې سورت کې د ځاښت او شپې پر وختونو له قسم یادولو څخه موخه، د دغو وختونو د اهمیت او ارزښت بیانول دي او دا دواړه وختونه د الٰهي قدرت ښېلګې او مثالونه دي.
- د دې مبارک سورت آیتونه د وخت پر ارزښت دلالت کوي، چې باید مسلمانان هغه ته ډېره پاملرنه وکړي.
- د الله تعالٰی په وړاندې د پیغمبرﷺ د مرتبې او مقام بیان او له پیغمبرﷺ سره د الله تعالٰی مینه، محبت او هغه ته ډاډ ورکول.

### پوښتنې؟

۱ـ لاندې کلمې وژباړئ:

{الضُّحَی ـ اللَّيْلِ ـ إِذَا سَجَی ـ مَا وَدَّعَكَ ـ وَمَا قَلَی}.

۲ـ د (الضُّحَی) د سورت د نزول سبب بیان کړئ.

۳ـ د (الضُّحَی) د سورت بنسټیزه موضوع په لنډه توګه بیان کړئ.

### کورنۍ دنده

د (الضُّحَی) د سورت تړاو له تېر شوي سورت سره په اوو کرښو کې ولیکئ.

# د الانشراح سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴿١﴾ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ﴿٢﴾ الَّذِي أَنْقَضَ ظَهْرَكَ ﴿٣﴾ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿٤﴾ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٥﴾إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٦﴾ فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ﴿٧﴾ وَإِلَى رَبِّكَ فَارْغَبْ ﴿٨﴾ ﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {أَلَمْ نَشْرَحْ } | آیا موږ نه ده پراخه کړې(پرانستلې) ؟ |
| {وَوَضَعْنَا } | او موږ لرې کړ، ښکته کړ، سپک کړ. |
| { وِزْرَكَ } | ستا پېټی، بوج. |
| {أَنقَضَ} | درنده کړې وه. |
| {ذِكْرَكَ } | ستا(نوم) یادول. |
| {الْعُسْرِ} | سختي ، تنگسه. |
| {يُسْرًا } | اسانتیا، پراختیا. |
| {فَانصَبْ } | نو ځان ستړی کړه، هلې ځلې کوه. |
| { فَارْغَبْ } | رغبت کوه، په مینه مخ اړوه. |

## ژباړه

آیا موږ نه ده پرانستلې تا لره ستا سینه؟ او ستا څخه مو دروند پېټی لرې کړ. هغه چې ستا شا یې درنه کړې وه. او پورته کړی دی موږ ستا لپاره ستا یاد. نو بېشکه چې له سختۍ سره اسانتیا هم وي. یقیناً له سختۍ سره اسانتیا هم وي؛ نو کله چې ته وزگار (فارغ) شوې؛ نو په عبادت کې ځان ستړی کړه او د خپل رب لوري ته رغبت (مخه) کوه.

## د سورت پېژندنه

د (الانشراح) سورت مکي دی، (٨) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې په (٩٤) ردیف کې ځای لري. د دې سورت موضوع د رسول الله ﷺ د عزت، رتبې او لوړ مقام بیان دی. په (الانشراح) سره د دې سورت

د نوموړو لامل دا دی چې دا لفظ د سورت د پیل آیت کې راغلی دی.

## د نزول سبب

روایت دی چې د ﴿فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا... ﴾ آیت هغه وخت نازل شو، چې د مکې مشرکانو مسلمانانو ته د فقر او بېوزلۍ پېغور ورکاوه او دا يې د هغوی لپاره ستر عیب او نیمګړتیا ګڼله. ابن جریر له حسن بصري (رحمهما الله) څخه روایت کړی دی، کله چې دغه آیت نازل شو، رسول اللهﷺ وفرمایل: ﴿أَبْشِرُوْا أَتَاكُمُ اليُسْر، وَلَنْ يَغْلِبَ عُسْرٌ يُسْرَيْنِ﴾. یعنې: تاسې ته د آسانۍ زېری درکوم، هیڅکله به یوه ستونزه پر دوو اسانتیاوو غالبه نه شي.

## له مخکیني سورت سره د دې سورت تړاو

د الانشراح سورت له مخکیني سورت ( الضُّحَى) سره د مضمون، شکل او جملو په اعتبار ټینګ تړون لري، که چېرې ژور فکر وشي داسې تصور کېږي، چې دا سورت د سورة الضُّحَى لړۍ ده، ځکه چې په دې سورت کې هم په پېغمبرﷺ باندې د الله تعالی د نعمتونو او د هغو د شکر ادا کولو یادونه شوې ده، لکه څرنګه چې په مخکیني سورت کې د پېغمبرﷺ د یتیمتوب یادونه شوې وه، او بیا الله تعالی هغه د غنا او لوړ مقام څښتن کړ. له دې کبله ځینو مخکینیو علماوو دغه دوه سورتونه د مضمون له مخې یو سورت ګڼلی دی، چې یوازې د (بسم الله...) په واسطه له یو بل څخه جدا شوي دي.

## اجمالي تفسیر

په مخکیني سورت کې له یادو شویو نعمتونو څخه وروسته په دې سورت کې هم الله تعالی په خپل پېغمبرﷺ باندې د درې نورو نعمتونو د لورینې یادونه کوي او داسې فرمایي: ﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ الَّذِي أَنقَضَ ظَهْرَكَ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾: لومړنی نعمت يې د الهي وحې د منلو او نیولو لپاره د پېغمبرﷺ د سینې د پرانستلو څخه عبارت دی، دویم نعمت يې د نبي کریم ﷺ له اوږو څخه د دروند پېټي لرې کول دي، دریم نعمت يې د پېغمبرﷺ د مقام (رتبې) او نوم لوړوالی دی، چې الله تعالی دا ټول ستر نعمتونه خپل ګران پېغمبرﷺ ته ورکړي دي، دغه سورت په یوې پوښتنې سره پیل شوی دی، چې الله تعالی د تقریري او اثباتي استفهام په ډول خپل پېغمبر ﷺته خطاب فرمایلی دی: آیا موږ ستا سینه نه ده پرانستلې او هغه مو نه ده پراخه کړې؟ په یقین سره موږ ستا سینه پرانستلې او په هغې کې مو ایمان، نېک اعمال، ښه خوی او عادت او علم، حکمت ایښی دی.

ابوحیان په خپل تفسیر کې لیکي: له پرانیستلو څخه مراد د الٰهي وحې د قبلولو لپاره د سینې پراخي او روښانه کول دي. ځینو نورو مفسرینو ویلي دي: دلته له پرانستلو څخه مراد، د معراج په شپه کې د نبي کریمﷺ د سینې پراخول دي، او ځینې نور بیا د پیغمبرﷺ د سینې پرانیستل د شپږو خوړلو او ماشومتوب وخت ته ځانګړې کوي، کله چې ملایکو د رسولﷺ سینه پرانیسته او زړه یې ورته ووینځلو. په دې ترتیب سره دا مبارک آیت ټولو اقوالو ته شامل کېږي، لکه څرنګه چې امام ترمذي ویلي دي: د رسول اللهﷺ د سینې د پرانستلو په ظاهري او معنوي بڼو کې کوم ضدیت او منافات نشته. وروسته بیا الله تعالیٰ خپل پیغمبرﷺ ته زیرى ورکوي، چې مسلمانان به له دغه تکلیف او زحمت څخه چې دوی په مکه مکرمه کې ورسره مخ دي، ډېر ژر خلاصون ومومي او د دنیا او آخرت فتح او کامیابي به یې وربه برخه شي.

د لویو نعمتونو له بیان څخه وروسته، د سورت په آخر کې الله تعالیٰ د رسول اللهﷺ له لارې مسلمانانو ته د ژوند یو نظام برابر کړى دى او داسې فرمایي: ﴿فَإِذَا فَرَغْتَ فَانصَبْ وَإِلَى رَبِّكَ فَارْغَبْ﴾ تر څو پیغمبرﷺ د ژوند دا قانون د مسلمانانو په منځ کې پلې کړي، او د دنیا او آخرت ګټه او بریالیتوب یې په برخه شي. د ژوند دغه قانون دا رنګه دی، چې هر کله له عبادت څخه وزګار شوې، نو په دنیوي چارو پیل وکړه او هر کله چې د دنیا له کار څخه وزګار شوې نو د عبادت او اخروي چارو په لور هڅه کوه، د مثال په توګه هر کله چې د لمانځه له اداکولو څخه فارغ شوې، په ذکر او دعا پیل وکړه، بیا د دنیا دکارونو په لور روان شه او زیار وباسه، او کله چې له جهاد څخه وزګار شوې د حج په اداکولو او نورو وظایفو او مکلفیتونو پیل وکړه، په دې ترتیب سره قرآن کریم د یو مسلمان د ژوند قانون دا رنګه منظم کړى دى، چې تل ترتله او همېشه په سعې ، کوښښ او حرکت کې وي او هیڅکله د وزګارۍ ، لهو او لعب او لټۍ لپاره وخت ونه لري. او د دې مبارکې جملې ﴿وَإِلَى رَبِّكَ فَارْغَبْ﴾ معنا دا ده چې د یو مؤمن سړي ټول عبادات، کاروبار، زیار او هڅې او منډې ترړې د الله جَلَّ جَلَالُهُ لپاره وي چې په دې سره د هغه رضا، اجر او ثواب حاصلوي.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د پیغمبرﷺ د یاد او نامه د لوړوالي په هکله له ښاغلي ښوونکي سره خبرې اترې وکړي او خپله رایه دې څرګنده کړي.

## د لوست ګټې

د انشراح سورت ځینې لاندنۍ لارښوونې او نصیحتونه رانغاړي:

- د الله تعالی د هغو سترو نعمتونو بیان، چې پیغمبرﷺ ته ورکړل شوي دي، لکه د هغه ﷺ د سینې پرانستل، پر کړاوونو باندې د هغه د صبر او حوصلې زیاتول او د تل لپاره د هغه د نوم او مقام لوړول.
- هر مؤمن وروسته له ستونزو او تکالیفو څخه اسانتیا مومي.
- کله چې یو څوک د الله تعالی له عبادت څخه فارغ شي، باید د الله تعالی له یادولو سره د ژوند نورو چارو ته هم دوام ورکړي او هیڅ کله خپل وخت بې ګټې تېر نه کړي.
- د نېکۍ بدله باید نېکي وي، له دې امله بنده لره ښایي چې د الله تعالی د نعمتونو شکر ادا کړي.

## پوښتنې؟

۱ـ لاندنۍ جملې وژباړئ:

﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ. وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ الَّذِي أَنقَضَ ظَهْرَكَ﴾.

۲ـ د سورت په پیل کې الله تعالی د پیغمبرﷺ لپاره درې نعمتونه بیان کړي دي، دغه درې الهي نعمتونه څرګند کړئ.

۳ـ د (إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا) مبارک آیت څه مفهوم لري؟ په دې هکله نبوي حدیث بیان کړئ.

## کورنۍ دنده

د مسلمان بنده د ژوندانه د نظم او قانون په هکله یوه مقاله ولیکئ، چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# د التين سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ ﴿١﴾ وَطُورِ سِينِينَ ﴿٢﴾ وَهَذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ ﴿٣﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴿٤﴾ ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ ﴿٥﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٦﴾ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ ﴿٧﴾ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ ﴿٨﴾ ﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {التِّينِ} | انځر . |
| {طُورِ سِينِينَ} | د سینا غر، طور سینا. |
| {الْبَلَدِ الْأَمِينِ} | د امن ښار(مکه). |
| {أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ} | ډېره ښه بڼه، ښکلی صورت. |
| {أَسْفَلَ سَافِلِينَ} | تر ټولو لاندنيو ځخه لاندې. |
| {غَيْرُ مَمْنُونٍ} | نه ختمېدونکی، نه پرې کېدونکی. |
| {أَحْكَمَ الْحَاكِمِينَ} | تر ټولو حاکمانو ستر او ښه حاکم. |

## ژباړه

سوګند په انځر او زيتون(ښوون)، او سوګند د سينا په غره، او سوګند د امن په دغه ښار(مکه)، چې موږ انسان په ډېره ښه بڼه (څېره) پيداکړ، بیا مو وګرځاوه هغه تر ټولو لاندنيو ځخه لاندې، خو هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نیکې کړنې یې تر سره کړې دي، نو د هغوی لپاره نه تمامېدونکی اجر دی؛ نوځه شی د دې لامل ګرځي، چې وروسته له دې ټولو(ښکاره دليلونو) د جزا له ورځې ځخه انکار کوې؟ ایا خــدای تعالی تر ټولو حاکمانو ښه حکم کوونکی نه دی؟

### د سورت پېژندنه

د التين سورت مکي دی، (۸) آيتونو لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې په (۹۵) رديف کې ځای لري. دا سورت د انسان پيدايښت له فطرت سره سم بيانوي، او د دې سورت نوم د دې سورت د لومړنۍ مبارکې کلمې﴿وَالتِّينِ﴾ څخه اخيستل شوی دی چې الله تعالی پرې سوګند يادکړی دی.

### له مخکيني سورت سره يې تړاو

په مخکيني سورت کې، د مکمل او بشپړ انسان څرنګوالی د پيغمبرﷺ په خلقت کې، چې په ټول عالم کې بېساری دی، بيان شو. په دې سورت کې د مطلق انسان د حالت يادونه شوې ده. نوکه چېرته انسان د خپل خالق له فرمان څخه سرغړونه وکړي او د خدای ﷻ او د هغه د رسول د ښمني غوره کړي، ځای يې دوزخ دی او که چېرته په الله او د هغه په رسولﷺ باندې ايمان راوړي او نېک عمل تر سره کړي، ځای يې جنت دی.

### اجمالي تفسير

د سورت په پيل کې الله تعالی په څلورو ځيزونو سوګند يادکړی دی، چې دوه يې له مېوو او دوه نور يې له مکان سره تړاو لري، پر دغو دوو مېوو د الله تعالی سوګند يادونه، د دغو مېوو ارزښت او ګټه راپه ګوته کوي. د طب له نظره ثابته شوې ده چې انځر هم خواړه، هم مېوه او هم درمل دي. انځر پاسته او ګټور خواړه دي، پښتورګي پاکوي، په مثانه کې راپيدا شوې شګې لرې کوي او بدن ته وده او قوت ورښي. همدارنګه له زيتونو څخه د خوړو، مېوې، غوړو او درملو په توګه ګټه اخيستل کېدای شي. په قرآن کريم کې زيتون د مبارکې ونې په نامه ياد شوی، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي:﴿يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَارَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ﴾ (النور: ۳۵) .

همدارنګه د پيغمبرﷺ په يوه حديث کې چې ابونعيم د طب په برخه کې روايت کړی، راغلي دي:زيتون وخورئ او له غوړو څخه يې ګټه واخلئ؛ ځکه چې زيتون يوه مبارکه ونه ده.

په وروستي آيت کې الله تعالی په ﴿طُورِ سِينِينَ﴾ باندې قسم يادکړی دی. هغه غر چې الله تعالی هلته له خپل پيغمبر موسیؑ سره خبرې کړې دي. همدارنګه الله تعالی له امن څخه ډک ښار باندې سوګند يادکړی، چې هغه مکه مکرمه ده، هغه ځای چې سردار عالم محمد مصطفیﷺ په هغه کې نړۍ ته راغلی او په

پېغمبرۍ مبعوث شوی دی او د وروستني اسماني کتاب قرآنکریم لومړنۍ وحې هم هلته نازله شوې ده.

له دې مهمو سوګندونو څخه وروسته الله تعالی فرمايي: یقیناً موږ انسان په ښکلي قالب کې پیدا کړ، هغه مو په ظاهري او باطني ښېګڼو سمبال کړ او د هغه په خټه کې مو ګټور ځېزونه کېښودل. که چېرې انسان له فطرت سره سم چې الله تعالی هغه پرې پیدا کړی دی، عمل وکړي، هغې درجې ته به ورسيږي کومې ته چې ادمﷺ رسېدلی و او د خدایﷻ پرښتې به ورته سلام وکړي او هرکله چې د فطرت او بندګۍ له لارې څخه منحرف شي، هغه به له ډېرو ښکتو نه ښکتې طبقې ته وروګرځول شي. شاه ولی الله رحمه الله وايي: الله تعالی انسان د پرښتو درجې ته هسک کړ، خوکه چېرې الله تعالی ونه پېژني او د هغه له اطاعت څخه ډډه وکړي، نو د هغه مرتبه به له ژوو(حیواناتو) څخه ډېره ښکته وي، له دې امله خدای تعالی هغه انسانان چې خپل ځانونه يې په ایمان ښایسته کړي او نیکي کړنې يې تر سره کړې، له دې ډلې څخه جلا کړل او داسې فرمايي: ﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ﴾. یعنې: پرته له هغو کسانو چې ایمان يې راوړ او نېک کارونه يې وکړل، نو دوی ته به داسې ثواب او بدله وي چې په هغې کې به کمښت نه راځي، نه به پای لري.

د سورت په پای کې الله تعالی انسان، سره له رټنې او انکار مخاطب ګرځولی او فرمايي: ﴿فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ﴾. یعنې: څه ځيز د دې لامل وګرځېد چې له دې ټولو دلیلونو سره د آخرت ورځ تکذيب کړې او هغه دروغ وګڼې؟! ایا الله تعالی تر ټولو ښه او غوره حکم کوونکی نه دی؟ بلکې یقیناً داسې دی. ترمذي له ابوهریرهؓ څخه روایت کړی چې پېغمبرﷺ فرمایلي دي: کله چې یو له تاسو د ﴿التِّينِ وَالزَّيْتُونِ﴾ سورت ولولي او دې آیت ته راورسيږي﴿أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ﴾ پر هغه لازم دي چې ووايي: (بلی، و أنا علی ذلك من الشاهدين)، یعنې: هو، همداسې ده او زه پرهغه د شهادت ورکوونکو له ډلې څخه یم.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د ښوونکي له لارښوونې سره سم د هغو څلورو ځيزونو دګټو او اهمیت په اړه، چې څښتن تعالی پر هغو باندې سوګند یاد کړی، بحث او خبرې اترې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارک آیتونه یو شمېر ګټې لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

• په دې سورت کې پر یادو شویو ځایونو قسم یادول، د دغو اماکنو پر مقام، منزلت او برکت باندې دلالت کوي.

• د انسان د عزت او تکریم بیانول چې الله تعالی هغه په ښه شکل او صورت سره پیدا کړی دی.

• انسان چې په کوم شکل او صورت سره پیدا شوی دی، که چیرې هغه د دې ترڅنګ خپل څښتن تعالی و پېژني او د هغه اطاعت او فرمانبرداري وکړي، نو په دې صورت کې دی د خدای تعالی په نزد له لوړ مقام څخه برخمن دی.

• مؤمن سړی خپل سلیم فطرت ساتي، خو کافر دغه فطرت پټوي او له منځه یې وړي.

• الله ﷻ غوره حکم کوونکی دی او د الله تعالی پرېکړه د هرچا له پریکړې څخه غوره ده.

### پوښتنې؟

۱- لاندې کلمې وژباړئ:

(التِّينِ)، (طُورِ سِينِينَ)، (الْبَلَدِ الْأَمِينِ )، (أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ)، (أَسْفَلَ سَافِلِينَ)، (غَيْرُ مَمْنُونٍ)، (أَحْكَمَ الْحَاكِمِينَ).

۲- په دې سورت کې الله تعالی پر کوموشیانو قسم یاد کړی دی؟ د دې څیزونو ارزښت بیان کړئ.

۳- په دې سورت کې د یادو شویو سوګندونو ځواب بیان کړئ.

٤- له ﴿أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾ او ﴿أَسْفَلَ سَافِلِينَ﴾ څخه مراد څه شی دی؟

# د العلق سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ﴿١﴾ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ﴿٢﴾ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ﴿٣﴾ الَّذِي
عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴿٤﴾ عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴿٥﴾ كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى ﴿٦﴾ أَنْ رَآهُ اسْتَغْنَى ﴿٧﴾
إِنَّ إِلَى رَبِّكَ الرُّجْعَى ﴿٨﴾ ﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {اقْرَأْ} | ولوله. |
| {بِاسْمِ رَبِّكَ} | ستا د پالونکي په نوم. |
| {عَلَقٍ} | د (علقه) جمع ده، د پرنډې شوې وينې ټوټه، په رحم کې د انسان د پيدايښت دويمه مرحله. |
| {لَيَطْغَى} | سرغړونه کوي. |
| {الرُّجْعَى} | بېرته تګ. |

## ژباړه

ولوله ( ای پېغمبره !) د خپل رب په نوم هغه چې پيدا يې کړ. پيدا يې کړ انسان د کلکې شوې وينې له يوې ټوټې څخه. ولوله ، اوستا رب ډېر مهربان دی. هغه چې د قلم په مرسته يې علم ښودلی. انسان ته يې هغه علم ورکړ چې هغه پرې نه پوهېده. هيڅکله داسې نه ده، انسان سرکشي کوي. هغه وخت چې خپل ځان بې پروا ويني. په يقين سره يې بېرته تګ ستا د پالونکي په لور دی.

## د سورت پېژندنه

د العلق سورت مکي دی، (١٩) آيتونه لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې په (٩٦) رديف کې ځای لري. دا سورت د (اقرأ) او (القلم) په نامه هم يادېږي. په دې سورت کې د انسان د خلقت او پيدايښت په اړه څرګندونه شوې ده او د پېغمبرﷺ د بلنې پر وړاندې د مشرکينو د دريځ بيان راغلی دی.

## له مخکيني سورت سره يې تړاو

په مخکيني سورت کې په سمه او ښکلې بڼه د انسان د پيدايښت او خلقت په اړه بحث وشو او په دې سورت کې د انسان د خلقت او جوړښت له مادي څخه بحث شوی. په دې ډول دواړه سورتونه د انسان د خلقت او پيدايښت په اړوند څرخي.

## اجمالي تفسير

د دې سورت لومړني پنځه آيتونه د الهي وحې د پيل آيتونه دي چې په لومړي ځل د حرا په غار کې پر رسولﷺباندې نازل شول.

د سورت په پيل کې الله تعالی خپل ګران پيغمبرﷺ ته فرمايي: ولوله د هغه خدایﷻ په نامه چې پيدا کړی يې دی. د الله تعالی د دې وينا مفهوم دا دی چې: ولوله پداسې حال کې چې دخپل پالونکي په نامه پيل کوې، او يا دا چې: د خپل پالونکي په نامه مرسته غواړې، هغه پالونکی چې د ټولو موجوداتو پيدا کوونکی دی، هغه پالونکی چې انسان يې له يوې ټوټې پرنډې (کلکې شوې) وينې څخه پيدا کړی دی. په دې مبارك آيت کې الله تعالی خپل ځان په دې ستايي چې هغه انسان پيداکړی دی. دا پيدايښت او خلقت د بني ادم لپاره يوه لويه پيرزوينه (نعمت) ده.

مفسرين وايي: له دې څخه دوه حقيقتونه څرګنديږي، يو دا چې رسول اللهﷺ د وحې له نزول څخه مخکې خپل الله تعالی په يووالي پېژانده او د هغه عبادت يې کاوه، ځکه هغهﷺ دې ته اړ نه شو تر څو دا وپوښتي چې پالونکی يې څوك دی؟ بلکې دا ورته وويل شول چې ته د خپل پالونکي نوم ياد کړه او ولوله! دويم دا چې کله ورته وويل شو: (اقرأ) يعنې ولوله، هغه ځواب ورکړ: (زه لوستونکی نه يم). د پيغمبرﷺ له ځواب څخه دا څرګنديږي چې د وحې پرښتې لفظونه او کلمې ليکلې وې او د هغهﷺ مخې ته يې اېښې وې، ترڅو يې ولولي. که چېرې د پرښتې موخه دا وای چې ته يې زما په خبر لوله، نو نور د دې ځواب د ويلو اړتيا په دې لفظ کې چې (زه لوستونکی نه يم) نه ليدل کېده.

په لومړي آيت کې مخلوق نه دی ذکر شوی او د (خلق) لفظ په مطلقې صيغې سره راغلی دی چې موخه ورځنې د ټولو کايناتو خلقت دی. او د هستۍ له خلقت څخه يې وروسته د انسان خلقت په ځانګړې توګه بيان کړ.

(علق) په عربي ژبه کې د (علقه) جمع ده چې د پرنډې شوې وينې په معنا ده او دا هماغه حالت دی چې جنين

له حمل څخه څو ورځې وروسته داسې حالت ته راځي او بيا د غوښې په ټوټه بدليږي چې په قرآن کريم کې د (مضغه) يعنې د غوښې ژوول شوې ټوټې په نامه ياده شوې ده.

الله تعالی په دريم او څلورم آيت کې فرمايي: ولوله! او ستا پالونکی خورا مهربان دی. هغه ذات چې د قلم په مرسته يې انسان ته داسې پوهه ورزده کړه چې مخکې پرې نه پوهېده، يعنې دغه نعمت د الهي له نعمتونو، پيرزوينو او مهربانيو څخه لويه پيرزوينه ده چې انسان ته ښکل شوې ده او له داسې خوار پيل څخه د علم او پوهې لوړ پړاو ته رسيدلی دی. علم او پوهه په مخلوقاتو کې له بارزو او څرګندو صفتونو څخه دي. الله تعالی انسان ته يواځې پوهه نه ده ورزده کړې، بلکې هغه ته يې د قلم په مرسته د ليکلو هنر هم وروښود، ترڅو په دې وسيله پوهه پراختيا ومومي او انسان د پرمختګ او لوړتيا لاره ووهي. که چېرې الله تعالی د ليکلو او لوستلو استعداد او وړتيا د انسان په خټه کې د الهام په څېر په امانت نه وای ايښی، نو د هغه دا استعداد به جامد، بې ودې او منحصر پاتې شوی وای او په هغه صورت کې يقينا دا ممکن نه و، چې علم، پوهه او د بشري تمدنونو ميراث د انساني نسلونو تر منځ ليږدول شوی وای.

په دې ورستيو آيتونو کې څښتن تعالی فرمايلي دي چې انسان د تل لپاره سرغړونه کوي او دا سرغړاوی او نافرماني د هغه د خودبينی او پرځان باندې د مغروره کېدلو نتيجه ده چې خپل ځان له خدای تعالی بې نيازه احساسوي، يعنې انسان نبايد دا ډول و اوسي، ځکه د هغه بېرته تګ د الله تعالی لورته دی او هغه خامخا د اللهتعالی حضور ته مخامخ دريږي، څرنګه چې الله تعالی پر خپلو بنده ګانو ډير مهربان دی او پر هغوی يې ډيرې پيرزوينې کړې دي، له دې ټولو سره سره، د دې پرځای چې د خپل خالق اومنعم شکر او مننه پرځای کړي او د هغه د نعمتونو په ارزښت پوه شي،ګناه ته مخ اړوي او لويي غوره کوي، او هغه وخت به پوه شي چې د دې ګناه او سرغړونې له پايلي سره مخامخ شي.

**فعاليت**

زده کوونکي دې د ښاغلي ښوونکي په لارښوونه د اسلام پر ستر پيغمبرﷺ باندې د وحې د نازليدلو څرنګوالي په هکله، بحث او خبرې اترې وکړي.

## د لوست ګټې

پورتنی لوست یو شمېرګټې او لارښوونې لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

- د الهي وحې د نزول او د پیغمبرﷺ د نبوت ثبوت.
- د الله تعالی په نامه د پیلولو اثبات او مشروعیت، یعنې د قرآنکریم د لوستلو پر مهال د (بسم الله الرحمن الرحیم) ویل، له همدې کبله د قرآنکریم ټول سورتونه پرته د (التوبه) له سورت څخه، په (بسم الله...) سره پیل کیږي.
- د انسان د خلقت د پړاوونو بیان، له نطفې څخه پیل، بیا په علقې باندې د هغه بدلون او د انسان د خلقت وروستني پړاوونه.
- د اسلام دین د پوهې اوزده کړې دین دی. او د دې مطلب غوره ثبوت دا دی، چې د قرآن نزول یا وحې د (اقرأ) په کلمې سره پیل شوی دی.
- په انسان باندې د الله تعالی له ښکاره پیرزوینو څخه یوهم د الله تعالی له لوري هغه ته زدکړه ورکول دي.
- دانسان په ژوندکې قلم د الله تعالی له لویو پیرزوینو او مهمو اختراعاتو څخه ګڼل کیږي.

### پوښتنې

۱- لاندې کلمې او جملې وژباړئ.

{ العلق - الذي علّم بالقلم - إن الإنسان لیطغی - أن رآه استغنی }

۲- د العلق سورت مطالب بیان کړئ.

۳- د العلق سورت پنځه لومړي آیتونه په کوم ځای کې او څرنګه نازل شول؟

٤- د مبارك سورت لومړني آیتونه د علم او پوهې په دوو اساسي عناصرو باندې دلالت کوي. دا دوه عناصر کوم دي؟ او اهمیت یې څه دی؟

### کورنۍ دنده

د اسلام د مبارك دین له نظره او د پورتنیو مبارکو آیتونو په رڼا کې د علم او زده کړې د ارزښت په اړه، یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# د العلق سورت

(دويمه برخه)

﴿أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى ﴿٩﴾ عَبْدًا إِذَا صَلَّى ﴿١٠﴾ أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ عَلَى الْهُدَى ﴿١١﴾ أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَى
﴿١٢﴾ أَرَأَيْتَ إِنْ كَذَّبَ وَتَوَلَّى ﴿١٣﴾ أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللَّهَ يَرَى ﴿١٤﴾ كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنْتَهِ لَنَسْفَعًا
بِالنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴿١٦﴾ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ﴿١٧﴾ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾ كَلَّا لَا تُطِعْهُ
وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ﴿١٩﴾ ﴾

## د کلمو معنا

| | | | |
|---|---|---|---|
| { يَنْهَى} | منع کوي. | {النَّاصِيَةِ} | وچولی، تندی. |
| {إِذَا صَلَّى} | کله چې لمونځ کوي. | {فَلْيَدْعُ} | نوغږ دې ورته وکړي، بلنه دې ورکړي. |
| { الْهُدَى} | سمه او د هدايت لار. | {الزَّبَانِيَةَ} | د عذاب پرښتې. |
| {تَوَلَّى} | دروغ وايي، مخ اړوي. | {وَاقْتَرِبْ} | او نژدې شه، تقرب تر لاسه کړه . |

## ژباړه

(خبر راکړه) ايا تا هغه کس ليدلی چې منع کوي، يو بنده کله چې هغه لمونځ کوي؟! ستا څه گومان دی که (هغه بنده) په سمه لاره وي. او يا د تقوا په لور بلنه کوي. ستا څه گومان دی که چېرې دا سرغړوونکی شخص حق دروغ وگڼي او مخ واړوي؟ ايا هغه نه پوهيږي چې الله تعالی (د ده ټول عملونه)ويني؟ نه هيڅکله داسې نه ده (چې هغه يې گڼي) که چېرې هغه له دغه کار څخه ځان ونه ساتي، هغه به د وچولي څخه ونيسو او و به يې غورځوو (د عذاب لورته به يې راکاږو). دروغجن او ورانکاری وچولی. نوبيا دې خپل ملاتړي راوغواړي. موږ به هم ډير ژر د خپل عذاب پرښتې راوغواړو.هيڅکله داسې نه ده (چې هغه سرغړوونکی يې گڼي) د هغه خبره مه منه او سجده وکړه (خدای ﷻ ته) او ورته نژدې شه.

## د نزول سبب

له ابوهريره ﷺ څخه روايت شوی، چې فرمايلي يې دي: ابوجهل له قريشو پوښتنه وکړه، چې ايا محمد ستاسو په مخ کې تندی پر ځمکه ايښی دی؟ هغوی وويل: هو! ابو جهل وويل: په لات او عزی سوگند که زه هغه پداسې حالت (د لمونځ په حالت) کې ووينم. خپله پښه به د هغه په ورمېږ کيږدم او مخ به يې له خاوروسره وسولوم. نو

بیایې پیغمبرﷺ د لمونځ کولو په حالت کې ولید او ځان یې ورنژدې کړ، ترڅو خپله پښه د هغه په غاړه کېږدي، په دې وخت کې خلکو ولیدل چې ابوجهل ناڅاپه راوګرځېد او هڅه یې وکړه، ترڅو خپل ځان له هغه شیز شخه وژغوري چې ګواکې د ده په مخکې پروت دی. خلکو له هغه شخه پوښتنه وکړه چې ولې دې داسې کار وکړ؟ ابوجهل ووېل: زما او د محمد ترمنځ د اور یوه کنده وه او یو ویرونکي مخلوق چې ډېر وزرونه یې درلودل زماپه لور یرغل وکړ، رسول اللهﷺ وفرمایل: که چېرې هغه خپل ځان ماته را رسولی وای نو پرښتو به ټوټه، ټوټه کړی وای. نو بیا دا مبارک آیتونه نازل شول: ﴿أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى . عَبْدًا إِذَا صَلَّى﴾ .

### له مخکینیو ایتونو سره یې تړاو

د سورت په پیل کې الله تعالی خپل قدرت بیان کړ او انسان ته یې د لوستلو او لیکلو نعمت وروباښه، چې دا خپله د انسان لپاره د الله تعالی د لطف او مهربانی ښکارندوی دی. په دې آیتونو کې د کافر انسان سرغړونه بیانوي چې د دنیا په مال، متاع او د هغه په ډول او سینګار پورې زړه تړي او د الله تعالی په وړاندې په ګناه اوسرغړونې پیل کوي. بیا د انسان د سرغړونې یوه بېلګه بیانوي چې د الله تعالی بنده ګان له لمونځ کولو او د خدای له بنده ګی شخه منع کوي. د سورت په پای کې د الهي وعید او دردوونکي عذاب یادونه شوې ده، کوم چې د دې ډول انسان د دغو کارونو لپاره مناسبه بدله ده.

### اجمالي تفسیر

ښتن تعالی په دې آیتونوکې د هغو کسانو حالت بیانوي چې د الله تعالی له حکم شخه سرغړوي، لکه چې فرمایي: ﴿أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى عَبْداً إِذَا صَلَّى﴾، یعنې: د هغه سرکښ او متمرد انسان په هکله چې له ابوجهل او د هغه له یارانو شخه عبارت دي، ووایه: چې ځرنګه د الله تعالی بنده (محمدﷺ ) له لمونځ شخه منع کوئ؟! آیا دوی نه پوهیږي چې الله تعالی د دوی دغه ناوړه عملونه ویني اوله هغو شخه خبردی؟ او د دغه بد عمل سزا به دوی ته ورکړل شي؟

په دې ﴿عَبْداً إِذَا صَلَّى﴾ آیت کې له بنده شخه مراد پیغمبرﷺ دی. له پیغمبرﷺ نه په دې او نورو آیتونوکې په (عبد) سره تعبیر او یادونه شوې ده چې دا له پیغمبرﷺ سره د الله تعالی د ځانګړې مینې ځرګندونه کوي. له مبارک آیت شخه دا مطلب هم تر لاسه کیږي چې الله تعالی سربیره پر دې چې پیغمبرﷺ ته یې نبوت ، منصب او لوړ مقام وربښلی او په دې ځانګړتیا سره یې د هغه مقام لوړ کړی دی، هغه ته یې د لمونځ آداب ورښودلي دي. که څه هم د لمونځ د اداکولو تفصیلي طریقه په بشپړه توګه په قرآن کریم کې نه ده راغلې، خود لمونځ د اداکولو طریقه د پیغمبرﷺ د سنتو په واسطه بیان شوې ده. له دې مطلب شخه دا امر په ډاګه کیږي چې الهي وحې یواځې هغه نه ده چې په قرآن کریم کې راغلې ده، بلکې د قرآن کریم له حدودو شخه بهر هم وحې شتون لري، چې هغه د

پټې (خفي) وحې په نامه یادیږي او له حدیث څخه عبارت ده.

بیا الله تعالی فرمايي: ﴿أَرَأَيْتَ إِنْ كَذَّبَ وَتَوَلَّى﴾: ای محمده! د دې کافر(ابوجهل) په اړه راته ووايه! د توحيد او الهي قدرت ښکاره او څلانده نښې او وحې چې پېغمبرﷺ ته راغلې، دروغ گڼي او پرهغه باندې له ایمان راوړلو څخه ځان ساتي. ایا په هغه عقل سره چې خدای تعالی هغه ته ورکړی دی، په دې نه پوهیږی چې الله تعالی د هغه ټول ناوړه اعمال ویني او د هغو جزا به ورکړي.

مفسرينو ويلي دي: سره له دې چې دا آيت د ابوجهل په هکله نازل شوی دی، خو وعيد يې ټولو هغوکسانو ته شامليږي، چې خلك د الله تعالی له اطاعت او لارې څخه منع کوي.

د سورت په وروستی برخه کې الله تعالی د دې سرغړوونکي انسان د برخليك په اړه فرمايي: هيڅکله داسې نده، که چېرې هغه له دې ناوړه کار څخه لاس وانخلي او له خپلي سرغړونې او کينې څخه وانه وړي، موږ يقيناً هغه د وچولي له ويښتو څخه نيسو چې مراد ورڅنې هماغه شخص خپله دی. بيا فرمايي: ﴿نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ﴾ يعنې: داسې وچولي سره چې هغه (څښتن يې) دروغجن او خطاكار دی. ځکه چې دا ياغي انسان په ناحقه او د لويي په اساس قصداً د جرم او گناه مرتکب کيږي.

په وروستي آيت کې قرآن کريم دې انسان ته خبرداری ورکوي چې خپل دوستان او ملاتړي راوغواړي، لکه څرنگه چې (ابوجهل) د دې خبرې مدعي و، چې زه په مکه کې يواځنی کس يم، چې نسبت نوروته د ارگاه بارگاه او د لويو غونډو څښتن يم او ډېر دوستان او ياران لرم چې هغوی را غواړم، يعنې په خپله کورنی، خپلوانو، قوم او دوستانو وياړي او د هغوی په قوت فخر کوي. د قرآن کريم دغه خطاب ابوجهل او د هغه يارانو ته سخت وعيد دی.

بيا الله تعالی له سختې رټنې سره فرمايي: موږ به ډېر ژر د عذاب پرښته د(خپل پېغمبرﷺ د مرستې لپاره) راوغواړو، چې دا سخت گيري اوغښتلې پرښتې دي، چې ابو جهل او د هغه ياران به په سختۍ د اور لورته راکاږي او په هغه کې به يې اچوي.

﴿كَلَّا﴾ په وروستي آيت کې د زجر اورټنې لپاره راغلی دی، ترڅو ابوجهل د هغو ناوړو عملونو له امله چې سرته يې رسولي دي، ورټي. له دې امله الله تعالی فرمايلي دي: هيڅکله داسې نه ده چې هغه يې گڼي. د هغه خبره مه منه! او خپله اړيکه له هغه سره پرې کړه او خپل پالونکي ته سجده وکړه. ترڅو د دې کفارو زړونه ولړزيږي او خپل ځان الله تعالی ته په اطاعت او پيروۍ سره نژدې کړه تر څو د تل لپاره مطمئن او هوسا شې.

**فعاليت**

زده کوونکي دې د ابوجهل د سرغړونو او د پېغمبرﷺ په مقابل کې د هغه د ناوړوکړنو په اړه خپل نظر څرگند کړي.

## د لوست ګټې

پورتنی لوست یو شمېر ګټې او لارښوونې لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

- د دې بیان چې که د انسان فطرت په ایمان او تقوا سره تهذیب ونه مومي، نو هرومرو به دبدی، عناد او سرغړونې لور ته ځي، لکه څرنګه چې ابوجهل د داسې سرغړونې او تمرد سره دې حد ته ورسېد چې پیغمبرﷺ به یې د لمونځ له اداکولو او د خپل پالونکي له عبادت څخه منع کاوه.
- الله تعالی دخپلو پرښتو په واسطه په مسجد الحرام کې د خپل پیغمبرﷺ مرسته وکړه.
- د الله تعالی وعید او تهدید د هغو سرغړونکو اومتکبرو انسانانو لپاره چې د الله تعالی له لارې څخه د خلکو په منع کولو سره د الله تعالی مقابلې ته راوځي. دا پداسې حال کې چې الله تعالی د دوی په تباهی، ټکولو او له منځه وړلو په بشپړ ډول قادر او توانا دی.
- که چېرې کفار او سرغړوونکي د خپلو دوستانو او یارانو په لرلو مغروره وي، خدای تعالی به هغوی ټول تباه او برباد کړي.
- د کفارو خبره منل ناروا ده، الله تعالی ته سجده کول هغه ته د تقرب او نژدې والي غوره وسیله ګڼل کیږی.

### پوښتنې؟

۱- لاندې کلمې او جملې وژباړئ:

{الَّذِي يَنْهَى - إِذَا صَلَّى - كَذَّبَ وَتَوَلَّى - لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ - فَلْيَدْعُ نَادِيَه- الزَّبَانِيَةَ - وَاقْتَرِبْ}.

۲- د العلق سورت د ﴿أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى . عَبْدًا إِذَا صَلَّى﴾ د مبارکو آیتونو شان نزول په لنډ ډول بیان کړئ.

۳- الله تعالی د دې سورت په مبارکو آیتونو کې ابوجهل په کوم ډول عذاب تهدید کړی دی؟

٤- د سورت په وروستي آیت کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته د تقرب وسیله په څه شي کې ښودلې ده؟

### کورنی دنده

په دې سورت کې د ﴿أَرَأَيْتَ﴾ کلمه درې ځلې یاده شوې ده، د هغې مخاطب څوک دی؟ په درې واړو ځایونو کې څه مطلب افاده کوي؟ په خپلو کتابچوکې یې ولیکئ.

# د القدر سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ﴿١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ﴿٢﴾ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴿٣﴾
تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ ﴿٤﴾ سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿٥﴾ ﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {لَيْلَةِ الْقَدْرِ} | د قدر شپه . |
| {أَلْفِ شَهْرٍ} | زرمیاشتې. |
| {الرُّوحُ} | جبرائیل عليه السلام. |
| {مَطْلَعِ الْفَجْرِ} | سهار راختل. |

## ژباړه

موږ (قرآن) د قدر په شپه کې نازل کړ. او ته څه پوهیږې. چې د قدر شپه څه ده؟ د قدر شپه له زرو میاشتو څخه غوره ده. په دې شپه کې پرښتې او روح (جبرئیل عليه السلام) د خپل رب په اجازه هرحکم اخلي او راښکته کیږي. هغه شپه له سره تر پایه سلامتیا ده تر سهار ختلو پورې.

## د سورت پېژندنه

د القدر سورت مکي دی، (٥) آیتونه لري او د عثماني مصحف سره سم په (٩٧) ردیف کې ځای لري.
دا مبارک سورت د (القدر) د کلمې د تکرار او د دې سورت د لوړ مقام او منزلت له امله د (القدر) په نامه نومول شوی دي. د دی سورت موضوع د قرآن کریم د نزول پیل، نسبت نورو شپو او میاشتوته د قدر د شپې فضیلت او منزلت او په دې شپه کې ترسهاره د الهي پرښتو د راکوزیدلو بیان دی.

## له مخکيني سورت سره يې تړاو

د (العلق) په سورت کې الله تعالی خپل پېغمبرﷺ ته وفرمايل چې د الله تعالی د نوم په يادولو سره د قرآن کريم په لوستلو پيل وکړي او په هغه کې د الهي وحې د لومړنيو آيتونو يادونه شوې وه، په دې سورت کې د قرآن د نزول د وخت خبره منځ ته راغلې، چې د قدر له شپې څخه عبارت ده. په هغې کې د قرآن کريم د نزول او د هغه له عظمت او منزلت څخه يادونه شوې ده.

په دې شپه کې د قرآن کريم له نازليدلو څخه موخه دا ده، چې د قرآن کريم نزول په دې شپه کې پيل شوی دی. خو د قرآن نزول درويشت کاله وخت واخيست، او يا له هغه څخه مراد، د وحې د نزول پيل دی، چې د قدر په شپه کې رامنځ ته شو او يا له هغه څخه موخه دا ده چې قرآن په دې شپه کې له لوح محفوظ نه د نړۍ اسمان ته را ښکته شوی دی او يا د وحې پرښتې ته سپارل شوی دی او دا مطلب ابن عباس (رضي الله عنهما) بيان کړی دی.

## اجمالي تفسير

الله تعالی په دې سورت کې د قرآن کريم د نزول وخت او ورسره يې د قدر د شپې عزت او عظمت بيان کړی دی چې د نورو ټولو شپو او ورځو په پرتله له ځانګړې مرتبې او فضيلت څخه برخمنه ده.

په لومړني آيت کې د قرآن کريم د نازليدلو وخت د قدر شپه ښودل شوې ده، د (البقره) په سورت کې راغلي دي: ﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيَ أُنزِلَ فِيهِ الْقُرآنُ﴾ (البقرة: ١٨٥)، يعنې: د روژې مياشت هغه مياشت ده، چې په هغې کې قرآن نازل شوی دی. په دې آيت کې د روژې ټوله مياشت د قرآن د نزول مياشت ښودل شوې ده، نو مفهوم يې دا دی، کله چې په لومړي پړاوکې الهي پرښتې پېغمبرﷺ ته د حرا په غارکې وحې راوړه نو دا وخت د روژې مياشت او د قدر شپه وه، چې دا شپه د (الدخان) په سورت کې د مبارکې شپې په نامه ياده شوې ده. لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي دي: ﴿إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ﴾ (الدخان: ٣)، يعنې: موږ قرآن په مبارکه شپه کې نازل کړی دی. نو د قرآن نزول د قدر په شپه کې پيل شوی دی. او له هغه څخه وروسته د درويشتو کلونو په ترڅ کې په مختلفو ځايونوکې، پېغمبر ﷺ باندې نازل شوی دی.

په ورپسې آيتونوکې الله جل جلاله د قدر د شپې درجه او منزلت بيانوي او فرمايي: او ته څه خبر وېوهولې چې

د قدر شپه څه ده؟

دا استفهام د قدر د شپې د عزت او منزلت د څرګندولو په غرض کارول شوی دی، له همدې امله یې دا شپه د قدر او منزلت شپه ګڼلې ده، دا له دې امله چې الله تعالی ټول هغه کارونه، چې باید د یوکال په ترڅ کې سرته ورسیږي، په دې شپه کې فیصله کوي. الله تعالی په یو بل ځای کې فرمایلي دي ﴿فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ﴾ (الدخان: ٤)، یعنې: په دې شپه کې هرکار په غور او ټینګښت سره جلا کېږي. دقدر د شپې مقام او منزلت په حقیقت کې له دې امله دی چې په دې شپه کې عبادت کول د نورو شپو له عبادت څخه غوره او لوړ دی. لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:﴿لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ﴾، یعنې: د قدر شپه له زرو میاشتو څخه غوره ده. په یوه حدیث کې چې صحیحینو روایت کړی دی. رسول اللهﷺ فرمایلي دي: «مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»: هغه څوک چې د قدر په شپه کې د ایمانداری او د ثواب غوښتنې لپاره عبادت وکړي، تېرګنا هونه یې ببښل کیږي.

﴿تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ﴾ د قدر د شپې قدر او منزلت دا هم دی چې پرښتې او جبرئیل‌ علیه السلام په دغه شپه کې د اسمان او ځمکې ترمنځ داسې صفونه تړلي وي چې ټولې ځنډې یې نیولي وي، دوی په دې شپه کې د هر هغه امر او حکم د پرځای کولو لپاره چې د الله تعالی له لوري فیصله شي، راښکته کیږي.

د قدر د شپې په اړه چې څه وخت را رسیږي، امام احمد په خپل مسند کې د عباده بن صامت څخه روایت کړی دی، چې پیغمبرﷺ فرمایلي دي: د قدر شپه د روژې د میاشتې په وروستۍ لسیزه کې ده. څوک چې په دغه شپه کې د ثواب میندلو په موخه راپاڅیږي او عبادت وکړي هغه ګناوې چې پخوا له ده څخه شوې وي، ببښل کیږي. ابن عباس وېلي دي: رسول اللهﷺ فرمایلي دي: د قدر شپه د روژې د میاشتې په وروستۍ لسیزه کې ولټوئ، کله چې د روژې نهه ورځې یا اوه ورځې او یا هم پنځه ورځې پاتې وي.

عالمانو د پیغمبرﷺ دا وینا داسې تعبیر کړې ده، چې له دې څخه مراد تاق شپې دي. او په بل روایت کې راغلي دي: په لسو وروستیو تاقو شپوکې هغه ولټوئ

## د لوست گټې

پورتنی لوست یو شمېر گټې او لارښوونې لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

• خدای تعالی د بندگانو له منځه پېغمبران غوره کړي دي، په ځایونو کې یې مکه مکرمه غوره کړېده او د وختونو له منځه یې د قدر شپه چې د روژې په میاشت کې ده غوره کړې.

• په دې مبارك سورت کې د قضا او قدر عقیده ثابته شوې ده.

• د قدر د شپې عظمت او منزلت، چې قرآن کریم په هغې کې نازل شوی، یواځې الله ﷻ ته څرگند دی.

• د قدر شپه له پېل څخه تر پایه له برکت او عظمت څخه ډکه ده. او په دې شپه کې الله تعالی مؤمنان دخپل رحمت، مغفرت او سلامتی ورگرځوي.

## پوښتنې

۱- لاندې کلمې او جملې وژباړئ:

{لَيْلَةِ الْقَدْرِ - أَلْفِ شَهْرٍ - الرُّوحُ - مَطْلَعِ الْفَجْرِ}

۲- د قدر سورت ته ولې د قدر سورت وایي؟ او دې شپې ته ولې دا ټول فضیلتونه ورکړل شوي دي؟

۳- د قدر د شپې لټه دنبوي احادیثو سره سم توضیح کړئ.

## کورنۍ دنده

د قدر د شپې او د روژې د فضیلت په هکله یوه مقاله ولیکئ چې له اتوکرښو څخه کمه نه وي.

# د البینة سورت

(لومړۍ برخه)

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ مُنْفَكِّينَ حَتَّى تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ﴿١﴾ رَسُولٌ مِنَ
اللَّهِ يَتْلُو صُحُفًا مُطَهَّرَةً﴿٢﴾ فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ﴿٣﴾ وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا
جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ﴿٤﴾ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا
الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ﴿٥﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{ أَهْلِ الْكِتَابِ } مراد ورڅخني يهود او نصارا دي.

{ الْمُشْرِكِينَ } له الله نه پرته دنورو شیانو عبادت کوونکي.

{ مُنْفَكِّينَ } راګرځېدونکي، جلاکېدونکي، بېلېدونکي.

{ الْبَيِّنَةُ } حجت، څرګند دلیل.

{ صُحُفًا مُطَهَّرَةً } له باطل څخه پاکي او سپڅلي صحيفي (د قرآن کريم اجزاوو او برخو، لکه سورتونو ته صحيفي ويل کيږي).

{ فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ } يعني په هغو صحيفوکي سم او محکم الهی احکام ليکل شوي دي.

{ حُنَفَاءَ } (له ټولو غلطو اديانو څخه د اسلام سپڅلي دين ته) ميلان کوونکي.

{ دِينُ الْقَيِّمَةِ } سم او صحيح دين.

## ژباړه

له اهل کتابو او مشرکانو څخه چې کوم خلک کافر وو (هغوی له خپل کفر څخه) راګرځېدونکي نه وو، ترڅو چې هغوی ته څرګند دليل رانه شي. (يعني) د الله له لوري يو رسول چې سپېڅلي صحيفي لولي . چې په هغو کې د احکامو سمې ليکنې شوي دي.

کومو پخوانيو خلکوته چې کتاب ورکړې شوی و په هغو کې بېلتون رامنځ ته نشو، مګر وروسته له هغه چې هغوی ته (د سمې لارې) څرګند بيان راغی.

او امر نه و شوی هغوی ته مګر دا چې هغوی د الله تعالی بندګي له خلوص سره په داسې ډول وکړي چې خپل

دین د هغه د لارښوونو په رڼاکې سنبال کړي، د حق پالنې په لور مایل او لمونځ قایم کړي او زکات ورکړي او همدا ډېر غوره او روغ دین دی.

### د سورت پېژندنه

سورة البنية مدني سورت دی، (۸) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې (۹۸) سورت دی. د دې سورت نوم د آیت له لومړني لفظ څخه اخیستل شوی دی او له دریو مهمو شیانو څخه بحث کوي چې په لاندې ډول ورته اشاره کیږي:

۱- اهل کتاب (یهود ، نصارا) او مشرکین د هدایت غوښتونکي وو، خو د هدایت او لارښوونې له راتگ وروسته يې کفر غوره کړ، په ځانگړې توگه اهل کتابو دا کړنې ترسره کړې.

۲- دا چې د دین بنسټیزه موخه په اخلاص سره د الله تعالی عبادت، د لمانځه اداء کول او د زکات ورکول دي او اهل کتابو ته په همدې امر شوی و، خو هغوی پرې عمل ونه کړ.

۳- د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) په دین او کتاب باندې د مؤمنو او کافرو د برخلیك او پایلو بیان.

### د سورت فضلیت او غوره والی

امام احمد، بخاري، مسلم، ترمذي او نسایي د انس بن مالك (رضي الله عنه) څخه روایت کړی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ابی بن کعب (رضي الله عنه) ته وفرمایل: الله ماته امر کړی چې ﴿لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ....﴾ سورت تاته ولولم. اُبی وویل: په ځانگړې او ټاکلې توگه يې زما نوم درته یاد کړی دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:هو. همغه و چې حضرت اُبی په ژړا شو.

### اجمالي تفسیر

د سورت پیل په دې شوی دی چې د اهل کتابو (یهودو او نصاراو) او مشرکانو کافر کېدل پر الله او رسول يې د کفري عقیدې د میراث په توگه ترهغه پورې دوام درلود او دوی له هغې عقیدې څخه راگرځېدونکي نه وو، ترڅو چې دوی ته څرگند او روښانه دلیل نه وای راغلی، چې هغه د رسول او اسماني کتاب له رالیږلو نه عبارت و.

یهودیان د اسلام د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) له بعثت څخه مخکې د یوه داسې پیغمبر راتلو ته سترگې په لار وو او د عربو مشرکان به يې د ده له راتگه ویرول او هغوی ته به يې ویل چې که دا پیغمبر را ولیږل شي نو موږ به په ده ایمان راوړو او د ده په ملاتړ به د عربو مشرکینو سره جنگیږو، خو کله چې پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) راولیږل شو او قرآن پرې نازل شو اوداسې لارښوونې يې له ځانه سره راوړې چې د پخوانیو کتابونو (تورات او انجیل) سره يې سمون درلود، نودوی ترې انکار وکړ اود اسلام د پیغمبر له پیغمبرۍ او نبوت څخه يې په دې

دليل چې دی د عربو له تېر څخه راليږل شوی دی، سرغړونه وکړه.

﴿رَسُولٌ مِنَ اللَّهِ ......﴾ د دې سورت دويم او دريم آيت دا څرګندوي چې د پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) راليږل د الله تعالی له لوري څخه دي کوم چې د ټولې انساني نړۍ لپاره خير، برکت او رحمت دی او آسماني صحيفې يې چې له قرآن کريم او د هغه له سورتونو څخه عبارت دي د خلکو لپاره راوړل په داسې حال کې چې دا کتاب له باطلو، دروغو، شبهاتو، کفر او تحريف څخه سپېڅلی او پاک دی، بلکې حق په روښانه توګه بيانوي او باطل خلکو ته څرګندوي.

﴿وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ.........﴾ دا آيت راښيي چې د دې دليل او حجت له راتګه وروسته، سره له دې چې له اهل کتابو څخه د ايمان راوړو هيله کيده خو دوی اختلاف او دښمني غوره کړه او پرته له کم شمېر خلکو نورو يې ايمان رانه ووړ. د دې مبارک سورت لومړنی آيت دې ته اشاره کوي چې يهود، نصارا او مشرکين دېته سترګې په لار وو، خو يو بشپړ دليل منځ ته راشي، همغه و چې دويم آيت د دې دليل موخه څرګنده کړه چې هغه د رسول راتګ او د کتاب راوړنه وه. دريم آيت د کتاب په ستاينه کې راغی، خو دا آيت پايله بيانوي چې د دليل له راتګ وروسته ډېرو اهل کتابو اختلاف پيل کړ چې تر نن ورځې پورې دوی د محمد (صلی الله عليه وسلم) درښتيني رسالت سره د مخالفت لاره خپله کړې ده.

بيا الله تعالی اهل کتاب په دې آيت سره غنـــدي چې فـــرمايي: ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ........﴾ يعنې: اهل کتابو ته که هغه يهود دي او که نصارا، امر نه و شوی مګر دا چې هغوی د الله تعالی عبادت او بندګي په داسې ډول وکړي چې همده ته اخلاص کوونکي، د حق دين په لوري ميلان کوونکي واوسي او دا چې لمونځ اداء کړي او زکات ورکړي، يعنې يهودو او نصاراوو ته په تورات او انجيل کې امر شوی و چې د حنيف دين پيروي وکړي، نو په دې آيت کې پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) ته تسليت او ډاډينه ده، يعنې: ای پيغمبره! د دين له منلو څخه د دوی سرغړونه او کوم اختلاف چې دوی يې په خپلو منځونوکې لري، نه ښايي چې تا خواشينی او غمجن کړي؛ اوڅرنګه چې د دوی دا دريځ د هغه حجت او دليل پر تقصير بنا نه دی کوم چې ته يې وړاندې کوې، بلکې دا د دوی د دښمنۍ او سرغړونې پايله ده نو دا دريځ د دوی پخوانی عادت دی چې د پلرونو او نيکونو څخه ورته پاتې دی لکه څرنګه چې د دوی پلرونو او نيکونو په داسې حال کې د خوسي عبادت ته مخه کړې وه، چې پيغمبر يې په څنګ کې موجود وو. د آيت په پای کې اشاره ده چې اسلام د ژوندانه لپاره يو صحيح دين او غوره کړنلاره ده.

## د لوست ګټې

پورتنی لوست ډېرې ګټې او لارښوونې لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

• د اسلام له سپېڅلي دين څخه د مخکينيو او له هغه سره د معاصرو اديانو د انحراف بيان او له شرک اوبت پرستي سره د يهوديت او نصرانيت همغږي .

• د الله له لوري د پيغمبرﷺ راتلو ته د خلکو او په ځانګړې توګه د اهل کتابو منتظر پاتې کېدل.

• د روښان او څرګند دليل له راتلو وروسته د ډېرو اهل کتابو د اختلاف اودښمنۍ څرګندېدل.

• د هغوکسانو د کړنو او اعمالو غندنه چې په اسمانی کتابونو کې ورته په اخلاص سره د الله د عبادت، لمانځه اداء کولو، زکات ورکولو او له هر ډول شرک څخه د ځان ژغورلو امر شوی و، خو دوی په هغه څه چې اسلام ورته راوړي وو، عمل ونکړ.

• د الله د پيغمبرﷺ د لوړ مقام ثبوت، ځکه چې هغه د الله حجت او د رښتيني کتاب راوړونکی معرفي شوی دی.

• دا بيانول چې حق ملت اورښتينی دين هغه دی چې د توحيد او مخلصانه عبادت پربنسټ ولاړ وي.

### فعاليت

زده کوونکي دې د خپل ښوونکي په مرسته د هغو څيزونو په هکله له يو بل سره بحث اوخبرې وکړي کوم چې يهوديان او نصرانيان په خپلو آسماني کتابونو کې پرې مامور شوي وو او بيا هغوی څه وکړل؟

### پوښتنې

۱. لاندې کلمې وژباړئ:

{منفکين} {مطهرة} {قيمة} {البينة} {حنفاء}.

۲. د البينة سورت له بنسټيزو موضوعاتو څخه يوه موضوع بيان کړئ.

۳. د اهل کتابو د اختلاف غوره کولو لامل څه و؟

### کورنۍ دنده

د (البينة) سورت د لارښوونو په هکله پنځه کرښې معلومات وليکئ.

# د البینة سورت

(دویمه برخه)

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أُولَئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ﴿٦﴾
إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ﴿٧﴾ جَزَاؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي
مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ﴿٨﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{شَرُّ الْبَرِيَّةِ} تر ټولو مخلوقاتو ناوړه خلک.

{جَنَّاتُ عَدْنٍ} تل پاتې او همیشني باغونه.

{خَيْرُ الْبَرِيَّةِ} تر ټولو مخلوقاتو غوره خلک.

{خَشِيَ} ویره یې کړې وي، ډاریدلی وي.

## ژباړه

له اهل کتابو او مشرکانو څخه چې کوم خلک کافر شوي دي، هغوی به ارومرو د دوزخ اورته لاړشي اود تل لپاره به پکې اوسیږي، دا خلک تر ټولو مخلوقاتو ډېر بد دي. کومو خلکو چې ایمان راوړی او ښه عملونه یې کړي دي، هغوی په رښتیا سره تر ټولو خلکو ډېر غوره دي. د هغوی بدله د دوی د رب په وړاندې په همیشنیو جنتونو کې اوسېدل دي چې د هغو لاندې به ویالې بهیږي، په هغوکې به د تل لپاره ژوند کوي، الله تعالی له هغوی نه راضي شوی او هغوی له الله نه راضي شوي دي، دا ټول د هغه چا لپاره دي چې هغه له خپل رب نه ویره کړې وي.

## اجمالي تفسیر

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ اهْلِ الْكِتَابِ.....﴾ په دې مبارکو آیتونو کې د کافرانو او نیکو بندګانو لپاره بدله بیان شوې ده چې له دې دوو ډلو څخه به هر یو له ځانګړې برخلیک سره مخامخ شي، نو ځکه الله تعالی فرمایي: پرته له شکه د اهل کتابو او مشرکانو څخه هر څوک چې د کفر لاره غوره کړې اود الله تعالی له لارښوونو څخه چې په آسماني کتابونوکې راغلي دي مخالفت وکړي، نو بدله به یې د دوزخ اور وي چې د همیش لپاره به پکې سوځیږي او دا خلک به تر ټولو ډېر ناوړه خلک وي، ځکه چې دوی حق پرېښود او دکینې، رخې او دښمنۍ له مخې یې په پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) باندې ایمان رانه وړ، نو دا سپکاوی او دا سزا دوی په خپله ځان ته غوره کړې ده او په خپله خوښه یې له روښانو او څرګندو دلایلو وروسته حق ته شاکړه او د زړه له کومې په کفر، شرک او باطل راضي شول.

﴿إِنَّ الَّذِينَ أَمَنُوا وَعَمِلُوا...﴾ خو هغوکسانو چې هغوی ایمان راوړ او ښایسته عملونه یې تر سره کړل یعنې په خپل زړه کې یې د توحید عقیدې ته ځای ورکړ او په خپلو غړو یې ښه کارونه وکړل د داسې خلکو بدله هماغه تل پاتې باغونه دي چې تر ونو لاندې یې ویالې بهیږي او د تل لپاره به هلته نه مرګ راځي اونه به څه کړاو او رنځ ومومي، بلکې الله تعالی د دوی کړنې په خپل دربار کې قبلوي او په پایله کې به له دوی څخه راضي وي او دوی به له الله څخه

راضي اوسي.

داسې خلک د الله له غوره مخلوقاتو څخه ګڼل کیږي، څکه دوی پرته له ځنډه حق قبول کړ اود حق په وړاندې یې کبر او لویي غوره نه کړه، بلکې ټولې هلې ځلې یې په کار واچولې، تر څو خپل ژوند له هغه سره برابرکړي. په دې مبارک آیت سره حضرت ابو هریره (رضي الله عنه) او ډېرو علماوو استدلال کړی چې د نېکو مؤمنانو مرتبه له پرښتو څخه لوړه ده.

**فعالیت**

څرنګه کولای شو الله تعالی له ځانه راضي کړو او له بنده څخه د الله د رضا کېدو پایله څه ده؟ زده کوونکي دې په دې هکله له یو بل سره بحث او خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې مبارک سورت دویمه برخه ډېرې ګټې او لارښوونې لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

- د هغه چا د ځای او برخلیک بیان چې کفر یې پراسلام غوره کړی، یعني د هغه ځای د تل لپاره د دوزخ اور دی.
- د الله په وړاندې تر ټولو ناوړه خلک کافران او مشرکان دي.
- د هغه چا د ځای او مقام بیان چې اسلام یې منلی اود هغه په احکامو یې عمل کړی، یعنې، د تل لپاره د جنت باغونه اود الله رضا.
- د الله په ټولو مخلوقاتو کې غوره خلک د الله رښتیني مؤمنان دي.
- له الله څخه د ویرې غوره والی، البته هغه ویره چې انسان د نبوي سننو مطابق د الهی امرونو پیروی ته هڅوي.

**پوښتنې؟**

۱. لاندې عبارتونه وژباړئ:

{شر البرية} {خير البرية} {جنت عدن} {ورضوا عنه} {خشي ربه}.

۲. ولې د کافرانو استوګنځی د دوزخ اور ټاکل شوی او دوی د الله په وړاندې رټل شوي او منفور دي؟

۳. په کوم دلیل مؤمنان د الله د غوره خلکو په څېر پیژندل شوي دي؟

٤. دا جمله ﴿رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ﴾ تفسیر کړئ.

۵. د دې لوست له ګټو او پندونو څخه درې ګټې بیان کړئ.

**کورنۍ دنده**

د ایمان او کفر د پایلو په هکله چې د البینه سورت په دویمه برخه کې بیان شوي دي، څو کرښې ولیکئ.

# د الزلزال سورت

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا﴿١﴾وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا﴿٢﴾ وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا﴿٣﴾يَوْمَئِذٍ
تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴿٤﴾ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا﴿٥﴾ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ﴿٦﴾ فَمَنْ
يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ﴿٧﴾وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ﴿٨﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{زُلْزِلَتِ} وخوځوله شي.

{أَثْقَالَهَا} خپل درانه شیان او پټ بارونه (خزاني او مړي).

{مَا لَهَا} څه دي ځمکې لره (یعني انسان به تعجب وکړي چې په دې ځمکه څه شوي دي )

{تُحَدِّثُ} بیانوي.

{أَخْبَارَهَا} خپل حالات (کوم خیر او شر چې په هغې کې پېښ شوی دی).

{أَوْحَى لَهَا} امر یې کړی دی، دې ځمکې ته.

{يَصْدُرُ النَّاسُ} وبه ګرځي، وبه وځي خلک.

{أَشْتَاتًا} جلا جلا، ډله ډله.

{مِثْقَالَ ذَرَّةٍ} په وزن دیوې ذرې (ذره واړه میرتون ته هم ویل کیږي).

## ژباړه

کله چې ځمکه په خپل ټول قوت سره وخوځوله شي. اوخپل ټول درانه شیان(پیټي) راوباسي او د باندې یې وغورځوي. او انسان ووایي چې په دې(ځمکه) څه شوي دي؟ په هغې ورځ به هغه خپل (مخ باندې تېر شوي) حالات بیان کړي. ځکه چې ستا رب به ورته (د داسې کولو) حکم کړی وي. په هغې ورځ به خلک ډلې ډلې کړای شي، ترڅو هغو ته د هغوی عملونه وښودل شي. نو څوک چې یوه ذره نېکي وکړي وبه یې ګوري (د هغه پایله). او څوک چې یوه ذره بدي وکړي وبه یې ګوري (د هغه پایله).

### د سورت پیژندنه

د زلزال سورت مدني سورت دی، (٨) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې (٩٩) سورت دی، دغه سورت د زلزله یا زلزال په نامه څکه نومول شوی چې په هغه کې د لویې زلزلې د پېښیدو بیان راغلی دی چې د هغې په رامنځ ته کیدو سره به د کایناتو او موجوداتو نظام له منځه ځي، د قیامت ورځ به پیل کیږي او د ښو او بدو جزا او پایله به څرګندیږي.

### د دې سورت غوره والی

په هغه حدیث شریف کې چې ترمذي له حضرت انس بن مالك (رضي الله عنه) څخه روایت کړی، راغلي دي چې د الله رسول (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: د زلزال سورت د قرآن کریم د څلورمې برخې (ربعې) په اندازه فضیلت او ارزښت لري.

### اجمالي تفسیر

الله جل جلاله فرمایي: ﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا....﴾: کله چې ځمکه په خپل تل کې سخت ټکان وخوري او په خپل ټول قوت وخوځیږي. له ځمکې څخه مراد د ځمکې ټوله کُره ده او د «زلزالها» لفظ د ځمکې د سختې خوځیدنې بیانوونکی دی. او کله چې ځمکه د همدې ټکان خوړلو په وجه خپل داخلي بارونه راوباسي او بې باوره انسان به د حیرانی په حالت کې چغې کړي چې په دې ځمکې باندې څه شوي دي او څه حال یې پیل کړی دی، په دغه وخت کې به ځمکه د لایزال الله په قدرت په خبرو راشي اود بشریت په ګردو کړنو به ګواهي ورکړي. ځینې مفسرین له دې زلزلې څخه د ځمکې لومړنۍ زلزله مرادوي چې په هغې سره د قیامت لومړنی پړاو پیل کیږي او ځینې نور ورڅخه دویمه زلزله چې په هغې سره ځمکه د خپلې خیټې مړي بهر ته راغورځوي او د محشر میدان ته یې استوي، مراد کړې ده. او دا دویم تفسیر چې وروستني آیتونه پرې دلالت کوي راجح او صحیح په نظر راځي.

د دې مبارك سورت آیتونه څو مطلبونه په ځان کې رانغاړي، یو دا چې ځمکه ټول هغه انسانان (له حضرت آدم (علیه السلام) څخه نیولی د بشر تر وروستني وګړي پورې) چې په خپله خېټه کې یې ساتلي ټول بهر ته راباسي، وراسته شوي هډوکي له یوبل سره نښلول کیږي او خپله اصلي بڼه چې مخکې یې درلوده بیا مومي.

دویم مطلب دا چې د بندګانو ټول کړه وړه کوم چې په دنیا کې یې په مختلفو حالاتوکې درلودل، کومې خبرې یې چې کړې دي، کوم کارونه یې چې ترسره کړي، د هغوی ناسته او ولاړه، ویښه او خوبونه او نیکۍ او بدۍ، چې پېړۍ پېړۍ پرې تېرې شوې دي، ځمکه یې یوه یوه څرګندوي او له هغه څخه خبر ورکوي. دریم مطلب دا دی چې ځمکه هغه زېرمې چې په خپله خېټه کې یې لري، لکه: سره زر، سپین زر، ډول ډول جواهرات او کانونه چې پېړۍ پېړۍ یې په خپل ځان کې ساتلې دي بهر ته راغورځوي.

او څلورم مطلب دا دی چې د زلزلې له را منځ ته کېدو او د خلکو له دوهم ځلې پیداکېدو او د ځمکې له ګواهۍ ورکولو وروسته د الله د عدل تله قایمېږي او له انسان سره د ذره ذره اعمالو په هکله حساب او کتاب کیږي.

د نورو آیتونو او احادیثو په رڼا کې مفسرین او علماء فرمايي: کېدای شي چې کافر د خپل نېک عمل ثواب او بدله په همدې دنیا کې ومومي لکه څرنګه چې فرعون، نمرود او نورو کفارو دنیوي خوندونه او سوکالۍ ولیدلې خو په آخرت کې به له نعمتونو څخه بې برخې وي.

د ځمکې له ګواهۍ نه مطلب دا دی چې ځمکه ټولې هغه پېښې چې پرې ترسره شوې دي، بیانوي. د پخوانیو خلکو لپاره د دې ادراک سخت وو، خو د نننۍ زمانې د ټیکنالوژۍ پرمختګ د دې مطلب قبلول د انسان لپاره آسان ګرځولی.

**فعالیت**

داچې قرآن کریم د قیامت د ورځې پېښې او په هغه ورځ کې یې د نیکو او بدو خلکو د کړنو پایلې څرنګه انځور کړې دي، زده کوونکي دې دا موضوع په خپلو کې تربحث او څېړنې لاندې ونیسي.

## د لوست ګټې

د دې لوست په مبارکو آیتونو کې یو شمېر لارښوونې او پندونه شتون لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

- د بعث او جزا د عقیدې ثبوت.
- له هغه عجیب بدلون څخه خبرتیا چې په ځمکه کې رامنځ ته کیږي.
- د قیامت د لویو نښو او علامو څخه د یوې نښې بیان.

• د دې خبرې اثبات چې جمادات هم د الله تعالی په قدرت د قیامت په ورځ د خبرو کولو طاقت پیداکوي.

• د نېکو اعمالو تر سره کولو ته د بندګانو هڅونه او ترغیب که څه هم دغه نېک کار د خلکو په نظر کې ډېر لږ هم وي.

## پوښتنې؟

۱. لاندې کلمې وژباړئ:

**{أثقالها} {ما لها} {تحدث} {أوحى لها} {أشتاتا}**

۲. د «الزلزال» سورت موضوع بیان کړئ.

۳. دا مبارک آیت: ﴿وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا﴾ تشریح کړئ.

٤. څرنګه ممکنه ده چې ځمکه په خبرو راشي؟

۵. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دې سورت د فضیلت په هکله څه فرمایلي دي؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د (الزلزال) سورت د مهمو موضوعاتو په هکله خوکرښې ولیکي.

# د العاديات سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا﴿١﴾ فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا﴿٢﴾ فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا﴿٣﴾ فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا﴿٤﴾ فَوَسَطْنَ بِهِ
جَمْعًا﴿٥﴾ إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ﴿٦﴾ وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ﴿٧﴾ وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ﴿٨﴾ أَفَلَا
يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ﴿٩﴾ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ﴿١٠﴾ إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ﴿١٠﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{الْعَادِيَاتِ} تيز ځغلېدونکي آسونه.

{ضَبْحًا} سا اخيستونکي (د آس د ځغليدو پر مهال د هغه د سينې غږ ته ويل کيږي).

{الْمُورِيَاتِ} د سپرغۍ او د اور د بخرو غورځوونکي آسونه.

{قَدْحًا} په خپلو سومونو سره تيږې وهونکي.

{الْمُغِيرَاتِ} يرغل ورونکي آسونه .

{صُبْحًا} د سهار پرمهال.

{نَقْعًا} گرد او دوړې.

{لَكَنُودٌ} ډېر ناشکره دی.

{الْخَيْرِ} مال او شتمني.

{بُعْثِرَ} چې را پورته کړل شي (ژوندي شي).

## ژباړه

قسم دی پر هغو آسونو چې په پر شنهار ځغلي. بيا په خپلو سومونو سره سپرغۍ الوزوي. بيا د سهار څرک (سپېده داغ) سره پر دښمن يرغل کوي. بيا په دې وخت کې دوړې او خړگرد راپورته کوي. بيا په همدې حالت کې د دښمن ټولۍ ته ځان ننباسي (د دښمن لښکر ته ننوځي). حقيقت دا دی چې انسان د خپل رب ډېر ناشکره

دی. او هغه په خپله په دې شاهد دی. او هغه د مال او شتمنۍ په مینه کې په ناوړه توګه اخته دی. نو آیا دا انسان نه پوهیږي چې کله له قبرونو څخه مړي را پورته کړای شي. او د زړونو ټول پټ رازونه راښکاره شي؟ بېشکه د هغوی رب په هغه ورځ له هغوی څخه ښه خبردی.

## د سورت پیژندنه

د (العادیات) سورت مکي دی، (۱۱) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې(۱۰۰) سورت دی.

په العادیات سره یې د نوموړو وجه دا ده چې په دې سورت کې په العادیات قسم یاد شوی دی. او العادیات د مجاهدینو تیز ځغلېدونکو آسونو ته ویل کیږي چې د الله په لاره کې رښتینی جهاد کوي چې د ځانګړي شرف او غوره والي لرونکي دي.

## اجمالي تفسیر

﴿وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا........﴾ د دې مبارک سورت په لومړي آیت کې الله (جل جلاله) په هغو آسونو قسم یادوي چې د جهاد په نیت د الله په لار کې په چابکۍ سره قدمونه اخلي، د منډو له ډېري ستړیا څخه یې له سینو څخه یو ډول غږونه  پورته کیږي او سا اخلي او پر تیږو باندې د دوی د سومونو د لګېدو له وجې ورځنې د اور سپرغۍ الوزي. دا آسونه د سهار څرک سره پر دښمن یرغل کوي چې له امله یې د جهاد له ډګره ګرد او دوړې پورته کیږي ان تردې چې د دښمن د لښکر په زړه کې داګرد او دوړې ننوځي او له دښمن لاره ورکوي او هغوی خواره واره کیږي.

که څه هم د (العادیات) د لفظ اطلاق په هر تیز ځغلېدونکي باندې کیږي او ځینو مفسرینو ورځنې ځغلېدونکي اوښان مراد کړي دي.خو ډېرو صحابه وو او د تابعینو یوې لویې ډلې ورځنې یوازې د مجاهدینو ځغلېدونکي آسونه مراد کړي دي.

د دې الهي قسمونو په پای کې له یو بل شي څخه یادونه کیږي چې قسم د هغه لپاره یاد شوی دی: ﴿إِنَّ الْإِنْسَانَ

﴿لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ﴾ پرته له شکه انسان د خپل پالونکي او د هغه د نعمتونو په وړاندې ناشکره دی، دلته د (انسان) لفظ عام ذکر شوی دی او دا مطلب څرګندوي چې مطلق انسان ناشکره دی. خو ډېر مفسرین په دې نظر دي چې دلته له انسان څخه مراد کافر انسان دی او د کافر انسان ناشکري دا ده چې د خپل پالونکي الله بندګي نه پرځای کوي او د هغه له حکم نه سرغړونه کوي.

﴿وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ﴾: او همدا انسان په خپله ناشکرۍ باندې ګواه دی، ځکه د سختیو په وخت کې الله یادوي او د سوکالۍ پر مهال یې هیروي. او له بله پلوه د باطلو معبودانو عبادت کوي حال داچې که له دوی څخه پوښتنه وشي چې د ځمکو او آسمانونو پیداکوونکی څوک دی، اعتراف کوي چې یوازې الله دی، له دې ګواهۍ څخه به څرګنده بل څه وي چې د الله پر خالقیت او رازقیت اعتراف کوي او سره له دې بیا هم د هغه عبادت نه کوي او یا په هغه کې غفلت او بې پروایي کوي.

(وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ) دا مبارك آیت د غفلت او ناشکرۍ یو بل لامل ته اشاره کوي چې هغه د دنیوي مال او پانګې په محبت کې افراط کول دي په داسې توګه چې ټول ناوړه کارونه، لکه: بخل، ظلم او فساد د همدې فاني دنیا لپاره ترسره کوي.

په پای کې الله تعالی د دوی د دې کار غندنه کوي او فرمايي: ﴿أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ . وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ . إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَخَبِيرٌ﴾: آیا انسان نه پوهیږي کله چې دوهم ځلې د قبرونو ښبتنان را ژوندي او را پورته شي او ټول هغه نیتونه او ارادې چې په سینو کې پټې کړای شوي دي، څرګندې شي، نو یقینا په دغه ورځ الله چې وروسته له مرګه د دوی ژوندی کوونکی دی د دوی په ټولو پټو او ښکاره وو اعمالو باندې ښه عالم او خبر دی نو هر چاته د هغه د کړنو سره سم بدله ورکوي.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د جهاد د غوره والي او په دې لار کې د پرمختللو وسایلو د کارولو په هکله له یو بل سره بحث اوخبرې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې سورت په مبارکو آيتونو کې يو شمېر لارښوونې او پندونه شتون لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

- جهاد ته د مسلمانانو هڅول او د دې عصر په مختلفو وسلو سره د هغه لپاره تياري نيول.
- د انسان د ناشکرۍ بيان، په ځانګړې توګه د کافر انسان.
- د دې خبرې څرګندول چې انسانان د مال له را ټولولو سره ډېره زياته مينه لري، پرته له هغو کسانو چې خپل ځانونه يې په ايمان او توکل سنبال کړي دي.
- وروسته له مرګه د بيا راژوندي کېدو ثبوت او په زړونو کې د پټو رازونو څرګندېدل.
- د الله د بشپړ او هر اړخيز علم ثبوت، چې پر ټولو څيزونو باخبره او عالم دی.

### پوښتنې؟

١. لاندې کلمې وژباړئ:

{الْعَادِيَاتِ} {الْمُورِيَاتِ} {الْمُغِيرَاتِ} {فَأثرن} {نَقْعًا} {لَكَنُودٌ}.

٢. په دې سورت کې الله تعالی په څه شي قسم ياد کړی دی؟

٣. له قسم څخه وروسته څه شی د قسم د ځواب په توګه ذکر شوی دی؟

٤. د ﴿وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ﴾ مبارک آيت تفسيرکړئ.

٥. د لوست له ګټو او لارښوونو څخه درې ګټې بيان کړئ.

### کورنۍ دنده

د (العاديات) سورت لنډيز په شپږو کرښو کې وليکئ.

# د القارعة سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿الْقَارِعَةُ﴿١﴾ مَا الْقَارِعَةُ﴿٢﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ﴿٣﴾ يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ﴿٤﴾
وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ﴿٥﴾ فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ﴿٦﴾ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ﴿٧﴾ وَأَمَّا
مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ﴿٨﴾ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ﴿٩﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ﴿١٠﴾ نَارٌ حَامِيَةٌ﴿١١﴾ ﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {الْقَارِعَةُ} | ټکوونکې (د قيامت له نومونو څخه يو نوم دی). |
| {كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ} | د خورو ورو پتنګانو غوندې. |
| {كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ} | د ډاندس شويو وړيو په څير. |
| {فِي عِيشَةٍ} | په ژوندانه کې. |
| {فَأُمُّهُ} | نو د اوسېدو ځای د ده. |
| {هَاوِيَةٌ} | ژوره کنده (د دوزخ نوم دی). |
| {نَارٌ حَامِيَةٌ} | ګرم او سوځوونکی اور. |

## ژباړه

هغه ستره ټکوونکې پېښه! څه ده هغه ستره ټکوونکې پېښه؟ ته څه پوهېږې چې هغه ستره ټکوونکې پېښه څه ده؟ هغه ورځ چې کله خلک د خورو ورو پتنګانو غوندې شي. او غرونه د رنګ په رنګ ډاندس شويو وړيو په شان شي. بیا چې د چا تله درنه وي. هغه به په خوښ ژوند کې وي. اود چاچې تله سپکه وي. د هغو استوګنځی به ژوره کنده وي. او ته څه خبر يې چې هغه څه شی دی؟ ګرم او لمبه وهونکی اور دی.

## د سورت پېژندنه

د (القارعة) سورت مکي دی، (۱۱) آيتونه لري د عثماني مصحف د ترتيب له مخې (۱۰۱) سورت دی. دا سورت د قيامت د هيبتناکو پېښو او د نېکو او بدو کارونو د وروستنی پايلې او بهير څخه بحث کوي. په (القارعة)

سره د نومولو وجه يې دا ده چې د دې سورت پيل د (القارعة) په لفظ سره شوی چې د قيامت له نومونو څخه يو نوم دی.

## اجمالي تفسير

د دې مبارك سورت پيل په ﴿الْقَارِعَةُ﴾ کلمې سره شوی دی. القارعة د قيامت له نومونو څخه يو نوم دی چې د ټکوونکي په معنا دی، څرنگه چې د قيامت د سختو حالاتو له ويرې زړونه او غوږونه په لړزه راځي او ټکول کيږي، نو ځکه يې نوم ټکوونکی اېښودل شوی دی.

بيا الله تعالی د پوښتنې په اسلوب فرمايي: ﴿مَا الْقَارِعَةُ﴾ «ما» د استفهام او د يو کار د اهميت او ارزښت لپاره دی، بيا دويم ځلي ټينگار کوي چې ﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ﴾: آيا خبر لرې چې قارعه څه ده ؟ لنډه دا چې درې ځلې د قيامت د نوم تکرارول د هغه عظمت او له هغه نه د انسانانو ويرونه را په گوته کوي، ترڅو د هغې ورځې له سختيو څخه د ژغورنې لپاره چمتوالی ولري.

په دوو وروستيو آيتونو کې د قيامت ځينو پيښو ته اشاره شوې ده: ﴿يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ﴾: (فراش) هغو پتنگانو ته ويل کيږي چې د اور په شاوخوا کې گرځي. او ځينو مفسرينو د ملخانو د لښکر په شورماشور او خوريدو سره تفسير کړی دی. په هر حال مقصد دا دی چې د انسانانو ډيرښت، حيرانتيا، بېوسي، ذلت او خوريدنه يې د هغو ملخانو د حالت سره تشبيه کړې دی چې په يوه دښته کې د اور يا شمعې په شاوخوا کې راټوليږي.

﴿وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ﴾ په دې ځای کې د «کان» فعل د «صار» په معنا راغلی دی يعنې گرځي. او «عهن» وړيو ته ويل کيږي، خو د لغت ځيني علما په هغه کې د رنگېدلو قيد زياتوي يعنې هغه وړی چې رنگ شوې وي. او (منفوش) له (نفش) څخه اخيستل شوی دی چې د جلا، جلا شوي په معنا راځي، لکه څرنگه چې له نورو آيتونو څخه هم معلوميږي. د قيامت په ورځ به غرونه د خورې شوې پمبې (مالوچو) په څېر په حرکت راځي.

دا مبارك سورت د دې لويو پېښو له بيانولو وروسته هغه څه ته اشاره کوي چې د هغه له کبله قيامت منځ ته راځي يعنې د اعمالو د پايلو ليدنه: ﴿فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ . فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ﴾: (موازين) د (ميزان) جمع ده، تلې ته ويل کيږي اود ډيرو صحابه وو د وينا پر بنسټ به قيامت کې يوه تله درول کيږي چې د دوو لويو پلو لرونکې

وي اود انسانانو عملونه پرې تلل کيږي.

د (موازين) د کلمې جمع راتلل د اعمالو د اختلاف او زياتوالي په اعتبار سره دي. په قرآن کريم کې د موازينو ثقل د نېکيو د پلې دروندوالي ته اشاره ده، نو د چا چې نېک عملونه د بدو عملونو په پرتله زيات شي داسې کس د نعمتونو او ښه ژوند ورګرځي. ﴿وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ﴾: خو هغه څوک چې د نېکو اعمالو پله يې سپکه شي يعنې ښېګڼې يې د بديو په پرتله کمې او سپکې شي او يا يې د اعمالو په دفتر کې هيڅ نيکي نه وي چې په پله کې کېښودله شي ﴿فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ﴾: نو د داسې سړي ځای او استوګنځی د دوزخ اور دی اود دوزخ اور به هغه داسې په غيږه کې ونيسي لکه مور چې خپل ماشوم په رحم کې ساتي او يا يې په خپل غيږ کې نيسي.

د سورت په پای کې يوځل بيا د دې لپاره چې څوک د دوزخ په اور کې غورځېدل آسانه ونه ګڼي، الله تعالی پوښتنه کوي: ﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ﴾: ته څه پوهيږې چې دا دوزخ څه او څرنګه دی؟ نو که نه پوهيږې ځواب له ما څخه واوره: ﴿نَارٌ حَامِيَةٌ﴾: هغه ګرم او سوځونکی اور دی.

د الله پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) د دې اور په هکله فرمايلي دي: د دنيا اور د دوزخ د اور اويايمه برخه ده، يعني د دوزخ اور د دنيا د اور په پرتله اويا درجې ګرم دی. او په ځينو احاديثو کې سل ځلې ګرم ښودل شوی دی.

**فعاليت**

د قيامت د نومونو په هکله چې د قرآن کريم په مختلفو ځايونو کې په مختلفو نومونو ياد شوي دي، د ښاغلي ښوونکي په مرسته له يو بل سره بحث او خبرې وکړئ.

## د لوست ګټې

د دې مبارک سورت په آيتونوکې يو شمېر ګټې او لارښوونې شته چې عبارت دي له:

- د قيامت له نومونو څخه د يوه بل نوم بيانول.
- د آخرت پر ورځ د عقيدې اثبات او په هغې ځانګړې تلې سره د اعمالو تلل چې په حقيقت يې يوازې الله تعالی پوهيږي.

- د قیامت د ورځې له حالاتو او له الهي عذاب څخه د خلکو ویرول.
- د قیامت پر ورځ دکایناتو په نظام کې د لوی تغیر او بدلون رامنځته کېدل اود غرونو ټوټه، ټوټه کېدل.
- د دوزخ د اور د ګرمۍ د قوت او زور بیانول.

## پوښتنې

۱. لاندې کلمې وژباړئ:

{الْمَبْثُوثِ} {الْعِهْنِ} {الْمَنْفُوشِ} {راضية} {فَأُمُّهُ}{حَامِيَةٌ}.

۲. د دې مبارک سورت دوه بنسټیز مطلبونه بیان کړئ.

۳. ولې قیامت ته (قارعة) ویل شوی دی؟

٤. دا مبارک آیت ﴿يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ﴾ په لنډه توګه تفسیر کړئ.

٥. د قیامت د نوم تکرارول او د استفهام کارول څه مطلب افاده کوي؟

٦. د کفارو لپاره په مور سره د دوزخ تشبیه کول، څه را په ګوته کوي؟

## کورنۍ دنده

د (القارعة) سورت پنځه آیتونه سره له ژباړې ولیکئ.

# د التکاثر سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ﴿١﴾ حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ﴿٢﴾ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ﴿٣﴾ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ﴿٤﴾
كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ﴿٥﴾ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ﴿٦﴾ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ﴿٧﴾ ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ
يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ ﴿٨﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{أَلْهَاكُمُ} تاسو يې غافله کړي یاستئ.

{التَّكَاثُرُ} د مال او ډلې په زياتوالي فخر او وياړ کول.

{زُرْتُمُ} ومولیدل یا ورسېدئ.

{الْمَقَابِرَ} قبرونه.

{كَلا} نه، داسې نه ده.

{سَوْفَ تَعْلَمُونَ} ژرده چې پوه شئ.

{عِلْمَ الْيَقِينِ} په يقيني علم سره چې په هغه کې شك نه وي.

{عَيْنَ الْيَقِينِ} د يقين په سترګو (بې شبهې لیدنه).

{عَنِ النَّعِيمِ} له ډېرو نعمتونو څخه.

## ژباړه

تاسې د شتمنۍ ګټلو او يو پر بل ځان غوره ګڼلو په غفلت کې اچولي یاست. تردې پورې چې (په دې فکر کې) قبرونو ته ورسيدئ. هيڅکله داسې نه ده، ډېر ژر به تاسې پوه شئ. بيا (واورئ چې) هيڅکله داسې نه ده، ډېر ژر به تاسې پوه شئ. هيڅکله داسې نده، که تاسې د باوري پوهې له مخې (د دې چلند په پایله) پوهېدلای (نو ستاسې به دا چلند نه و) تاسې به ارومرو دوزخ وګورئ (بيا واورئ چې) تاسې به په ټينګ باور سره هغه وګورئ. بيا به ارومرو په هغه ورځ له تاسې نه د دې نعمتونو په هکله ځواب وغوښتل شي.

**د سورت پیژندنه**

د (التکاثر) سورت مکي سورت دی، (۸) آیتونه لري اود عثماني مصحف د ترتیب له مخې (۱۰۲)سورت دی.

د دې سورت موضوع او محور د غفلت کولو او د دنیوي مال، رتبې، ښځو، اولادونو، قوم او قبیلې د ډېرښت له امله پر نورو د ځان غوره ګڼلو څخه ویره ورکول دي.

**د سورت د نازلېدلو سبب**

ابن ابي حاتم له ابوبریده څخه روایت کوي چې دا سورت د دوو قبیلو(بني حارثه او بني مالک) چې په خپلو کې یې د شمېر د زیاتوالي په هکله یو پر بل ځان لوړ ګاڼه، نازل شوی دی. د کابلي تفسیر مفسر وایي: په ځینو روایتونو کې راغلي دي چې کله به د عربو دوو قبیلو د نفوس په زیاتوالي یو پر بل ویاړنې کولې، نو که د کومې قبیلې شمېر به د بلې قبیلې په پرتله کمېده، ویل به یې: زموږ ډېر کسان په جنګونو کې وژل شوي دي راځئ چې هدیرې ته لاړ شو قبرونه وشمېرو څو زموږ زیاتوالی تاسې ته څرګند شي چې زموږ څومره مخور تېر شوي دي، دا به یې ویل اود مړیو په شمېرلو یې پیل کاوه، بیا دا سورت نازل شو.

**اجمالي تفسیر**

﴿أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ * حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ﴾ دا مبارک آیت په دوه ډوله تفسیر شوی دی:

لومړی دا چې په دنیا فخر کولو او هغه پورې زړه تړلو تاسې داسې غافله او بې پروا کړئ، څو مرګ تاسې ته راغی او قبرونو ته مو انتقال وکړ. دویم دا چې د وګړو د شمېر زیاتوالي تاسې داسې حریص کړئ څو یو اوبل ته مو د قبرونو په لور د تللو بلنه ورکړه. د لومړي تفسیر پر اساس د قبرونو له زیارت او لیدنې څخه مراد په قبرکې د حریص انسان ایښودل دي چې هغه وخت به د دنیا په بیوفایۍ پوه شي. او د دویم تفسیر پر اساس د قبرونو زیارت او لیدنه، هلته تلل اود مړو شمېرل دي لکه څرنګه چې د نزول په سبب کې ورځنې یادونه وشوه. څو مبارک آیتونه دواړه احتمالات رانغاړي.

امام احمد، بخاري او مسلم له حضرت انس (رضي الله عنه) څخه روایت کوي چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: کله چې بني آدم دنیا ته راغی، نو دوه خویونه یې له ځانه سره راوړل: یو حرص او بل هیله او امید.

بیا د تهدید په توګه الله تعالی فرمایي: ﴿كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ * ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ﴾: داسې نده لکه چې تاسې یې ګڼئ، ژر ده چې پوه به شئ، بیا ژر ده پوه به شئ. د «کلا» کلمه د رټنې او توبیخ لپاره استعمالیږي او په دې ځای کې ورځنې موخه په دنیا پورې په بشپړه توګه د زړه تړل او له آخرت څخه د بې پروایئ مذمت او غندنه ده، د دې کلمې تکرار د زیاتې رټنې او د الله د ډېر قهر او غوسې څرګندوونکی دی. وروسته یې وفرمایل: ﴿كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ﴾: داسې نده، که چېرې تاسو د خپلې ویاړنې پایلې په دنیوي چارو کې ښې درک کړئ نو داسې کار به ترسره نه کړئ. «لو» د شرط حرف دی او ځواب یې مفسرینو محذوف ګڼلی دی، یعنې «لما تفاخرتم بکثرة أموالکم»، یعنې: که چېرې په باوري علم او پوهې سره پوهیدلئ چې د قبر او له هغه څخه وروستنیو مراحلو سره به مخامخ کیږئ نو هیڅکله به مو د مالونو یا ډلې په زیاتوالي یو پر بل ځان لوړ نه ګڼلو.

﴿لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ * ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ﴾: لومړی آیت د مقدر قسم ځواب دی، یعنې زموږ په عزت قسم، پرته له شکه تاسې به د دوزخ اور وینئ، بلکې پرته له کوم ډول پټوالي به په خپلو سترګو دوزخ ګورئ. لکه څرنګه چې په روایاتو کې راغلي چې د قیامت په ورځ به دوزخ د حشر میدان ته راوړل کیږي، مؤمن او کافر ټول به هغه ویني خو په پای کې به مسلمان خلاصون مومي او مشرك او كافر به په هغه کې غورځيږي. د عين اليقين درجه له علم اليقين څخه لوړه ده؛ ځکه په لیدلو شك او شبهه په بشپړه توګه له منځه ځي.

په پای کې الله تعالی خبر راکوي چې تاسو به حتماً د قیامت په ورځ له درکړل شویو نعمتونو څخه پوښتل کیږئ.

او دا نعمتونه ډېر دي، لکه: روغتیا، امنیت، ځواني، ډول ډول خوراکونه، ښځې ، زامن او داسې نور. په یوه حدیث کې چې یوې ډلې محدثینو روایت کړی راغلي دي: «لا تزول قدما عبد يوم القيامة حتى يسأل عن أربع: عن عمره فيما أفناه؛ وعن شبابه فيم أبلاه؛ وعن ماله من أين اكتسبه وفيم أنفقه، وعن علمه ماذا عمل به»، یعنې: بنده به د قیامت په ورځ ترهغه مهاله په خپلو پښو ولاړ وي (حرکت به ونکړي) ترڅو څلور پوښتنې ورځنې ونشي: له عمر څخه یې، چې په څه کې یې تیر کړی، له ځوانۍ څخه یې، چې په څه کې یې ضایع کړې او له مال څخه یې، چې له کومه یې لاس ته راوړی او په څه کې یې لګولی دی او له علم څخه یې، چې د هغه په مقتضا یې څه عمل تر سره کړی دی.

## فعالیت

زده کوونکي دې د انسان د غفلت او بې پرواهۍ په هکله او دا چې څه شیان د غفلت لامل ګرځي، له یو بل سره بحث او خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې مبارک سورت په آیتونوکې یو شمېرګټې او لارښوونې شتون لري چې عبارت دي له:

- د الله له شکر او منني اداکولو پرته، د مال له زیاتولو څخه ویره ورکول.
- د قبر د عذاب اثبات، که له ﴿زرتم المقابر﴾ څخه په قبر کې د مړي ایښودل مراد شي.
- د الهي نعمتونو په هکله به له انسان څخه پوښتنه کیږي، نو که چېرې شاکر وپیژندل شو کامیابي به یې په برخه شي او که ناشکره ثابت شو، په عذاب به اخته شي.
- د علم او پوهې مختلفو پوړیو ته اشاره ده، چې تر ټولو لوړه پوړۍ یې عین الیقین دی.

## پوښتنې

۱. لاندې کلمې وژباړئ:

{الْهَاكُمُ} {زُرْتُمُ} {الْمَقَابِرَ} {كَلا} {سوف}{عِلْمَ الْيَقِينِ} {عَيْنَ الْيَقِينِ} {النَّعِيم}.

۲. د «التکاثر» سورت د نازلیدلو سبب بیان کړئ.

۳. د "کلا" کلمه د څه لپاره راځي؟

٤. ټول انسانان څرنګه په آخرت کې دوزخ لیدلی شي؟

۵. د سورت له ګټو او لارښوونو څخه دوې ګټې بیان کړئ؟

## کورنۍ دنده

د (التکاثر) سورت د لومړي او دویم آیت په هکله د مفسرینو دوه رایې په پنځو کرښو کې ولیکئ.

# د العصر سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَالْعَصْرِ﴿١﴾ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴿٢﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا
بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴿٣﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{وَالْعَصْرِ} قسم په زمانه (وخت) .

{إِنَّ الْإِنْسَانَ} بېشکه انسان (د انسان جنس).

{خُسْرٍ} تاوان، زيان او نقصان .

{تَوَاصَوْا} يو او بل ته يې وصيت وکړ.

{بِالْحَقِّ} په حق (حق دين، حقه عقيده، حقه وينا، حق عمل).

{بِالصَّبْرِ} په صبر کولو (د حق په لارکې).

## ژباړه

په زمانه قسم دی. انسان په حقيقت کې په لوی تاوان کې دی. پرته له هغو کسانو چې ايمان يې راوړی او ښه (نېک) عملونه يې کړي او يو تربله يې د حق او صبر وصيت کړی وي.

## د سورت پېژندنه

د (العصر) سورت مکي سورت دی، (۳) آيتونه لري اود عثماني مصحف د ترتيب له مخې (۱۰۳) سورت دی، موضوع يې د بدمرغو (زيانکارو) او نېکمرغو انسانانو پېژندنه ده.

## د سورت غوره والی

طبراني له عبيدالله بن حفص څخه روايت کوي فرمايي: کله به چې د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) له ملګرو څخه دوه تنه سره يوځای کېدل، نو ترڅو به يې چې سورة العصر يو او بل ته نه و اورولی، له يو بل څخه به نه جلا کېدل.

امام شافعي (رحمه الله) ویلي دي: که چیرې خلك د دې سورت په هکله فکر او غور وکړي (یعنې د دې له مفاهیمو سره آشنا شي) نو دوی ته به همدا سورت کافي وي.

**اجمالي تفسیر**

﴿وَالْعَصْرِ﴾: په هر هغه څه چې د ځمکې او آسمانونو خالق قسم یاد کړي دا د هغه شي د ارزښت او اهمیت نښه ده. په دې مبارك آیت کې الله تعالی په زمانې باندې چې د ډېر ارزښت لرونکې ده، قسم یاد کړی دی. څرنګه چې وخت او زمانه د هغه چا لپاره چې په قدر یې پوهیږي، د الله ترټولو لوی نعمت دی او انسان ته غوره درسونه او عبرتونه ورکوي، د انسان عمر چې په دې زمانه کې داخل دی، دا د هغه لپاره تر ټولو ارزښتناکه پانګه ده چې د هغه په مرسته انسان کولای شي د دنیا او آخرت نېکمرغي ترلاسه کړي.

ځینو مفسرینو له (عصر) څخه د مازدیګر لمونځ مراد کړی دی، ځکه چې د ورځې په پای کې په ډېر حساس او مهم وخت کې شتون لري او څوك چې دا لمونځ اداء کړي ډېر ثواب حاصلوي. په حدیث شریف کې راغلي: هر هغه څوك چې د مازدیګر لمونځ ورځنې قضاشي ګواکې ټوله کورنۍ یې لوټ شوې وي.

ځینو نورو علماوو ورڅخه د نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) زمانه مراد کړې ده، ځکه په دې زمانه کې د ټول بشریت لپاره ډېر لوی هدایت د ډالۍ په توګه راغلی دی.

﴿إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾: دا جمله د قسم ځواب دی، یعنې: ټول انسانان په تاوان او زیان کې دي، ځکه د هغوی د ژوند پانګه (عمر) له منځه ځي او هره ورځ یې موده کمیږي، خو دوی په دنیوي بې ارزښته خوندونو کې ډوب دي او نه پوهیږي چې دا دنیا وفا او بقا نه لري. د دې مطلب د اثبات لپاره باید تیرې زمانې ته نظر وکړو؛ چیرې دي هغه کسان چې له مال، شتمنۍ، قدرت او دبدبې څخه برخمن وو او د حق پیروي یې پرېښوده، نو آیا د دنیا خوندونه او مزې ورته باقي پاتې شول؟ آیا هغه څه چې دوی د برلاسی لامل ګڼلو لکه دنیوي وسایل او امکانات، دوی یې له مرګ اود هغه له پایلو څخه وژغورل؟ سربېره پر دې دنړۍ انسانان په کړاوونو کې ژوند کوي: ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي كَبَدٍ﴾، یعنې: موږ انسان په رنځ او کړاو کې پیداکړی دی. که دا بېوزلی انسان په دنیا کې ایمان رانه وړي او نېك عمل ترسره نه کړي، نو - خسر

الدنيا والاخرة- گرځي يعنې د دنيا او آخرت تاوان يې په برخه کيږي.

﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ...﴾: دا جمله له مخکينی جملې څخه استثناه ده چې په هغې کې د ګرد بشريت لپاره د تاوان او زيان اعلان شوی و او په دې سره هغه کسان د هغوی له ډلې څخه استثنا شوي دي چې د لاندينيو څلورو صفاتو څښتنان وي:

لومړی دا چې پر ټولو (مومن به) شيانو چې ايمان لرل پرې فرض دي، لکه (د الله په يووالي باور لرل، د الله په پيغمبرانو، په آسمانې کتابونو، په پرښتو، د آخرت په ورځ، په قدر چې خير او شر ټول د الله له لوري دي) ايمان راوړي. دويم دا چې غوره او ښه کارونه ترسره کړي، د الله اوامر او احکام پر ځای کړي او له ناوړو کارونو څخه ډډه وکړي، يعنې د زړه له کومې ايمان ولري او په خپلو اندامونو سره ښه او نېک عملونه تر سره کړي. دريم دا چې يو اوبل ته په حقه نصيحت او لارښوونه وکړي، يعنې په هغو چارو کې چې اړين بلل کيږي نبايد غفلت وشي او يو تر بله دې پر هغو د ثابت پاتې کېدو نصيحت وشي.

زمخشری (رحمه الله) په خپل تفسير کې وايي: حق له هر ښه، نېک کار او خير غوښتنې څخه عبارت دی، لکه د الله (جل جلاله) توحيد، د هغه اطاعت، د هغه د پيغمبرانو اطاعت، د الله په کتابونو عمل، تقوی، پرهيزګاري او داسې نور.

او څلورم دا چې ځان په صبر، زغم او حوصله باندې عادت کړي. صبر پر درې ډوله دی:

الف: صبر د الله د فرايضو او اوامرو په اداکولو سره.

ب: صبر له هغو چارو نه په ډډه کولو سره له کومو نه چې منع راغلې ده.

ج: صبر پر هغو کړاوونو او ستونزو چې داعي ته د اسلامي دعوت پر مهال پيداکيږي.

دا چې قرآن کريم حق ته رابلل له تاوان څخه د ژغورنې له اسبابو څخه ګڼي، په دې سره دې ته اشاره کوي چې انسان نه بايد يوازې د خپل ځان د ژغورنې په فکر کې وي، بلکې بايد د نورو د نيکمرغی په فکر کې هم واوسي او داکار د دعوت له لارې يعنې په نيکيو امر او له بديو څخه په منع کولو سره کېدای شي. څرنګه چې دعوت سخت او ستونزمن کار دی او په دې لار کې زحمتونه ګالل کيږي، نو ځکه په صبر سره توصيه ورته اړينه بلل شوې ده.

### فعالیت

د وخت د ارزښت او اهمیت په هکله له یو بل سره بحث او خبرې وکړئ.

## د لوست ګټې

د دې مبارک سورت آیتونو یو لړ مهمې او ارزښتناکې لارښوونې رانغښتې دي چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- د وخت پر ارزښت ټینګار او له هغه څخه سمه ګټه اخیستل.
- د حق نه پیژندونکو انسانانو د حالت بیان چې تاوان اوزیان دی.
- د ایماندارو او نیک عملو کسانو د نیکمرغیو بیان چې د دنیا او آخرت له کامیابۍ اوبرلاسی څخه عبارت ده.
- مسلمانانو ته په حق او د حق په لارکې په صبر کولو د نصیحت وجوب.
- د حق په لارکې د دعوت او بلنې د وجوب اثبات.

## پوښتنې

۱. لاندې کلمې وژباړئ:

{والعصر} {خسر} {وتواصوا} {بالحق} {بالصبر}.

۲. د دې سورت غوره والی له څه نه څرګندیږي؟

۳. د ﴿والعصر﴾ سورت بنسټیزه موضوع بیان کړئ.

٤. دا مبارک آیت: ﴿إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ تفسیر کړئ.

٥. صبر په څو ډوله دی؟ بیان یې کړئ.

## کورنۍ دنده

دا چې د ﴿والعصر﴾ سورت د انسان بریالیتوب او خلاصون په څو شیزونو کې ګڼي، په دې هکله پنځه کرښې مقاله ولیکئ.

# د الهمزة سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ﴿١﴾ الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ﴿٢﴾ يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ﴿٣﴾كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي
الْحُطَمَةِ﴿٤﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ﴿٥﴾ نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ﴿٦﴾ الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ﴿٧﴾ إِنَّهَا عَلَيْهِمْ
مُؤْصَدَةٌ﴿٨﴾ فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ﴿٩﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{وَيْلٌ} تباهي ( يوه کلمه ده چې عذاب پرې غوښتل کيږي او په دوزخ کې د يوې وادۍ نوم هم دی).

{هُمَزَةٍ} پېغور ورکوونکی.

{لُمَزَةٍ} عيب پلټونکی.

{وَعَدَّدَهُ} او هغه يې شمېرلی دی.

{أَخْلَدَهُ} هغه ته به تل پاتې ژوند ورکړي.

{لَيُنْبَذَنَّ} وبه غورځول شي.

{فِي الْحُطَمَةِ} په ماتوونکي او تنې ونې کوونکي ځای کې.

{الْمُوقَدَةُ} بل کړای شوی.

{تَطَّلِعُ} رسيږي او غلبه کوي.

{عَلَى الْأَفْئِدَةِ} پر زړونو باندې.

{مُؤْصَدَةٌ} له هر لوري بند او سر پوښ کړای شوی.

{عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ} اوږدې او لوړې ستنې.

## ژباړه

تباهي ده د هغه چا لپاره چې (مخامخ) خلکو ته د پېغور ورکولو او (پسې شا) د عيب لګولو په عادت اخته دي. هغه چا چې مال يې جمع کړی دی او په شمار شمېرلو يې ايښی دی. هغه انګيري (ګومان کوي) چې د هغه مال به هغه ته تل پاتې ژوند ورکړي. هيڅکله داسې نه ده، هغه به په تنې ونې کوونکي ځای کې وغورځول شي. او

ته څه شي پوه کړې يې چې څه دی هغه تنې ونې کوونکی ځای؟ د الله اور، ښه لمبه کړای شوی. چې تر زړونو پورې به رسيږي. هغه به ورباندې بند او سرپوښ کړای شي. (په داسې حال کې چې هغه به) په لوړو او اوږدو ستنو کې (ايسار شوی وي).

## د سورت پيژندنه

د (الهمزه) سورت مکي دی، (۹) آيتونه لري، د عثماني مصحف د ترتيب له مخې (١٠٤) سورت دی. په دې مبارك سورت کې د هغو کسانو غندنه او رټنه ده چې د غوره والي معيار او د تل پاتې ژوندانه لامل، د مال راغونډول او زياتول ګڼي او پر دې اساس پر نورو تورې او ملنډې وهي. د دې مبارك سورت نوم د دې سورت له لومړني آيت څخه اخيستل شوی چې د «الهمزه» لفظ پکې راغلی دی.

## د نازلېدلو سبب

يوه ډله مفسرين وايي چې دا سورت د اخنس بن شريق په هکله نازل شوی دی، چې د خلکو عيبونه به يې لټول او په هغوی پورې به يې خندل، تردې چې د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) په شان کې هم ورځخه داسې خطاګانې پيښېدلې. مقاتل (رحمه الله) وايي چې دا سورت د وليد بن مغيره په باره کې نازل شوی دی، چې پسې شا به يې د پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) غيبت کاوه. داسې روايت هم راغلی دی چې اُميه بن خلف هم دا کار کاوه، همدارنګه د يوشمېر نورو کسانو نومونه هم ياد شوي دي چې د دې سورت نازليدل د هغوی په هکله احتمال لري. البته دا هم کېدای شي چې دا سورت د دوی ټولو په هکله نازل شوی وي.
د نازلېدلو لامل چې هرڅه وي بيا هم دا سورت د هغو کسانو په هکله دی چې په دې اوصافو ستايل شوي دي، د تفسير اصولو ته په کتلو سره د سبب ځانګړتيا د لفظ له عاموالي سره کوم ضديت نه لري.

## اجمالي تفسير

﴿وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ﴾: (ويل) داسې يوه کلمه ده چې پر بدۍ او ښيرو دلالت کوي او د رسوايۍ، تباهۍ او عذاب په معنا راځي. همدارنګه د دوزخ د يوې وادۍ نوم هم دی. د (هُمَزَ او لُمَزَ) لپاره ګڼې معناګانې ذکر شوي دي. چې لاندې ورته اشاره کوو:

د يو ځا مسخره کول په ژبې سره «همز» بلل کيږي او په اشارې او داسې نورو ته «لمز» ويل کيږي.

«همز» پېغور ورکولو او «لمز» عيب لګولو ته ويل کيږي.

«همز» مخامخ عيب لګول دي او «لمز» پسې شا عيب لګول دي.

وايي چې وليد بن مغيره هغه څوك و چې د اسلام تر ټولو سرسخت دښمن ګڼل کيده. هغه به په مسلمانانو او پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) باندې د مشرکانو پر وړاندې عيبونه لګول او ملنډې به يې پرې وهلې او خلك به يې په مسلمانانو پورې خندول، دې کافر ډېرې پيسې او پانګه غونډه کړې وه ، ترڅو په دې وسيله په دنياکې تل پاتې ژوند ولري. دا آيتونه د وليد او د هغه په څېر کسانو په هکله نازل شوي دي، الله تعالی فرمايي: د داسې خلکو لپاره دې هلاکت وي چې پر نورو عيبونه لګوي او پر خپل مال او پانګه غرور کوي، بلکې دوی داګمان کوي چې د دوی د مال او اولاد زياتوالی دوی ته تل پاتې ژوند وربښي.

﴿كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ﴾: دا مبارك آيت د وليد اود ده په څېر د نورو کسانو فکر او سوچ ردوي اوفرمايي: نه داسې نده لکه چې دی فکر کوي، ځان عزتمن او نور سپک ګڼي، ډېر ژر به داسې شيبه را ورسيږي چې د رټنې او ذلت سره به مخ شي او دا به هغه وخت وي چې دی دوزخ ته واچول شي. (حطمة) له (حطم) څخه اخيستل شوی چې د ماتولو او له منځه وړلو په معنا راځي او هغه د دوزخ له طبقو څخه يوه طبقه يا مطلقاً د دوزخ نوم دی او له دې امله د حطمة په نوم ياد شوی دی، څکه که هرڅه پکې واچول شي د هغه شديده ګرمي يې دړې وړې کوي.

وروسته بيا الله تعالی د دې اور هيبت او ډار بيانوي او پوښتنه کوي چې ته څه پوه شوې چې دا ماتوونکی اور څه دی؟ نو دلته الله تعالی په خپله ځواب ورکوي او وايي: هغه اور د الله تعالی بل شوی اور دی: ﴿نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ﴾. څرګنده ده چې په کومه اندازه د الله عظمت دی، نوکوم اور چې هغه بل کړي هغه به هم ډېر سخت او قوي وي.

بيا وربسې د اور درې صفتونه بيانوي: لومړی دا چې دا اور نه يوازې ځان (جسم) سوځوي، بلکې زړونو ته هم رسيږي: ﴿الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ﴾ د زړه يادونه څکه شوې ده چې د نورو غړو په پرتله ډېر درد احساسوي او يا له دې امله دی چې زړه دکافرانو د باطلو عقيدو او ناوړه نيتونو او ارادو مرکز دی، نو څکه يې په ځانګړې ډول يادونه کړې چې دا اور به د دوی پر زړونو بل شي. دويم دا چې دا اور به له هر لوري پر مجرمانو داسې راچاپيره کيږي لکه په تنورکې چې کوم شی کېښودل شي او سرپوښ يې هم وربند کړای شي: ﴿إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ﴾. دريم داچې شغلې يې د لوړو لوړو ستنو په څير جګيږي: ﴿فِي عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ﴾.

### فعاليت

زده کوونکي دې نورو ته د پېغور ورکولو، عيب لګولو او ملنډې وهلو د بدی په هکله له يو بل سره بحث اوخبرې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې مبارک سورت آيتونه مهمې او ارزښتناکې لارښوونې لري چې ځينې يې دا دي:

- د خلکو له غيبت کولو او پر هغوی له عيب لګولو څخه ويره او انذار.
- د هغو کسانو شديده رټنه او غندنه چې په مال او شتمنۍ مغرور او دوکه شوي دي.
- د هغو کسانو د بدو او ناوړو پايلو بيانول چې د الله رسول او صحابه وو ته پيغورونه ورکوي.
- د دوزخ د اور د شدت او سختۍ بيانول.
- د دوزخ د اور د ځينو اوصافو بيانول.

### پوښتنې

۱. لاندې کلمې وژباړئ:

{هُمَزَةٍ} {لُمَزَةٍ} {الْحُطَمَةِ} {الْمُوقَدَةُ} {مُؤْصَدَةٌ} {عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ}.

۲. د همزه سورت مهم مطالب بيان کړئ.

۳. «ويل» د څه کلمه ده او څه معنا لري؟

٤. د دوزخ اورته ولې حطمة ويل شوی دی؟

۵. د دوزخ له اوصافو څخه دوه صفتونه چې په دې سورت کې راغلي دي بيان کړئ.

٦. د دې لوست له لارښوونو څخه درې لارښوونې بيان کړئ.

### کورنۍ دنده

د «الهمزة» سورت د نازلېدلو د سبب په هکله څو کرښې وليکئ.

# د الفیل سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ﴿١﴾ أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ﴿٢﴾ وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ
طَيْرًا أَبَابِيلَ﴿٣﴾ تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيلٍ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ﴿٥﴾ ﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {أَلَمْ تَرَ} | آیا تا ونه لیدل. |
| {كَيْدَهُمْ} | تدبیر، دسیسه، چل ول د هغوی. |
| {فِي تَضْلِيلٍ} | په گمراهی کې، بې گټې او بابیزه. |
| {أَبَابِيلَ} | ډلې ډلې، سیلونه. |
| {مِنْ سِجِّيلٍ} | له پخې شوې خټې نه. |
| {كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ} | لکه د څارویو شخوند وهلي(ژوول شوي) واښه. |

## ژباړه

آیا تا ونه لیدل چې ستا رب د هاتي (فیلانو) له څښتنانو سره څه وکړل؟ آیا الله د هغو تدبیر بې گټې او بابیزه نه کړ؟ او پرهغوی باندې یې د مرغانو سیلونه ولیږل. چې پرهغو یې د پخې شوې خټې تیږې غورځولې. بیا یې د هغو حالت داسې وگرځاوه لکه د څارویو شخوند وهلي واښه.

## د سورت پېژندنه

د (الفیل) سورت مکي سورت دی، (٥) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې (١٠٥) سورت دی.
دا سورت د فیلانو د څښتنانو (د ابرهه د لښکر) برخلیك بیانوي، چې د کعبې شریفې د نړولو لپاره راغلي وو خو الله تعالی دوی ټول هلاك کړل.

## د سورت د نازلېدلو سبب

د حبشې باچا د یمن په خاوره کې خپل والي د «ابرهه» په نامه وټاکه، هغه یوه لویه کلیسا جوړه کړه، ترڅو عرب هم دې کلیسا ته مخه وکړي او زیارت ته یې راشي، خو د کنانه قبیلې څخه یو بانده چې یوه شپه په دې کلیسا کې

اودس ماتی وکړ او په دې سره یې د ابرهه قهر او غوسه را وپاروله، قسم یې وکړ چې د دې بې احترامۍ په بدله کې به کعبه شریفه نړوي، نو یو لوی لښکر یې چمتو کړ چې زیات شمیرهاتیانو هم پکې شتون درلود، دا لښکر د مکې په لوري روان شو، کله چې مکې ته نژدې شو، د مکې خلکو ته یې خبر ولیږه چې موږ د مکې والو سره د جنګ لپاره نه یو راغلي، بلکې زموږ موخه یوازې د کعبې نړول دي. د دې خبر په رسېدو سره د مکې خلک له سختې ستونزې سره مخ شول، څرنګه چې هغوی د ابرهه د لښکر پر وړاندې د مخامخې جګړې وس نه درلود، نو غرونو ته جګ شول او دوی په دې عقیده وو چې کعبه شریفه څښتن لري او هغه ورځنې دفاع کوي، دوی دغرونو په څوکو کې د دې انتظار ایستلو چې الله تعالی به د ابرهه له لښکر سره څه کوي، کله چې د ابرهه لښکر مکې ته نژدې را ورسېد، نو د مالونو لوټول یې پیل کړل او په دې لوټمار کې د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د نیکه عبدالمطلب بن هاشم (۱۰۰) اوښان هم شامل وو. نو کله چې عبد المطلب ابرهه ته ورغی ، ابرهه له خپل تخت څخه ځمکې ته راکوز شو او هغه یې له ځان سره پر فرش باندې کیناوه او پوښتنه یې ورځنې وکړه چې څه حاجت لرې؟ عبدالمطلب وویل: حاجت مې دا دی کوم اوښان دې چې زما نیولي هغه راکړه. ابرهه له دې خبرې څخه په حیرانتیا کې ولوېد او ورته یې وویل: د هغه سلو اوښانو په باره کې چې له تا څخه مو نیولي خبرې کوې اود هغې قبلې په هکله چې د نیکونو څخه درته پاتې ده او زه د هغې د نړولو لپاره راغلی یم، د هغې په باره کې خبرې نه کوې؟ عبدالمطلب ورته وویل: زه د اوښانو څښتن یم او د کعبې څښتن الله تعالی دی، هغه به په خپله ورځنې دفاع وکړي او هغه به یې وساتي. سره له دې چې عبدالمطلب او د عربو د تهامه قبیلې نورو مشرانو دا ومنله چې د خپلو شتمنیو دریمه برخه به ابرهه ته ورکړو، ترڅو دی له دې هوډ څخه تېر شي، خو ابرهه انکار وکړ او د دوی دا وړاندیز یې ونه مانه، بلکې یوازې د عبدالمطلب د سلو اوښانو په ورکولو یې موافقه وکړه، کله چې عبد المطلب له هغه څخه راستون شو نو د کعبې شریفې دروازې ته ورغی او د دروازې ځنځیر یې ونیو او له الله (جل جلاله) څخه یې د ابرهه د لښکر د ماتې غوښتنه وکړه.

ابرهه له خپل لښکر سره د کعبې شریفې په لور حرکت وکړ، ده یو لوی فیل درلود، کله به یې چې هغه ته د حرم په لور حرکت ورکاوه، نو هغه به غورځېده او کله به یې چې بل لوري ته روان کړ، نو پرته له ځنډه به یې حرکت کاوه. په دویمه ورځ کله چې عبد المطلب دعا کوله، نا څاپه د یمن د بحر له لوري د کوچنیو مرغانو لښکر چې په منښوکو او پښو کې یې ګټکی نیولي وې، د ابرهه د لښکر په لور مخه وکړه او هغه ګټکی یې پر دوی ورخوشې کولې او کله به چې یوه له دې ګټکیو پردوی لګېدله نو سمدستي به لوېدل او مړه کېدل. د دې پیښې په لیدلو سره د ابرهه لښکر د یمن په لوري د تیښتې لاره خپله کړه، دوی د لارې په اوږدو کې هم په ځمکه لویدل او مړه

کېدل، ابرهه په خپله زخمي شو او په داسې مرض اخته شو چې ګوتې به يې يوه په بلې پسې توئېدلې او بيا يې دغوښې تويېدل پيل شول چې په دې توګه يې په ډېر بد حالت کې سا ورکړه.

يقيناً د ابرهه او د هغه د لښکر مړينه د تاريخ له عجيبو پيښو څخه يوه پېښه ده چې په هغې کې د ټول بشريت لپاره د عبرت درس دی، په دې سره الله تعالی وغوښتل چې د کعبې عظمت او دبدبه وساتي او د عربو قوم ته دا وښيي ترڅو له هغه دين څخه چې څلوېښت کاله وروسته له دې پيښې څخه د پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) په واسطه راځي او ټولې نړۍ کې خپرېږي د هغه ملا تړ وکړي.

**اجمالي تفسير**

﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ﴾: که څه هم د الله تعالی پيغمبرﷺ د فيل پېښه په خپلو سترګو نه وه ليدلې خو د هغې پيښې شهرت او تواتر په دې اندازه و چې ګواکې هغه يې ليدلې وي، نو ځکه الله تعالی فرمايي: ايا تا ونه ليده يعنې تا ته په يقيني علم سره خبر نه دی رسېدلی چې الله د فيل له څښتنانو سره څه وکړل؟ نو له ليدلو نه پوښتنه کول د يقيني خبر نښه ده.

﴿أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ﴾: د ابرهه مکر او چل دا و چې لومړی يې په سيمه کې د نصرانيت د دعوت هوډ درلود. دويم دا چې دې موخې ته د رسېدلو لپاره د کعبې شريفې د نړولو غوښتونکی و ، خو د هغه بانده‌چې عمل د ده لپاره يوه پلمه شوه. درېم دا چې د مکې مکرمې تجارتي او اقتصادي موقعيت له منځه يوسي او دا موقعيت د يمن په لوري راوګرځوي، نو الله تعالی د دوی دا ټولې موخې له خاوروسره خاورې کړلې.

﴿وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ * تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيلٍ﴾: د دې مرغانو ډلو د سمندر له خوا څخه د ابرهه د لښکر په لور حرکت کاوه په داسې حال کې چې د مکيانو پر سر باندې چې غرونو ته يې پناه وړې وه تيرېدلې، دغو مرغانو به درې درې ګېټکۍ له ځان سره اخيستلې چې يوه به يې په مښوکه او دوه نورې به يې په منګولو کې نيولې وې، دغو ګېټکيو به د کودي يا پخې شوې خټې سره مشابهت درلود.

﴿فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَأْكُولٍ﴾: د دې هلاک شوي او پر ځمکه باندې پرېوتي لښکر مشابهت د هغو ګياګانو يا وښو له پاڼو سره شوی دی چې د څارويو له خوړلو وروسته د هغوی تر پښو لاندې شوي وي.

بخاري اومسلم د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) يو حديث روايت کړی دی چې هغه ﷺ د مکې د فتحې په ورځ وفرمايل: پرته له شکه الله مکه مکرمه د فيلانو له شره وژغورله او په مکه يې پيغمبر او مؤمنان برلاسي کړل او هغې ته يې دويم ځلي هغه عظمت ور په برخه کړ چې مخکې يې درلود، خبر اوسئ چې حاضر مسلمانان دې دا مطلب غايبو مسلمانانو ته ورسوي.

## فعالیت

د مسلمانانو په وړاندې د کعبې شریفې د احترام او عظمت په هکله له یو بل سره بحث او خبرې وکړئ.

## د لوست ګټې

د دې سورت مبارک آیتونه یو لړ لارښوونې لري چې ځینو ته یې داسې اشاره کېږي.

- نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) ته تسلي او ډاډینه ورکول دي، د هغه ظلم او تېري په مقابل کې چې د قریشو کفارو پر ده ﷺ باندې کاوه.
- قریشو ته د الله د سختې نیونې یادونه کوي چې دوی د هغې پېښې شاهدان وو، ترڅو له انکار څخه لاس واخلي.
- د الله د هغه ستر او بې پایه قدرت څرګندونه، چې د غیبي عجیبه لښکرو لرونکی دی.
- دا چې د دښمن د ظاهري ستر قوت په مقابل کې، د الله غیبي مرسته او قوت هېر نه شي.
- د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د زېږیدو په کال د عام الفیل پېښه د آسماني مرستو د پیل نښه ده.

## پوښتنې؟

۱ـ لاندې کلمې وژباړئ:

{كَيْدَهُمْ} {فِي تَضْلِيلٍ} {أَبَابِيلَ} {مِنْ سِجِّيلٍ}.

۲ـ ابرهه او د ده لښکر په زړونو کې څه مکر او چل درلود؟

۳ـ مرغانو څرنګه د ابرهه پر لښکرو باندې یرغل وکړ؟

۴ـ دا مبارک آیت ﴿فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَأْكُولٍ﴾ تفسیر کړئ.

## کورنۍ دنده

د تفسیر له کتابونو څخه په ګټه اخیستلو سره د فیل پېښه په لنډه توګه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# د قريش سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ﴿١﴾ إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ﴿٢﴾ فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ﴿٣﴾ الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ ﴿٤﴾﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {لِإِيلَافِ} | د مينې او محبت له امله. |
| {رِحْلَةَ} | سفر. |
| {الشِّتَاءِ} | ژمی. |
| {الصَّيْفِ} | اوړی، دوبی. |
| {رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ} | د دې کور څښتن. |
| { جُوعٍ} | لوږه. |
| { خَوْفٍ} | وېره، ډار. |

## ژباړه

د قريشو د مينې او محبت له امله. د ژمي او اوړي له سفرونو سره يې د مينې له کبله. نو هغوی بايد د دې کور (کعبې شريفې) د څښتن عبادت وکړي. د هغه ذات چې هغوی ته يې په لوږه کې خواړه ورکړل، له وېرې يې وژغورل او امنيت يې ورپه برخه کړ.

## د سورت پېژندنه

د قريش سورت مکي سورت دی، (٤) آيتونه لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې (١٠٦) سورت دی. په «قريش» سره يې د نومولو وجه دا ده چې د قريشو او د ژمي او دوبي له سفر سره د دوی د مينې يادونه پکې شوې ده. دا سورت د مکې خلکو ته د الهي نعمتونو څرګندونه کوي چې له امنيت او شتمنۍ څخه عبارت دي.

### د سورت لنډيز

دا مكي سورت د هغو دوو لويو نعمتونو يادونه كوي چې الله تعالی قريشو ته وربښلي وو: لومړنی نعمت تجارت و چې د هغه له امله يې روزي لاس ته راوړله. دويم نعمت يې امنيت او سوكالي وه چې د هغې په سيوري كې يې آرامه ژوند كاوه، په پايله كې له دوی څخه د دې غوښتنه شوې ده چې د دې نعمتونو د منني د اظهار لپاره چې د كعبې شريفې له بركته دوی ته وركړل شوي دي، د الله عبادت وكړي اود الله په يووالي ايمان راوړي.

### اجمالي تفسير

﴿لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ﴾: (إيلاف) د (أَلِف) د فعل مصدر دی چې د مينې او الفت نيولو په معنا راځي او د نفرت لرلو ضد دی چې په پيل كې يې جاره لام د سببيت بيانوونكی دی او د آيت معنا داسې كيږي: د قريشو د مينې درلودلو له امله، يا قريشو ته د مينې وركولو له امله، وروسته آيت دا مينه او الفت ټاكي چې مراد ورڅخه دی: ﴿إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ﴾، يعنې: د دوی مينه د ژمي او اوړي له سوداګريز سفر سره، قريشو هر كال دوه غوره تجارتي سفرونه درلودل چې د دوی د اقتصادي چارو په پرمختيا كې يې بنسټيزه ونډه لرله، يو په ژمي كې د يمن په لور سفر و او بل په دوبي كې د شام سفر، دوی له دې دوو سفرونو څخه زياتې ګټې لاس ته راوړلې، مثلاً دا چې غلې دانې به يې له دې سيمو څخه په ارزانه بيه اخيستلې او په مناسبه بيه به يې خرڅولې، په ځانګړې توګه د دغو پلورلو او پيرودلو بازار به د حج په موسم كې زيات ګرم و.

﴿فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ * الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآَمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ﴾: د الهي نعمتونو له يادونې وروسته د سورت دا دوه وروستني آيتونه له قريشو څخه غواړي چې د دې نعمتونو د منني او شكرېي په بدل كې خپل حقيقي مُنعم وپيژني او د باطلو بتانو پر ځای د الله تعالی عبادت وكړي. د كعبې شريفې يادونه له دې امله شوې ده چې د حجاز په ځمكه كې د هغې شتون د اقتصادي پراختيا، سولې او امنيت په راوستلو كې رغنده رول لوبولی دی، ځكه له يوې خوا د كعبې خونه د خلكو د راټوليدو ځای دی او له بلې خوا خلكو د دې كور او د حرم د اوسېدونكو ډېر زيات احترام او درناوی درلود او پر دوی يې يرغل او تيری

نه کاوه، نوکه د مکې اوسېدونکي له سليم فطرت څخه برخمن وای، بايد دوی د هغه ذات چې د خپل کور په برکت يې دوی له لوږې څخه وژغورل او امنيت او سوکالي يې ور په برخه کړه، عبادت کړی وای او له الله او پيغمبرﷺ سره به يې کينه او دښمني نه وای غوره کړې. دغه سورت ټولو هغو انسانانو ته چې الله تعالی ورته پريمانه نعمتونه وربه برخه کړي دي، دا پيغام ورکوي چې د الله د نعمتونو ناشکري ونه کړي اود هغه د نعمتونو شکريه پر ځای کړي.

امام رازي (رحمه الله) د ﴿فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ﴾ د تفسير په هکله وايي: نعمت په دوه ډوله دی، يو له انسان څخه د ضرر او تاوان دفع کولو نعمت دی او بل د ګټې او فايدې ترلاسه کولو نعمت، خو لومړنی نعمت د دويم نعمت په پرتله ډېر غوره او ارزښتناك دی؛ ځکه له نفس څخه د ضرر او زيان لرې کول واجب دي، خو د ګټې او فايدې لاس ته راوړل واجب نه دي، نو د فيل د څښتنانو د لښکر دفع کول له لومړي ډول نعمت څخه دی اود قريشو ډاډمن ژوند له دويم ډول نعمت څخه ګڼل کيږي. الله تعالی په دې دوو آيتونو کې دواړو نعمتونو ته اشاره کړې ده او د دې نعمتونو په مقابل کې يې قريش خپل عبادت ته راوبلل، ترڅو يوازې د هغه عبادت وکړي.

د الله د عبادت مفهوم د هغه په دربار کې له عاجزۍ، زارۍ او غاړې ايښودلو څخه عبارت دی چې په دې خشوع او عاجزۍ سره عبادت تحقق موندلای شي.

**فعاليت**

د امنيت د نعمت په هکله چې له الهي نعمتونو څخه لوی نعمت ګڼل کيږي، بحث او خبرې وکړئ.

## د لوست ګټې

د دې سورت مبارك آيتونه يو لړ لارښوونې لري، چې ځينې يې دا دي:

- د مکې مکرمې اوسېدونکو ته د الهي نعمتونو يادونه.
- له لوږې نه ژغورنه او د امنيت ټينګښت د عامه سوکالۍ بنسټ او محور دی.

• د کعبې شریفې اقتصادي او امنیتي رغنده او ارزښتناکه ونډه.

• د دې څرګندونه چې په هره اندازه نعمت زیات وي په همغه اندازه د هغې شکر ایستل اړین ګڼل کیږي.

• د الله د عبادت پر وجوب ټینګار او له هغه پرته د نورو د عبادت پرېښودل.

• تجارت د یوې ټولنې د اقتصادي پرمختګ غوره وسیله ده.

**پوښتنې؟**

۱.لاندې کلمې وژباړئ:

{رِحْلَةَ} {الشِّتَاءِ} {الصَّيْفِ} { جُوعٍ} { خَوْفٍ}.

۲. د قریش د سورت بنسټیزې موضوعګانې څه دي؟

۳. له «**رحلة الشتاء والصيف**» څخه مراد څه دی؟

٤. د عربي قواعدو له مخې د «ایلاف» کلمه څه ده؟

۵. د ضرر دفع کولو او د ګټې لاس ته راوړلو نعمتونه له یو بل سره څه توپیر لري؟

**کورنۍ دنده**

د دې سورت لنډیز په شپږو کرښو کې ولیکئ.

# د الماعون سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ﴿١﴾ فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ﴿٢﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ﴿٣﴾
فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ﴿٤﴾ الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ﴿٥﴾ الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ﴿٦﴾ وَيَمْنَعُونَ
الْمَاعُونَ﴿٧﴾ ﴾

## د کلمو معنا

{الدِّينِ} د جزا او سزا ورځ.

{يَدُعُّ الْيَتِيمَ} رټي او ټېل وهي يتيم.

{وَلَا يَحُضُّ} تيزي او ترغيب نه ورکوي (خپل ځان يا نورو ته).

{فَوَيْلٌ} نو هلاکت، تباهي او عذاب دې وي.

{سَاهُونَ} غفلت کوونکي.

{يُرَاءُونَ} ريا کاري او ځان ښودنه کوي.

{الْمَاعُونَ} د اړتيا او کومک عادي وسايل او اسباب.

## ژباړه

ايا تا وليد هغه څوک چې د آخرت جزا او سزا ته دروغ وايي؟ هماغه څوک دی چې يتيم رټي. او د مسکين د خوراک پر ورکړه تېزي او هڅونه نه کوي. بيا تباهي ده د هغو لمونځ کوونکو لپاره. چې له خپل لمانځه څخه په غفلت کې لويدلي دي. هغه کسان چې ريا کاري کوي. او (خلکوته) د عادي اړتيا وړشيانو له ورکړې څخه ډډه کوي.

## د سورت پیژندنه

د (الماعون) سورت مکي سورت دی، خو ابن عباس او قتاده هغه مدني ګڼلي او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې (۱۰۷)سورت دی. په الماعون سره د دې سورت د نومولو وجه دا ده چې د سورت په پای کې د الماعون کلمه راغلې ده چې د زکات یا د ژوندانه د ورځنیو اړتیاوو وړ شیزونو په معنا ده. دا سورت په ټولیزه توګه د کافرانو او منافقانو د حالاتو بیانوونکی دی.

## اجمالي تفسیر

﴿أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ﴾: که څه هم په داسې ځایونو کې په لومړي قدم کې خطاب پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) ته متوجه دی، خو په دې ډول خطابونو کې د قرآن د بیان اسلوب داسې دی چې هر د فکر او عقل څښتن مخاطب ګرځوي. له بلې خوا که څه هم ظاهراً د «أرایتَ» صیغه د سوال او پوښتنې په توګه راغلې ده خو مقصد ورځنې د داسې انسانانو له کړو وړو څخه په تعجب او حیرانتیا کې مبالغه ده، الله تعالی فرمايي: آیا ودې لید هغه کس چې د جزا له ورځې څخه انکار کوي؟ مفسرینو ویلي دي: له دې مبارك آیت څخه مراد په ځانګړې توګه عاص بن وائل او یا ولید بن مغیره دی، خو په نومړو صفاتو پیژندل شوي هر منکر ته شاملیږي.

﴿فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ﴾: د «یدعُّ» فعل د یو چا رټلو، شړلو او یا کوم شي لرې کولو ته وايي چې له شدت، قهر او غوسې سره مل وي، د یتیم رټل او حق نه ورکول د هغه چا پر ایمان نه لرلو څرګند دلیل دی چې د اعمالو پر بدلې او جزا عقیده نه لري او هر ډول ظلم کوي چې تر ټولو سخت یې پر یتیم ظلم دی.

﴿وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ﴾: (حضّ یحضّ) د هڅولو او تشویقولو په معنا دی او د هغه له یادونې څخه حکمت مسکینانو ته د خوراك ورکولو د ارزښت څرګندونه ده، په دې معنا چې دا عمل داسې عمل نه دی چې یوازې ترسره کول یې ضروري دي، بلکې نورو ته د هغه په لوري ترغیب ورکول هم واجب او ضروري دي او پریښودل یې د کفر او نفاق له علاماتو څخه ګڼل کیږي.

﴿فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ * الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ﴾: په دې مبارك آیت سره د منافقانو د صفاتو بیان داسې پیلیږي چې هغوی کله کله په لمونځونو کې برخه اخلي او د ایمان دعوی لري، خو په لمونځونو کې یې د

زړه حضور ملګرى نه وي، نو ځکه په خپلو لمونځونو کې زياته بې پروايي کوي چې د لمانځه وروسته والى او د هغه قضا کول او له هغه سره مينه او رغبت نه لرل هم په همدې لړ کې شامل دي.

﴿الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ * وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ﴾ يعنې: کله چې دغه کسان لمونځ اداء کوي او يا بل کوم عمل ترسره کوي په هغه کې ځان ښودنه او ريا کوي، ټولې هلې ځلې يې دا وي چې خلک د ده عمل ووينې او پر ده باور او اعتماد وکړي  او يا ده ته متقي او پرهيزګاره ووايي، بل دا چې د ژوندانه په بې ارزښتو اسبابو او امکاناتو کې له بخل او شومتيا څخه کار اخلي، هرکله چې څوک ورځنې کوم شی وغواړي هغه نه ورکوي لکه: ديګى، کاسه، کلنګ، تيشه، تبر، رسۍ او داسې نور چې په دوديزه توګه يې خلک له يو او بل څخه د خپلو اړتياوو د ترسره کولو لپاره په عاريت سره غواړي.

**فعاليت**

په خپل وخت د لمانځه اداء کولو د ارزښت په هکله له يو بل سره بحث او خبرې وکړئ.

## د لوست ګټې

د دې سورت مبارک آيتونه ډېرې غوره لارښوونې لري چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

- د هغو خلکو غندنه چې د آخرت د ورځې له حساب او کتاب څخه منکر دي او هم د هغوی د نظريې او عقيدې څخه، تعجب او حيرانتيا بيانول.
- له آخرت څخه د منکرو خلکو د ځينو صفاتو ښرګندول، لکه: د يتيمانو رټل او مسکينانو ته خواړه نه ورکول.
- له دې څخه ويره ورکول چې څوک د يتيم حق وخوري او پر هغه ظلم وکړي.
- هغه خلک د الله تعالى له عذاب څخه ويرول چې لمونځونو ته پاملرنه او اهتمام نه کوي او په اداء کولو کې يې غفلت کوي.

• د دې بیانول چې ریا د منافقانو ځانګړی عمل دی.

• د دې بیانول چې د معمولي او بې ارزښتو شیانو په ورکړه کې اړو کسانو ته د عاریت په توګه بخیلي او شومتیا، د منافقانو له صفاتو څخه دی.

**پوښتنې؟**

١. په «المَاعُون» سره د دې سورت د نومولو وجه بیان کړئ.

٢. په «أرأیتَ» کې خطاب کومو کسانو ته شاملیږي؟

٣. د «یَدُعُّ» فعل څه معنا ورکوي؟

٤. په مبارک آیت کې ولې د دې پر ځای چې ووایي (مسکینانو ته خوراک نه ورکوي) فرمایلي یې دي: د مسکینانو خوراک ته ترغیب او هڅونه نه کوي؟

٥. په لمانځه کې له غفلت کولو څخه مراد څه شی دی؟

٦. د «الماعون» کلمه د څه شي افاده کوي؟

**کورنی دنده**

د دې مبارک سورت په رڼا کې د کافرانو او منافقانو د صفاتو په هکله څو کرښې ولیکئ.

# د الکوثر سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ﴿١﴾فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴿٢﴾ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴿٣﴾﴾

## د کلمو معنا

{الْكَوْثَرَ} په جنت کې يو حوض دی (او د ډېرې ښګېنې او خير په معنا هم راځي).

{وَانْحَرْ} قرباني وکړه.

{شَانِئَكَ} له تاسره کينه کوونکی.

{الْأَبْتَرُ} ذليل او بې نسبه.

## ژباړه

ای پیغمبره! بېشکه موږ تاته کوثر درکړی دی. نو ته د خپل هماغه رب لپاره لمونځ اداء کړه او قرباني وکړه. بېشکه ستا هماغه دښمن په خپله بې نسبه دی.

## د سورت پېژندنه

د جمهورو علماوو په نزد د الکوثر سورت مکي دی، خو د حسن، عکرمه او قتادة (رضي الله عنهم) په نزد مدني دی. دا سورت (٣) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې (١٠٨) سورت دی. دا مبارک سورت د (النحر) په نامه هم ياد شوی دی.

## د سورت غوره والی

امام احمد له حضرت انس (رضي الله عنه) څخه روايت کوي چې په پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) باندې یو وخت خوب غلبه وکړه او بیا په خندا له خوبه راویښ شو، صحابه کرامو او په بل روایت کې په خپله پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) له صحابه وو څخه پوښتنه وکړه: پوهیږئ ولې مې وخندل او یا پوهیږئ چې د خندا لامل مې څه و؟ همدا اوس راباندې یو سورت نازل شو او بیایې د سورت په ویلو پیل وکړ: ﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ * فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ * إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴾، بیا پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: ایا پوهیږئ چې

کوثر څه دی؟ صحابه کرامو وفرمایل: الله او د هغه رسول پرې ډېر ښه پوهیږي. بیا یې وفرمایل: کوثر په جنت کې یو حوض دی چې الله پاک هغه ماته رابښلی او په هغه کې ډېر خیر دی، د قیامت په ورځ زما امتیان د اوبو څښلو لپاره په هغه را ټولیږي، د هغه د جامونو شمېر د آسمان د ستورو په اندازه دی.

## د سورت د نازلېدلو سبب

په مختلفو روایاتوکې راغلي دي چې کله د مکې مشرکانو د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د زامنو د وفات له امله ده مبارك ته مقطوع النسل وویل او د ده د زامنو د وفات له وجې یې د خوشحالۍ احساس وکړ، نو هماغه و چې د الکوثر سورت د همدې موضوع په اړه د اعلان په توګه نازل شو چې الله تعالی خپل پیغمبر ته ډېر خیر او برکت ورپه برخه کړی دی او د ده د زامنو وفات د ده د پیغمبرۍ له شوکت او دبدبې څخه څه نشي کمولای او هغه کسان چې له ده سره کینه او حسد لري، له خیر او برکت څخه محروم دي، ځکه هغوی داسې کومه ښېګڼه نه ده کړې چې په تاریخ کې یې نېک نوم ثبت شي. مفسرینو د دې سورت د نازلېدو د سبب په اړه د عاص بن وائل نوم داسې یادکړی دی چې کله د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) زوی عبدالله وفات شو، نو عاص بن وائل وویل: د محمد توکم (نسل) ختم شو او له ده څخه بل داسې څوك نه دی پاتې چې نوم یې لوړ کړي. خو ابن عباس (رضي الله عنهما) ویلي دي چې دا آیت د ابوجهل په باره کې نازل شوی دی. د دې سورت مفهوم ټول هغه کسان رانغاړي چې د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) په دښمنۍ کې یې ځانګړی شهرت درلود.

## اجمالي تفسیر

د سورت په لومړي مبارك آیت کې د الله تعالی هغو نعمتونو ته اشاره ده چې پیغمبرﷺ ته یې وربښلي دي الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ﴾: موږ ( د الله تعالی سپېڅلي ذات ته اشاره ده) تا ته کوثر دربښلی دی. د (کوثر) په تفسیر کې له مفسرینو څخه ډېرې خبرې نقل شوې دي، ډېر مفسرین وایي چې کوثر په جنت کې یوه ویاله ده او له هغې څخه هغه حوض ته چې د محشر په میدان کې دی اوبه راځي. دویمه نظریه دا ده چې له کوثر څخه موخه هغه حوض دی چې د قیامت په میدان کې شتون لري او د هغه په ستاینه کې ډېر روایتونه راغلي دي. دریمه نظریه دا ده چې مراد له کوثر څخه د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) اولاد دی چې الله تعالی د ده نسل ته ډېربښت او برکت ورپه برخه کړ او په ټولو ځمکو کې خواره واره شول. همدارنګه علماوو له کوثر څخه قرآن مجید، د اسلام دین، نبوت او داسې نور مرادوي، خو تر ټولو غوره او راجح قول لومړنی او دویم قول دی.

﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾: په دې مبارک آیت کې الله تعالی خپل پیغمبرﷺ ته امر کوي ترڅو د هغه لوی فضل په وړاندې چې ده ته يې وربه برخه کړی دی، د الله تعالی دربار ته سجده وکړي او هم د هغه لپاره حلاله(قرباني) وکړي.

قتاده، عطاء او عکرمه (رضي الله عنهم) ویلي دي: په دې سورت کې له لمانځه څخه موخه د اخترلمونځ او له حلالې څخه د اختر د ورځې قرباني ده. له همدې امله په بخاري او نورو کتابونو کې له براء بن عازب څخه حدیث روایت شوی دی چې وایي : (خَطَبنا النبي (صلی الله علیه و سلم) یوم الأضحی بعد الصلاة فقال: "من صلّی صلاتنا ونَسَك نُسكنا فقد أصاب النسك ومن نسك قبل الصلاة فإنه قبل الصلاة ولا نسك له)،

یعنې: نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د قربانۍ (اختر) په ورځ وروسته له لمانځه څخه موږ ته خطبه وړاندې کړه او ویې فرمایل: څوک چې دا لمونځ زموږ سره اداء کړي او خپله حلاله زموږ په شان حلاله کړي په حقیقت کې يې په مسنونه توګه قرباني کړې ده او چا چې له لمانځه څخه مخکې خپله قرباني حلاله کړه د هغه قرباني په سمه توګه نه ده؛ ځکه هغه له لمانځه څخه مخکې ده. د « فَصَلِّ » لفظ عام دی او د نفلو په شمول ټول لمونځونه رانغاړي.

ابن جریر د دې آیت په تفسیر کې وایي: د آیت مفهوم دا دی چې خپل ټول لمونځونه یوازې د الله تعالی لپاره وګرځوو نه د باطلو معبودانو لپاره، همدارنګه قرباني هم د الله لپاره ځانګړې کړو، بتان له الله سره شریک نه کړو او په دې توګه د هغو الهي نعمتونو شکریه اداء کړو چې الله تعالی موږ ته ډالۍ کړي دي.

﴿إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴾، یعنې: حقیقتاً څوک چې له تاسره دښمني او کینه ساتي او له هغو لارښوونو څخه چې سره له دلیله تا راوړي دي، مخ ګرځوي، هغه په خپله سپک او بې نسله دی، هغه ته هیڅ دنیوي او اخروي خیر نه حاصلیږي اونه به يې څوک وروسته له مرګ څخه یاد کړي.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د هغو برکتونو په هکله چې الله تعالی خپل پیغمبرﷺ ته وربښلي دي، له یو بل سره بحث او خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې سورت مبارکو آيتونو کې ځينې ګټې او لارښوونې شته چې عبارت دي له:

- د بې پايه عزت او نعمتونو بيان، چې الله تعالى خپل ګران رسولﷺ ته وربښلي دي.
- د کوثر په ويالې او حوض باندې د ايمان او عقيدې ټينګښت.
- په ټولو عباداتو او په ځانګړې توګه په لمانځه او قربانۍ کې د اخلاص وجوب.
- ظالمانو ته د ښېرا کولو جواز، په ځانګړې توګه هغو کسانو ته چې د الله د رسول بې عزتي کوي.

### پوښتنې

١. لاندې کلمې وژباړئ:

{أعطيناك} {وَانْحَرْ} {شَانِئَكَ} {الْأَبْتَرُ}.

٢. د الکوثر سورت په هکله لنډ معلومات وليکئ.

٣. د دې سورت غوره والى بيان کړئ.

٤. د الکوثر له معناګانو څخه څو معناوې وواياست.

٥. د ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾ مبارك آيت تفسير کړئ.

### کورنۍ دنده

د (الکوثر) سورت د نازلېدو د سبب په هکله خپل معلومات په پنځو کرښوکې وليکئ.

# د الکافرون سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ﴿١﴾ لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٢﴾ وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ﴿٣﴾ وَلَا أَنَا عَابِدٌ
مَّا عَبَدتُّمْ ﴿٤﴾ وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ﴿٥﴾ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ﴿٦﴾﴾

## د کلمو معنا

{ قُلْ} ووايه (اې پيغمبره)!

{لَا أَعْبُدُ} عبادت نه کوم(په حاضر حال کې د عبادت نفې کول مراد دي).

{وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ } او نه تاسې عبادت کوونکي يئ (له دې څخه هم د حاضر حال نفې ده).

{وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ} او نه زه عبادت کوونکی يم د هغه څه چې تاسو يې عبادت کوئ (مراد ورځنې د عبادت نفې ده په راتلونکې کې تر ابده پورې).

{وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ} او نه تاسې عبادت کوونکي يئ د هغه ذات چې زه يې عبادت کوم (دا نفې د الله د ازلي علم پر بنا ده چې دوی په توحيد ايمان نه راوړي).

{لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ } ستاسو لپاره ستاسې دين دی( ستاسو د بت عبادت) او زما لپاره زما دين دی(يعني اسلام).

## ژباړه

ووايه: اې کافرانو! زه د هغو عبادت نه کوم چې تاسې يې عبادت کوئ. او نه تاسې د هغه ذات عبادت کوونکي ياست چې زه يې عبادت کوم. او نه زه د هغو عبادت کوونکی يم چې تاسې يې عبادت کړی دی. او نه تاسې د هغه ذات عبادت کوونکي ياست چې زه يې عبادت کوم. ستاسو لپاره ستاسې دين (د بت عبادت) دی او زما لپاره زما دين (اسلام) دی.

## د سورت پيژندنه

دا سورت مکي دی، (٦) آيتونه لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې (١٠٩) سورت دی.

دا سورت په المنابذة، الإخلاص او المُقشقشه نومونو سره هم ياد شوی دی، د دې سورت بنسټيزه موضوع د کفر او شرک څخه بيزاري او د الله لپاره د بنده گۍ ځانگړي کول دي.

## د دې سورت غوره والی

د دې سورت د غوره والي په هکله ډېر احادیث راغلي دي چې ځینې یې دا دي:

۱: امام مسلم له حضرت جابر﵁ څخه روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ به د طواف په دوه رکعتونو کې د (الکافرون) او (الإخلاص) سورتونه لوستل.

۲: همدارنګه مسلم له ابوهریره﵁ څخه روایت کوي چې نبي کریم ﷺ دا دوه سورتونه د سهار په لمانځه کې لوستلي دي او همداسې روایت په مسند احمد، ترمذي، نسائي او ابن ماجه کې هم راغلی دی.

## د دې سورت د نازلیدلو سبب

دا مبارک سورت د مکې د یو شمېر مشرکانو، لکه: ولید بن مغیره، عاص بن وائل او امیه بن خلف د وړاندیز په رد کې نازل شوی دی.

په روایاتو کې راغلي دي چې مشرکانو پیغمبر ﷺ ته څو ډوله وړاندیزونه وکړل، یو دا چې د یوه کال لپاره دې د الله رسول د هغوی د معبودانو عبادت وکړي، بیا راتلونکی کال به دوی د واحد الله عبادت کوي. په همدې طریقه به دې کار ته کلونه کلونه ادامه ورکړي او دښمني به له منځه یوسي. دویم دا چې د الله رسول دې د دوی د بتانو بدي نه بیانوي او د هغو احترام دې کوي، نو دوی به هم د الله له پیغمبر سره د الله په عبادت کې برخه اخلي. همدارنګه دې ته ورته نور وړاندیزونه یې هم درلودل، نو دا سورت د دوی د ناسمې غوښتنې د رد لپاره نازل شو.

## اجمالي تفسیر

﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ﴾: دا مبارک آیتونه اعلانوي چې د مسلمانانو معبود د کافرانو د هغو معبودانو په څیر نه دی چې هغوی ورته عبادت کوي، نو الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته فرمايي: ای محمده! دې کافرانو ته ووایه: زه د دغو بتانو چې تاسو یې په عبادت اخته یئ، عبادت نه کوم، یعني زه هیڅکله د هغه څه عبادت نه کوم چې هغه تاسو د خپلو معبودانو په توګه غوره کړي دي او دا خطاب ټولو کافرانو ته شامل دی په ځانګړې توګه هغو کافرانو ته چې د حق او باطل د یو ځای کولو هیله یې لرله.

﴿وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ﴾: او نه تاسې عبادت کوونکي یاستئ د هغه ذات چې زه یې عبادت کوم، یعني ترڅو چې تاسې خپلو شرکي او کفري عملونو ته دوام ورکوئ، نشئ کولای چې د هغه واحد لا شریک ذات عبادت کوونکي واوسئ کوم چې زه یې عبادت کوونکی یم.

له دې امله دا دوه آیتونه دا راپه ګوته کوي چې د دې دواړو معبودانو ترمنځ ډېر زیات توپیر شتون لري؛ ځکه د پیغمبر ﷺ معبود یوازې واحد لا شریک ذات دی چې پرته له هغه بل هیڅوک د عبادت وړتیا نه لري او د مشرکانو

او کافرانو معبودان او بتان د دوی د خپلو لاسونو په واسطه جوړ شوي چې په باطله توګه یې عبادت کوي.

﴿وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ‎ وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ﴾: مفسرینو کرامو فرمایلي دي: دا دوه آیتونه راتلونکې زمانې ته اشاره کوي، یعنې په مستقبل کې هم هیڅکله د خپلو باطلو خدایانو د عبادت هیله له ما څخه مه لرئ چې دا یو محال او ناممکن کار دی، ځکه زموږ دین او کړنلاره ما او زما پیروانو ته داسې اجازه نه راکوي، بلکې دا کار مطلقاً له دینه وتل ګڼل کیږي، نو زه پرته له هغې لارې چې د الله رضا پرې حاصلیږي په بله لاره یو قدم هم نه شم پورته کولای او نه زه له تاسو څخه د دې هیله لرم چې تاسې هغه لار او طریقه چې شیطان درته ډېره ښایسته کړې ده او ستاسو په رګونو او پوستکي کې یې ځای نیولی، پریږدئ او هغه هدایت او لارښوونې ته چې ما راوړې ده لاره وموميئ، ځکه زما الله ماته پر شرک او کفر باندې ستاسو د مړینې خبر راکړی دی چې دا ډله که چیرې ځمکه او آسمان هم د دوی په مخ کې په خبرو راشي او له آسمانه ځانګړی کتاب پر دوی نازل شي: ﴿لَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُواْ إِنْ هَـذَا إِلاَّ سِحْرٌ مُّبِينٌ﴾ نو دوی به دا ټول کوډې او جادو وګڼي او له خپل کفر څخه به لاس وانخلي.

دا تفسیر د (المائده) بل آیت تاییدوي چې فرمایي: ﴿لَوْ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ﴾: د دوی کفر دې اندازې ته رسېدلی دی که چیرې دوی وروسته له دې چې په آخرت کې هر څه په خپلو سترګو وویني او دویم ځلي بیا دې دنیا ته راشي، بیا به هم دوی له خپلې کړنلارې او باطل دین څخه وانه وړي او هغه به پرې نږدي، نو د دې تفسیر پر بنا د (الکافرون) سورت په احکامو کې هیڅ نسخ نشته لکه څرنګه چې ځینې مفسرین په نسخ قایل دي، بلکې دواړه حکمونه، یعنې د مسلمانانو پاتې کیدل پر خپل دین او د معاندو کفارو پاتې کیدل پر خپل دین حتمي او یقیني امر دی خو دا په دې معنا نه دی چې مسلمانان له خپل دعوت او جهاد نه لاس په سر شي، ځکه ټول کافران داسې نه دي چې د ایمان راوړلو هیله ورځنې ونه شي.

﴿لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ﴾، یعنی: ستاسو لپاره ستاسې خپل دین(کفر او شرک) دی او زما لپاره خپل دین (توحید، اخلاص او اسلام) دی.

ځینې مفسرین وایي چې مراد له (دین) څخه جزا او بدله ده یعنې دا چې مضاف محذوف دی چې تقدیر یې داسې کیږي: «لکم جزاء دینکم ولي جزاء دینی»، یعنې: ستاسو لپاره ستاسو د دین بدله ده چې هغه د دوزخ اور دی او زما لپاره زما ددین بدله ده چې هغه جنت دی.

## فعالیت

زده کوونکې دې په دې هکله چې د اسلام دین له هر ډول مشرکانه کړنلارې او طریقې څخه بري او بیزاری دی، له یو بل سره بحث او خبرې وکړې.

## د لوست ګټې

د دې سورت مبارك آيتونه يو شمير نصيحتونه او لارښوونې لري چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

• د قضا او قدر د عقيدې ثابتول او د دې بيانول چې په انسانانو کې داسې کسان شته چې له ازل نه (د الله په ازلي علم او د دوی په کسب او اختيار) پر دوی کفر ليکل شوی دی.

• د دې خبرې بيان چې الله تعالى د خپل رسول عصمت او ساتنه کړې وه، ترڅو د مشرکانو باطل وړانديزونه ونه مني.

• د اسلامي عقيدې او کفري او شرکي عقيدې ترمنځ د لوی واټن او توپير پر شتون ټينګار او دا چې حق او باطل هيڅکله هم سره يوځای کېدای نشي.

• پر خپل دين او کړنلارې باندې د مسلمان د ټينګ پاتې کيدو واجبوالی.

## پوښتنې؟

۱. د "الکافرون" د سورت ځينې نور نومونه واخلئ.

۲. د نبي کريمﷺ کوم عمل د "**الکافرون**" د سورت د غوره والي بيانوونکی دی؟

۳. مفسرينو په دې مبارك سورت کې د نفی تکرار څرنګه تفسير کړی دی؟

٤. د دې سورت د نسخ اوعدم نسخ په هکله څه پوهيږئ؟

۵. دا ﴿لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ﴾ مبارك آيت تفسير کړئ.

## کورنۍ دنده

دا چې دا مبارك سورت د مشرکانو د وړانديزونو په رد کې نازل شوی دی، له لوست څخه په استفادې سره په دې هکله خپل شپږ کرښې معلومات وليکئ.

# د النصر سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿إِذَا جَاء نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴿١﴾ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا﴿٢﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴿٣﴾﴾

## د کلمو معنا

{إِذَا} د زمان ظرف دی او د شرطيت معنا هم ورکوي.

{نَصْرُ اللَّهِ} نصرت او برلاسي د الله له لوري.

{الْفَتْحُ} د مکې مکرمې فتح او ژغورنه له مشرکانو څخه.

{أَفْوَاجًا} ډلې ډلې.

{فَسَبِّحْ} نو (پرته له شرك او عيب څخه) په پاکۍ سره ياد کړه.

{وَاسْتَغْفِرْهُ} له (الله) نه د عفوې او بښنې غوښتنه وکړه.

## ژباړه

کله چې د الله مرسته راشي او برى در په برخه شي. او (اى پيغمبره) ته ووينې چې خلك ډلې ډلې د الله په دين کې داخليږي. نو د خپل رب له ثنا او ستاينې سره د هغه تسبيح ووايه او له هغه نه بښنه وغواړه، بېشکه هغه ښه توبه قبلوونکى دى.

## د سورت پيژندنه

د (النصر) سورت مدني دى، (٣) آيتونه لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې (١١٠) سورت دى په النصر سره د نومولو وجه يې يوه دا ده چې د (النصر) کلمه يې په لومړي آيت کې راغلې ده او بله دا چې د لوى نصر يعنې د مکې مکرمې د فتحې بيان کوي.

## د دې سورت غوره والی

ترمذي په یوه روایت کې له انس بن مالکﷺ څخه روایت کړی دی چې د النصر سورت د قرآن کریم د څلورمې برخې (ربعې) سره برابر دی. ابوبکر، بزار او بیهقي له ابن عمرﷺ څخه روایت کړی چې د ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾سورت د تشریق په ورځو کې پر پیغمبرﷺ نازل شو، د دې سورت په نازلېدو پیغمبرﷺ پر خپله سپرلی سپور شو او کله چې ودرید نو د حجة الوداع مشهوره خطبه يې خلکو ته واوروله.

## اجمالي تفسیر

﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾: پر دښمن باندې برلاسی ته (نصر) ویل کیږي، الله ﷻ خپل پیغمبرﷺ ته فرمايي: کله چې زما له خوا ستا او ستا ملګرو ته درى لويې ډالۍ در په برخه شي، چې هغه زما له لوري پر هغو خلکو چې له ډېرې اوږدې مودې څخه يې ستا سره دښمني او کينه غوره کړې وه، برى او نصرت دى او د جزيزة العرب د مرکز يعنې مکې معظمې فتح کول او د اسلام سپيڅلي دين ته د خلکو ډلې ډلې داخلېدل او ننوتل دي، نو دغه مهال پر تا لازمه ده چې د دې ورکړې او احسان پر وړاندې زما شکريه او مننه پر ځای کړې.

سره له دې چې مرسته او نصرت ټول د الله تعالی له لوري دى خو په دې مبارک آیت کې د (نصر) اضافت الله ته، دا راپه ګوته کوي چې د نصرت نسبت غیر الله ته مناسب نه دي، او هیڅا ته نه ښايي چې له نورو څخه نصرت وغواړي.

ابن کثیر (رحمه الله) ویلي دي: د ټولو مفسرینو په اتفاق سره په دې مبارک آیت کې له فتحې څخه مراد د مکې فتح ده، د عربو قبیلې د دې فتحې په انتظار کې وې، هغوی به ویل که چېرې دغه فتحه د الله د رسول په برخه شي، پر ده به ایمان راوړي، او که چیرې دی مکه فتح کړي، نو معلومه ده چې دی د الله نبي دی، هماغه و چې کله مکه فتح شوه، نو خلك ډله ډله د اسلام په دين کې داخل شول، تقريباً د دوو کلونو په ترڅ کې ټوله جزيرة العرب د اسلام په سپېڅلي دين مشرفه شوه. دا ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ﴾ جمله د «إذا» ځواب دی يعنې کله چې دې مرسته، فتح او ددين خوريدل په خپلو سترګو وليدل، نو ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾ هغه ذات چې دا نعمتونه يې درپه برخه کړل، په پاکۍ يادوه او د هغه ثنا او ستاينه کوه او په دې برسيره له هغه څخه بښنه هم غواړه. که څه هم د الله پيغمبر له ګناه څخه پاك او سپيڅلی و، خو بښنه غوښتل او استغفار د هغه د مقام

د لوړوالي لپاره دی، یا دا چې له هغه څخه داسې کړنه پېښه شوې وي چې د هغه له مقام سره مناسبه نه وي که څه هم هغه د نورو په پرتله هیڅ ګناه ونه ګڼل شي او یا دا چې په دې کې امت ته د ښښنې تعلیم دی، ترڅو امتیان د استغفار پر اهمیت وپوهېږي او پر دښمن د بریالیتوب پر مهال برلاسي خپل قوت ونه ګڼي.

د غوره او راجح قول پر بنسټ دا مبارک سورت د رسول اللهﷺ د ژوند په آخرو ورځو کې د مکې له فتحې وروسته په داسې حال کې نازل شو، چې د رسول الله ﷺ د رحلت او سفر د نژدېوالي پیغام یې له ځانه سره راوړی دی لکه څرنګه چې د یو شمېر صحابه وو فهم او درک هم همدا و، له همدې امله که صحابه له یوې خوا د دې سورت په نازلېدلو د اسلام په بریالیتوب خوشحاله شول، نو له بلې خوا یې زړونه د رسول (علیه السلام) د فراق د وخت د رارسېدلو په غم او پریشانۍ غمجن شول.

بله وینا دا ده چې دا سورت د مکې له فتحې څخه وړاندې نازل شو او په حقیقت کې دا یوه قرآني معجزه او د مکې د لوبې فتحې وړاندوینه وه، لکه څرنګه چې روایت شوی دی چې پیغمبرﷺ په مدینه منوره کې د دې سورت له نازلېدو وروسته تکبیر وویل او د مکې د فتحې او د یمن د خلکو په اسلام د مشرف کېدلو زیری یې ورکړ، او دا هم امکان لري چې دا سورت مکررا نازل شوی وي، پر دې اساس لومړی ځل نازلېدل د نبي کریمﷺ او د ده د ملګرو لپاره زیری و او دویم ځل د دې اعلان و چې هغه وعده ثابته شوه او دا چې د آخرت د سفر لپاره چمتو شه چې تا به خپل لوري ته راولم.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د مکې د فتحې په هکله او دا چې دې فتحې د اسلام په پرمختګ کې څه ونډه درلودله، له یو بل سره بحث او خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې سورت مبارک آیتونه یو زیات شمیر ګټې او لارښوونې لري چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- د الهي نعمتونو د تحقق پر مهال، په لمانځه، تسبیح او نورو عباداتو سره د شکر واجبوالی.

• د مسلمانانو په مټ د هیوادونو او ښارونو فتح کیدل او یا په اسلام کې د خلکو داخلیدلو د الله له هغو نعمتونو څخه ګڼل کیږي چې شکر یې لازم دی.

• د قرآن د حقانیت ثبوت په دې چې ټولې خبرې یې رښتیا شوې.

• د دې خبرې بیان چې په پای کې حق پر باطل بریالی کیږي.

## پوښتنې

۱. لاندې کلمې وژباړئ:

{نَصْرُ اللَّهِ} {أَفْوَاجًا} {فَسَبِّحْ}{وَاسْتَغْفِرْهُ}{توابا}.

۲. د ترمذي په حدیث کې د النصر د سورت غوره والی څرنګه بیان شوی دی؟

۳. د سورت د نازلیدو لامل په لنډه توګه بیان کړئ.

٤. مراد له فتحې څخه په دې سورت کې څه شی دی؟

٥. الله تعالی ته د نصر نسبت او اضافت څه افاده کوي؟

٦. د دې سورت د نازلېدو د وخت په هکله څه معلومات لرئ؟ بیان یې کړئ.

## کورنۍ دنده

د الله د دریو لویو ډالیو او ورکړو په هکله چې پیغمبرﷺ او ملګرو ته یې د النصر په سورت کې یادونه شوې ده، یوه لنډه مقاله ولیکئ.

# د المسد سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

الله تعالی فرمایي: ﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ﴿١﴾ مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ﴿٢﴾ سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ﴿٣﴾ وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ﴿٤﴾ فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ﴿٥﴾﴾

## د کلمو معنا

{تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ} د ابو لهب دواړه لاسونه دې هلاک شي.

{وَتَبَّ} او هغه هم هلاک شو.

{مَا أَغْنَى عَنْهُ} لرې نه کړ له ده څخه، په درد ونه خوړل ده ته.

{سَيَصْلَى} ژر ده چې ننوځي.

{ذَاتَ لَهَب} لمبې وهونکی اور، شغلو والا اور.

{حَمَّالَةَ الْحَطَبِ} بار وړونکې د لرګيو(چوغلګره).

{فِي جِيدِهَا} د دې په غاړه کې.

{مِّن مَّسَدٍ} د خرما له پوستکي.

## ژباړه

مات شول د ابي لهب لاسونه او هلاک شو هغه. د هغه شتمني او څه چې هغه ګټلي وو هغه ته په درد ونه خوړل. ارومرو به هغه په تاوجن بخري والا اور کې ننوځي. او(له هغه سره) د هغه ښځه هم، د خسو د پنډونو راوړونکې. د هغې په غاړه کې به د خرماوو له پوستکو څخه اوبدل شوې غټه کلکه رسی وي.

## د سورت پېژندنه

د المسد سورت مکي دی، (٥) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې(١١١) سورت دی، دا سورت د«تبت» په نامه هم یاد شوی چې د هلاکت معنا ورکوي.

په دې سورت کې د ابو لهب د هلاکت ښیرا شوې ده، همدارنګه په دې سورت کې د (مسد) ذکر چې د خرماوو د پوټکي په معنا دی هم راغلی دی.

ام جمیل د ابو لهب ښځې د خرماوو له پوټکو او بدل شوې یوه رسۍ درلوده چې په هغې کې به یې خس او اغزي راټولول او د نبي کریمﷺ په لاره کې به یې اچول، ترڅو هغه ته ضرر ورسوي. همدارنګه دې سورت ته د

(لهب) یا (اللهب) سورت هم ویل کیږي.

## د سورت د نازلېدلو سبب

په صحیحینو کې له ابن عباس (رضي الله عنهما) څخه یو حدیث روایت شوی دی چې په هغه کې راغلي دي: کله چې د ﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ آیت نازل شو او په هغه کې رسول اللهﷺ ته امر وشو چې خپل قوم او خپلوان د الله له عذابه وویروه، رسول اللهﷺ د (صفا) غونډۍ ته وختوت او په لوړ غږ یې وویل: وا صباحاه (یعني آفت رسېدلي، سهار ته راټول شئ) خلکو چې کله دا غږ واورېد ویې ویل: دا د چا غږ دی؟ ځواب راغی، دا د محمد غږ دی، خلک ټول را ټول شول، پیغمبرﷺ وفرمایل: ای د عبد مناف اولادې! ای د عبد المطلب اولادې! او ای د فلاني اولادې! که چیرې زه تاسې ته وواېم چې د دې غره تر شا د دښمن تازه دم اسونه دي، په تاسې د یرغل په حالت کې په حرکت کې دي، زما خبره به تصدیق کړئ؟ خلکو وویل: موږ تر اوسه پورې له تا څخه دروغ نه دي اوریدلي.

پیغمبرﷺ وفرمایل: داسې چې ده، نو زه تاسې له هغه عذابه ویروم چې د رارسېدو په درشل کې دی. د دې خبرې په اوریدو ابو لهب ورته وویل: هلاک شې آیا د دې مطلب لپاره دې موږ راټول کړي یو؟! بیا پیغمبرﷺ ودرید او دا سورت ﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ﴾ نازل شو.

## اجمالي تفسیر

﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ﴾: که څه هم ظاهراً د«تبّت» کلمې ژباړه په مات شوي او پرې شوي سره کیږي، مګر دا کلمه په دې سورت کې یوازې د ښیرا معنا نه ورکوي، بلکې دا یوحقیقت دی چې مخکې له پیښېدو خبر ورکړی شوی دی چې په راتلونکې کې به د عمل بڼه ونیسي، او دا چې په ماضي صیغه ویل شوی دی پدې کې حکمت دا دی چې منځ ته راتلل یې داسې یقیني دي چې ګواکې واقع شوی دی او په رښتیا هم په پای کې همداسې وشول لکه څرنګه چې څو کاله د مخه د«لهب» په سورت کې ویل شوي وو، نو د لاس له ماتیدلو څخه مراد فزیکي ماتیدل نه وو، بلکې مطلب ورځنې د ابو لهب ناکامي او خپل هدف او موخې ته نه رسیدنه ده چې ټول وس او توان یې په کار واچاوه خو څه ګټه ورته ونه رسېده، هماغه وه چې د اوو یا اتو کالو په تیریدو د قریشو زیاتره لویان او مخور کسان چې د ابو لهب دوستان او همزولي وو، د بدر په غزا کې مړه شول. کله چې په بدر کې د قریشو د مشرانو او نومیالیو خبر د ابو لهب غوږ ته ورسېده، ابو لهب داسې ټکان وخوړ چې له اوو ورځو زیات ژوندی پاتې نشو، آن تر دې چې مرګ یې د نورو لپاره عبرت وګرځېد او دی په داسې نا علاجه رنځ اخته شو چې د مرض د سرایت له ویرې یې د کورنۍ غړو هم دا جرأت په ځان کې نه لیده چې ده ته نژدې شي، هماغه و چې دی یې یوازې پر خپل حال پریښود تر څو مړ شو او تر درې ورځو پورې څوک د ده په مرګ خبر نه

و، درې ورځې وروسته له دې څخه داسې بد بوی خپور شو چې هيڅا هم نشوای کولای ده ته ورنژدې شي، زامنو يې يوه حبشي ته اجوره ورکړه تر څو يې  هغه په کشولو سره په يوه کنده کې تر خاورو لاندې کړ.

﴿مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ﴾: کومه شتمني او مال يې چې حاصل کړی و هغه هم د ده په درد  ونه خوړ او د ده د هلاکت او مړيني مخه يې ونه نيوله، او په آخرت کې به هم هيڅ د ده په ښه رانه شي. ابو لهب يو ذخيره کوونکی او بخيل سړی و، ابن اثير روايت کړی دی چې ابو لهب د جاهليت په وخت کې د کعبې شريفې د جواهرو په غلا کولو تورن و، که ابولهب دا خزانې له بله ځايه هم لاس ته راوړې وي خو دا تور دا را په ګوته کوي چې د مکې د خلکو په منځ کې دی له ښه نوم او نښان څخه برخمن نه و.

وريسې الله تعالی د آخرت په ورځ د ده د عذاب يادونه کوي او فرمايي:﴿سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ﴾: ژر ده چې ابو لهب او ميرمن يې(اروی د حرب لور) چې په غاړه به يې خس او اغزي راوړل، د دوزخ بل شوي او شغلو والا اور ته ننوځي.

لکه څنګه چې ابو لهب د تل لپاره دا هلې ځلې کولې ترڅو د پيغمبرﷺ د دعوت او بلنې مخه ونيسي او د دعوت په لار کې ورته ستونزې پيدا کړي او خلکو ته به يې ويل چې د دې ځوان خبرې چې له خپل دين څخه ګرځيدلی دی، ونه منئ، همدارنګه ميرمنې به يې هم خس او اغزي راټولول، په اوږه به يې راوړل او  د پيغمبرﷺ د کور په مخ کې به يې اچول، چې په دې توګه به يې پيغمبر ﷺ ته د رنځ او آزار اسباب تيارول. ځينو مفسرينو ويلي دي چې له﴿حَمَّالَةَ الْحَطَبِ﴾ څخه د خلکو په منځ کې خبرې ټولول او بيا د دوی په منځ کې د هغو خبرو خپرول مراد دي له همدې امله يې چوغلګره د خسو او خاشاکو له ټولوونکې سره تشبيه کړې ده، يعنې چغلي او د خلکو په منځ کې د خبرو خورول ګواکې د فتنې او فساد د اور بلول دي.

﴿فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ﴾: په غاړه کې يې د خرما له پوستکي جوړه رسۍ وه يا دا چې په دوزخ کې به يې د اور رسۍ په غاړه کې وي.

حضرت سعيد بن المسيب (رحمه الله) وايي: د«اروی» په غاړه کې يوه غاړکۍ وه او هغې په لات او عزی قسم ياد کړ چې دا غاړکۍ به د پيغمبرﷺ په دښمنۍ کې په مصرف رسوم، هماغه و چې الله تعالی د قيامت په ورځ د اور غاړکۍ د دې په غاړه کې واچوله.

**فعاليت**

زده کوونکې دې د الله په لار کې د دعوت د ستونزو او په پای کې د سوبې او برلاسۍ په هکله له يو بل سره بحث او خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې سورت مبارك آيتونه يو زيات شمير ګټې او لارښوونې لري چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

- د ابو لهب په هلاکت او د هغه د چلونو او دوکو په ناکامۍ سره د الله تعالى د حکم بيان.
- د دې خبرې ثابتېدل چې که چيرې انسان د الله د رضا پر خلاف عمل وکړي، نو د هغه مال او اولاد هغه د الله له عذابه نشي ژغورلاى.
- مسلمان ته د آزار رسولو حرمت.
- ترڅو چې يو انسان ايمان رانه وړي، د پيغمبرﷺ خپلوي هغه ته کومه ګټه نشي رسولى، ځکه ابو لهب د پيغمبرﷺ تره و خو سره له هغه به هم په سوځوونکي اور کې وي.
- د قرآني وينا رښتينولي او د هغه اعجاز.
- د دې خبرې څرګندول چې سوبه او کاميابي به د داعيانو په برخه وي.

## پوښتنې؟

١: لاندې کلمې وژباړئ:

{ وَتَبَّ } { مَا أَغْنَى عَنْهُ } { سَيَصْلَى } { ذَاتَ لَهَبٍ } { فِي جِيدِهَا }.

٢: ابو لهب څوك و او د الله له پيغمبر سره يې څه وکړل؟

٣: د ابو لهب ميرمنې د نبي کريمﷺ لپاره څه ستونزې جوړولې؟

٤: په پاى کې د ابو لهب برخليك څرنګه شو؟

٥: د ﴿ سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ﴾ مبارك آيت تفسير کړئ.

٦: د دې لوست له لارښوونو څخه درې نکتې بيان کړئ.

## کورنۍ دنده

د«المسد» سورت د نازليدو د سبب په هکله، پنځه کرښې معلومات وليکئ.

# د الاخلاص سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴿١﴾ اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴿٤﴾﴾

## د کلمو معنا

{أَحَدٌ} يو دی.

{الصَّمَدُ} له ټولو شیانو څخه بې نیازه، بې پروا(هغه ذات چې هر څوك ده ته اړ دی، خو دی چا ته اړتیا نه لري).

{لَمْ يَلِدْ} څوك يې نه دی زېږولی.

{وَلَمْ يُولَدْ} او نه هغه زېږولی شوی دی.

{كُفُوًا} سیال او مثل.

## ژباړه

ووايه (ای محمده!): هغه الله يو دی. الله هیڅچا ته اړ نه دی او ټول هغه ته اړ دي. نه هغه څوك زېږولی دی او نه هغه زېږول شوی دی.او هیڅوك د هغه سیال نشته.

## د سورت پېژندنه

د اخلاص سورت مكي دی، (٤) آيتونه لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې (١١٢) سورت دی. د الله تعالی د ذات وحدانيت بیانوي او هغه له هر عیب، نیمګړتیا او نیاز څخه په ښو او فصیحو کلماتو سپېځلی ګڼي.

## د دې سورت غوره والی

د (الإخلاص) د سورت د غوره والي په هکله ډېر احاديث راغلي دي، ځینې احاديث داسې بیانوي چې د اخلاص د سورت لوستل د قرآن کریم د دریمې برخې له تلاوت سره برابر دی. ځکه دا سورت په لنډه توګه د هغو احکامو بیانوونکی دی چې په قرآن کریم کې راغلي دي.

امام بخاري (رحمه الله) په یوه حدیث کې چې ابو سعید خدريﷺ روایت کړی دی، داسې څرګندوي: رسول اللهﷺ صحابه وو کرامو ته وفرمایل: آیا په تاسو کې به داسې څوك پیدا شي چې ونشي کولای په یوه شپه کې د قرآن کریم

دریمه برخه ولولي؟ دا خبره پر صحابه وو سخته تمامه شوه او ویې ویل: چې اې د الله ﷻ رسوله! موږ کله د دې کار وس لرو! وروسته پیغمبر ﷺ وفرمایل: چې «الله الواحد الصمد» د قرآن د دریمې برخې سره برابري کوي.

امام احمد، ترمذي او نسایي د ابو ایوب انصاری رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې پیغمبر ﷺ وفرمایل: آیا ځوک به له تاسو څخه له دې څخه بې وسه شي چې په یوه شپه کې د قرآن دریمه برخه تلاوت کړي؟ ځوک چې «قل هو الله أحد، الله الصمد» د شپې په یوه برخه کې تلاوت کړي ګواکې داسې دی لکه چې ده په هغه شپه کې د قرآن کریم دریمه برخه لوستلې وي.

## د سورت د نازلیدلو سبب

امام احمد، ترمذي او ابن جریر له ابی بن کعب رضي الله عنه څخه روایت کړی چې: مشرکانو نبي کریم ﷺ ته وویل: اې محمده د خپل رب نسب موږ ته بیان کړه، هماغه و چې ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (١) اللَّهُ الصَّمَدُ (٢) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (٣) وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾ نازل شو.

قتاده، ضحاك او مقاتل ویلي دي: ځینې یهودیان پیغمبر ﷺ ته راغلل او ورته یې وویل: د خپل پروردګار صفتونه دې موږ ته بیان کړه، ځکه الله په تورات کې خپل صفتونه موږ ته بیان کړي دي نو موږ ته معلومات راکړه چې رب له څه شي څخه جوړ شوی دی، آیا له سرو زرو څخه دی که له سپینو زرو او که له اوسپنې او یا لرګي څخه دی؟ او آیا خوراك او څښاك کوي؟ او له چا څخه میراث وړي؟ او چاته له دنیوي ماله میراث ورکوي؟ نو هماغه و چې الله تعالی دا سورت نازل کړ.

## اجمالي تفسیر

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾: اې پیغمبره! هغو خلکو ته چې ستا څخه ستا د پالونکي او د هغه د صفتونو او نسب په اړه پوښتنه کوي، ووایه: هغه الله یو دی یعنې په خپل ذات او خپلو صفاتو کې یوازې دی، هغه هماغه الله دی چې په یوازې توګه یې ځمکه، آسمانونه، انسانان، پیریان او ټول مخلوقات پیدا کړي دي. د دې قرآني جملې د اعراب په هکله د نحوي علماوو څو نظرونه وړاندې کړي دي: لومړی دا چې د « هُوَ » ضمیر د رفع په محل کې مبتدأ دی او وروستې جمله« اللَّهُ أَحَدٌ » یې خبر دی.

دویمه نظریه دا ده چې« هُوَ » مبتدأ، د« اللَّهُ » لفظ یې خبر دی او «أَحَدٌ» یې دویم خبر دی.

دریمه نظریه دا ده چې« هُوَ » مبتدأ،« اللَّهُ » یې خبر او «أَحَدٌ » بدل له الله څخه دی.

څلورمه نظریه دا ده چې«هو» **مبتدأ**، «الله» خبر او «أحد» د محذوفې **مبتدأ** یعنې «هو» خبر د عبارت تقدیر داسې کیږي: «هو الله هو أحد».

پنځمه نظریه دا ده چې «هو» مبتدأ، د «الله» لفظ له «هو» نه بدل او «أحد» خبر د مبتدأ.

﴿اللَّهُ الصَّمَدُ﴾: الله هغه ذات دی چې هیچا ته اړتیا نه لري، بلکې ټول مخلوقات ده ته محتاج دي.

یعنې هیڅوک نشي کولای چې له ده څخه بې پروا وي او الله له ټولو مخلوقاتو څخه بې پروا او بې نیازه دی، نو کله چې الله له ټولو شیانو څخه بې پروا شو، نو د هغو کسانو عقیده چې د ځان او الله پاک ترمنځ وسیله ضروري ګڼي څو د مینځګړي په توګه د بنده او الله ترمنځ اړیکې وساتي او له بندګانو څخه د دوی د خالق په وړاندې سپارښتنه وکړي، په بشپړه توګه مردوده ګڼل کیږي ځکه الله نېغ په نېغه د خپلو بندګانو سره اړیکې لري او مینځګړي ته احتیاج نه لري.

﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴾، یعنې: نه له الله څخه څوک زیږیدلی دی او نه دی په خپله له چا څخه زیږیدلی دی، ځکه هیڅوک نشي کولای له الله سره هم جنس واوسي، ترڅو د ده زوی یا پلار وپیژندل شي.

دا آیت په هغو مشرکانو ردکوي چې پرښتې یې د الله لوڼې ګڼلې او همدارنګه په هغو یهودیانو رد دی چې عُزیر (علیه السلام) د الله زوی بولي، او په هغو نصاراوو رد دی چې عیسی (علیه السلام) ته د الله زوی وايي او تر اوسه هغه د الله شریک او برخوال ګڼي.

﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾، یعنې: د الله له ذات سره هیڅ شریک او سیال نشته او نه کیدای شي، ځکه الله قدیم دی حادث (نوی پیدا) نه دی، واجب الوجود دی، جسم نه لري نو نه مثل ورته پیدا کیږي او نه شریک او سیال، لکه څنګه چې د ذکر شوو باطلو عقیدو څښتنانو خیال کاوه.

په هغه حدیث کې چې امام بخاري روایت کړی دی، راغلي دي: هیڅوک د الله ﷻ په اندازه صبرناک او زغمونکی نه دی، همدا وجه ده چې دغه مشرکان د الله لپاره زوی او اولاد ثابتوي پداسې حال کې چې هغه دوی ته روزي ورکوي او روغتیا وربښي.

د بخاري په بل حدیث کې چې ابو هریره ﷺ روایت کړی دی، پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: الله تعالی فرمایي: د آدم زوی زه دروغجن وګڼلم حال دا چې هغه دا حق نه لري چې پر ما د دروغجن ګمان وکړي او پر ما یې ناروا وویل، حال دا چې هغه حق نه لري چې ماته ناروا ووايي، دروغ ویل یې زما په حق کې دا دي چې هغه پر خپل دویم ځل راژوندې کېدلو عقیده نه لري (ګواکې چې زه د هغه د دویم ځلي ژوندي کولو وس نه لرم) حال دا چې دویم ځلي ژوندي کول له لومړي ځل ژوندي کولو څخه سخت نه دي او ناروا ویل یې ماته دا دي چې ده ویلي دي: الله زوی نیولی دی حال دا چې زه یوازې او بې نیازه یم، نه ما څوک زیږولي دي او نه زه له چا زیږیدلی یم او نه سیال او مثال لرم.

## د لوست ګټې

د دې لوست په مبارکو آیتونو کې یوشمیر لارښوونې دي چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- په ذات او صفاتو کې په وحدانیت او یووالي سره د الله پیژندنه.
- له ټولو څیزونو څخه په ټولو وختونو کې د الله د مطلقې بې نیازۍ بیان.
- الله تعالی ته د زوی د نسبت کولو بطلان.
- د مخلصانه عبادت وجوب چې له هر ډول شرک او ریا څخه خالي وي.
- د الله تعالی د ربوبیت، الوهیت او اسماء او صفاتو پر توحید، ایمان لرل.

## پوښتنې

۱: لاندې کلمې وژباړئ:

{الصَّمَدُ} {لَمْ يَلِدْ} {وَلَمْ يُولَدْ} {كُفُوًا}.

۲: د اخلاص د سورت غوره والی بیان کړئ.

۳: د سورت د نازلېدو لامل څرګند کړئ.

٤: د دې جملې ﴿هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ نحوي ترکیب بیان کړئ.

٥: د ﴿اللَّهُ الصَّمَدُ﴾ مبارك آیت تفسیر کړئ.

٦: د ﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴾ مبارك آیت په کومو عقایدو رد کوي؟

## کورنۍ دنده

د (الإخلاص) دسورت محوري او بنسټیزې موضوعګانې په خو کرښو کې ولیکئ.

# د الفلق سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴿٣﴾ وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴿٥﴾﴾

## د کلمو معنا

| | | | |
|---|---|---|---|
| {أَعُوذُ} | پناه غواړم. | {النَّفَّاثَاتِ} | پوکي کوونکي. |
| {الْفَلَقِ} | سهار، سبا. | {فِي الْعُقَدِ } | په غوټو کې. |
| {غَاسِقٍ} | تیاره، تربږمی. | {إِذَا حَسَدَ} | کله چې کینه(رخه) وکړي. |
| {إِذَا وَقَبَ} | کله چې خپره شي. | | |

## ژباړه

ووایه (ای محمده!): زه پناه غواړم د سبا په رب. د هر هغه څه له شر څخه چې هغه پیداکړي دي. او د شپې د تربږمی له شر څخه چې کله هغه خوره شي. او په غوټو کې د پوکوونکو(نارینه او یا ښځو) له شر څخه. او د رخه ناک له شر څخه چې کله هغه کینه او رخه وکړي.

## د سورت پېژندنه

د الفلق سورت د مفسرینو په یوه وینا مدني او په بله وینا مکي دی، (٥) آیتونه لري او د عثماني مصحف د ترتیب له مخې (١١٣) سورت دی. دا سورت ځکه په(الفلق) نومول شوی دی چې دا کلمه د سورت په لومړني آیت کې راغلې ده. د (فلق) لغوي معنا: له نورو شیانو څخه د یوه شي بېلولو او جداکولو ته فلق ویل کیږي، خو په دې سورت کې ورځنې مراد سپیده داغ دی چې تیاره له منځه وړي، او د تیارې او رڼا ترمنځ جدایي راولي. د الفلق سورت او الناس سورت ته (مُعوّذتین) هم وایې چې په دې دوو سورتونو سره مسلمان انسان له کوډو، رخې اود شیطان له شر څخه د عالمیانو په رب پناه غواړي.

## د دې سورت غوره والی

نسایي له عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روایت کړی دی، هغه وایي چې زه د نبي کریم ﷺ حضور ته په داسې حا ل کې راغلم چې هغه په خپلې سپرلۍ سپور و، نو ما خپل لاس د ده رکاب ته ور اوږد کړ او د ده د پښې پر ځای مې کیښود او ورته مې وویل چې د (هود) سورت یا د (یوسف) سورت راته زده کړه، هماغه و چې پیغمبر ﷺ راته

وویل: د﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ له سورت څخه به ډېر بلیغ سورت د الله په نزد بل ونه مومې.

او له همدې صحابي څخه یو بل روایت راغلی دی چې وایي: د شپې په تیاره کې له پیغمبرﷺ سره د جحفه او ابواء(د سیمو نومونه دي) ترمنځ روان وم چې ناڅاپه توري تیاري راونغښتلو، هماغه و چې رسول اللهﷺ د معوذتینو په لوستلو پیل وکړ او ماته یې وویل: ای عقبه! په معوذتینو سره پناه او ساتنه وغواړه، هیڅ شی د معوذتینو په اندازه پناه ورکوونکی نه دی.

همدارنګه نسايي له عبدالله نه روایت کړی او د هغه حدیث په پای کې راغلي دي: پیغمبرﷺ راته وویل: ووایه! ما وویل: څه ووایم؟ نبي کریمﷺ وفرمایل: (قل هو الله أحد) او معوذتین په سهار او ماښام کې درې درې ځله وایه.

بخاري له حضرت عائشې (رضي الله عنها) څخه روایت کوي چې کله رسول اللهﷺ مریض شو نو معوذتین به یې لوستل او خپل ځان یې پرې دمولو او کله به یې چې تکلیف زیات شو ما به ورباندې معوذتین لوستل.

**د دې سورت د نازلیدلو سبب**

په صحیحینو کې له حضرت عائشې (رضي الله عنها) څخه روایت شوی دی چې لنډیز یې دا دی: په رسول اللهﷺ باندې یوه یهودي د ولید بن اعصم په نامه کوډې کړې وې چې د هغې له اثره په پیغمبرﷺ باندې داسې حالت راته چې هغه به دا انګېرله چې کار مې ترسره کړی حال دا چې هغه کار به یې نه و ترسره کړی، دې ستونزې څه موده دوام وموند تردې چې الله پاک خپلې پرښتې راولیږلې او د هغه سرې له کوډو او له هغه ځای څخه چې هلته یې غوټه شوي تارونه پټ کړي وو، رسول اللهﷺ ته خبر ورکړ، نو دغه مهال د هغه د کوډو د اغیزې د له منځه وړلو لپاره د الفلق او الناس دواړه سورتونه نازل شول، نو رسول اللهﷺ یو شمېر صحابه کرام ولیږل، دوی د یوه شاړ کوهي څخه هغه کوډې راوایستلې بیا رسول اللهﷺ د دغو سورتونو له یوولسو آیتونو څخه یو یو آیت لوست او هغه غوټې پرانستلې شوې او رسول الله ﷺروغتیا وموندله او داسې هوسا او راحت شو لکه څوک چې په یوې رسی ټینګ تړلی شوی وي او بیا له هغه څخه رسی پرانستل شي. په روایتونو کې دا هم یاد شوي چې جبرائیل (علیه السلام) په رسول اللهﷺ دم اچاوه او ویل یې: د الله په نامه د هر هغه شي له اذیته چې تا ته زیان رسوي، په امن او عافیت کې پاتې شې او د کینه کوونکي انسان له شر او له بد نظر څخه وساتل شې او الله دې روغتیا در په برخه کړي.

د یادولو وړ ده چې دا کوډې او د دې اغیزې په هغه اندازه نه وې چې د رسول اللهﷺ د دعوت په چارو کې یا د وحې او الهي پیغام په رسولو کې یې کومه اغیزه کړې وي، ځکه الهي وحې د الله په ځانګړې ساتنه کې وي او د هغه دلیل حفظ او د معوذتینو نازلېدل دي چې د همدې مریضی په بهیر کې رسول اللهﷺ باندې نازل شول او ده په ډېره ښه او غوره توګه دا آیتونه خپل امت ته ورسول، نو د دې کوډو اغیزه یوازې د هغه ﷺ په جسم پورې منحصره وه، نه په وحې او نورو آسماني امانتونو پورې.

**اجمالي تفسیر**

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾: لکه څنګه چې د نازلېدو له لامل څخه معلومه شوه چې د الفلق او الناس سورتونه د

لبید بن اعصم له کوډو وروسته نازل شوي دي، په دې سورت کې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته د پناه غوښتلو طریقه ورښودلې ده او ده ته یې وفرمایل چې ووایه اي محمده! زه پناه غواړم د تیارو څیرونکي سهار په رب. د«فلق» په هکله صحابه کرامو مختلف تفسیرونه کړي دي: ابن عباس (رضي الله عنهما) ویلي دي: فلق د دوزخ له زندانونو څخه د یو زندان نوم دی.

ابی بن کعب وایي: په دوزخ کې د یوه کور نوم دی چې کله یې دروازه پرانستل شي، نو د ګرمۍ د تیزوالي له امله یې دوزخیان چیغې وهي.

او ځینو ویلي دي: د دوزخ له نومونو څخه یو نوم دی یا د دوزخ یوه وادي ده، مګر ډېرو مشهورو صحابه وو او تابعینو لکه حضرت جابر بن عبدالله، حسن، سعید ابن جبیر، ابو زید، مجاهد او قتادة «فلق» په سهار ژباړلی دی.

عرب وایي:«هو أبین من فَلَق الصبح و فرق الصبح» یعنې: هغه د سهار له راختلو او د هغه له روښنایۍ څخه ډېر څرګند او روښانه دی.

په دې توګه د (فلق) تفسیر په دې سورت کې د سهار پر مفهوم ډېر غوره دی او په ځینو نورو آیتونو کې هم په دې معنا راغلی دی لکه:«فالق الإصباح» یعنې د سهار خوروونکی، څیروونکی او ورسره د تیارو لرې کوونکی.

﴿مِن شَرِّ مَا خَلَقَ﴾: په دې کې شک نشته چې د خیر او شر پیدا کوونکی الله تعالی دی، هغه په دنیا کې په هغه حکمتونو چې په خپله پرې تر ټولو ښه پوهېږي او ځینې اړخونه یې بشر د الله له خوا د ورکړل شوي عقل په رڼایي کې کشف کړي دي، ډېر ضرر رسوونکي اجسام او یا زیان رسوونکي حالتونه پیدا کړي دي چې له هغې ډلې څخه د کوډو غیرمرئي اغېزه د انسان پر بدن باندې ده. له بلې خوا د ضرر رسوونکو مخلوقاتو له شر څخه د انسان ساتونکی یوازې الله تعالی دی، سره له دې چې الله تعالی د مادي وسائلو او امکاناتو لکه دارو درملو او داسې نورو څخه د ګټې اخیستلو اجازه ورکړې ده او په هر ډول احتیاط کولو یې هغه ته امر کړی دی، خو په پای کې مؤثر، شفا ورکوونکی، او پناه ورکوونکی الله تعالی دی.

﴿وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ﴾، یعنې: د شپې له شره کله چې د هغې تیاره ټول ځای ونیسي.

«غسق» د شپې تیارې ته ویل کیږي، څرنګه چې عادتاً د شپې له تیارې څخه په استفادې سره ټول چیچونکي، څیروونکي او نه لیدونکي خبیثه ارواح او آن تردې چې ناوړه انسانان، لکه: غله، لار وهونکي او داسې نور په ګرځېدو او راګرځېدو او ناوړو کړنو پیل کوي، نو ځکه الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ او د ده امت ته لارښوونه کوي تر څو په شپه کې د دې خوځېدونکو موجوداتو له شر څخه هغه تعالی ته پناه یوسي. «وقب» په لغت کې له (وقوب) څخه اخستل شوی دی چې د داخلیدو په معنا راځي او په حقیقت کې شپه خپله تیاره هر ځای ته ورننه کوي.

﴿مِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾: له خولې څخه د هوا بهر کولو ته چې له لاړو څخه خالي وي «نفث» یا دمول ویل کیږي چې معمولاً په زیاترو ټولنو کې داسې ښځې شته چې په دمولو او غوټو اچولو او دې ته ورته کارونو پر نورو کسانو کوډې او جادو کوي که څه هم دا کار په ښځو پورې ځانګړی نه

دی خو په دې طبقه کې ډېر دود او رواج لري چې لامل يې د دوی په منځ کې د کينې او دښمنۍ زياتوالی دی، نو ځکه الله فرمايي: غوټو کې د دم اچوونکو له شر او بدۍ څخه خپل الله ته پناه يوسه.

حسد او رخه چې ترڅو د چا په زړه کې پټه وي، ښايي پرمحسود يعنې د نعمت پرخښتن کومه منفي اغيزه يا ضرر ونه لري خو کله چې حسد کوونکی د حسد او رخې ښرګندونه وکړي او د حسد کړې شوي د نعمت په له منځه وړلو پسې شي، شر يې پيليږي، نو له «إذا حسد» څخه مقصد د نعمت له منځه وړلو او د بد نيت غوښتنه ده.

### فعاليت

زده کوونکي دې د کوډو او جادو د خطرونو په هکله له يو بل سره بحث او خبرې وکړي.

### د لوست ګټې

د دې مبارک سورت آيتونه يو لړ لارښوونې لري چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

- د هر هغه شي له شر څخه چې انسان يې په دفع کولو کې بې وسه شي، يوازې الله تعالی ته د پناه وړلو وجوب.
- په غوټو کې د کوډو په نيت د دم اچولو او داسې نورو حرمت، ځکه کوډې کفري عمل دی او په اسلامي شريعت کې عقيدوي کوډګر کافر ګڼل کيږي.
- د حسد او رخې حرمت، ځکه دا ډېر خطرناک مرض دی چې تېري او وژنې ته رسيږي.
- هر سهار او ماښام د معوذتينو د لوستلو مسنونيت.

### پوښتنې؟

١: د«الفلق» سورت مبارک آيتونه وژباړئ.

٢: په«الفلق» سره د دې سورت د نومولو وجه څه ده؟

٣: له هغو روايتونو څخه چې د دې سورت په غوره والي دلالت کوي يو روايت ذکر کړئ.

٤: د فلق ځينې معناګانې بيان کړئ.

٥: د﴿وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ﴾ مبارک آيت تفسير کړئ.

٦: له﴿النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ﴾ څخه مراد څه دی؟

### کورنۍ دنده

د «الفلق» سورت د نازلېدو د سبب په هکله پنځه کرښې معلومات وليکئ.

# د الناس سورت

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾ إِلَٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ﴿٤﴾ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ﴿٦﴾﴾

## د کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {رَبِّ النَّاسِ} | پالونکی د خلکو. |
| {مَلِكِ النَّاسِ} | پاچا د خلکو. |
| {إِلَٰهِ النَّاسِ} | حقيقي معبود د انسانانو. |
| {الْوَسْوَاسِ} | وسوسه اچوونکی(شيطان). |
| {الْخَنَّاسِ} | پټېدونکی. |

## ژباړه

ووايه زه پناه ور وړم د انسانانو رب ته. د انسانانو پاچا ته. د هغه وسوسه اچوونکي له شر څخه چې په وارو وارو ځي راځي.هغه چې د خلکو په زړونو کې وسوسې اچوي. که هغه له پېريانو څخه وي او که له انسانانو څخه.

## د سورت پېژندنه

د الناس سورت هم د مفسرينو د يوې وينا پر بنا مدني او د بلې وينا پر بنا مکي دی، (٦) آيتونه لري او د عثماني مصحف د ترتيب له مخې (١١٤) سورت دی او د قرآن کريم وروستی سورت ګڼل کيږي. په«النّاس» سره يې د نومولو وجه دا ده چې دا کلمه په دې سورت کې پنځه ځله تکرار شوې ده، دې دوه سورتونو (الناس او الفلق) ته المقشقشتان هم ويل شوي دي؛ ځکه (مُقشقشة) له (تقشقش) څخه اخيستل شوی دی چې د عافيت او ژغورنې په معنا راځي او دا دوه سورتونه هم د الله په اجازه انسان له کوږو او د شيطانانو له شر څخه ساتي او هغه له شرک او نفاق څخه ژغوري.

## د سورت غوره والی

ترمذی د عقبه بن عامر رضي الله عنه په روایت له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی دی او فرمایي: الله جل جلاله ماته داسې آیتونه رالیږلي دي چې د هغو په څیر آیتونه تر اوسه بشریت نه دي لیدلي، چې هغه د (قل أعوذ برب الفلق) او (قل اعوذ برب الناس) له سورتونو څخه عبارت دي.

## اجمالي تفسیر

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾: په الفلق سورت کې د امت لپاره د څلورو شیانو څخه د پناه غوښتلو لارښوونه وشوه: لومړی د ضرر رسوونکو مخلوقاتو له شر څخه پناه غوښتل. دویم د هغو شیانو له شر څخه چې د شپې په تیارو کې په خوځښت او فعالیت پیل کوي. دریم د کوډګرو ښځو له شر څخه پناه غوښتل او څلورم د کینه ګرو له شر څخه پناه غوښتل.

خو د «الناس» په سورت کې له یوه شي څخه د پناه غوښتنه شوې ده چې له مخکې ذکر شویو څلورو شیانو څخه ډیر خطرناک دی؛ ځکه د هغه خطر له زړه سره تړاو لري او زړه هغه ځای دی چې د ټول بدن صلاح او فساد له هغه څخه سرچینه اخلي، که زړه نېک او صالح و، د بدن غړي به هم نېک او صالحه وي او که زړه فاسد و، نو د بدن ټول غړي فساد ته رابولي، له همدې امله د الله د دریو لویو صفتونو یعني ربوبیت، مالکیت او الوهیت له یادولو وروسته د خناس (شیطان) له شر او وسوسو څخه د پناه غوښتلو ذکر راغلی دی.

د دریو ګونو صفتونو یادونه دوه مهمو کارونو ته اشاره ده: یو دا چې په یقیني توګه هغه ذات چې د انسانانو پالونکی، د هغوی پاچا او حاکم او حقیقي معبود دی هغه د دې وړتیا لري چې انسان هغه ته پناه یوسي او هغه به اورمرو د پناه غوښتونکي څخه ملاتړ او دفاع وکړي.

دویم دا چې انسانان دې ټکي ته پاملرنه وکړي چې د دوی د چارو تدبیروونکی، حاکم او پاچا او د دوی د عبادت وړ ذات یوازې منان الله دی، له دې امله د هر چا حاکمیت چې د اسلامي شریعت پر خلاف وي باید هغه ونه مني او له الله پرته بل هیچاته عاجزي او تواضع ونکړي.

بله دا چې د یادو شوو صفتونو نسبت او اضافت «الناس» ته چې د انسانانو په معنا دی، د انسان د کرامت او شرافت نښه ده، ځکه الله تعالی د ټولو مخلوقاتو پیدا کوونکی، مالك او معبود دی، خو د انسان د ځانګړي

کرامت د اظهار لپاره د یادو شوو صفتونو اضافت انسان ته وشو.

﴿مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ﴾: (وسواس) د (وسوسه) مصدر دی او (وسوسه) پټ آواز ته ویل کیږي، خو مراد ورڅخه شک او تردید کول دي او په شیطان یې اطلاق د مبالغې له وجې دی، ګواکې چې د شیطان وسوسه اچونه په دې اندازه ده چې دی په خپله مطلقا وسوسه دی، او (خنّاس) د مبالغې صیغه ده چې د رجوع او راګرځیدنې معنا ورکوي، د دې صفت اطلاق پر شیطان له دې امله شوی دی چې هر کله د الله ذکر د بنده په زړه کې ځای ونیسي شیطان له هغه زړه څخه شاتګ کوي او کله چې بنده د الله له ذکر څخه غافله شي، شیطان سمدستي د هغه ځای نیسي، نو شاتګ د شیطان له صفتونو څخه دی.

﴿الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ . مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ﴾: په دې دوو وروستیو آیتونو کې لومړی د شیطان د وسوسې اچونې ځای ټاکل شوی دی، چې هغه له زړه څخه عبارت دی او په صدور سره ورڅخه تعبیر شوی دی، په صحیح حدیث کې راغلي دي چې شیطان د وینې په څېر د انسان په بدن کې جریان لري، مقاتل (رحمه الله) ویلي دي: شیطان د خنزیر په بڼه د انسان په رګونو کې لکه د وینې غوندې ګرځي، او دا وس او توان ده ته الله تعالی وربښلی دی.

دویم د شیطانانو ډولونو ته اشاره کیږي چې هماغه جني او انسي شیطانان دي که څه هم حقیقي شیطان هماغه جني شیطان او اولاده یې ده، خو په انسانانو کې هم داسې ډلې پیدا کیږي چې د همغه شیطان صفتونه لري او شر یې د جني شیطان له شره کم نه دی، نو له دوی څخه هم باید له الله نه پناه وغوښتل شي.

**فعالیت**

د شیطاني وسوسو د خطرونو په هکله له یو بل سره بحث او خبرې وکړئ.

## د لوست ګټې

په دې مبارک سورت کې ډیرې لارښوونې دي چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- د انسي او جني شیطانانو له شر څخه الله تعالی ته د پناه وړلو واجبوالی.

- د الله د ربوبيت، مالکيت او الوهيت ثبوت.
- دا چې په اسلامي ټولنه کې د الله له قانون څخه مخالف حکم او قانون، د منلو وړ نه دی.
- دا چې غافل زړه د شيطان ځاله ده، خو د ذاکر زړه څخه هغه تېښته کوي.

## پوښتنې؟

۱: لاندې کلمې وژباړئ:

{الرَّبّ} {المَلِكِ} {الإِلَه} {الْوَسْوَاسِ} {الْخَنَّاسِ}.

۲: د (الفلق) او (الناس) نور نومونه څه دي؟

۳ : د الناس سورت غوره والی د نبوي حديث په رڼا کې بيان کړئ؟

٤: شيطان د انسان په زړه کې څرنګه وسوسه اچوي؟

٥: ددې لوست له لارښوونوڅخه دوه نکتې بيان کړئ؟

## کورنۍ دنده

د الله درې ګوني صفتونه (ربوبيت، مالکيت او الوهيت) څه شيان افاده کوي؟ په دې هکله ځو کرښې معلومات وليکئ.